# د لیکوالۍ عملي لارښود

لیکوال: محب الله زغم نسیمي

Ketabton.com

۳۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

**کتاب پېژندنه**

کتاب : **د لیکوالۍ عملي لارښود**

لیکوال: **محب الله زغم نسیمي**

چاپ کال: **۱۳۹۹**

چاپ شمېر: **۱۰۰۰**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ!



ارواښاد عاشق الله یعقوب

گرانه ملگریه! زما استاده!

هغه وختونه مې ښه په یاد دي. د ۱۳۸۳ هجري کال منی و. تازه تازه مې په پښتو ژبه مقاله لیکل پیل کړي وو. په هره جمله یا دوو جملو کې به مې یوه تېروتنه خامخا وه. ته به د چهلستون په جگړو ځپلي کنډواله باغ کې پر پوله راسره ناست وې او په نرمه غاړه به دې زما تېروتنې اصلاح کولې. دا دی اوس، د چهلستون باغ او ماڼۍ ښه ښایسته رغول شوي او زما نثر هم دومره ښه شوی دی چې داسې کتابونه پرې لیکلی شم.

خو، دریغه چې ته نه یې!

د دې کتاب ټول مادي او معنوي امتیاز تا ته ډالۍ کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دا کتاب مې ولې ولیکه؟

موږ ډېر پښتانه کادرونه لرو چې په مختلفو مسلکونو کې يې تر ماسټرۍ او ان تر پي ايچ ډي پورې زده کړې کړې دي، خو له یو ځو تنو پرته، نور يې په خپل مسلک کې، په خپله ژبه مقاله نه شي ليکلی. همدارنګه د پښتو ادبياتو د پوهنځي خورا لږ فارغان د ليکوالۍ جوګه وي. همدارنګه، ځينې کسان ښې ښکلې مفکورې لري، خو ليکلی يې نه شي او که ويې ليکي، د خبرو هغه خوند او رنګ يې په ليکنه کې نه وي. دوی ګرم په دې نه دي چې نه په ښوونځي او نه په پوهنځي کې چا د ليکوالۍ تخنيکونه او د نثر ليکلو هنر ورښوولي دي.

يو کال کېږي چې د پوهنې وزارت د تعليمي نصاب د رياست له پښتو څانګې سره د نوي نصاب په جوړولو کې همکاري کوم. تېر کال زموږ د همکارانو ډېر وخت د پخوانيو کتابونو پر اېډېټ تېر شو. ما هم په اېډېټ کې ورسره برخه واخيسته. ځينې کتابونه دومره خراب ليکل شوي وو چې تر سم ناسم په کې زيات وو: د کلمو املاء غلطه، د جملو جوړښت فارسي، مفهوم ګونګ او په ځينو ځايونو کې معلومات ناسم ... جالبه دا چې د پښتو ژبې کتابونه يې هم، په دې لحاظ، تر نورو مضمونونو ډېر ښه نه وو.

د ښوونځيو د تعليمي نصاب نوي مفردات د بهرنيو متخصصانو په همکارۍ برابر شوي دي چې بشپړ متفاوت او ښه دي. په نويو کتابونو کې به مختلف معلوماتي، روايتي، او اقناعي متنونه، او له خاطرې رانيولې تر لنډې کيسې، ناول او شعره پورې بېلابېل تخيلي او ناتخيلي ژانرونه راغلي وي. زموږ نوي کتابونه به شاګردانو ته د مقالې د مختلفو ډولونو او همدارنګه د خاطرې، کيسې، ډرامې، بيوګرافۍ او نورو ژانرونو ليکل ورزده کړي او که دا نصاب له خيره سره سم تطبيق شو، راتلونکي نسلونه به مو په ليکوالۍ کې تکړه وي.

خو زموږ هغه نسلونه چې تر دې دمخه له ښوونځيو او پوهنځيو فارغ شوي دي يا د نويو کتابونو تر تأليف او تطبيق مخکې فارغېږي، هغوی به د ليکوالۍ مهارتونه څنګه زده کوي؟ دې پوښتنې د دې کتاب ليکلو ته وهڅولم. دا چې سر و کار مې له تعليمي نصاب سره و، نو فکر مې وکړ چې د ليکوالۍ لارښود بايد د درسي کتاب غوندې وليکم چې لوستونکو ته عملي تمرينونه ولري، يعنې د فعالې زده کړې ميتود به کاروم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا کتاب د ښوونځیو شاګردانو، د پوهنتون محصلانو او د لیکوالۍ ځوانو مینهوالو ته لیکل شوی دی او پنځه برخې لري. لومړۍ برخه يې د ژانر تعریف، د ژانر ډولونه، او د لیکوالۍ عمومي تخنیکونه رانغاړي. دا داسې تخنیکونه دي چې د ډېرو ژانرونو د لیکلو لپاره په کارېږي. دوهمه برخه يې د پراګراف او مقالې د مختلفو ډولونو لیکل درزده کوي. په درېیمه برخه کې هغه ادبي ژانرونه راغلي دي چې لیکل يې نسبتاً آسانه دي. څلورمه برخه د متنونو تحلیل، ارزونې او نقد ته ځانګړې شوې ده. د کتاب په وروستۍ برخه کې به د ژبې (املاء، انشاء، ګرامر، لیکنښې ...) په اړه زما مقالې ولولئ. په دې مقالو کې زموږ د متنونو عامې تېروتنې، ناسمې ژباړې، د نثر ښکلا او ځینې نورې خبرې راسپړل شوې دي. البته، د کتاب په څلورو لومړیو برخو کې یوازې د لیکلو نه، بلکې د مختلفو متنونو د درک او فهم، تحلیل او ارزونې، تغییر او خلاصه کولو فعالیتونه هم راغلي دي چې د زدهکوونکو او محصلانو لپاره به ګټور وي.

لیکوالي داسې مهارت دی چې ډېر تمرین او ریاضت غواړي نو که غواړې چې نثر دې ښه او لیکوالي دې پخه شي، د دې کتاب د هرې برخې ټول فعالیتونه ترسره کړه. که غواړې پوه شې چې د دې کتاب تمرینونو څومره ګټه درته کړې ده، د کتاب تر لوستلو مخکې د یوې موضوع په اړه مقاله ولیکه. دا لیکنه درسره وساته او بیا چې دې کتاب تمام کړ، پر هماغه موضوع یو ځل بیا مقاله ولیکه. بیا يې له لومړۍ مقالې سره مقایسه کړه.

د ایلینو خپرندویې ټولنې او قدرمن زاهد صمدزي منندوی یم چې دا کتاب یې راته چاپ کړ. دوی له لیکوال/ ژباړن سره د واضح او روښانه لیکلي قرارداد پر اساس کتابونه چاپوي او د لیکوال/ ژباړن حق الزحمه مني. دا به په افغانستان کې د کتاب او تألیف په کار و بار کې نوی باب وي.

همدارنګه د ډاکټر عبدالحمید بهیج زیاته مننه کوم چې د پښتو ژبې لپاره یې ښایسته فونټونه جوړ کړي دي. زه چې هره لیکنه کوم، د بهیج صاحب فونټونه کاروم او که یې مننه ونه کړم، پور به يې راباندې شي.

په دې هیله چې دا کتاب به دې د لیکوالۍ مهارتونه لا زیات وغوړوي.

په مینه او درنښت

چهلستون – کابل – جمعه د ۱۳۹۹ د ثور ۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست

**دا کتاب مې ولې ولیکه؟ ........................................ 2**

**لومړی برخه ........................................................ 7**

**۱. د لیکوالۍ عمومي تخنیکونه ................................ 7**

۱.۱ . ژانرونه/ د متنونو ډولونه Genres ......................... 7

۱ .۲. تشبیه/ Simile ........................................... 8

۱ .۳. توصیف/ Description ................................ 10

۱ .۴. صحنه/ Scene ........................................ 13

۱ .۵. مکالمه/ Dialogue .................................... 16

۱ .٦. کرکټر کښنه/ Characterization ..................... 19

۱ .۷. لیدلوری/Point of View ............................. 23

۱ .۸. روایت/Narrative ...................................... 27

**دوهمه برخه ......................................................... 31**

**۲. پراګراف او مقاله ........................................... 31**

۲ .۱ . پراګراف/ Paragraph .................................. 31

۲ .۱ .۱ . د پراګراف لیکلو پړاوونه ............................. 36

۲ .۱ .۲. د پراګراف ډولونه ..................................... 41

۲ .۲ .۱ . د مقالې تحلیل ........................................ 61

۲ .۲ .۳. د مقالې جوړښت ...................................... 64

۲ .۲ .۴. د مقاله لیکنې پړاوونه ................................. 82

۲ .۲ .۵. د مقالې ډولونه ......................................... 88

**دریمه برخه ....................................................... 113**

**۳. ادبي ژانرونه ................................................ 113**

(c) ketabton.com: The Digital Library




۳. ۱. غير تخيلي ادبي ژانرونه ........................ 113

۳. ۱. ۱. خاطره Memoir .................................. 113

۳. ۱. ۲. يونليک/ سفرنامه Travelogue.................... 118

۳. ۱. ۳. خاکه يا طرحه/ Literary Sketch ................ 122

۳. ۱. ۴. ژوندليک Biography .............................. 125

۳. ۱. ۵. خپل ژوندليک Autobiography................. 135

۳. ۲. تخيلي ادبي ژانرونه ....................................... 140

۳. ۲. ۱. ادبي ټوټه ........................................... 140

۳. ۲. ۲. طنز Satire/ Irony ............................... 143

۳. ۲. ۳. لنډه کيسه Short Story............................ 148

د کيسې تحليل ............................................ 154

**درېيمه برخه.......................................................... 172**

**۴. نقد او تحليل ............................................ 172**

۴. ۱. انتقادي مطالعه Critical Reading ................ 172

۴. ۲. تحليل Analysis ......................................... 179

۴. ۳. نقد Critique/ Review .............................. 192

**پنځمه برخه ......................................................... 202**

**۵. ژبه، املا او انشا ............................................ 202**

۵. ۱. په پښتو کې د «ی» ډولونه ............................ 202

۵. ۲. په قتل ورسېدل، سم که نا سم؟ ........................ 203

۵. ۳. د خبريالانو ځينې ژبنۍ تېروتنې........................ 206

۵. ۴. معياري ژبه، اړتيا که هوس؟ ........................... 208

۵. ۵. د لهجو کمال............................................ 211

۵. ٦. په نومونو او لوحو کې د اضافت اضافي «د» ........... 213

۵. ۷. دقت، گردان او ښکلا....................................... 215

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵. ۸. د لیکوال سبک او د ژبې ظرفیت ......................217
۵. ۹. فاصله ......................................................220
۵. ۱۰. د فعلونو تکرار/ د اوبو د ثاخکو څټك ..............222
۵. ۱۱. لیکنښې......................................................222

**مأخذ: ............................................ 237**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړۍ برخه

## ۱. د ليکوالۍ عمومي تخنيکونه

### ۱.۱. ژانرونه/ د متنونو ډولونه/ Genres

ژانر هغه قالب، چوکاټ يا فارمټ دی چې يو متن په کې ليکل کېږي. هر ژانر داسې ځانګړنې لري چې له نورو ژانرونو يې بېلوي. دغه ځانګړنې د متن له شکل او محتوا دواړو سره رابطه لري. ژانر دا هم معلوموي چې يوه موضوع په کوم ډول ژبه بايد وليکو؛ مثلاً: د خاطرې موضوع زموږ شخصي تجربې دي او خاطره په صميمي ژبه ليکو او خپل احساسات او عواطف هم په کې بيانولی شو خو د علمي مقالې موضوع ثابت شوي واقعيتونه او علمي تجربې وي چې په رسمي ژبه ليکل کېږي او د عواطفو له پاره چندانې ځای په کې نشته. مثلاً، په خاطره کې وايم: «بې درکه خوشحاله وم. هغه مې ډېره موده وروسته وليده. له هيجانه مې زړه ټوپونه وهل. لاسونه مې رېږدېدل.» خو په علمي مقاله کې ليکم: «ناولې اوبه د نس ناستي، پېچش او ځينو نورو ناروغيو عمده سبب دی.»

ژانرونه له لويه سره په دوو عمده ډلو وېشل کېږي:

تخيلي او غيرتخيلي (Fiction and Non Fiction).

تخيلي ژانرونه هغه دي چې محتوا يې د ليکوال د تخيل زېږنده وي يا لږ تر لږه تخيل په کې دخيل وي يعنې نړه واقعيت نه وي، لکه: شعر، لنډه کيسه، ادبي ټوټه، ناول، ډرامه، سناريو. دغه ژانرونه ليکوال په خيال کې جوړوي. سره له دې چې د دې ژانرونو د محتوا خام مواد په ټولنه او/ يا په طبيعت کې وي خو پخول کېږي د هنرمند (شاعر، ليکوال) په ذهن کې. کله کله تخيلي ژانرونه د واقعيتونو پر بنا هم پنځول کېږي؛ مثلاً: تاريخي ناولونه چې د تاريخي واقعاتو له مخې ليکل کېږي يا ځينې ناولونه، ډرامې يا فلمنامې چې د يو چا د ژوند په اړه جوړېږي او د هغه/ هغې د ژوند واقعي پېښې بيانوي خو د پېښو ځينې جزيات، د کرکټرونو تر منځ ځينې خبرې اترې او همدارنګه ځينې پېښې او صحنې ليکوال د تخيل په مټ ورته جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غیرتخیلي ژانرونه هغه دي چې د عیني واقعیتونو د بیان له پاره کارېږي؛ لکه: خاطره، یونلیک، ژوندلیک، خپل ژوندلیک، مقاله، گزارش، او نور. خاطره زموږ د سترگو لیدلی حال وي، یونلیک/ سفرنامه د هغو پېښو او ځایونو بیان دی چې په واقعیت کې مو لیدلي دي، مقاله د علمي واقعیتونو پر بنا لیکل کېږي، ژوندلیک او خپل ژوندلیک (Autobiography) د خاطرې په شان د چا د ژوند واقعي کړه وړه او پېښې رانغاړي. په دې ټولو ژانرونو کې خیالي پېښې نه ځایېږي خو په خاطره، یونلیک او ژوندلیک کې د تخیل ځینې عنصرونه لکه تشبیه، استعاره، کنایه، او سیمبولیک بیان راتلی شي.

په دې کتاب کې به عمدتاً د غیرتخیلي ژانرونو د لیکلو تخنیکونه له بېلگو او تمرینونو سره بیان کړو خو د ځینو تخیلي ژانرونو اساسات به هم راوسپړو. پر دې سربېره، په پیل کې به ځینې داسې تخنیکونه تشریح کړو چې د ډېرو تخیلي او غیرتخیلي ژانرونو د لیکلو له پاره په کارېږي، لکه: تشبیه، توصیف، صحنه، مکالمه، لیدلوری، کرکټرکښنه، او روایت.

## ۱. ۲. تشبیه/ Simile

د آشنا شیانو په مرسته د ناآشنا شیانو توضیح کولو ته تشبیه وایي. تشبیه د شیانو، منظرو، او پېښو د بیان له پاره په کارېږي او تقریباً په هر ډول لیکنه کې ورنه گټه اخیستلی شو. موږ او تاسې په عادي خبرو اترو کې د دې له پاره چې مخاطب مو یو شی سم درک کړي، له تشبیه څخه کار اخلو. مثلاً وایو:

په اتڼ کې داسې تېز تاوېده لکه بړبوکی.
رنگ یې د تبې غوندې تور و.
داسې مړ بوی ترې لتېده لکه د ماهي.
لاسونه یې داسې ځیږه وو لکه رېگمال.
نه یو مخ خوږ و، نه بېخي تروش، د انارو غوندې ترسکون و.
هوا یې داسې سړه وه لکه سایبریا.

موږ پوهېږو چې مخاطب مو د بوړبوکې په چټکتیا پوهېږي؛ تبې پېژني او د توروالي اندازه یې ورته معلومه ده؛ د ماهي بوی، د رېگمال ځیږوالی او د انارو ترسکون خوند یې تجربه کړي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو کله چې دا آشنا شیان ورته یادوو، تمه مو دا وي چې هغه ناآشنا شیان به په ذهن کې ښه مجسم کړی شي.

که فرضاً ووایم چې بوی یې داسې و لکه د شنل (Chanel) عطر، خوند یې د پاین اپل (Pine Apple) غوندې دی، شونډې یې د انجلینا جولي غوندې وې، غږ یې د استاد قاسم افغان په شان دی ... دلته دا سمه ده چې شنل د دنیا یو مشهور عطر دی خو زموږ د وطن ځو کسانو به دا عطر لیدلي او بوی کړي وي؟ پاین اپل یا اناناس به د هماغه شي د خوند له پاره ښه مثال وي، خو دا مېوه زموږ په وطن کې څو کسانو خوړلې وي؟ د یو چا شونډې به کټ مټ د انجلینا جولي د شونډو په شان وي خو زموږ کلیوالو به د دې فلمي ستورې عکسونه لیدلي وي؟ د یو چا غږ به د استاد قاسم افغان آواز ته ډېر ورته وي، خو استاد قاسم د امان الله خان د دور سړی و او ډېرې کمې سندرې یې ثبت شوې دي نو زما مخاطب چې د افغانستان عام لوستونکی دی، د هغه غږ به وپېژني؟ سایبریا خورا یخ وطن دی خو ټول لوستونکي به د سایبریا د هوا په اړه معلومات ولري؟ نو کله چې غواړو یو شی د تشبیه په وسیله خپلو لوستونکو ته ښه ور وپېژنو، باید د مخاطب سویه، د معلوماتو اندازه او د لیدلو، اورېدلو او د تجربو دایره یې په پام کې ونیسو. هسې نه چې د هغه ړانده ټوکه ځنې جوړه شي.

وايي چا ړانده ته وویل چې پلانکی شی تک سپین دی.

هغه پوښتنه وکړه چې سپین څنګه وي؟

ده وویل: سپین د زاڼې رنګ دی.

ړانده بیا وپوښتل: زاڼه څه شی دی؟

هغه وویل: هغه اوږده غړۍ چې لري.

بیا یې د ړانده لاس د هغه پر امسا تېر کړ، ویې ویل: لکه دغه.

ړانده وویل: پوه شوم. معنا دا چې سپین زما د امسا غوندې شی وي.

په تشبیه کې باید واقعیت په پام کې ولرو او مبالغه ونه‌کړو. مثلاً که یو غنمرګی انسان له کارغه یا تبې سره تشبیه کړو، دا مبالغه ده. که د چا اورمبېږ یوه لوېشت اوږده وي او ووایو چې د اوښ په شان یې غاړه ده، مبالغه به مو کړې وي. البته په شعر کې مبالغه عامه ده خو په نثري ژانرونو کې په تېره بیا په غیرتخیلي ژانرونو کې تشبیه باید واقعیت ته نژدې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړی فعالیت:** خپل شاوخوا ته وګوره. یو څو شیان انتخاب کړه. ښه ورته ځیر شه. اوس یې د اندازې، رنګ، بڼې، بوی، خوند ... د بیان له پاره په ذهن کې داسې شیان پیدا کړه چې د انتخاب شویو شیانو ځانګړنو ته ورته وي، نورو ته آشنا وي او بل چا ته یې درک آسانه کړي. اوس یې ولیکه.

**دوهم فعالیت:** خپلې جملې ولوله او وګوره چې:

۱. هغه آشنا شی چې تا د ناآشنا شي د تشبیه له پاره غوره کړی، مناسب دی که نه؟ یعنې مشبه او مشبه‌به یو بل ته څومره ورته دي؟

۲. ستا مخاطب (عام لوستونکی) به دغه شیان پېژني چې تا د تشبیه له پاره ورنه کار اخیستی؟

۳. تشبیه دې واقعیت ته نژدې ده که مبالغه دې په کې کړې ده؟

۴. جملې دې بل چا ته ولوله او وګوره چې په ذهن کې یې د تشبیه شویو شیانو سم تصور پیدا کېږي که نه؟

## ۱. ۳. توصیف/ Description

توصیف د یوه ځای یا یوې منظرې تفصیلي او مشرح بیان دی. توصیف د لنډې کیسې، ناول، ادبي ټوټې، خاطرې، یونلیک، ژوندلیک او ګزارش د لیکلو له پاره په کارېږي.

**بېلګه**

خوندور وږم مې حس کړ. دغه خوشبویي راته آشنا غوندې وه، خو داسې بوی پخوا هېڅکله راباندې نه و نښتی. دا وږم داسې و لکه د سنځلو او د ګلابو خوشبویي چې سره ګډه شوې وي.

اسمان تک شین و، داسې روڼ لکه له بارانه وروسته چې وي. لمر نېغ زما پر سر ولاړ و. نه ګرمي وه، نه یخني. چارچاپېره ونې وې، ګلان وو. سره، سپین، زېړ، نارنجي، ګلابي، تور، او نیلي ګلونه. د ونو پاڼې او د ګلونو ګلپاڼې داسې پاکې، داسې ځلېدونکې وې لکه هره یوه دې چې په خپل لاس په رڼو اوبو مینځلې وي. ټوله ځمکه په شنه چمن پوښلې وه. چمن داسې پوست و لکه بخمل. نري سپین کالي مې پر تن وو. کالي مې داسې پاسته او ښوی وو لکه د ګلابو ګلپاڼې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنګ ته مې د منېو ونه، ډکې ځانګې ولاړه وه. په هره ځانګه کې یې هر رنګه منې ځړېدې، زېړې، شنې، نیلي، ګلابي، سرې او تورې. منې یې د سپنج غوندې وې، خورا نرمې، خورا خوږې. منې په خوله کې داسې وېلې کېدې لکه شیریخ چې په خوله کې اوبه کېږي او ژویولو ته یې حاجت نه وي. منېو نه زړي لرل، نه خلي. د ایسته غورځولو هېڅ شی په کې نه و. [زما د ناچاپ ناول «دوزخ په جنت کې» یوه برخه]

د دې له پاره چې ښه توصیف ولیکو، باید هر شي ته په ځیر وګورو. باید د هر شي فیزیکي خصوصیاتو یعنې بڼې، رنګ، اندازې، بوی، کلکوالي/ پوستوالي، او (که د خوراک شی وي) خوند ته یې دقت وکړو.

کله چې د یوه ځای توصیف لیکو، هر څه باید هماغسې تشریح کړو چې پخپله مو درک کړي دي. د دې کار له پاره جملې باید داسې ولیکو چې هماغه ځای او شیان د لوستونکو سترګو ته ودروي. کهووایو چې:

«د پغمان دره ډېره ښکلې ده – هوا یې سړه ده. د پغمان په دره کې لوی سیند بهېږي – هلته دنګې ونې او رنګ رنګ ګلونه دي.»

دلته «ښکلې، لوی، دنګې، رنګ رنګ» مبهم او ګونګ صفتونه دي ځکه چې ښکلا، لویوالی، دنګوالی او رنګ رنګوالی نسبي مفاهیم دي. لوی یعنې څومره؟ د کوټې په اندازه؟ د غونډۍ په اندازه؟ د غره په اندازه؟ د سمندر په اندازه؟ دنګ بوټی ممکن دوه متره وي او دنګه ونه کېدای شي دېرش متره وي. یو منار که شل متره لوړ وي، دنګ بلل کېږي او که شپیته متره وي هم. نو د دې له پاره چې دغه توصیف واضح شي، باید ابهام ځنې وباسو.

دا بېلګه وګوره:

«د پغمان درې هوا داسې سړه ده چې د اوړي په سره غرمه کې هم څوک نه خولې کېږي. هلته یو سیند دی چې پنځه ګزه یې سور دی او دومره ژور چې سړی تر اوږو پورې په کې ډوبېږي. دا سیند ډک بهېږي او اوبه یې داسې تېزې روانې وې چې که دې څپلۍ یوسي، په منډه هم ورپسې نه شې رسېدلی. د اوبو شرهار یې له سل متره لرې واټن څخه اورېدل کېږي. اوبه یې دومره روڼې دي چې په تل کې یې سپینې ګردې تیږې لیدلی شې او د ګوټې په اندازه واړه واړه سپین او زرین کبان په کې وینې چې دې خوا ها خوا ګرځي. د سیند په دواړو غاړو کې د چنار

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره دنګې ونې ولاړې دي چې دوه پوړيز کورونه يې تر نيمايي هم نه دي. تر ونو ها خوا د مرسل سره، زېړ، نارنجي، سپين او ګلابي ګلونه قطار دي.»

په دې دوهمه بېلګه کې د تشبيه، مقياس او مقايسې، او د مخاطب د عيني تجربو په مرسته د هر شي وصف داسې شوی دی چې لوستونکي ته يې درک آسانه کړی او مبهم په کې څه پاتې نه شي. د سيند لويوالی د ګز په مقياس، د اوبو د شرهارو د غږ تېزي د متر په مقياس توضيح شوي دي. د چنارونو دنګ والی د دوه پوړيزو کورنو له دنګوالي سره پرتله شوی دی. د اوبو روڼوالی د عيني تجربې په مټ ښودل شوی دی. کېدای شي ډېر کسان د سيند په تل کې د تيږو او کبانو د ليدلو تجربه ولري نو له همدې عيني تجربې څخه د اوبو د روڼوالي له پاره يو مقياس جوړوو. لوستونکی د اوړي د سختې ګرمۍ تجربه لري او کله چې ورته وايې د پغمان هوا داسې سړه ده چې د اوړي په سره غرمه کې هم په کې نه خولې کېږې نو د دې سوړوالي تصور خامخا کولی شي.

توصيف بايد داسې وليکو چې د لوستونکو پنځه ګونو حواسو ته خطاب وکړي. د اوبو شرهار د اورېدلو حس ته، د ګلونو رنګ، د سيند د اوبو روڼوالی او د ونو دنګوالی د ليدلو حس ته، د ګلونو وږم د بويولو، خوږوالی د ذايقې حس ته او د هوا سوړوالی د لامسې حس ته خطاب کوي. کله چې لوستونکی داسې بيان لولي، هر څه داسې احساسوي لکه په خپلو حواسو يې چې درک کوي.

**لومړی فعاليت:** په هر ځای کې چې يې، شاوخوا ته دې ښه ځير شه. د هر شي بڼه، رنګ، اندازه يا حجم، پوستوالی، ځيږوالی او نورې ځانګړنې په ذهن کې وساته. خپل ټول حواس وکاروه. څه وينې، څه اورې، څه بويوې، څه لمس کوې؟

اوس نو سترګې پټې کړه او دا هر څه په ذهن کې مجسم کړه. بيا سترګې پرانيزه او وګوره چې د هر څه ځانګړنې دې سمې په ياد وې که نه؟ يو وار بيا هر شي ته ځير شه. کاغذ او قلم راواخله. خپله مشاهده داسې وليکه چې لوستونکي ته هر څه له جزيياتو سره واضح بيان کړي. په ياد ولره چې د لوستونکي ټول حواس به په پام کې نيسې او د منظرې بيان به ورته داسې کوې چې هر څه ويني، واوري، بوی کړي، لمس کړي او (که د څکلو شی وي) وڅکي.

**دوهم فعاليت:** اوس خپل متن ولوله، يو ځل بيا شاوخوا ته وګوره او دغو پوښتنو ته ځواب ورکړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. په متن کې هر څه واضح بيان شوي دي؟
۲. کله چې متن لولې، داسې احساس کوې چې ته پخپله په هماغه ځای کې يې؟
۳. په متن کې مختلفو حواسو ته خطاب شوی دی؟
۴. مبهم يا ګونګ صفتونه په کې راغلي دي؟
۵. داسې څه شته چې هلته وي او تا نه وي بيان کړي؟

## ۱. ۴. صحنه/ Scene

**تعريف:** څنګه چې توصيف د يوه ځای يا منظرې تشريح ده، صحنه هم د پېښو تفصيلي بيان ته وايي. استاد اسدالله غضنفر په يوه مقاله کې صحنه داسې تعريفوي: «هغه څه ته چې په واحد زمان و مکان کې پېښېږي او لوستونکي ته په مستقيم ډول وړاندې کېږي؛ د داستان صحنه وايو. د ادبي اصطلاحاتو په يوه ډکشنري کې لولو: د داستاني آثارو په بحث کې صحنه د روايت نمايشي [ډراماتيک] ډول ته وايي چې پېښې پکې هماغسې، لکه څنګه چې د پېښېدلو تصور يې کوو، وړاندې کېږي.»

البته صحنه يوازې په داستاني ادبياتو (لنډه کيسه، ناول، ډرامه) پورې محدوده نه ده، بلکې د توصيف په شان د خاطرې، يونليک، ژوندليک او ګزارش د ليکلو له پاره هم په کارېږي.

### بېلګه

لمر د چهلستون د غره له سره لا يو نيزه پورته شوی و چې لارۍ بېرته راغله. د خيرآباد د غونډۍ په بېخ کې يوه سپينه کرولا ولاړه وه. بانټ يې پورته و. يوه سړي د موټر په ماشين کې ګوتې وهلې.

بل سړي لارۍ ته لاس ونيو، و يې ويل: استاده! ته خو يو وار دا موټر وګوره. سم دم روان و، ناڅاپه ګل شو.

موټروان په ملنډو وويل: تاسې ټول د شټرنګ ډرېوران يئ.

له جلوه راکښته شو. د کرولا خوا ته روان شو.

ناڅاپه «ټک» شو.

شا ته يې مخ واړاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میوند ورته تمانچه نیولې وه.

ده چې شا ته کتل، فهیم رامنډې کړې او په څټ کې ورته کلکه لغته ورکړه.

سړی پړمخې ولوېد.

فهیم یې لاسونه شا ته وروتړل.

سړي چیغه کړه: څه مې کړي دي؟ تاسې څوک یئ؟

میوند یې خوله په پلن رابړ ټېپ سره بنده کړه.

فهیم او میوند موټړوان له مټو ونیو، د کرولا په شاتني سیټ کې یې څملاوه. پښې یې هم وروتړلې.

میوند کرولا چالانه کړه.

فهیم له لارۍ څخه پل موندونکی راواخیست او په منډه کرولا ته وروخوت.

[«د ولسمشر فرمان» له ناول څخه]

صحنه به یا واقعي پېښه بیانوي یا خیالي. د واقعي پېښې بیان د ګزارش، خاطرې، یونلیک او ژوندلیک له پاره په کارېږي او خیالي صحنه بیا د لنډې کیسې، ادبي ټوټې، ډرامې او ناول له پاره جوړېږي. هماغسې چې د یوه ځای یا منظرې د توصیف له پاره لیکوال باید هر څه ته په ځیر وګوري او په خپل ټول حس سره یې درک کړي، د صحنې د لیکلو له پاره هم باید همداسې وکړي.

کله چې صحنه لیکو، باید هڅه وکړو چې تر ممکنه حده پورې د لوستونکو بېلابېلو حسونو ته خطاب وکړو. په پورتنۍ بېلګه کې یوازې دوو حسونو، لیدلو او اورېدلو، ته خطاب شوی دی. د کرکټرونو ترمنځ خبرې او په تمانچه کې د مرمۍ د تېرولو غږ «ټک» په لوستونکي اورېدل کېږي او د کرکټرونو حرکتونه، د لمر موقعیت، د کرولا موټر سپین رنګ او پورته شوی بانټ ... د لیدلو حس ته مخاطب دي. خو که په پېښه کې فرضاً د عطرو بوی، سوړ باد، تېزه ګرمي ... هم وي، باید داسې بیان شي چې لوستونکی فکر وکړي چې پخپله د پېښې په ځای کې ولاړ دی او هر څه په خپلو حواسو درک کوي.

دا مهمه ده چې پېښه په زماني ترتیب سره بیان شي؛ یعنې اول څه پېښېږي، بیا څه کېږي او همداسې تر پایه پورې. په دې مثال کې اول د لارۍ ډرېور وینې چې یوه سپینه کرولا ولاړه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بانټ يې پورته دی. بيا يو سړی د لارۍ مخې ته دربېږي او لاس ورته نيسي چې ودرېږي. ورپسې ميوند ورته وايي چې موټر يې خراب دی. بيا موټړوان کوزېږي. وروسته په تمانچه کې د مرمۍ د تېرولو غږ اوري. بيا د شا له خوا په لغته وهل کېږي ....

پېښه هم د توصيف په شان، د صفتونو او مقياسونو په مرسته بيانېږي خو دا چې په پېښه کې حرکت او عمل هم وي نو د عملونو د توصيف له پاره ممکن قيدونه هم وکارول شي. دا صفتونه او قيدونه بايد مناسب او دقيق وي او د پېښې د مجسم کولو چاره آسانه کړي. په راغلې بېلګه کې «سپينه، کلکه او پلن» صفتونه دي چې د کرولا رنګ، د لغتې شدت او د رابرټېپ اندازه راښيي. «سم دم، ناڅاپه، په ملنډو، په منډه» قيدونه دي چې د موټر د روانېدو او درېدو، د موټړوان د خبرو انداز او د فهيم د حرکت څرنګوالی ښيي.

**لومړی فعاليت:** په کلي، ښار، مکتب، پوهنتون يا هر ځای کې چې يې، خامخا يوه نيمه پېښه پېښېږي. حتمي نه ده چې دا پېښه دې عجيبه او حيرانوونکې وي. هره عادي پېښه چې وينې، ښه ورته ځير شه. د پېښې جزياتو ته دقت وکړه. مثلاً:

⇐ ليني موټر ته منتظر يې. ماښام نږدې دی. ډېر خلک د سړک په غاړه ولاړ دي خو موټر نشته. اوس نو هر موټر چې رارسېږي، وګوره چې خلک د موټر خوا ته څنګه ځي؟ ورو ورو ځي که منډې کوي؟ نوبت ته ګوري که هر څوک هڅه کوي پخپله موټر ته وخېژي؟ د ښځو، سپين ږيرو، ماشومانو پروا کوي که يوازې د ځان غم کوي؟

⇐ له دوکان څخه سودا اخلې. وګوره چې دوکاندار شيان څنګه بيه کوي؟ څنګه يې تلي؟ څنګه يې په کڅوړه کې اچوي؟ پيسې چې ورکوې، څنګه ورته ګوري؟ پيسې په جيب کې اچوي که په دخل کې؟

⇐ په صنف کې ناست يې. استاد لا نه دی راغلی. شاګردان څه کوي؟ څه وايي؟ استاد صنف ته په کوم انداز راننوځي؟ شاګردان د استاد په راتلو سره څه کوي؟

⇐ د سړک پر غاړه ولاړ يې. د موټرو ټکر کېږي. وګوره چې دا ټکر څنګه پېښېږي؟ موټړوانان له ټکر وروسته څه کوي او څه وايي؟ ټرافيک څه وايي؟ خلک څه کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



قلمـ او کاغذ راواخله او څه دې چې ليدلي، اورېدلي او حس کړي دي، په تفصيل سره يې وليکه. کولی شې د هغو پېښو بيان همـ وليکې چې پخوا دې ليدلې دي. حافظه دې وکاروه. د پېښې جزيات در ياد کړه او ويې ليکه.

**دوهمـ فعاليت:** اوس دې نو ليکلی متن ولوله او دې پوښتنو ته ځواب ووايه:

۱. د پېښې جزيات واضح بيان شوي دي؟

۲. پېښه په ترتيب سره راغلې ده؟

۳. کله چې متن لولې، داسې احساسوې چې ته پخپله په هماغه ځای کې يې؟

۳. په متن کې مختلفو حواسو ته خطاب شوی دی؟

۴. د پېښې د بيان له پاره کارول شوي صفتونه او قيدونه، مناسب او دقيق دي؟

۵. داسې څه شته چې په پېښه کې وي خو تا ليکلي نه دي؟

که واقعي پېښو ته ښه ځير شې او د ليکلو چل يې زده کړې، بيا به تخيلي پېښې هم وليکلای شې. کله چې په ذهن کې يوه خيالي پېښه جوړوې، داسې يې جوړه کړه چې د واقعي پېښې غوندې وي يعنې منطقي وي او لوستونکو ته داسې ښکاره شي چې په رښتيا به پېښه شوې وي.

## ۱ .۵. مکالمه/ Dialogue

د دوو يا څو کسانو ترمنځ خبرو اترو ته مکالمه يا ډيالوګ وايي. مکالمه هم د صحنې غوندې کېدای شي واقعي وي چې دا ډول يې په خاطرو، ګزارشونو، ژوندليکونو او يونليکونو کې راوړل کېږي او يا به خيالي وي چې ليکوال يې په خپل ذهن کې جوړوي. خيالي مکالمه د تخيلي ژانرونو (لنډه کيسه، ناول، ډرامه) برخه وي.

د واقعي مکالمې په ليکلو کې بايد صداقت په پام کې ولرو. د هر چا خبرې بايد هماغسې راواخلو چې کړې يې دي، نه دا چې د هغه له خبرو خپل تعبير وليکو. [خبريالونو څو وارې راسره ټيلفوني مرکې کړې دي خو کله يې چې ليکلې دي، بل شی يې ترې جوړ کړی. اوس که څوک د هغوی ليکنه ولولي، فکر کوي چې ما به هماغسې خبرې کړې وي. دا کار ناسمـ دی.] کله چې د بل خبره ليکو، بايد امين وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه د هر چا د خبرو انداز متفاوت وي او هر څوک له خپلې پوهې او سويې سره سمې کلمې او جملې کاروي. يو بېسواده کس به «اروا‌پوهنه، بنسټپالنه، ترهګريز، روزنيز، ښوونه او روزنه، ...» کلمې په خپلو خبرو کې نه وايي.

خيالي مکالمه چې ليکوال يې د خپلې لنډې کيسې، ناول يا ډرامې له پاره جوړوي هم بايد د هر کرکټر له سويې، پوهې، اروايي حالت، مقام، سيمې او لهجې سره اړخ ولګوي. د خيالي مکالمې ليکل نورې باريکۍ هم لري او که غواړې تخيلي ژانرونه وليکې نو په دې باره کې د استاد اسدالله غضنفر مقاله ولوله.

## د خيالي مکالمې بېلګه:

د جومات له بل سره په پاکو سپينو جامو، تور واسکټ او سپينې پګړۍ کې يو نوراني سړی زما خوا ته راغی.

په لويه ږيره کې يې ګوتې وهلې. څنګ ته مې کېناست. ويې ويل: مهاجر يې؟

- هو.

- خه، خه، خه، خه. ماشأالله، ماشأالله. سه روزګار کيې؟

- د ټاييلونو په فېکټرۍ کې مزدوري کوم.

- ګوره، بچيه! د دنيوي کارونو ختمېدا نيشتې. لګ لګ د آخرت کارونه هم کوه کنه، سه پوی شوې؟

- څنګه؟

- جي، هغه داسې چې تبليغ وکه. د نبي کريم سنت. ګوره ته خو خپله خه سړی يې، مونز دې قايم کړې خو د نورو بنده ګانو غم به هم کيې که نه. نورو له به هم تبليغ کيې، امر بالمعروف و نهی عن المنکر به کيې.

- مولانا صيب! زه کله په څه پوهېږم. ايله مې يو څو سورتونه زده کړي چې په لمانځه کې يې ووايم. نور نو «ان پړهـ» سړی يم. قرآن شريف له رويه لا نه شم ويلی.

- جي، هېس پروا نيشتې. دومره خو پويېګې چې مونز فرض دې، روژه فرض دې، زکات فرض دې، حج فرض دې. تبليغ خو بل سه نه دې، همدقه خبرې به خلکو له کيې کنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په دې خو نو هر څوک پوهېږي. مولانا صیب! زه غریب سړی یم، خپله مزدوري به کوم.

- خو زم درله همدا وایم چې مونګه سره رایشه. خرما او ثواب دواړه به وګټې جي. خرڅه به درله درکو. نورو زایونو له به دې لېګو. لاهور له، پېښور له، اسلام آباد له. که دې وخت راسره تېر کو، بیا دې یورپ له لېګو، امریکې له دې لېګو. سوچ وکه جي. [زما د ناچاپ ناول «دوزخ په جنت کې» یوه برخه]

**لومړی فعالیت:** هره ورځ د یو څو کسانو خبرو ته غوږ شه. وګوره چې څه رقم غږېږي، کوم تکیه کلام کاروي، کومې کلمې او څه ډول جملې وایي. بیا د هغوی خبرې ټکي په ټکي هماغسې ولیکه چې دوی کړې وي. بله ورځ بیا د هماغه کسانو خبرو ته ځیر شه او خپله لیکلې مکالمه وګوره چې د دوی له خبرو څخه څه توپیر لري. که د واقعي مکالمو لیکل زیات تمرین کړې بیا خیالي مکالمې هم لیکلی شې.

**دوهم فعالیت:** که غواړې چې خیالي مکالمه ولیکې، دوه کسان په ذهن کې مجسم کړه. د هر یوه د پوهې او معلوماتو اندازه، تحصیل، مقام او دنده په پام کې ونیسه او بیا پر یوې موضوع د دوی ترمنځ کېدونکې خبرې اترې ولیکه. د کار د آسانۍ له پاره لاندې د کرکټرونو ځانګړنې او د خبرو اترو موضوعګانې درکړل شوې دي. ته ورته مکالمې ولیکه.

- ✓ یو ډاکټر چې حرص یې زیات دی، له لابراتوار او اکسرې والا سره لاره لري او د معایناتو په بدل کې کمېشن ورنه اخلي. بل کرکټر یو بېوسه او بېسواده کلیوال ناروغ دی. ډاکټر غواړي هغه قانع کړي چې ډېر معاینات وکړي. اوس د دوی تر منځ یوه مکالمه په ذهن کې جوړه کړه او ویې لیکه.
- ✓ یو رشتخوره مامور چې د پنځوسو کالو دی او یو ځوان چې هروخت یې د رشوت او فساد پر ضد په خپل فېسبوک کې لیکنې کړې دي. د ده کار قانوني دی خو مامور یې ورته نه کوي. دی ډېره بېړه لري او که کار یې همدا نن اجرا نه شي، ډېر تاوان به وکړي. د دوی ترمنځ مکالمه جوړه کړه.
- ✓ یو تکړه محصل چې په امتحان کې یې نومرې کمې شوې دي او دی باور لري چې باید یې نومرې پوره وای. دی له هغه استاد سره خبرې کوي چې د ده نومرې یې کمې کړې دي. محصل ته ویل شوي دي چې دا استاد پیسې خوري.
- ✓ په اډه کې وار د یوه موټر دی خو بل موټروان سپرلۍ خپل موټر ته خېژولې دي. دغه موټروان هر وخت سرزوري کوي او د بل وار ته نه ګوري خو هغه بل د اډې

(c) ketabton.com: The Digital Library



قانون مني، عاجز انسان دی خو له خپل حقه هم نه تېرېږي. درېم کس د اډې منشي دی. هغه ډارن دی او له سرزوري ډېر ښه وېرېږي. د درې واړو تر منځ یوه مکالمه جوړه کړه.

## ۱. ۶. کرکټر کښنه/ Characterization

د وګړو د ظاهري او باطني ځانګړنو بیان ته کرکټر کښنه وايي. هماغسې چې د ځایونو او منظرو د بیان له پاره توصیف او د پېښو د انځورولو له پاره صحنه لیکل کېږي، د کسانو پېژندګلوي هم په کرکټر کښنه کېږي.

کرکټر کښنه د توصیف، مکالمې او صحنې غوندې هم د تخیلي ژانرونو له پاره په کارېږي هم د غیرتخیلي هغو ته. که د چا په اړه خپله خاطره لیکو، که د چا یا خپل ژوندلیک او یا خپل یونلیک لیکو، نو د دې له پاره چې کرکټرونه د لوستونکي سترګو ته ودروو، سم یې باید معرفي کړو.

**۱. ظاهري ځانګړنې:** د کرکټر په ظاهري ځانګړنو کې د هغه ونه، بڼه، رنګ، مخ، سترګې، پوزه، خوله، اندامونه، کالي ... شامل دي.

### بېلګه

یو دنګ غنم رنګی هلک د ښوونځي په دروازه راننوت. برګ نیم لستوڼی کمیس یې د پتلانه پر سر پروت و. نه دومره ډنګر و، نه چاغ. له چابک تګ سره یې تور وېښتان پورته پورته غورځېدل. لاسونه یې ډېر خوځول. نرۍ شونډې یې موسکې وې. کله یې ښي طرف ته کتل او چا ته یې د سلام لپاره لاس پورته کاوه او کله چپ طرف ته. په شنو سترګو کې یې اثرناکه ځلا وه. [«ترلي» لنډه کیسه «د ... فلسفه» له ټولګې څخه]

په دې بېلګه کې د کرکټر ځینې ظاهري ځانګړنې او ځینې باطني خصوصیتونه بیان شوي دي. جامې، د پوستکي، وېښتانو او سترګو رنګ، جسامت، ونه ... یې ظاهري خصوصیات دي. دا چې موسک وی او هر چا ته د سلام له پاره لاس جګوي، د ده اجتماعي توب ښيي او باطني ځانګړنې یې دي. البته که د یوه کرکټر د ظاهر او باطن په اړه ټول معلومات یوستوي او په یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای کې ولیکو، د لوستونکي زړه ورسره تنګېږي. ښه به دا وي چې د داستان یا بلې لیکنې په اوږدو کې په مختلفو پېښو او صحنو کې کرکټر ورو ورو معرفي کړو. پورته مثال له یوې لنډې کیسې اخیستل شوی دی. کرکټر اېمل نومېږي او لوستونکی د هغه شخصیت هغه مهال سم پېژني چې کیسه تر پایه پورې ولولي.

د کرکټرونو یا وګړو ظاهري بڼه معمولاً په دوو لارو بیانېږي. یوه دا چې د یو چا ټولې ځانګړنې یوستوې بیان کړې؛ مثلاً:

په ونه ټیټ و خو داسې چاغ لکه بېلر. خېټه یې راوتلې وه. غمبوري یې له ډېرې چاغۍ نه پر ژامې راځړېدلي وو. له رنګه تک تور و. مخ یې ګرد لکه دایره، سترګې یې وړې او پوزه یې پېړه وه. د پوزې سر یې د یوه غټ مټک په اندازه و. ږیره یې تر ټټره پورې رسېدې او برېتونه یې خرییلي. غاړه یې دومره لنډه وه چې ته وا سر یې په اوږو کې ننوتلی دی. د سر څېرې یې پک و خو د ټېکونو له پاسه او په څټ کې یې تار تار ویښته ښکارېده. سپین کمیس پرتوګ یې په خیرو کې زېړبخون شوي وو. په تور واسکټ کې یې سپېره خاپونه وو لکه پر غوړ ټوکر چې دوړې ناستې وي.

دا ډول بیان که اوږد شي، ممکن د لوستونکي زړه تنګ کړي او د «و، وه، وو» فعلونو ډېر تکرار هم بې‌خوندي جوړوي.

د کرکټر د انځورولو بله لاره دا ده چې د کرکټر ځانګړنې د هغه د حرکتونو په ترڅ کې بیان کړې، لکه ښاغلي نصیر احمد احمدي چې په «رڼا» ناول کې دا کار کړی دی. دلته به یې بېلګه وګورې:

« په وره کې یو ګردی سړی ودرېد. دی له ونې ټیټ و، راوتلې ګېډه یې درلوده او پاسنۍ شونډه یې په ګڼو سپینو ویښتو کې پټه وه ... سړي خپل پټکی په غولي کېښود، د ککرۍ تار، تار سپین ویښته یې په خولو لانده وو. بیا یې په خپله ګڼه ږیره کې د ښي لاس لنډې ګوتې تېرې کړې.»

څنګه چې په دې بېلګو کې یې ګورې، کرکټر کښنه هم د صفتونو او تشبیه‌ګانو په مټ کېږي.

**لومړی فعالیت:** هغه چا ته چې غواړې ظاهري بڼه یې بیان کړې، ښه په ځیر وګوره. سترګې دې پټې کړه او د هغه بڼه له ټولو جزیاتو سره په ذهن کې راژوندۍ کړه. سترګې دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرانيزه او بيا ورته ځير شه. وګوره چې کومې ټکي درنه هېر وو. هماغو ټکو ته بيا هم وګوره. **اوس** نو د مناسبو صفتونو او تشبيه‌ګانو په مرسته، د هغه ظاهري ځانګړنې يوستوې وليکه.

**دوهم فعاليت:** اوس د هماغه کس ظاهري خصوصيتونه په تدريج سره د پېښې يا حرکتونو په ترڅ کې بيان کړه چې له يوستوي حالت څخه راوځي.

که د واقعي کسانو د ظاهري بڼې ليکل ښه تمرين کړې، بيا کولی شې خيالي کرکټرونه هم په کاميابۍ سره وکارې.

**۲. باطني ځانګړنې:** د کرکټر باطني ځانګړنې يعنې شخصيت، اخلاق، مفکورې او باورونه د هغه په کړو وړو او خبرو اترو کې معلومېږي. لکه دغه فارسي شعر چې وايي:

تا مرد سخن نګفته باشد

عيب و هنرش نهفته باشد

ځينې کسان وي چې په ظاهره کې به يې هر څه ښه برابر وي، ښه لوکس کالي يې اغوستي وي، خو کله چې خبرو ته خوله خلاصه کړي، بيا ګورې چې هېڅ کمال نه لري. داسې هم کېږي چې د چا خبرې ښې وي خو چې کارونو ته يې وګورې، د خپلو خبرو خلاف، په عمل کې چندان سړی نه وي.

په هره توګه، د کرکټر د کړو وړو او خبرو اترو بيان هماغسې کېږي چې د صحنې او مکالمې په برخه کې مو وويل. د يوه کرکټر د خوی بوی د تشريح کولو له پاره معمولاً له صفتونو څخه کار اخيستل کېږي؛ لکه: هغه ډېر شوم و. کريم مهربانه انسان دی. ګل ببو زړه سواندې ده. جبار سخت غوسه ناک سړی و.

خو که د يوه کرکټر باطني ځانګړنې د صفتونو په مرسته بيان کړو، دا به د هغوی په اړه زموږ قضاوت وي او پر لوستونکو به چنداني اغېزه ونه کړي. که غواړې چې لوستونکي دې پخپله د يوه کرکټر د شخصيت په باره کې قضاوت وکړي، د کرکټر خويونه، باورونه او اخلاق د هغه/ هغې په خبرو او عملونو کې وښييه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بېلګه**

ډاکټر د سپین ږیري ناروغ د وینې د معاینې نتیجه وکتله. ویې ویل: هماغه زما خبره ده. محرقه یې.

نسخه یې ولیکله. ناروغ ته یې ورکړه.

ناروغ په ټيټ غږ وویل: ډاکټر صیب! امممممم. دا دوایي به د څو روپیو وي؟

ډاکټر نسخه بېرته واخیسته، څو شېبې یې ورته وکتل. د هرې کرښې په کتلو سره به تر شونډو لاندې بونګېده. په آخر کې یې وویل: یو دوه – دوه نیم زره افغانۍ.

نسخه یې بېرته سپین ږیري ته ورکړه.

ډاکټر پوښتنه وکړه: کاکا، څه کار و بار کوې؟

ناروغ وویل: روز مزدوري کوم، خووو ... که پیدا شي.

ډاکټر وویل: دوایي دې واخله، ښه به شې. خدای مهربانه دی.

ناروغ د زاړه واسکټ له بغلي جېب څخه څو زاړه سلګون نوټونه راوایستل. مخ یې دېوال ته واړاوه. په ځیرو ګوتو یې وګڼلې. څلور دانې وې. پیسې یې بېرته جېب ته کړې. اسویلی یې وکیښ.

ډاکټر مخ بلې خوا ته کړی و خو د سترګو له کونجه یې ناروغ څاره.

ناروغ پاڅېد. ویې ویل: خیر یوسې ډاکټر صیب.

دی لا د کتنځي وره ته نه و رسېدلی چې ډاکټر پرې غږ وکړ: کاکا! دوایي دې بیا راوړه چې ویې ګورم.

ناروغ مخ راواړاوه، ویې ویل: ولا ډاکټر صیب، اوس خو پیسې نه لرم. چې پیدا مې کړې، وابه یې خلم.

ډاکټر له ځایه پاڅېد. درې چابک ګامونه یې واخیستل. ناروغ ته یې ځان ورساوه. له لاسه یې نسخه واخیسته.

ناروغ وویل: خیر دی ډاکټر صیب، ستا فیس به پرې کړم، نسخه مه رانه اخله.

ډاکټر له وره ووت، ویې ویل: ته راځه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نسخه يې درملتون والا ته ورکړه، ويې ويل: کاکا ته دوايي پوره ورکړه، پيسې يې په ما پسې وليکه.

که دغه بېلګې ته ځير شې، وبه وينې چې د کرکټرونو د معرفۍ لـه پـاره هـيڅ صـفت نـه دی راغلی خو د ناروغ او د ډاکټر د شخصيتونو او وضعيت په اړه دې خپل تصور او قضـاوت جـوړ شـوی دی.

**لومړی فعاليت:** پورتنۍ بېلګه يو ځل بيا ولوله. د نـاروغ او ډاکـتر خـبرو اتـرو او کـړو وړو تـه ځير شه او د هر يـوه لـه پـاره درې درې صـفتونه وليکـه. مـثلاً د نـاروغ يـو صـفت دا دی چـې هغـه غريب دی.

**دوهـم فعاليـت:** لانـدې د يـو څـو کرکټرونـو لـه پاره مـې صفتونه راوړي دي. تـه د هـر يـوه صفت د هغه/ هغې په عملونو کې داسې راوښـيه چـې د خيـرمن، مهربـان، ظـالم، سـخي، ... کلمې په کې رانه شي.

- ❖ خيرمنه ښځه
- ❖ ظالم قوماندان
- ❖ مهربانه نجلۍ
- ❖ سخي دوکاندار
- ❖ غوسه‌ناک موټروان
- ❖ ډارن هلک
- ❖ ريشخند ځوان
- ❖ ټوکي سپينږيری

## ۱. ۷. ليدلوری/Point of View

ليدلوری يعنې پېښو ته له کوم لوري څخه ګورې. په دې کې دوې خبرې دي: سـتا موقعيـت او ستا مفکوره. همدا اوس چې په هر ځای کې يې، تا ته هغه څه ښکارېږي چې مخې ته دې پراتـه دي يا پېښېږي خو څه چې ستا له سـترګو پنـاه دي، درتـه نـه ښـکارېږي. دلتـه سـتا موقعيـت سـتا ليدلوری تعيينوي خو دا چې پېښو يا شيانو ته په کومه سترګه ګـورې، دا هـم د ليـدلوري برخـه ده. په بله وينا ليدلوری يعنې دا چې څه وينې او څنګه يې وينې. دې پېښې ته ځير شه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد او محمد په یوه وخت کې یوې حجرې ته ورننوځي. هلته یو سپین ږیری سړی د حجرې په بر سر کې پر چوکۍ ناست دی. اوږده ږیره یې ده او ویښتان یې په تورې پګړۍ کې پټ دي. سپین کالي یې په تن او امسا یې په لاس کې ده. په یوه لیکه کې ځوانان، ماشومان او بوډاګان ولاړ دي. یو یو کس په وار سره سپین ږیري ته ورځي، مخې ته یې سجده کوي. پښې یې ښکلوي. لاس یې مچوي او پر سترګو یې موښي. بیا د کوټې له دېوال سره د نورو کسانو په څنګ کې کېني. په لیکه کې ټول ولاړ کسان چې دا وار تېر کړي او کېني، بیا ذکر شروع کېږي. «هی، هو، الله هو» نارې کوي او سر او سټه وړاندې وروسته خوځوي. بیا د دې کسانو له منځه یو تن راپاځي او په لوړ غږ د «هل و هو» نارې کوي او ګرد تاوېږي راتاوېږي. سترګې یې د کوټې چت ته نیولې دي او لکه بړبوکۍ څرخېږي، څرخېږي، څرخېږي. وار په وار سره تېزېږي او په آخر کې ګرېوان په دواړو لاسو راشکوي او خپل کمیس تر لمنې پورې څیروي. بیا نور کسان پاڅېږي او هغه راټینګوي.

پېښه هماغه ده چې پورته مو ولوسته. اوس نو په دې دوو کسانو کې چې دې حجرې ته تللي دي او دا پېښه یې لیدلې ده، احمد صوفي‌وزمه سړی دی او په پیرانو عقیده لري خو محمد دا کارونه غیرشرعي ګڼي. همدا پېښه به د دواړو له لیدلوریو جلا جلا ولیکو.

**الف. د احمد له لیدلوري:**

قربان یې شم، د پیر صاحب حجرې ته تللی وم. محمد هم راسره و. پیر صاحب مبارک نو داسې نوراني و چې له مخ څخه یې نور ورېده. پیر صاحب د کوټې په بر سر کې پر مبارکه چوکۍ ناست و. مریدان ورته په لیکه کې ولاړ وو. یو یو به د مبارک مخې ته تعظیم وکړ. مبارکې پښې به یې ښکل کړې. مبارک لاسونه به یې مچو کړل او بیا به د نورو مریدانو په خوا کې کېناستل او د کوټې یوه دېوال ته به یې ډډه ولګوله. دا څومره بختور کسان دي چې د پیر صاحب زیارت یې په نصیب شوی دی. ترې جار مې کړې، پیر صاحب نو پر مریدانو دومره مهربانه دی چې ټولو ته یې اجازه ورکړه چې خپلې شونډې او سترګې د ده مبارک په پښو او لاسونو متبرکې کړي. بیا نو ذکر شروع شو. اخ چې څومره راباندې ښه لګېده. «هی، هو، الله هو» دې نارو داسې اثر راباندې وکړ چې د بدن ویښتان مې نېغ ودرېدل. زړه مې په ټوپو و. په رګونو کې مې عشق جاري و، د پیر صاحب عشق. بیا نو یو مرید جذباتي شو. راپاځېد او ګډ شو. څومره بختور مرید و. که په چا

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندې د پیر صاحب خاص نظر نه وي، هغه هېڅ کله نه جذباتي کېږي. نو دا مرید سخت بختور و. دومره جذباتي شو چې وڅرخېد، وڅرخېد، وڅرخېد او بیا یې ګرېوان ته لاس واچاوه، خپل کمیس یې تر لمنې پورې یې وشکاوه. خو افسوس چې نورو مریدانو هغه غریب راټینګ کړ او پرې یې نه ښود چې د جذبې کیف یې پوره شي.

**ب. د محمد له لیدلوري:**

له یو چا سره یوې حجرې ته تللی وم خو په تلو پښېمانه شوم. داسې خرافاتي کارونه مې ولیدل چې نه په شرع کې شته، نه په عقل کې. یو سپین ږیری چې پیر پیر یې باله، د کوټې په بر سر کې پر چوکۍ ناست و. ښه اوږده ږیره یې وه خو داسې په کبر ناست و چې ته وا فرعون دی. یو څو جاهل او له دینه ناخبره کسان ورته په لیکه کې ولاړ وو. هر یوه به په وار سره ورته سجده کوله. خدای دې یې غرق کړي چې دومره هم نه پوهېږي چې سجده یوازې الله ته کېږي، بنده ته نه کېږي. بیا به یې د پیر خیرنې پښې ښکلولې، لاسونه به یې داسې مچو کول او پر خپلو سترګو یې موښل چې ته وا بالاتشبیه قرآن شریف وي. دا خو یې لا څه کوې چې وروسته یې د لېونیانو غوندې شور جوړ کړ: «هی، هو، الله هو» الله هو مو ملا ماته کړه، دا نو څه شی شو؟ بیا نو یو چرسي غوندې ببر سری راپاڅېد. داسې ګرد تاوېده او څرخېده چې ته وا پېریان پرې ناست دي یا خو کوم لېونی دی چې پړي یې شکولي دي. وڅرخېد، وڅرخېد، وڅرخېد او بیا یې ګرېوان ته لاسونه بند کړل، خپل کمیس یې تر لمنې پورې وشکاوه. خدای خبر چې څومره نور لېونتوب به یې کاوه خو ښه شو چې نور جاهلان راپاڅېدل او هغه یې راټینګ کړ.

پېښه یوه ده خو پاس د روایت درې بڼې وینې. په اول روایت کې یوازې یوه پېښه بیان شوې ده. راوي (څوک چې پېښه بیانوي) نه ورته ښه وایي، نه بد. هغه یوازې هغه څه بیانوي چې لیدلي اورېدلي یې دي او خپل نظر راته نه وایي. دوهم روایت احمد راته کوي. هغه چې پخپله هم په پیرانو عقیده لري، دا هر څه ورته ښه ښکاري او محمد چې د دې شیانو خلاف دی، پېښه بل رقم بیانوي او غندي یې. د دې له پاره چې د لیدلوري اهمیت ښه واضح شي، د پېښې دغه برخه په درې واړو روایتونو کې بیا وګوره:

۱. بیا د دې کسانو له منځه یو تن راپاڅي او په لوړ غږ د هل و هو نارې کوي او ګرد تاوېږي راتاوېږي. سترګې یې د کوټې چت ته نیولې دي او لکه بړبوکۍ څرخېږي، څرخېږي، څرخېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وار په وار سره تېزېږي او په آخر کې ګرېوان په دواړو لاسو راشکوي او خپل کميس تـر لمنــې پـورې څيروي. بيا نور کسان پاڅېږي او هغه راټينګوي.

۲. بيا نو يو مريد جذباتي شو. راپاڅېد او ګډ شو. څومره بختور مريـد و. کـه پـه چـا بانـدې د پير صاحب خاص نظر نه وي، هغه هېڅ کله نه جذباتي کېږي. نـو دا مريـد سـخت بختـور و. دومـره جذباتي شو چې وڅرخېد، وڅرخېد، وڅرخېد او بيا يې ګرېوان ته لاس واچاوه، خپل کميس يې تـر لمنې پورې وشکاوه. خو افسوس چې نورو مريدانو هغه غريب راټينګ کړ او پرې يې نه ښود چـې د جذبې کيف يې پوره شي.

۳. بيا نو يو چرسي غونډې ببر سرى راپاڅېد. داسې ګرد تاوېده او څرخېده چې تا وا پېريـان پرې ناست دي يا خو کوم لېونى دى چې پرې يې شکولي دي. وڅرخېد، وڅرخېد، وڅرخېـد او بيـا يې ګرېوان ته لاسونه بند کړل، خپل کميس يې تر لمنې پورې وشکاوه. خداى خبر چې څومره نـور لېونتوب به يې کاوه خو ښه شو چې نور جاهلان راپاڅېدل او هغه يې راټينګ کړ.

**لومړۍ فعاليت:** په ټلوېزيون کې يـوه نجلـۍ/ ښـځه سـندره وايـي. سر يـې لـوڅ دى. اوږد تنګ کميس يې اغوستى دى چې د بدن لوړې ژورې يې اوچتې ښکاري. له سندرې سره لړه لـړه ګډېږي هم. ډېر سينګار يې کړى دى. هغه کتونکي چکچکو ته رابولي او پر شـونډو يـې موسـکا ده. مخامخ ډېر خلک ورته ناست دي، سړي، ښځې، هلکان او نجونې. ټول خانـدي خوشـحالي کوي، چکچکې وهې او ځينې يې نارې کوي او شپېلکې وهي. يـو نـيم ځـوان د سـندرې پـه منځ کې راپاڅي او ګډېږي.

اوس نو:

۱. دغه پېښه د هغه چا له ليدلوري بيان کړه چې سخت مذهبي دى. سندرې او موسيقي ورته حرامه ښکاري. سندرو ته کېناستل او چکچکې وهل او نڅا کفري اعمال بولي.

۲. همدغه پېښه د داسې کس له ليدلوري وليکه چې موسيقي او نڅا ته د هنر په سـترګه ګوري، خوشحالي، شور او هيجان د روغتيا په ګټه بـولي او پـه دې بـاور دى چـې هـنر د انسـان د ذوق د خړوبولو له پاره مهم دى.

**دوهم فعاليت:** يوه داسې دردوونکې خاطره درياده کـړه چـې چـا خپـه کـړى وې او تـه فکـر کوې چې سل په سلو کې ګرم هغه و او تا هېڅ ګناه نه درلوده. لومړى هغه پېښه څنګه چې تـا

(c) ketabton.com: The Digital Library



احساس کړې ده، ولیکه. د هغه کس په اړه خپل نظر او خپل احساسات بیان کړه. وروسته هماغه پېښه د هغه بل کس له لیدلوري ولیکه. د هغه په سترګو پېښې ته وګوره او فکر وکړه چې هغه به ستا په اړه څه نظر لري او د خپل کار له پاره به څه دلیلونه لري.

**یادونه**

د روایت لومړۍ بڼه، هغه چې راوي د کامرې غوندې یوازې هغه څه راښکاره کوي چې پېښ شوي دي او د ښه یا بد قضاوت یې لوستونکو ته پرېږدي، د تخیلي او غیرتخیلي ژانرونو دواړو له پاره په کارېږي، په تېره بیا کله چې واقعي ژانرونه یعنې خاطره، یونلیک، ژوندلیک او ګزارش لیکې؛ بهتره ده چې په همدې بڼه یې ولیکې خو علمي مقاله باید خامخا په همداسې ناپلوي نثر ولیکل شي.

که د تخیلي ژانرونو یعنې لنډې کیسې، ډرامې، ناول ... د لیکلو شوق لرې نو دا باید زده کړې چې څنګه د بل چا په سترګو پېښو ته وګورې. دا کار کټ مټ د تمثیل غوندې دی. تکړه ممثل هم د غله نقش ډېر ښه لوبوي او هم د پولیس. تکړه لیکوال واقعیتونه د نورو له لیدلوري هم بیانولی شي او له خپل لیدلوري هم او ان کولی شي عین پېښه له متضادو لیدلوریو بیان کړي.

## ۱. ۸. روایت/ Narrative

هر متن چې لولې، داسې احساس کوې چې یو څوک درته خبرې کوي. په همدې وجه د داستاني ژانرونو بیان ته روایت ویل کېږي او هغه چا ته چې یوه پېښه روایت کوي، راوي وایو.

**لومړۍ فعالیت:** دغه درې بېلګې ولوله او د روایتونو توپیر ته یې ځیر شه.

۱. راباندې ناوخته و. په بیړه مې جامې بدلې کړې. جورابې او بوټونه مې ژر ژر په پښو کړل. له کوره راووتم. چابک ګامونه مې واخیستل او پاخه سړک ته مې ځان ورساوه. هر موټر چې تېرېده، ډک به و. یوه ټکسي راغله. لاس مې ورته ونیو. ټکسي ودرېده. د کرایې پوښتنه مې و نه کړه، په زړه کې مې وویل چې دا یې شل دېرش افغانۍ زیاتې اخیستې، مقصد چې ژر مې ورسوي. دفتر ته چې ورسېدم، پوښتنه مې وکړه: کرایه دې څو شوه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



جېب ته مې لاس کړ. تش و. په همدې وخت کې مې رایاده شوه چې بټوه مې په کور کې پاتې ده. حیران شوم چې اوس به څه کوم. ګورم چې همکار مې له دفتره راووت. سخت خوشحاله شوم. غږ مې ورباندې وکړ: جمیله! یو دوه سوه افغانۍ راکړه.

۲. ورباندې ناوخته و. په بېړه یې جامې بدلې کړې. جورابې او بوټونه یې ژر ژر په پښو کړل. له کوره ووت. چابک ګامونه یې واخیستل او پاخه سړک ته یې ځان ورساوه. هر موټر چې تېرېده، ډک به و. یوه ټکسي راغله. لاس یې ورته ونیو. ټکسي ودرېده. د کرایې پوښتنه یې ونه کړه. په زړه کې یې وویل چې دا یې شل دېرش افغانۍ زیاتې اخیستې، مقصد چې ژر مې ورسوي. دفتر ته چې ورسېد، پوښتنه یې وکړه: کرایه دې څو شوه؟

جېب ته یې لاس کړ. تش و. رنګ یې والوت. اوتر اوتر یې دې خوا اخوا وکتل. بټوه یې په کور کې پاتې وه. یو همکار یې له دفتره راووت. د هغه په لیدو موسکی شو. غږ یې ورباندې وکړ: جمیله! یو دوه سوه افغانۍ راکړه.

۳. درباندې ناوخته و. په بیړه دې جامې بدلې کړې. جورابې او بوټونه دې ژر ژر په پښو کړل. له کوره راووتې. چابک ګامونه دې واخیستل او پاخه سړک ته دې ځان ورساوه. هر موټر چې تېرېده، ډک به و. یوه ټکسي راغله. لاس دې ورته ونیو. ټکسي ودرېده. د کرایې پوښتنه دې و نه کړه، په زړه کې دې وویل چې دا یې شل دېرش افغانۍ زیاتې اخیستې، مقصد چې ژر مې ورسوي. دفتر ته چې ورسېدې، پوښتنه دې وکړه: کرایه دې څو شوه؟

جېب ته دې لاس کړ. تش و. په همدې وخت کې دریاده شوه چې بټوه دې په کور کې پاتې ده. حیران شوې چې اوس به څه کوې. ګورې چې همکار دې له دفتره راووت. سخت خوشحاله شوې. غږ دې ورباندې وکړ: جمیله! یو دوه سوه افغانۍ راکړه.

راوي درې ډوله وي. هغه راوي چې د متکلم په ژبه روایت کوي اول ګړی راوي بلل کېږي. دغه راوي خپله کیسه درته کوي، لکه لومړی بېلګه. هغه راوي چې د بل چا کیسه کوي، درېیمګړی راوي دی. دی په خپله د روایت په پېښو کې دخیل نه وي او نقش په کې نه لري بلکې پر بل چا تېره شوې پېښه بیانوي، لکه دوهمه بېلګه. په درېم مثال کې راوي ستا کیسه کوي. د هغه مخاطب ته یې او کله یې چې روایت لولې، فکر کوې چې پر تا باندې تېره شوې پېښه بیانوي. دغه راوي دوهم ګړی راوي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې خپله خاطره، یونلیک یا ژوندلیک لیکو، روایت مو د اول ګړي راوي وي. کله چې د بل چا په اړه څه لیکو مثلاً د بل چا ژوندلیک یا کیسه لیکو، دریم ګړی راوي غوره وو. په داستاني ادبیاتو کې که چېرې کیسه د هغه چا له خولې کوو چې پخپله د کیسې کرکټر وي، راوي به مو اول ګړی وي. دا کرکټر معمولاً، خو نه همېشه، د کیسې اتل یا مرکزي کرکټر وي. خو که یو داستان د داسې کس له خولې بیانوو چې په کیسه کې دخیل نه وي او د کیسې پېښې او کرکټرونه لکه یو نندارچي له پاسه یا له لرې ویني، راوي به یې دریم ګړی وي. اکثره داستانونه یا د اول ګړي روایت وي یا د دریم ګړي. داسې داستانونه خورا کم دي چې راوي یې دوهم ګړی وي او کله چې داستان لولې، فکر کوې چې ستا کیسه کوي. مقالې بیا معمولاً د دریم ګړي راوي په ژبه لیکل کېږي.

**دوهم فعالیت:** د اول ګړي او دریم ګړي راویانو د روایت دغه برخه بیا ولوله او توپیر ته یې ښه ځیر شه.

اول ګړی راوي: جېب ته مې لاس کړ. تش و. په همدې وخت کې مې رایاده شوه چې بټوه مې په کور کې پاتې ده. حیران شوم چې اوس به څه کوم. ګورم چې همکار مې له دفتره راووت. سخت خوشحاله شوم. غږ مې ورباندې وکړ: جمیله! یو دوه سوه افغانۍ راکړه.

دریم ګړی راوي: جېب ته یې لاس کړ. تش و. رنګ یې والوت. اوتر اوتر یې دې خوا اخوا وکتل. بټوه یې په کور کې پاتې وه. یو همکار یې له دفتره راووت. د هغه په لیدو موسکی شو. غږ یې ورباندې وکړ: جمیله! یو دوه سوه افغانۍ راکړه.

څه فکر کوې چې په راویتونو کې دا توپیر ولې راغلی دی؟

خپل دلیل/ دلیلونه په کتابچه کې ولیکه.

**دریم فعالیت:** دغه بېلګه ولوله او بیا یې د اول ګړي راوي له خولې بیان کړه، داسې چې راوي یې ابراهیم وي.

«هغوی لاړل او ابراهیم کور ته راغی.

بلنداژ ته ورکښېته شو.

ببو سونګېده.

ټول غلي وو.

ابراهیم یې څنګ ته کېناست: ببو! ولې ژاړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ببو د تور پړوني په پيڅکه اوښکې وچې کړې، ويې ويل: خدای دې يې وبخښي. څومره ښه سړی و.

ابراهيم ورغبرګه کړه: تېر کال منی دې په زړه دی. په خپله کراچۍ کې يې لرګي راته راوړل. غريب و خو غيرتي. يوه روپۍ يې رانه  وانه خيسته.»

**څلورم فعاليت:** دا بل مثال د اول ګړي راوي روايت دی. ته يې د درېيم ګړي راوي په روايت واړوه.

«د عاشقان و عارفان مکتب ته تلم. په صنف کې راسره يو څو تنه هندوان او سيکهان هم وو. دوی به د قرآن کريم په ساعت کې له صنفه وتل. کله کله به مو هغوی ځورول. سيکهه ماشومان د سر ويښتان د سر په څېرې کې لکه غونډاره تړي. نه پوهېږم چا دا خبره کړې وه چې دوی په لونګۍ کې کچالو پټوي. زما زړه ته هم لوېدلې وه چې رښتيا به وي. د دوی لونګۍ ته به مې لاس اچاوه چې راوباسه کچالو دې. دوی به رانه تښتېدل. يوه ورځ يې سرمعلم ته شکايت وکړ. سرمعلم په چپړاسي باندې قف پايي کړم. داسې يې ووهلم چې بيا نه پوهېدم پر څمکه روان يم که پر سکروټو. ان بوټونه مې په پښو کې تنګ شوي وو. خو سبا بيا هغه زه وم، هغه د سردار زامن.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهمه برخه

## ۲. پراګراف او مقاله

### ۲. ۱. پراګراف/ Paragraph

پراګراف د هر نثري متن واحد دی. پراګراف څو جملې دي چې یوه اصلي مفکوره بیانوي. د پراګراف هره جمله باید د اصلي مفکورې له شرحې او بیان سره مرسته وکړي. پراګراف باید داخلي انسجام ولري او د جملو تر منځ یې منطقي تړاو وي. یو پراګراف کېدای شي ډېرې جملې ولري خو که ډېر اوږد شي د لوستونکي زړه تنګوي.

هر پراګراف درې برخې لري: موضوعي یا اساسي جمله، ملاتړې جملې، او رانغاړونکې جمله. موضوعي جمله د پراګراف اصلي موضوع مطرح کوي. په حقیقت کې موضوعي جمله یوه ادعا کوي او یا یوه خبره کوي. ورپسې جملې ملاتړې جملې بلل کېږي چې په موضوعي جمله کې د شوې ادعا د اثبات له پاره دلیلونه، شواهد، مثالونه، ثبوتونه او د نورو ویناوې رانغاړي او یا د موضوعي جملې په اړه نور معلومات او تفصیل وړاندې کوي. ملاتړې جملې باید د لوستونکي د قانع کولو له پاره کافي وي. رانغاړونکې جمله بیا هماغه خبره چې په موضوعي جمله کې شوې ده، په نورو ټکو کوي.

ښه پراګراف لیکل د لیکوالۍ اساس دی. که ښه پراګراف ولیکلی شې، ښه مقاله، رساله او کتاب به هم ولیکې ځکه چې مقالې له پراګرافونو رغېږي او رسالې او کتابونه د مقالو ټولګه وي. نو که غواړې چې ښه نثر لیکونکی شې، د ښه پراګراف لیکل زده کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بېلګه**

افغان ادبي بهیر د ځوانانو په روزلو کې لوی لاس لري. د بهیر په اونیزو غونډو کې کره کتنه او مشاعره کېږي، لکچرونه وړاندې کېږي او ورکشاپونه دایرېږي. د ادبیاتو محصلان د بهیر په غونډو کې عملي کره کتنه زده کوي او د ادبیاتو د تیورۍ په اړه خبرې اوري. نوي شاعران او لیکوال د تکړه بهیروالو تجربې خپلوي. ځوانان د ادبیاتو او ځینو نورو موضوعاتو په اړه لکچرونه اوري او نوي معلومات ترلاسه کوي. په ورکشاپونو کې بهیروال د لیکوالۍ هنر او تخنیکونه په عملي بڼه زده کوي. د دې دور اکثره نوموتي لیکوال او شاعران په افغان ادبي بهیر کې روزل شوي دي. لنډه دا چې افغان ادبي بهیر د نوي نسل د فکر او هنر په وده کې مهم نقش لوبولی دی.

تشریح

په پاسني مثال کې لومړۍ جمله موضوعي جمله ده. هغه اساسي مفکوره چې دا جمله یې بیانوي «د ځوانانو په روزولو کې د افغان ادبي بهیر نقش» دی. دلته ادعا کېږي چې افغان ادبي بهیر د ځوانانو په روزلو کې لوی لاس لري.

وروسته څو نورې جملې د همدې ادعا د اثبات له پاره راغلې دي. دا جملې هغه فعالیتونه چې د افغان ادبي بهیر په غونډو کې ترسره کېږي، بیانوي او دا چې د ادبیاتو محصلان او ځوان لیکوال او شاعران له دې فعالیتونو څخه څنګه ګټه اخلي، همدارنګه وایي چې اوسني اکثره تکړه او نوموتي لیکوال او شاعران په افغان ادبي بهیر کې روزل شوي دي.

وروستۍ جمله، رانغاړونکې جمله ده « لنډه دا چې افغان ادبي بهیر د نوي نسل د فکر او هنر په وده کې مهم نقش لوبولی دی.» دا جمله په حقیقت کې هماغه خبره کوي چې په لومړۍ جمله یعنې په موضوعي جمله کې شوې ده.

موضوعي جمله معمولاً د پراګراف په سر کې راځي خو کله کله د پراګراف په آخر کې هم راتلی شي او که داسې شوي وي، رانغاړونکې جمله به خپل ځای موضوعي جملې ته ورکوي او په پراګراف کې به رانغاړونکې جمله نه وي.

هغه مفکوره چې موضوعي جمله یې بیانوي باید نه ډېره لویه وي، نه ډېره وړه او جزئي. که موضوع لویه وي، په یوه پراګراف کې یې نه شو تشریح کولی. که ولیکو چې «په تېرو شلو کلونو کې د افغانستان داستاني ادبیات ښه غوړېدلي دي.» دا موضوع په یوه پراګراف کې نه ځایېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که موضوعي جمله دا وي چې «ور او دروازه سره مترادفې کلمې دي.» دلته د خبرو له پاره څه پاتې شول چې په نورو جملو کې يې وکړو؟ نو د پراګراف موضوعي جمله بايد داسې څه ووايي چې نه ډېره کُلي خبره وي او نه ډېره وړه خبره.

موضوعي جمله بايد تلوسه وزېږوي او لوستونکی د پراګراف د نورو جملو لوستلو ته لېواله کړي. په همدې وجه کله کله موضوعي جمله د پوښتنې په انداز ليکل کېږي. مثلاً د پورتني پراګراف موضوعي جمله داسې هم ليکلی شو: «افغان ادبي بهير د ځوانانو په روزلو کې څومره لاس لري؟» يا «د ځوانانو په روزلو کې د افغان ادبي بهير نقش څه دی؟»

رانغاړونکې جمله د پراګراف مهم ټکي په لنډ ډول بيانوي او موضوعي جمله په متفاوتو کلمو سره بيا تکراروي. رانغاړونکې جمله بايد کومه نوې موضوع يا نوې مفکوره مطرح نه کړي. رانغاړونکې جمله عموماً د اوښتلو په کلمو لکه: نو، بناً، لنډه دا چې، نتيجه دا چې، د پای خبره دا چې ... پيلېږي.

**لومړی فعاليت:** دغه پراګراف ولوله او موضوعي جمله، اصلي مفکوره، ملاتړې جملې او رانغاړونکې جمله په کې په نښه کړه.

په کلاسيکو غربي نقاشيو کې د شيانو يا کسانو موقعيتونه ځانته معناګانې لري. هغه څه چې د تابلو په ښی او پاسنی برخه کې کښل شوي دي، بر يا مهم دي او کوم شيان چې د تابلو په کيڼه يا کښتنی څنډه کې وي، کم اهميته وي. په دې تابلوګانو کې اصل په منځ کې او فروع په حاشيو کې وي. د غرب په کلاسيکو تابلوګانو کې معمولاً نارينه د تابلوګانو په مهمه برخه کې ځای لري او ښځمنې يې په کم اهميته څنډه کې. همدارنګه مذهبي نښې او سېمبولونه د نرينه‌وو غوندې مرکزي موقعيتونه لري. نو د غربي نقاشانو په کلاسيکو آثارو کې د وګړو يا شيانو موقعيت هسې اټکلي نه وي انتخاب شوی بلکې په ټولنه کې د هغوی اهميت او مقام ته په کتلو سره شوی وي.

**دوهم فعاليت:** دا بل پراګراف رانغاړونکې جمله نه لري. ته د موضوعي او ملاتړو جملو له مخې ورته يوه مناسبه رانغاړونکې جمله وليکه.

په تابلوګانو کې ځينې شيان سېمبوليکه معنا لري. مثلاً کله کله وينو چې د يوه تابلو په کښتنی برخه کې ښځې او ماشومان ښکاري او لږ اخوا ته مېړې او پسونه انځور شوي دي. بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغوی او د څارویو شاوخوا ته د شپاله په شان لرګینه کټاره راتاوه ده. په داسې تابلوګانو کې هنرمند غواړي ووایي چې د هغه په ټولنه کې ښځې او ماشومان د څارویو هومره کم اهمیته دي. دلته کټارې د ایسارولو او محدودولو په معنا دي او هنرمند پر ښځو باندې د ټولنې لګول شوي محدودیتونه انځور کړي دي.

رانغاړونکې جمله:

........................................................................................

........................................................................................

**دریم فعالیت:** د دې موضوعګانو په اړه موضوعي جملې ولیکه.

- ښه ملګری
- د مطالعې ګټې
- زموږ ښه دودونه
- ناوړه چلند
- زما د خوښې سیمه

اوس خپلو موضوعي جملو ته په انتقادي نظر وګوره او دا پوښتنې ځواب کړه:

۱. جمله دې د موضوع په اړه یوه اصلي مفکوره لري؟

۲. جمله دې واضحه او روانه ده؟

۳. جمله دې کشش لري او لوستونکي ته تلوسه پیدا کوي؟

۴. په جمله کې کومه ادعا شوې ده؟

۵. جمله دې داسې څه لري چې ملاتړې جملې یې باید تشریح کړي، مثالونه او دلیلونه ورته راوړي او اثبات یې کړي؟

**څلورم فعالیت:** د دغو دریو موضوعي جملو له پاره ملاتړې جملې او نتیجه ولیکه.

- د فېسبوک ډېر کارول تاوان لري.
- فیزیکي لوبې د ماشومانو له بدني او ذهني ودې سره مرسته کوي.
- ښه استاد کومې ځانګړنې لري؟

**پنځم فعالیت:** د پورتنیو موضوعګانو په اړه خپل لیکلي پراګرافونه وارزوه او وګوره چې:

۱. ملاتړې جملې د اصلي مفکورې د اثبات او توضیح له پاره کافي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



٢. ملاتړې جملې لوستونکي قانع کولی شي؟
٣. په ملاتړو جملو کې راغلي دلیلونه او شواهد منطقي او واقعي دي؟
۴. ملاتړې جملې انسجام لري؟
۵. ملاتړې جملې یوه له بلې سره منطقي تړاو لري که نه؟
٦. رانغاړونکې جمله اصلي مفکوره په نورو ټکو تکراروي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲. ۱. ۱. د پراګراف ليکلو پړاوونه

### ۱. تر ليکلو مخکې پړاو

په دې پړاو کې د پراګراف ليکلو له پاره يوه موضوع غوره کوې او په باره کې يې معلومات، مفکورې او خبرې راټولوې. د موضوع په اړه مفکورې او خبرې په څو لارو راټولولی شې. که موضوع علمي يا د بل چا په اړه وي، بايد لومړی دا معلومه کړې چې کوم اړخونه به يې څېړې. بيا د هماغو برخو په اړه يې مطالعه وکړه او يادښتونه واخله. که موضوع شخصي يا ستا د کور کلي په اړه يا داسې څه وي چې معلومات يې ستا په ذهن کې تيار پراته دي نو د مغزي باران له ميتوده کار واخله. داسې چې د کاغذ په سر کې موضوع يا عنوان وليکه او بيا د موضوع په اړه هره کلمه او هر خبره چې دې په ذهن کې تېرېږي، ويې ليکه. په دې پسې مه ګرځه چې دا کلمې او خبرې به دې د پراګراف د ليکلو پر مهال پکارېږي که نه. هر څه چې دريادېږي، ويې ليکه.

**لومړی فعاليت (د مفکورو مغزي باران)**

د پراګراف موضوع ده: هغه څوک چې زما په برياوو کې لوی لاس لري. د هغو کسانو لست جوړ کړه چې ستا په برياوو کې يې مهم نقش لرلی دی؛ مثلاً:

| | | | |
|---|---|---|---|
| پلار | نيکه | تره | مور |
| مشر ورور | ملګری | د تره زوی | شاه‌ولي خان (زما معلم) |

اوس په دې منځ کې يو کس انتخاب کړه. فرضاً دا کس ستا پلار دی. اوس د پلار په باره کې چې هره خبره ذهن ته درځي، پر کاغذ يې وليکه؛ لکه دا:

| | |
|---|---|
| بې سواده | خواري کښ (د خلکو دهقاني) |
| غريب | صادق او امانت کاره |

پخپله به يې سپوره خوړله خو موږ ته به يې شيدې مستې راکولې

تنباکي لاسونه او چاودې پښې

مهربانه (موږ يې نه وهلو)

| | |
|---|---|
| ښار يې نه و ليدلی | ډېر نه غړېده |
| مکتب کې يې شامل کړم | کيسې به يې راته کولې |
| د چا حق يې نه خواړه | نفلي روژې |
| په اخترونو کې جامې | د درسونو پوښتنه |

(c) ketabton.com: The Digital Library



درسونو ته به یې هڅولم          تربیه

**دوهم فعالیت**

اوس هغه ټکي چې د پلار په اړه دې لیکلي دي، بیا ولوله او وګوره چې کوم یې د موضوع بیانولو ته په کارېږي او کوم یې باید پرېږدې. هغه ټکي چې نه غواړې په پراګراف کې یې ولیکې، کرښه پرې وکاږه. په انتخاب کې باید دقیق وې او یوازې هغه څه باید انتخاب کړې چې اصلي موضوع پرې توضیح کېدای شي؛ مثلاً:

بې سواده          خواري کښ (د خلکو دهقاني)

غریب          صادق او امانت کاره

پخپله به یې سپوره خوړله خو موږ ته به یې شیدې مستې راکولې

تڼاکې لاسونه او چاودې پښې

مهربانه (موږ یې نه وهلو)

ښار یې نه و لیدلی          ډېر نه غږېده

مکتب کې یې شامل کړم          کیسې به یې راته کولې

د چا حق یې نه خوړه          نفلي روژې

په اخترونو کې جامې          د درسونو پوښتنه

درسونو ته به یې هڅولم          تربیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲. د معلوماتو او مفکورو ترتیبول

په دې پړاو کې هغه معلومات او مفکورې چې د پراګراف د لیکلو له پاره دې راټول کړي دي، په ځو ډلو ترتیب او تنظیم کړه. هره ډله به یې یوه اساسي مفکوره (main idea) شي او دغه ټولې اساسي مفکورې به د اساسي موضوع په توضیح کې مرسته وکړي. پاسنۍ بېلګه به راواخلو او معلومات به یې ترتیب کړو:

زما پلار زما په برياوو کې لوی لاس لري ځکه چې:

۱. تعلیم

- پخپله بېسواده و خو په ما باندې یې ښه تعلیم وکړ.
- هر وخت به یې د درسونو پوښتنه راځخه کوله.
- درسونو ته به یې هڅولم.

۲. اخلاق

- غریب و خو صادق او امانت کاره.
- موږ یې نه وهلو.
- کیسې به یې راته کولې.

۳. فداکاري

- پخپله به یې سپوره خوړله.
- په اخترونو کې به یې ځان ته جامې نه کولې.

۴. زیار

- خواري کښ و او د زیار ایستلو درس یې راکړ.

په پاسنۍ بېلګه کې څلور عمده مفکورې ترتیب شوې. اوس باید پر دې فکر وشي چې کومه یې باید په اول سر کې راشي، کومه ورپسې او کومه په آخر کې. دا انتخاب باید منطقي وي.

## ۳. د پراګراف خاکه

په دې پړاو کې له راټولو شویو او ترتیب شویو معلوماتو او مفکورو څخه پراګراف لیکل کېږي. عنوان، موضوعي جمله، ملاتړې جملې او رانغاړونکې جمله ورته جوړېږي؛ لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زما پلار او زما برياوې

زما پلار زما په برياوو کې لوی لاس لري. پلار ښه تعليم راباندې وکړ، ښه تربيه يې راکړه، د زيار ايستلو درس يې راکړ او له نورو سره خواخوږي او مهرباني يې رازده کړه. پلار مې پخپله بې سواده و خو زه يې په مکتب کې شامل کړم. هره شپه به يې رانه پوښتنه کوله چې نن مو په مکتب کې څه زده کړل. نورو کليوالو به د غنم‌لو په وخت کې خپل زامن مکتب ته نه پرېښودل او لو به يې ورباندې کاوه خو زما پلار به ويل چې مکتب به نه قضا کوې. پلار مې غريب و خو د بل مال ته به يې سترگې نه وې. هغه خواري کوله. د نورو دهقاني به يې کوله، لاسونه به يې هر وخت تناکي وو خو په حرام مال به يې لاسونه نه ټکورول. مور ته به يې ويل: «حرامه گوله به له ستوني نه تېروئ.» پلار مې مهربانه انسان و. مور به يې نه وهلو. لکه ملگري به يې را ته کيسې کولې. ما له پلار څخه دا زده کړل چې څنگه د نورو په اړه فکر وکړم. هغه به تر ځان مور ته ډېر پام کاوه. پخپله به يې سپوره ډوډۍ خوړله خو پر مور به يې شيدې او مستې خوړې. پخپله به يې يوه جوړه جامې درې څلور کال اغوستلې خو مور ته به يې په هر اختر کې نوې جامې کولې. دا چې پلار راباندې ښه تعليم وکړ نو په آسانۍ سره مې کار پيدا کړ. هغه زيارکښ، صادق او امانت کاره روزلی يم نو اداره مې له کاره خوشحاله ده او ورځ تر بلې په کې ترقي کوم. همدارنگه دا چې پلار مې له نورو سره خواخوږي رازده کړې ده، له همکارانو او دوستانو سره مې اړيکي ښه دي او پر هغوی گران يم او دا ټول زما د پلار له برکته دي.

**فعاليت:**

۱. په پاسني پراگراف کې موضوعي جمله او رانغاړونکې جمله وښيه.
۲. پخپله ورته نوې موضوعي او رانغاړونکې جملې وليکه.
۳. د عمده مفکورو ترتيب يې وارزوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴. د پراګراف د خاکې اېډېټ**

په دې پړاو کې د پراګراف خاکه د ژبې، ګرامر، او ترتیب او تنظیم په لحاظ اېډېټ کېږي.

لیکوال باید وګورې چې:

۱. د کلمو املأ او د جملو ترتیب او اوډون یې سم دی؟

۲. د متن ژبه یې ساده، واضحه، روانه او ښایسته ده که نه؟

۳. کوم فعلونه، صفتونه، قیدونه یې مناسب نه دي او باید بدل شي؟

۴. معلومات او عمده مفکورې یې په منطقي ترتیب راغلي دي که نه؟

۵. کله چې پراګراف بل چا ته لولي، هغه یې په مفهوم او مطلب سم پوهېږي که نه؟

**۵. د پراګراف له سره لیکل**

تر اېډېټ وروسته پراګراف له سره لیکل کېږي او که کومه نیمګړتیا پـه کـې پـاتې وي، هغـه هم لرې کېږي.

**یادونه:** پاخه لیکوال مجبور نه دي چې ټـول پـورتني پړاوونـه عمـلي کـړي. دوی کـولی شي چې خپل معلومات او مفکورې مخامخ په پراګـراف کـې ولیکـي او تـه هـم کـه د لیکلـو ډېـر تمـرین وکړې، همداسې به وکولی شې.


(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۲. ۱. ۲. د پراګراف ډولونه

پراګرافونـه لـه لويـه سره درې ډولـه دي. ۱) معلومـاتي پراګـراف، ۲) روايتـي پراګـراف، ۳) اقناعي پراګراف. معلومـاتي پراګـراف حقـايق او معلومـات وړانـدې کـوي. روايتـي پراګـراف د يـوې پېښې کيسه راته کوي. اقناعي پراګراف يو نظر يا مفکوره بيانوي، يا مو د يـوه فکـر او بـاور منلـو تـه هڅوي.

د پراګراف هره ډله بيا څو نور ډولونه لري چې په دې ډياګرام کې يې ګورې.




دلته به د پراګراف د هرې ډلې څو نمونې وړاندې شي.

#### ۱. توضيحي پراګراف/ Expository Paragraph

دا ډول پراګراف د يوې موضوع پـه بـاره کـې معلومـات د توضيـح او تشريـح پـه بڼـه وړانـدې کوي. معلومات بايد دقيق، واضح او په روانه ژبه وي. د دې ډول پراګـراف تـر ليکلـو مخکـې بايـد د دې پوښتنو په اړه فکر وکړو: دا معلومات ولې ليکم؟ چا ته يې ليکم؟ څنګه يې بايد وليکم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د «ولې یې لیکم؟» پوښتنه لیکوال مجبوروي چې د موضوع د اهمیت په باره کې فکر وکړي یعنې دا معلومات څومره ګټور دي او زما د مخاطب په کوم درد به ولګېږي. هوښیار لیکوال داسې معلومات انتخابوي چې مخاطبانو ته یې خیر ورسوي، ښو ته یې وهڅوي، په عملي ژوند کې ورته په کار شي او ستونزه یې پرې لرې شي. دنیا له معلوماتو ډکه ده خو د دغو خورا ډېرو معلوماتو له منځه انتخاب دقت غواړي. یو حکایت دی وایي چې یو سړی یوه حکیم ته ورغی. ورته یې وویل: یوه خبره مې درته کوله.

حکیم وویل: څه چې راته وایې، رښتیا دي؟

سړي وویل: امممم. رښتیا او دروغ خو یې راته نه دي معلوم.

حکیم پوښتنه وکړه: د خیر خبره ده که د شر؟

سړي ځواب ورکړ: د خیر خبره خو نه ده.

حکیم وویل: نو داسې خبره ولې راته کوې چې رښتیا او دروغ یې نه دي معلوم او د چا خیر هم په کې نشته؟

نو که معلومات سم او رښتیاني هم وي خو د ټولنې په زیان وي، لیکل یې نه دي په کار.

- «چا ته یې لیکم؟» د لیکوال مخاطب معلوموي. هر ډول لیکنه چې کوو باید مخاطب مو مشخص وي. د مخاطب عمر، سویه، او د معلوماتو کچه باید په پام کې ونیسو. د وړو ماشومانو له پاره لیکنه باید په ډېره ساده ژبه او لنډو جملو ولیکل شي. انتزاعي او مجرد مفاهیم ورته ونه لیکل شي او داسې کلمې باید په متن کې نه وي چې ماشوم پرې نه پوهېږي. د ماشومانو له پاره ساده مثالونه او عیني مفاهیم باید راوړل شي. همدارنګه عامو خلکو ته لیکل له هغو لیکنو باید توپیر ولري چې مسلکي کسانو ته یې کوو. طبي معلومات د طب د محصلانو له پاره په علمي ژبه او د طب په اصطلاحاتو لیکل کېږي خو عامو خلکو ته په عامه او آسانه ژبه. همدارنګه د متن اوږدوالی هم په مخاطب پورې فرق کوي. د ماشومانو له پاره متنونه باید لنډ وي خو د لویانو یا د مسلکي کسانو له پاره تفصیلي معلومات په کار وي. هغو تجارتي اعلانونو او د مختلفو ادارو پیغامونو ته ځیر شه چې په راډیوګانو او ټلویزیونو کې خپرېږي. عام خلک به د دې پیغامونو په مفهوم پوه شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- «ځنګه ليکل» په موضوع او مخاطب دواړو پورې اړه لري. هره موضوع د ليکلو خپل طرز غواړي او دا هم چې د چا له پاره ليکل کېږي، بايد په پام کې ونيول شي. په ټوله کې ليکنه بايد په زړه پورې وي. ژبه يې ساده، روانه او خوندوره وي. ليکنه بايد داسې تلوسه ولري چې لوستونکی يې تر پايه پورې په خوند ولولي. که موضوع هر څومره په زړه پورې او ګټوره هم وي خو د ليکنې ژبه يې ستومانوونکې وي، څوک يې نه لولي.

**بېلګه**

منډيګک د افغانستان د پنځه زره کلن تمدن ثبوت دی. له ميلاد څخه ۳۵۰۰ تر ۳۰۰۰ کاله پخوا يعنې له نن څخه پنځه – پنځه نيم زره کاله مخکې، دلته يو تمدن ايجاد شوی و. ډېر خلک دلته په يوه سيمه کې اوسېدل، کورونه او معبدونه يې جوړ کړي وو، کر کيله يې کوله او هنر يې ايجاد کړی و. دا ټول د تمدن نښې او ځانګړنې دي. د منډيګک د اوسېدونکو هنر له دې معلومېږي چې پر کولالي لوښو يې د پيچک ګل او ښکلي هندسي شکلونه کښلي وو. دوی له خټو څخه د انسان څېرې يا مجسمې جوړې کړې وې. په دې مجسمو کې يوه د اناهيتا وه. اناهيتا د پخوانيو آريايانو الهه وه. دوی باور درلود چې اناهيتا بارانونه اوروي او ځمکه ښېرازه کوي. د منډيګک په راسپړل شويو خونو کې يوه خونه تر نورو لويه ده او د سالون بڼه لري. داسې ښکاري چې دا به د هاغه وخت د واکمنانو دفتر و او د اداري چارو له پاره به کار ځنې اخيستل کېده. د دې خونې تهدابونه په ځينو ځايونو کې راوتلې او په ځينو ځايونو کې ننوتلې برخې لري يعنې دوی د ودانۍ ښکلا ته هم پام کاوه. له دې ځای څخه د مختلفو دورو آثار کشف شوي دي. د نوي ډبرپېر، د مسو ـ ډبر پېر او نورو دورو آثار په کې موندل شوي دي، لکه له مسو څخه جوړې شوې ګانې، کولالي لوښي، د اوبدلو وسايل، د کر کيلې سامان، د غَلو دانو کندوان، او ډبرينې مجسمې. نو د منډيګک په کشف او راسپړلو سره، دا ثابته شوه چې افغانستان د تمدن پنځه زره کلن تاريخ لري.

**لومړی فعاليت:** پورتنی پراګراف يو ځل بيا ولوله. دې پوښتنو ته ځواب ووايه:

۱. موضوع يې په زړه پورې ده؟

۲. ورکړل شوي معلومات د لوستونکي په درد لګېږي؟

۳. دا معلومات لوستونکو ته څه پيغام ورکوي؟

۴. متن تلوسه لري، که د لوستونکي زړه تنګوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵. کومه خبره په کې گونگه او مبهمه ده؟
٦. د متن ژبه څنگه ده؟ (د وضاحت، روانوالي، او خوند په لحاظ يې ورازوه)

**دوهم فعالیت:** لاندې د یوې موضوع په باره کې په څو جملو کې معلومات راغلي دي. ته يې د توضيحي پراگراف په بڼه وليکه. البته موضوعي جمله او نتيجه به يې پخپله ورته ليکې.

⇐ آکسيجن د انسانانو او حيواناتو له پاره ډېر مهم دی.
⇐ ونې د هوا کاربن ډای اکسايډ جذبوي او له دې سره د هوا د بې درکه تودېدو مخه نيسي.
⇐ ونې آکسيجن توليدوي.
⇐ د ونو پاڼې د هوا گرد او دوړې جذبوي.
⇐ د ونو ولې/ ريښې د ځمکې خاوره کلکوي او نه پرېږدي چې د واورې او باران اوبه ځمکه وښويوي.
⇐ هماغسې چې د اخېړ له پاره له ختې سره بوس گډوو او بې له بوسو خټه پر دېوال يا بام نه ټينگېږي، د ونو ريښې هم همدغه کار کوي.
⇐ ونې د مختلو مرغانو او ژويو د اوسېدو ځالې دي.
⇐ ونې انسانانو او ډېرو ژويو ته خواړه برابروي.
⇐ د ونو له لرگيو څخه کړکۍ، دروازې، تيرونه، الماری، مېزونه، څوکۍ، کاغذ او ځيني نور شيان جوړېږي.

**درېیم فعالیت:** لاندې څو موضوعي جملې راغلې دي. د هرې موضوعي جملې له پاره څو ملاتړې جملې او رانغاړونکې جمله وليکه چې توضيحي پراگراف ورنه جوړ شي.

❖ په دولتي ادارو کې فساد ناامني زياتوي.
❖ د هوا بې درکه گرمېدل، ډېر تاوانونه لري.
❖ زموږ په سيمه کې اخترونه خوندور دي.
❖ د کوکنارو له کرلو سره په افغانستان کې معتادان زيات شوي دي.

**څلورم فعالیت:** دغه توضيحي پراگراف داسې وليکه چې جملې يې سمې، روانې او خوندورې شي.

دموکراسي اخيستل شوې ده د دوه کلمو څخه چې عبارت ده له دمو او کراسي څخه. دمو په معنا د وگړي ده چې دا يوناني لغت دی او کراسي حکومت کولو ته ويل شوي دي او دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



لغت هم ريښه په يوناني کې لري. نو د دې کلمې څخه مراد عبارت ده له حکومت د خلکو څخه. د دموکراسي په صورت کې خلک د خپلو رايو په کار وړلو سره خپل حاکمان ټاکي او خپل حکومت ته مشروعيت وربخښي. خلک بايد د خپل نظر وړ نوماند څخه بشپړه پېژندنه ولري او بيا هغه ته د خپلې رايې په کار وړلو ته اقدام وکړي. هغه کس چې د خلکو د رايو په لاس ته راوړلو سره مشروعيت په لاس راوړي صلاحيت لرونکی وي.

## ۲. ترغيبي پراګراف/ Persuasive Paragraph

دا پراګراف د لوستونکي د قانع کولو او هڅولو له پاره ليکل کېږي. ليکوال د هغې خبرې له پاره چې غواړي په لوستونکو يې ومني، دليلونه او شواهد وړاندې کوي. دليلونه بايد منطقي او شواهد واقعي وي. بله خبره دا ده چې ډېر ټينګار او تأکيد لوستونکي ستا پر خبرې بې باوره کوي نو که غواړې چې لوستونکي دې خبره ومني، بې ځايه ټينګار مه کوه.

**بېلګه**

د خپلې ناروغۍ د تشخيص له پاره د اضافي معايناتو مخه ونيسئ. د هرې ناروغۍ د سم تشخيص له پاره څلور پړاوونه وي. لومړی پړاو يې د ناروغ خبرې دي. ناروغ ډاکټر ته خپل شکايتونه وايي، مثلاً وايي چې تبه مې ده، ملا او هډونه مې خوږېږي، اشتها مې نشته ... ډاکټر چې د ناروغ شکايتونه واوري، څو ناروغۍ يې ذهن ته ورځي چې يا به دا وي، يا دا او يا هغه ناروغي. بيا ډاکټر د ناروغ فيزيکي معاينه کوي. په دې معاينه کې ډاکټر د ناروغ مختلف سيستمونه او حياتي علايم يعنې نبض، فشار، د تنفس اندازه او د بدن حرارت ګوري. دا کار ډاکټر د ناروغۍ تشخيصولو ته نژدې کوي. په دريم پړاو کې، د دې له پاره چې تشخيص يقيني شي ډاکټر ځينې لابراتواري معاينات ليکي. که په دې معايناتو هم ونه شو، څلورم پړاو ته ځي يعنې نور پرمخ تللي معاينات چې معمولاً قيمتي وي، تجويزوي. نو څومره چې ډاکټر ته د خپلې ناروغۍ په باره کې ډېر او دقيق معلومات ورکړئ، هماغومره به د ناروغۍ تشخيص ورته آسانه شي او اضافي معاينات به دربانديې نه کوي.

**لومړی فعاليت:** پورتنی ترغيبي پراګراف بيا ولوله او دې پوښتنو ته ځواب ووايه.

۱. دليلونه يې درته واقعي ښکاري؟

۲. دا دليلونه به لوستونکی قانع کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳. ليکوال پر خپلو خبرو ټينګار کړی دی؟

ښه به دا وي چې توضيحي او ترغيبي پراګرافونه په خنثی نثر وليکل شي يعنې ليکوال خپل عواطف او احساسات په کې دخيل نه کړي.

**دوهم فعاليت:** دلته د توضيحي او ترغيبي پراګرافونو بله ښه ولولې. چېرته چې د ليکوال عواطف او احساسات يا مبالغه درته ښکاري، په نښه يې کړه.

د توضيحي پراګراف بېلګه:

منډيګک زموږ د ګران افغانستان د وياړلي پنځه زره کلن تمدن داسې ښکاره ثبوت دی چې غليم ترې انکار کولی نه شي. له ميلاد څخه ۳۵۰۰ تر ۳۰۰۰ کاله پخوا يعنې له نن څخه پنځه – پنځه نيم زره کاله مخکې، زموږ باتورو آريايي نيکونو دلته يو تمدن ايجاد کړی و. ډېر خلک دلته په يوه سيمه کې اوسېدل، ښايسته کورونه او معبدونه يې جوړ کړي وو، کر کيله يې کوله او لوړ هنر يې ايجاد کړی و. دا ټول د رښتيني تمدن نښې او ځانګړنې دي. د منډيګک د اوسېدونکو لوړ هنر پر کولالي لوښو د پيچک ګل او ښکلو هندسي شکلونو له انځورونو معلومېږي. زموږ نيکونه د مجسمو په جوړولو کې هم ډېر تکړه وو. دوی له خټو څخه د انسان ډېرې ښکلې څېرې يا مجسمې جوړې کړې وې. په دې مجسمو کې يوه د اناهيتا وه. اناهيتا د پخوانيو آرياييانو يعنې زموږ د نيکونو سپېڅلې الهه وه. دوی باور درلود چې اناهيتا بارانونه اوروي او ځمکه ښېرازه کوي.

**د ترغيبي پراګراف بېلګه**

زړه ته رانژدې لوستونکو! تاسې په ډېرې آسانۍ سره د خپلې ناروغۍ د تشخيص له پاره د اضافي معايناتو مخه نيولی شئ. د هرې ناروغۍ د سم تشخيص له پاره څلور پړاوونه وي. لومړی پړاو يې چې خورا زيات مهم دی، د ناروغ خبرې دي. ناروغ ډاکټر ته خپل شکايتونه وايي، مثلاً وايي چې تبزه تبه مې ده، ملا او هډونه مې خوږېږي، اشتها مې نشته ... ډاکټر چې د ناروغ شکايتونه واوري، څو ناروغۍ يې ذهن ته ورځي چې يا به دا وي يا دا او يا هغه ناروغي. بيا ډاکټر د ناروغ فيزيکي معاينه کوي. په دې معاينه کې ډاکټر د ناروغ مختلف سيستمونه او حياتي علايم يعنې نبض، فشار، د تنفس اندازه او د بدن حرارت ګوري. دا کار ډاکټر د ناروغۍ تشخيصولو ته بيخي نژدې کوي. په دريم پړاو کې، د دې له پاره چې تشخيص پوره يقيني شي ډاکټر ځينې لابراتواري معاينات ليکي. که په دې معايناتو هم ونه شو، څلورم پړاو ته ځي يعنې نور پرمخ تللي معاينات چې معمولاً ډېر قيمتي وي، تجويزوي. نو ښاغلو او آغلو! څومره چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر ته د خپلې ناروغۍ په باره کې ښه ډېر او پوره دقیق معلومات ورکړئ، همداغومره به د ناروغۍ تشخیص ورته آسانه شي او پر تاسو عزیزانو به هسې غیر ضروري اضافي معاینات نه کوي.

**درېیم فعالیت:** د دغو موضوعاتو په اړه ترغیبي پراګراف ولیکه.

- د پولیو واکسین
- د مطالعې ګټې
- بل ته احترام
- د جګړې تاوانونه

**څلورم فعالیت:** اوس خپل لیکلي پراګرافونه ولوله او دې پوښتنو ته ځواب ووایه.

١. دلیلونه او شواهد یې لوستونکی قانع کولی شي؟
٢. جملې یې واضحې او روانې دي؟
٣. د لیکوال احساسات او عواطف په کې ښکاري؟
۴. مبالغه په کې شته؟
۵. دلیلونه یې منطقي دي؟
٦. بې ځایه ټینګار په کې وینې؟

### ٣. روایتي پراګراف/ Narrative Paragraph

روایتي پراګراف د یوې پېښې روایت دی. دا پېښه به یا واقعي وي یا خیالي. که پېښه پر تا تېره شوې وي او پر تا یې اغېزه کړې وي کولی، شې خپل احساسات او عواطف هم په کې شامل کړې خو مبالغه به نه کوې. روایتي پراګراف به په داسې صمیمي انداز لیکې چې ګواکې له یوه ملګري سره خواله کوې.

**بېلګه**

وړمه شپه د یوه ملګري (فرید خوشبخت) مېلمه وم. زه چې نه وم، مجیب الله، وړوکی زوی مې چې شپږ کلن دی، بستره په شا کړې وه، د بابا کره تللی و. مور ته یې ویلي وو: «زه پوه شوم چې دی له مېلمستیاوو نه درېږي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېګاه چې کور ته راغلم، ګیله یې وکړه چې ته هر وخت د فرید کره ځې او ما یوازې پرېږدې. بیا یې بستره واخیسته چې بابا ته ځم.

مور یې وویل: «زوی درنه ولاړ، نور به هره شپه د بابا کره وي.»

ومې ویل چې داسې نه ده. اوس به یې وګورې چې ژر څنګه به بېرته راځي.

نهه نیمې بجې به وې چې ور یې راوټکاوه. بېرته راغلی و. را ته کړه یې: «راشه نو کیسه راته ووایه چې ویده شم.»

ومې ویل: سمه ده. خو یو څو شېبې صبر وکړه.

پخلنځي ته ولاړم. اوبه مې وڅښلې. د انګړ ور مې قلف کړ، نو په دې کې څو دقیقې تېرې شوې.

چې بېرته راغلم، ویې ویل: چېرې ورک وې؟

ومې ویل: ته پخپله تر اوسه پورې چېرې ورک وې؟

لنډ ځواب یې راکړ: د فرید کره.

**فعالیت:** درې داسې پېښې چې اغېزه یې دربانديې کړې وي، په جلا جلا پراګرافونو کې ولیکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۴. توصيفي پراګراف/ Descriptive Paragraph

څرنګه چې د کتاب په لومړۍ برخه کې مو ولوستل، په توصيفي پراګراف کې د يوې سيمې يا منظرې جزيات تشريح کېږي. هڅه وکړه چې د لوستونکو مختلفو حسونو (ليدلو، اورېدلو، بويولو، څکلو او لمس کولو) ته خطاب وکړې.

**بېلګه**

د آيوا سيند منظره ډېره په زړه پورې ده. د آيوا سيند لوی او آرام دی. تقريباً ۱۲۰ متره سور به يې وي او هر وخت ډک بهېږي خو اوبه په کې په کراره درومي، داسې ورو ورو چې د بهيدو په لوري هم نه پوهېږې. د آيوا د سيند په غاړو کې دنګې ځانګورې ونې ولاړې دي. دوی د اوړي په ګرميو کې خپل سيوری له لارويو څخه نه دريغوي، لکه سخي مالدار چې په تنګسه کې د خلکو مرسته کوي. د سيند په غاړو کې سپېره ځمکه نه وينې. چې هرې خوا ته ورشې، شنه چمنونه دي. د سيند په غاړه کې هوا يو څه نمجنه وي او چې ساه اخلې، د اوبو خوږ لوند بوی په کې احساسوې. د مختلفو مرغانو چغهار اورې او نری شمال دې پوستکی نازوي. د شپې چې ورشې، د سيند اوبه د سپوږمۍ رڼا ته د سپينو زرو په شان ځلېږي. د اوبو پر سر د سپوږمۍ تصوير پروت وي او د سيند د داوړو خواوو د کورونو ژېړ، سره او شنه څراغونه په اوبو کې داسې انعکاس کوي چې ته وا تر اوبو لاندې بلېږي.

**فعاليت:** هغه درې ځايونه درياد کړه چې ډېر دې خوښېږي. د هر يوه په باره کې يو توصيفي پراګراف وليکه چې د لوستونکو مختلفو حسونو ته په کې خطاب شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۵. د علت او معلول پراګراف Cause/ Effect Paragraph

په دې ډول پراګراف کې هغه سببونه چې په اثر کې یې یوه پېښه رامنځته شوې ده، بیانېږي. هغه عاملونه چې بیانېږي، باید منطقي او پر واقعیتونو ولاړ وي.

**بېلګه**

په تېرو دوو کلونو کې د ملکي تلفاتو زیاتېدل درې عمده سببونه لري. د دولت مخالفانو خپل بریدونه زیات کړي دي چې د سولې په خبرو اترو کې زورور ښکاره شي او زیات امتیاز ترلاسه کړي. د لویو ښارونو نیول ان که د لنډ وخت له پاره هم وو، د دوی له پاره لویه بریا ګڼل کېده. په همدې وجه دوی د کندوز، غزني او فراه پر ښارونو لویې حملې وکړې چې په نتیجه کې یې ډېر کسان ووژل شول. همدارنګه طالبانو پر مختلفو ولسوالیو باندې بریدونه وکړل او په کابل کې پر دولتي تأسیساتو یې حملې وکړې چې د دې پېښو اکثره قربانیان ملکي وګړي وو، لکه د مخابراتو پر وزارت باندې حمله. له بلې خوا د دولت په بمباریو کې هم ډېر ملکي کسان تلف شول. له یوې خوا دولت هم د خپل قوت د ښودلو له پاره پر مخالفانو خپل بریدونه زیات کړل چې په دې کې هوايي حملې هم زیاتې شوې. له بلې خوا ناسم استخباراتي راپورنه د دې سبب شول چې د عامو خلکو پر کورونو بمبارۍ وشي. درېیم سبب یې په کلیو، جوماتونو او د خلکو په کورونو کې د طالبانو دېره کېدل دي. کله چې دولت پر داسې ځایونو حملې کوي، خامخا د طالبانو تر څنګ ملکي وګړو ته هم مرګ ژوبله اوړي. نو ملکي تلفات ځکه زیات شوي دي چې جنګ تېز شوی دی، د دولت استخباراتي معلومات دقیق نه دي او طالبان د ملکي وګړو په منځ کې ځانونه پټوي.

تشریح

په دې ډول پراګراف کې هم موضوعي جمله، ملاتړې جملې او رانغاړونکې جمله وي. موضوعي جمله په واضحو ټکو سره د علت او معلول خبره کوي لکه په دې پراګراف کې چې وايي: « په تېرو دوو کلونو کې د ملکي تلفاتو زیاتېدل درې عمده سببونه لري.» ملاتړې جملې هغه سببونه تشریح کوي چې نتیجه او اثر یې په موضوعي جمله کې یاد شوي دي. رانغاړونکې جمله: «نو ملکي تلفات ځکه زیات شوي دي چې جنګ تېز شوی دی، د دولت استخباراتي معلومات دقیق نه دي او طالبان د ملکي وګړو په منځ کې ځانونه پټوي.» سببونه او نتیجه یې په لنډو ټکو رانغاړي. رانغاړونکې جمله یو ځل بیا د لوستونکي پام د پراګراف عمده ټکو ته وراړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړی فعالیت:** د علت او معلول دغه پراګراف موضوعي او رانغاړونکې جمله نه لري. ته ورته مناسبه موضوعي او رانغاړونکې جمله ولیکه.

موضوعي جمله: ...........................................................

د ناروغیو په تشخیص کې ستونزه وي ځکه چې ځینې لابراتوارونه معیاري نه دي او که د عین ناروغ معاینات په څو لابراتوارونو کې وکړې، مختلفې نتیجې راوځي. په بازار کې بې کیفیته درمل خرڅېږي ځکه چې د چارواکو په وینا د افغانستان سرحدونه خلاص دي او دولت یې د کنټرول توان نه لري نو قاچاقچیان په قاچاقي لارو بې کیفیته درمل واردوي. بله دا چې پر صحي سیستم کافي نظارت نشته نو په ځینو ځایونو کې نرسان هم ناروغان ګوري او نسخې ورکوي او په ډېرو ځایونو کې ځینې ډاکټران د خپلې څانګې او تخصص خلاف ناروغان تداوي کوي؛ مثلاً: که د یوه ډاکټر مسلک به جراحي وي خو هغه به د داخله ناروغیو مریضان هم ګوري.

رانغاړونکې جمله:

.........................................................................................

**دوهم فعالیت:** د دغو موضوعي جملو له پاره د علت او معلول پراګرافونه ولیکه.

⇐ په روژه کې د خوراکي موادو ګرانېدل څو سببونه لري.

⇐ د کابل – کندهار پر لویه لاره د ټرافیکو پېښو عمده عاملونه کوم دي؟

⇐ څلور عاملونه د دې سبب شوي دي چې شاګردان د ساینسي مضمونونو د زده کړې له پاره کورسونو ته ورشي.

⇐ د نړۍ د اقلیمي بدلون عمده سببونه درې دي.

**درېیم فعالیت:** د خپلې سیمې (کور، کلی، ښار) د یوه لوی بدلون په اړه فکر وکړه. هغه عاملونه پیدا کړه چې د دې بدلانه سبب شوي دي. بیا ورته د علت او معلول پراګراف ولیکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ٦. د تعريف پراګراف/ Definition Paragraph

دا پراګراف د ځينو انتزاعي مفاهيمو، د معنا اسمونو او د دودونو د تعريفولو له پاره ليکل کېږي. انتزاعي مفاهيم او د معنا نومونه هغه دي چې د انسان په ذهن کې شته خو په فيزيکي نړۍ کې نشته، په بله وينا مادي بڼه نه لري؛ لکه: مينه، کرکه، سوله، مېړانه، زړورتوب. همدارنګه ځينې دودونه چې ممکن د نورو له پاره ناآشنا وي؛ مثلاً: نذر، د نوروز مېله، عاشورا، په زرمت کې د طالبانو مېله او نور.

#### د طالبانو مېله

د طالبانو مېله د زرمت ډېره پخوانۍ مېله ده خو د پيل تاريخ يې دقيق نه دی معلوم. ليکوال او قومي مشر ميراجان سيقي وايي چې دی په ځواني کې يعنې په ۱۳۱۹ لمريز کال دغې مېلې ته ورغلی و چې هغه وخت هم دا مېله کافي پخوانۍ وه. د طالبانو يا د توتو مېله په لومړي سر کې د زرمت د مرکز تعمير په جنوب ختيځ کې د مموزو په کلي کې جوړېدله. وروسته د منځ زيارت ته راغله او بيا د خواجه فتح الله زيارت ته چې د ډمانو په زيارت هم مشهور دی او د توتو ډېر باغونه لري، ولېږدول شوه. بيا تر پايه پورې هر کال د جوزا په مياشت يعنې د توتو د رسېدو په موسم کې همدلته جوړېدله. دغه مېله به کله درې ورځې او کله هم اوه ورځې روانه وه. د سيمې ملايانو او طالبانو به د دغې ميلې چارواکي وو. دوی به يو ځانګړی حکومت جوړاوو. پاچا، صدراعظم او وزيران به يې لرل او د مېلې د تنظيم لپاره به يې ځانګړي پوليس، چې زياتره به طالبان او چړيان وو، موظف کړل. پاچا او صدراعظم به دريشي اغوستلې. دوی به په مېله کې ګرځېدل. مېلهوالو به يې هر امر مانه. دغه حکومت به ځانګړي نرخونه ټاکل چې پر ټولو به منل کېدل. د زيارت خوا ته به طالبانو د سندرو او ګډا ځانګړي مراسم جوړ کړي وو چې ډېر خلک به يې نندارې ته ولاړ وو. خو په دغه مېله کې په ساز او سرود بنديز و. د توتو يا طالبانو مېلې ته به د پکتيا د نورو ولسواليو او شاوخوا ولايتونو لکه غزني، ميدان وردګ، زابل، لوګر او کله له کابل او له ختيځو ولايتونو څخه هم خلک راتلل. د نورو سيمو خلکو به خپل ځينې حاصلات، حيوانات او نور شيان د خرڅلاو لپاره دغې مېلې ته راوړل چې د مېلې په څو ورځو کې ټول خرڅېدل. په دغه مېله کې به اکثره وخت ملا عبيداله يا د خواجه ګانو د کلي ملا چې په خواجه صاحب مشهور و، د طالبانو پاچا و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



صدراعظم به یې ډېر وخت د ظفرخېلو کلي ملا، ګل رسول و. [د زرمت ولسوالۍ پخوانیو مېلو ته کتنه، د ښاغلي علم ګل سحر مقاله. د مقالې دا برخه مې د سحر صاحب په اجازه راخیستې او رالنډه کړې ده.]

**لومړۍ فعالیت:** د پورتني پراګراف موضوعي جمله پیدا کړه. هغه موضوع چې په دې جمله کې بیان شوې ده، په نښه یې کړه. د موضوع د تعریفولو له پاره څو عمده ټکي بیان شوي دي؟ په یوه لست کې یې ولیکه.

**بله بېلګه**

خواخوږي هغه احساس دی چې د بل په درد دردېږي او د بل غم احساسوي. خوا د زړه معنا لري او خوږ درد ته وايي؛ معنا دا چې زړه دې په نورو وخوږېږي. کله چې پر چا ظلم شوی وي، د چا یو عزیز مړ شوی وي، چا ماتې خوړلې وي، څوک په امتحان کې ناکام شوی وي یا په بله وجه غمجن وي؛ انسان ورسره د خواخوږۍ احساس کوي. په دې وخت کې خواخوږی انسان هغه ته داد او تسلي ورکوي او داسې خبرې ورته کوي چې غم یې هېر شي. خواخوږي یوازې له انسان سره نه، بلکې له حیواناتو سره هم په کار ده. که څوک له نورو سره خواخوږي ولري، په اسانۍ سره چا ته زیان نه رسوي نو که خواخوږي زیاته شي، په ټولنه کې ظلم، تېری او جنایت کمېږي.

**دوهم فعالیت:** وګوره چې د خواخوږۍ د تعریف او توضیح له پاره کوم ټکي یاد شوي دي. دغه ټکي په کټګوریو ووېشه. فکر کوې چې دا خبرې به د خواخوږۍ د تعریفولو له پاره کافي وي؟

**درېم فعالیت:** د خپلې سیمې داسې دود چې ممکن نورو ته ناآشنا وي، پیدا کړه او بیا یو تعریفي پراګراف ورته ولیکه.

**څلورم فعالیت:** د دغو مفاهیمو له پاره خپل ذهن څخه یو یو تعریفي پراګراف ولیکه خو په قاموسونو او یا انټرنټ کې به یې په معنا پسې نه ګرځې بلکې هماغسې به یې تعریفوې چې تا درک کړي دي.

- انسانیت
- زړورتوب
- بخیلي/ کنجوسي
- مرسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۷. د مقایسې یا پرتلې پراګراف Comparison/ Contrast Paragraph

دېرځله لیکوال مجبورېږي چې دوه پدیدې سره پرتله کړي. د دوو پدیدو تر منځ د توپیرونو او ورته والیو په بیانولو سره لیکوال کولی شي لوستونکو ته مهم معلومات وړاندې کړي. د مقایسې تخنیک په تجارتي اعلانونو، انتخاباتي کمپاینونو، علمي بحثونو او ادبي څېړنو کې ډېر کارول کېږي. که مو په یاد وي، د ۲۰۱۴ په انتخاباتو کې به اشرف غني احمدزي ویل: «موږ د کابل بانک ټیم نه یو، موږ د افغانستان بانک ټیم یو.» ده به په همدې دوو جملو کې د خپلې او مخالفې ډلې یو لوی توپیر بیاناوه. د ده مطلب دا و چې رقیبان یې هغه کسان دي چې کابل بانک یې لوټ کړ.

**بېلګه**

خاطره او لنډه کیسه ځینې شباهتونه او ځینې توپیرونه لري. خاطره او لنډه کیسه دواړه روایتي ژانرونه دي. په دواړو کې توصیف، صحنه، کرکټرکښنه، او مکالمې وي. خو خاطره غیرتخیلي ژانر دی او لنډه کیسه تخیلي. په خاطره کې هغه څه بیانېږي چې په واقعیت کې پېښ شوي وي خو د لنډې کیسې پېښې د لیکوال په تخیل کې پنځول کېږي. همدارنګه د خاطرې ځای زمان او کرکټرونه ربښتیاني وي خو د لنډې کیسې زمان، مکان او شخصیتونه کېدای شي خیالي وي. بل توپیر یې په جوړښت کې دی. لنډه کیسه منظم پلاټ غواړي چې د پېښو ترمنځ یې باید منطقي تسلسل وي. همدارنګه غوټه په کې وي چې دا غوټه د کرکټرونو یا نورو عاملونو ترمنځ له ټکر څخه پیدا کېږي او د غوټې په حل کېدو سره کیسه ختمېږي. معنا دا چې لنډه کیسه پیل، اوج او پای لري چې دا هره برخه یې د خاصو اصولو له مخې لیکل کېږي خو خاطره داسې نه ده. خاطره ځنګه چې ده، هماغسې بیانېږي او همدا ورته بس دی چې په زړه پورې وي. نو خاطره او لنډه کیسه ځینې توپیرونه او ځینې ورته‌والي لري. دا چې دواړه روایت کېږي، په دواړو کې کرکټرونه، ځای، پېښې او خبرې اترې وي دا ژانرونه سره ورته کوي خو په دې چې خاطره واقعي پېښه بیانوي او لنډه کیسه خیالي پېښه او همدارنګه لنډه کیسه ځان ته منظم جوړښت لري، له یو بله توپیر لري.

**لومړی فعالیت:**

۱. په پاسني پراګراف کې موضوعي جمله او اصلي مفکوره کومه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲. په ملاتړو جملو کې کوم عمده ټکي بیان شوي دي؟
۳. رانغاړونکې جمله/ جملې یې په نښه کړئ.
۴. د لنډې کیسې او خاطرې تر منځ کوم توپیر/ توپیرونه په دې پراگراف کې نه دي یاد شوي؟
۵. ستا په فکر، خاطره او لنډه کیسه نور ورته‌والي هم لري؟

**دوهم فعالیت:** لاندې د مقایسې بل پراگراف لولې چې یوازې ملاتړې جملې لري. موضوعي او رانغاړونکې جملې به ورته پخپله لیکې.

موضوعي جمله:

......................................................................................................

ډسک ټاپ کمپیوټر سکرین، سي پي یو، کیبورډ او موس لري. لپ ټاپ کمپیوټر هم سي پي یو، سکرین، کیبورډ او موس لري خو دا هرڅه په یوه وسیله کې ځای پر ځای شوي دي او بېل بېل نه دي. ډسک ټاپ کمپیوټر لوی وي خو لپ ټاپ وړوکی او سپک دی او له ځانه سره یې وړلی شې. لپ ټاپ بېټری لري او بې له برقه هم یو یا څو ساعته کار کوي خو ډسک ټاپ خپله بېټری نه لري او که برق نه وي، کار نه کوي. که په ډسک ټاپ کمپیوټر دې ځینې کارونه کړي وي خو خوندي کړي دې نه وي، د برق له پرې کېدو سره کړی کار دې په اوبو لاهو کېږي خو په لپ ټاپ کې بیا دا ستونزه نشته. ډېر کارونه په لپ ټاپ او ډسک ټاپ دواړو کې کېږي خو ځینې کارونه لکه ډیزاین او انیمېشن چې لوړ گرافیک غواړي، په خاصو ډسک ټاپونو کې ښه ترسره کېدای شي.

رانغاړونکې جمله:

......................................................................................................

**درېیم فعالیت:** په دې موضوعاتو کې دوه انتخاب کړه او د مقایسې پراگرافونه ورته ولیکه.

- ❖ په قلم او په کمپیوټر سره لیکل
- ❖ خصوصي او دولتي پوهنتونونه
- ❖ په وطن او په بهر کې اوسېدل
- ❖ په وطن او په بهر کې د ناروغانو علاج
- ❖ کرېکټ او فوټبال
- ❖ فیزیکي او کمپیوټري لوبې (فیزیکي لوبې لکه خوسی، توپ ډنډه، غېره نیول ...)

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۸. د پروسې يا بهير پراګراف Process Paragraph

دا ډول پراګراف د هغه څه د توضيح کولو له پاره ليکل کېږي چې مختلف پړاوونه لري. په دې ډول پراګراف کې د تخنيکي وسايلو د کارونې، د مختلفو خوړو د پخولو طريقه، يوه هدف ته د رسېدو لارې چارې ... ليکلې شو. ليکوال بايد پړاوونه په زماني ترتيب سره بيان کړي؛ يعنې څه چې اول بايد وشي، په سر کې او څه چې په آخر کې بايد وشي، په پای کې وليکي.

**بېلګه**

**فعاله غوږ نيول**

فعاله غوږ نيول يو اساسي مهارت دی چې درې پړاونه لري. تر وينا مخکې، د وينا په بهير کې، او تر وينا وروسته. که د وينا له پيله مخکې د موضوع په اړه مطالعه وکړې، وينا به درته په زړه پورې شي او د ويناوال پر خبرو به لا ښه پوه شې. کله چې څوک وينا کوي، سترګو ته يې وګوره، نرۍ موسکا وکړه، د تأييدولو له پاره سر ورته وخوځوه، همدارنګه کله چې د ويناوال له خبرو سره موافق يې، په خوله ورته ووايه «هو»، «همداسې ده»، «امممم»، «ډېر ښه». البته دا ټکي دومره ډېر بايد ونه وايې چې د ويناوال خبرې اخلال کړې. يوې خوا ته د سر کوږ نيول يا مخې ته لږ کاږه کېناستل هم د فعاله غوږ نيولو نښې دي. د ويناوال د خبرو مهم ټکي وليکه او که په اړه يې تبصره يا پوښتنه لرې، په مناسب وخت کې يې مطرح کړه. د وينا په پای کې خپل يادښتونه بيا ولوله او که ممکن وي خلاصه يې په واضحو ټکو ويناوال ته ووايه.

**لومړی فعاليت:**

۱. د پاسني پراګراف موضوعي جمله او رانغاړونکې جمله په نښه کړه.

۲. په ملاتړو جملو کې کوم عمده ټکي ياد شوي دي؟ لست يې کړه.

۳. د فعاله غوږ نيولو له پاره سپارښتنې په زماني لحاظ ترتيب کړه: ۱) د وينا له پيلېدو څخه مخکې؛ ۲) د وينا په بهير کې؛ او ۳) تر وينا وروسته

د پروسې په پراګراف کې رانغاړونکې جمله کله کله لکه پورتني پراګراف کې يې چې وينې، د پروسې وروستی پړاو بيانوي. دا بېلګه هم ولوله:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پر متن څان څنګه وپوهوو؟

د دې له پاره چې پر متن سم وپوهېږئ، دغه کارونه باید وکړئ. لومړی، متن له سره تر پایه له نظره تېر کړئ. په دې کار سره به د متن کُلي موضوع درته ښکاره شي چې ليکوال د څه شي په اړه خبرې کړې دي. بيا متن له سره په دقت ولولئ. پنسل راواخلئ او هغه کلمې او اصطلاحات چې په معنا يې نه پوهېږئ، په نښه يې کړئ. بيا يې معنا له قاموس يا انټرنټ څخه راوباسئ او د هماغه پراګراف په څنګ کې يې وليکئ چې دا اصطلاح په کې راغلې ده. په دې پړاو کې به د متن لوستلو ته کافي وخت ورکوئ. وروسته، متن يو ځل بيا ولولئ او عمده خبرې يې پيدا کړئ. تر مهمو کلمو يې کرښې وباسئ. ښه متن معمولاً په هر پراګراف کې يوه عمده خبره بيانوي. د هر پراګراف اصلي مفکوره په نښه کړئ او وګورئ چې د موضوع په اړه يې څه ويلي دي. وروسته متن کېږدئ او عمده ټکي او اصلي مفکوره يې په ذهن کې تېر کړئ. بيا قلم او کاغذ راواخلئ او د متن د عمده خبرو توضيح لنډه وليکئ خو د ليکوال عبارتونه او جملې به ټکي په ټکي نه تکراروئ، بلکې له خپل ذهنه به يې په نويو جملو کې ليکئ.

**لومړی فعاليت:**

۱. د دې پراګراف موضوعي او رانغاړونکې جملې ته ځير شه او فکر وکړه چې د نورو پراګرافونو له موضوعي او رانغاړونکې جملې څخه څه توپير لري.

۲. د دې پراګراف لارښوونې په جلا جلا جملو کې په ترتيب وليکه خو جملې به دې په نويو کلمو او عبارتونو وي، نه دا چې کټ مټ د پراګراف جملې رانقل کړې، لکه:

۱. پر متن يو ځغلنده نظر واچوئ.

۲. ...

۳. ...

۴. ....

۵. ....

**دوهم فعاليت:** په لاندې موضوعاتو کې دوه انتخاب کړه او د بهير يا پروسې پراګرافونه ورته وليکه.

* خپله غوسه څنګه قابو کړو؟
* اي مېل آدرس څنګه جوړولی شو؟
* که څوک غواړي چې تذکره واخلي، څه باید وکړي؟
* کاغذ څنګه جوړېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲. ۲. مقاله Essay

د پراګراف په بحث کې مو وویل چې که د پراګراف لیکل زده کړې، مقاله بـه هـم پـه آسـانۍ سره ولیکې. مقاله هم د جوړښت په لحاظ د پراګراف غوندې درې برخـې لـري: موضـوعي پراګـراف یـا د معرفـۍ برخـه، ملاتـړي پراګرافونـه او رانغـاړونکی پراګـراف. پـه حقیقـت کـې پـه مقالـه کـې د موضوعي جملې پر ځای موضوعي یا پیلوونکی پراګراف، د ملاتړو جملو پر ځای ملاتړي پراګرافونـه او د رانغاړونکې جملې پر ځای رانغاړونکی پراګراف یا نتیجه لرو. د مقـالې او پراګـراف تـوپیر دا دی چې مقاله اوږده وي او یوه موضوع له څو اړخونو بیانوي. پـه تېـره برخـه کـې دې د پراګـراف لیکلـو تمرین وکړ، اوس به مقاله لیکل زده کړې. لومړی به د توضیحي مقالې یوه بېلګه وګورو.

### د علم په وده کې د مسلمانانو ونډه

مسلمانانو د ساینس، فلسفې او بېلابېلو علمونو په وده کې لویـه برخـه اخیسـتې ده. کـه پـه تېرو پېړیو کې د مسلمانو پوهانو هلې ځلې نـه وای، نـن بـه دومـره ډېـر علمـي پرمختګونـه، عصري ټکنالوجي او هوساینه نـه وای. د غـربي پوهـانو پـه بـاور، مسـلمانانو ۱۰۰۰ داسـې اختراع‌ګـانې او کشفونه کړي دي چې د علم په انکشاف کې خورا مهم ګڼل کېږي.

د نـړۍ لـومړنی پوهنتـون یـوې مسـلمانې نجلـۍ جـوړ کـړی دی. دا نجلـۍ فاطمـه الفهـري نومېده او د مراکش وه. فاطمې په ۸۵۹ میلادي کال کې د «القرویین» پـه نامـه پوهنتـون تأسـیس کړی و چې ساینس او دیني علوم به په کې تدریسېدل. [۱]

په منځنیو پېړیو کې پر ټوله اروپا د کلیسا واکمني خپره وه. کلیسا د خلکو فکرونه یرغمل کړي وو. د کلیسا کسانو به ریاضي، فزیک، کیمیا او نورو علمونو ته د کفر په سترګه کتل. هغوی به پوهان جادوګران بلل او ژوندي به یې په اور کې اچول. دوی د علم او حکمت ټول پخواني کتابونه وسوځول. خو په همدې وخت کې مسلمانان د علم او فلسفې په راټولولو، خوندي کولو او بډای کولو لګیا وو. مسلمانانو د لرغوني یونان علمي او فلسفي آثار عربي ته راوژباړل. دوی پر دې سربېره چې د لرغوني یونان پوهه یې خوندي کړه، نقد یې هم ورباندې وکړ، د هغوی پوهه یې اصلاح کړه او نوې مفکورې یې په کې ورزیاتې کړې. وروسته بیا همدغه آثار د څو پېړیو په ترخ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاتین او نورو اروپایي ژبو ته وژباړل شول. نو که مسلمانانو دغه آثار نه وای خوندي کړي، اوس به یې ځرک هم نه وو پاتې. [۴]

ډېر خلک په دې باور دي چې د امریکا لویه وچه، کریستوف کولمب کشف کړه. خو واقعیت دا دی چې ابوریحان البیروني تر هغه ۵۰۰ کاله مخکې ویلي وو چې داسې یوه لویه وچه به وي. هغه د دې وچې موقعیت هم ښودلی و چې څومره لرې به وي. اوس چې له آسیا او افریقا څخه د امریکا واټن اندازه شوی، له هغه څه چې البیروني ښودلي وو، یوازې ۱۱۷ مایله توپیر لري. البیروني د هندسې او مثلثاتو په مرسته د ځمکې شعاع او د ځمکې محیط داسې دقیق اندازه کړي وو چې له اوسنیو محاسبو ډېر کم توپیر لري. [۲]

مسلمانو پوهانو د طب په وده کې مهم کارونه کړي دي. د عباسي خلافت په دور کې ابوبکر رازي یو طبي شاهکار «فی الجدری و الحصبه» ولیکه. دا کتاب چې د انتاني ناروغیو لومړنی دقیق او سم کتاب و، تر اتلسمې پېړۍ یعنې تقریباً زر کاله د اروپا د طبي پوهنتونونو معتبر کتاب و. «الحاوي» د ده بل کتاب و چې معنا یې ده جامع. د دې کتاب لوستل د اروپا په طبي پوهنځیو کې تر پنځو سوو کلونو پورې لازمي وو. همدارنګه ابن سینا بل لوی مسلمان طبیب و چې د «القانون فی الطب» په نوم کتاب یې تألیف کړ. دغه کتاب تر اتلسمې پېړۍ پورې په اروپا کې د طب معیاري درسي کتاب و. [۴]

په ستورپوهنه کې هم مسلمانانو ډېر شیان کشف کړي دي. د ستورو، سیارو، لمر او سپوږمۍ د حرکت په اړه د ابو عبدالله البطاني لیکنې دومره ارزښتناکې وې چې شپږ سوه کاله وروسته کوپرنیک او ګالیلیو یې ځینې برخې راواخیستې. عمر خیام لومړنی ریاضي پوه و چې د جذرالمکعب معادله یې حل کړه. خیام د یوه لمریز کال موده تر شپږمې اعشاریې پورې ډېره دقیقه محاسبه کړه او ویې ویل چې یو کال ۳۶۵، ۲۴۲۱۹۳ ورځې دی. [۴]

کیمیا هغه علم دی چې مسلمانانو له ډېر پخوا څخه په کې تجربې کولې. ابوریحان البیروني د قیمتي کاڼو او نورو ډېرو مخصوص وزن معلوم کړي وو. د ده کتاب «الجماهر فی الجواهر» د کیمیا معتبر او مهم کتاب و. همدارنګه ابوبکر رازي او نورو مسلمانو پوهانو هم په دې برخه مهم کارونه کړي دي. د انګلیسي ژبې «کمیسټري» د عربي ژبې له الکیمیا څخه اخیستل شوې ده. [۳]

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک په دې باور دي چې الوتکه د امریکایي رایټ ورونو له تجربې وروسته جوړه شوه. هغوی په خپلو مټو پورې وزرونه وتړل او له یوه لوړ ځای څخه یې ځانونه راخوشي کړل. خو همدغه کار تر دوی څو پېړۍ د مخه عباس ابن فرناس هم کړی و. [۱]

په اوسنۍ نړۍ کې چې څومره علمي پرمختګونه شوي دي، اساس یې مسلمانو پوهانو ایښی دی. د عباسیانو، غزنویانو او عثماني ترکانو دربارونه د نامتو طبیبانو، عالمانو، سایسنپوهانو او فیلسوفانو پالنځایونه وو. مسلمانانو د علم، فلسفې او هنر په وده او پراختیا کې نه هېرېدونکې ونډه اخیستې ده. ځینې پوهان خو وایي چې د اروپا د رنسانس په دور کې ځینو غربي پوهانو د مسلمانانو علمي څېړنې په خپلو نومونو خپاره کړي دي.

مأخذ:

۱. زغم، محب الله د ابیاتو ښار، د امریکا یونلیک، کابل، ۱۳۹۴
۲. ستار، فریدریک، د منځنۍ آسیا زرین پېر، ژباړن محب الله زغم، ۲۰۱۸
۳. قیومي، ډاکټر محمد همایون، د علم په وده کې د البیروني ونډه، کابل، ۱۳۹۷
۴. ګراهام، مارک، اسلام او مډرنه نړۍ، ژباړن سترجنرال شیر محمد کریمي، کابل، ۱۳۹۸

**لومړی فعالیت:** پورتنۍ مقاله یو ځل بیا ولوله او:

۱. د هر پراګراف موضوعي او رانغاړونکې جمله پیدا کړه.
۲. د مقالې عمده ټکي په نښه کړه او د هر عمده ټکي په اړه یې څو جملې ولیکه خو د مقالې عبارتونه او جملې به کټ مټ نه تکراروې.
۳. د پیل په پراګراف کې کومه ادعا شوې ده؟
۴. د مقالې له پاره یو بل موضوعي پراګراف ولیکه.

معمولاً د مقالو په لومړي پراګراف کې لومړی د موضوع په اړه یوه عمومي خبره کېږي چې د لوستونکي پام وراواړي: «مسلمانانو د ساینس، فلسفې او بېلابېلو علمونو په وده کې لویه برخه اخیستې ده.» بیا یوه ادعا کېږي، لکه په دې مقاله کې چې ادعا شوې ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library



«که په تېرو پېړيو کې د مسلمانو پوهانو هلې ځلې نه وای، نن به دومره ډېر علمي پرمختګونه، عصري ټکنالوجي او هوساينه نه وای. د غربي پوهانو په باور، مسلمانانو زر داسې اختراعګانې او کشفونه کړي دي چې د علم په انکشاف کې خورا مهم دي.»

همدې ادعا ته فرضيه يا تيسز thesis وايي. ملاتړي پراګرافونه د همدې ادعا د اثبات له پاره شواهد، مثالونه، ارقام او د نورو قولونه رانقلوي او يا د ليکوال مشاهدې او تجربې او موندنې بيانوي. که دغه معلومات له نورو منابعو څخه راخيستل شوي وي، بايد د هر پراګراف په پای کې هماغه مأخذ شمېره ياده شي چې دا معلومات ورنه نقل شوي دي؛ لکه په دې مقاله کې چې د پراګرافونو په پای کې په لويو لينديو [ ] کې شمېرې وينئ. د مقالې په آخر کې مأخذونه بايد په تفصيل سره وليکل شي.

## ۲. ۲. ۱. د مقالې تحليل

لاندې مقاله ولوله او د هر پرګراف معلوماتو ته يې ځير شه.

**اشاري - بدني ژبه Body Language**

په يوه نوي هېواد او نوې ژبه کې له خلکو سره د مؤثرې رابطې لپاره يوازې د هغوی د ژبې زده کول بس نه دي. تر ژبې ورهاخوا، د رابطې نيولو نورې وسيلې لکه اشاري ژبه هم په هماغه اندازه مهمه ده. انسان په خپله څېره، د بدن په حرکتونو او فيزيکي تماس سره هم مخاطب ته داسې غښتلي پيغامونه ورکوي چې تر کلمو ورتېر دي. نو هر څوک چې په يوه بل هېواد کې ژوند، کار، يا زده کړه کوي؛ بايد د هماغه هېواد د وګړو اشاري ژبه لکه د مخ او لاس حرکتونه، د بدن حرکتونه او د فيزيکي تماس بڼه زده کړي.

لومړی، راځئ وګورو چې خلک په مخ سره څه ډول رابطه نيسي- او څه بيانوي. څېړنه يې راښيي چې د هر ځای خلک خپل اساسي احساسات او عواطف لکه خوښي، خپګان، هيجان، حيراني او نور د مخ د عضلاتو په مختلفو حرکتونو سره بيانوي. خو دا چې خلک خپل عواطف څومره بيانوي، په مختلفو خلکو کې متفاوت وي. د بېلګې په توګه، د اسپانيې او ايټاليې خلک د احساساتو د بيانولو له پاره د څېرې او مخ له حرکتونو څخه خورا زيات کار اخلي. دوی خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



عواطـف او احساسـات ډېـر او پـه آسـانۍ سره څرګنـدوي. د آسـيايي هېوادونـو خلـک بيـا خپـل احساسات هغومره زيات او چټک نه ښيي. د څېرې د رابطې يوه مهمه برخـه د سـترګو تمـاس دی. د امريکا په متحدو ايالتونو کې ويناوال له مخاطبانو سره د سترګو تماس سـاتي او مخاطبـان هـم د ويناوال سترګو ته په کتو سره وينا ته خپله لېوالتيا ښکاره کوي. خو کـه مخاطـب د وينـاوال سـترګو ته همداسې نېغ وګوري او سترګې بيخي ونه څمبي، معنا يې دا ده چې وينا ورته سـتومانوونکې ده او دی ګنګس، په غوسه او بېزاره شوی دی. د لاتينې امريکا په ځينو فرهنګونو کـې سـترګې کښـته اچول او چا ته مخامخ نه کتل، د احترام او درناوي معنا لري.

د سر، اوږو، لاسونو او متو خوځول هم د اړيکو مهمـې وسـيلې دي. پـه اکـثرو هېوادونـو کـې دواړو خواوو ته د سر خوځول د «نه» او د سر کښته پورته خوځول د «هو» او تأييد معنـا لـري خـو پـه بلغاريا کې بيا اپوټه ده. هلته د سر کښته پورته خوځول يعنـې «نـه» او ښـي او چـپ طـرف تـه د سر خوځول يعنې «هو». د اوږو پورتـه خوځـول پـه داسـې حـال کـې چـې متـې پرانيسـتې او د لاسـونو ورغوي لږ غوندې پورته کېږي، په غربي فرهنګونو کې مختلفـې معنـاوې لـري. پـه اکـثرو فرهنګونـو کې د دې حرکت معنا «شک او نه اطمينان» دی خو دا معنا هم لري چې «جالبه راته نه ده/ زه يـې پروا نه لرم.» په اکثرو فرهنګونو کې د بټې ګوتې پورته کول د تأييدولو او قبلولو په معنـا دي خـو پـه ايران، عـراق او ځينـو نـورو ځـايونو کـې دا بـده او سـپکه معنـا ښـندي. همدارنګـه پـه اکـثرو غـربي فرهنګونو کې داسې اشاره چې بټه ګوته د اشـارې لـه ګـوتې سره لګېـږي او کـړۍ يـا د (O) علامـه جوړوي، يعنې «هر څه سم دي.» خو په فرانسه او بلجيم کـې بيـا د «صـفر، هـېڅ» او «بـې اهميتـه» معنا لري. همدغه اشاره په جاپان کې د «پيسـو» پـه معنـا ده خـو پـه روسـيه، برازيـل او ترکيـه کـې سپکاوی دی. ښکاره ده چې دغه اشارې چې خلک يې هره ورځ کاروي، که بې ځايـه وکـارول شي، سؤتفاهم پيدا کوي ځکه چې ستا مطلب به يو شی وي خو مخاطب به بله معنا ورنه اخلي.

د مخ پر اشارو او د بدن پر حرکتونو سربېره، د بدن فيزيکي تماس هم د اشاري ژبې بـل اړخ دی. جالبه دا ده چې فکر کېږي د امريکا د متحدو ايالتونو خلک صميمي دي خـو د بـدني تمـاس په لحاظ داسې نه دي. امريکايان د نورو فرهنګونو خلکو ته سـاړه او ناصـميمي ښـکاري ځکـه چـې دوی غوره ګڼي له مخاطب څخه لږ لرې ودرېږي. دوی اغلباً هغه مهال هوسا وي چې له نورو څخـه دوه درې فوټه (۶۰-۹۰ سانتي متره) لرې وي. کله چې څوک غواړي ورنژدې شي، دوی شا ته ځـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې له هغه څخه په دومره واټن کې ودرېږي چې ځان په کې هوسا احساسوي. همدارنګه امریکایان کله چې له چا سره په لومړي ځل ګوري، د روغبړ په وخت کې لاس یې د لنډې مودې له پاره په لاس کې نیسي، ټکان ورکوي او بېرته یې خوشې کوي. دوی که له چا سره ډېر نږدې روابط ونه لري، په عام محضر کې په غېږه سټړي مه شي ورسره نه کوي. پر دې سربېره، امریکایان که له چا سره د مینې رابطه ونه لري، په عام محضر کې ورسره لاس په لاس نه ګرځي. که څوک د فیزیکي تماس په برخه کې د امریکایانو په اړه معلومات ونه لري، ممکن د هغوی په باره کې غلط فکر وکړي او دا به یې پر بین الفرهنګي روابطو منفي اغېزه وښندي.

لنډه دا چې اشاري – بدني ژبه د رابطې یوه مهمه بڼه ده چې په هر ځای کې یو شان نه وي. کله چې څوک بل ځای ته سفر کوي، باید داسې ونه ګڼي چې د دوی د خپل فرهنګ اشاري – بدني ژبه به په هر ځای کې وچلېږي. په حقیقت کې، څنګه چې خلک د یوې ژبې د ګرامر او لغاتو په زده کولو کې هڅه کوي، هماغسې باید خپل وخت او انرژي د هماغه ژبې، هېواد او فرهنګ د اشاري – بدني ژبې په زده کولو کې هم ولګوي.

[Longman Academic Writing Series, fourth edition, Alice Oshima, Ann Hogue and Jane Curtis, Pearson Education, 2014]

**دوهم فعالیت:** مقاله له سره ولوله او دغو پوښتنو ته ځواب ورکړه.

۱. د مقالې په موضوعي یا د پیل په پراګراف کې کوم تیسز وړاندې شوی دی؟

۲. هر پراګراف د اشاري ژبې کوم اړخ څېړلی دی؟

۳. په مقاله کې معلومات پر کوم اساس ترتیب شوي دي؛ منطقي ترتیب، زماني ترتیب (بهیر/ پروسه)، یا د پرتلې پر اساس؟

**درېیم فعالیت:** په خپل فرهنګ کې د اشاري – بدني ژبې اړخونو ته فکر وکړه. بیا د پورتنۍ مقالې له معلوماتو څخه په استفادې سره یوه مقاله ولیکه چې زموږ او د نورو فرهنګونو تر منځ د اشاري – بدنې ژبې توپیرونه او شباهتونه (د پرتلې پراګراف غوندې) په کې بیان شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲. ۲. ۲. د مقالې جوړښت

مقاله له درېو برخو رغېږي: مقدمه يا موضوعي پراګراف، ملاتړي پراګرافونه، نتيجه.

### الف. مقدمه يا موضوعي پراګراف

د مقالې لومړی پراګراف موضوعي پراګراف يا مقدمه ده چې دوې برخې لري. لمړۍ برخه يې د موضوع په اړه عمومي خبره يا د موضوع مخينه بيانوي او لوستونکي ته تلوسه پيدا کوي چې مقاله تر پايه ولولي. دوهمه برخه يې د موضوع په اړه يوه فرضيه يا تيسز وړاندې کوي يعنې يوه ادعا کوي. نو د موضوعي پراګراف دوې دندې دي: ۱) د لوستونکي د پام راخپلول؛ ۲) د تيسز طرح کول.

موضوعي پراګراف مختلف ډولونه لري. يو ډول يې قيف ډوله مقدمه ده. په دې ډول موضوعي پراګراف يا مقدمه کې د موضوع په اړه څو کُلي او عمومي خبرې او يو تيسز وړاندې کېږي. کُلي او عمومي بيانونه لوستونکو ته د موضوع په اړه معلومات ورکوي. دغه معلومات بايد لوستونکی له يوه کُلي موضوع څخه ورو ورو جزئي او مشخصې موضوع ته بوځي. يعنې څومره چې له پاسه کښته خوا ته ځو، د قيف غوندې د معلوماتو ساحه ورو ورو راکمېږي او مشخص کېږي. د پاسنۍ مقالې مقدمه يا موضوعي پراګراف به وڅېړو:

۱. په يوه نوي هېواد او نوې ژبه کې له خلکو سره د مؤثرې رابطې لپاره يوازې د هغوی د ژبې زده کول بس نه دي.

په دې جمله کې د مؤثرې رابطې خبره شوې ده چې دا ډېره کُلي موضوع ده. همدارنګه د لوستونکي توجه راخپله شوې ده.

۲. تر ژبې ورهاخوا د رابطې نيولو نورې وسيلې لکه اشاري ژبه هم د ژبې د زده کولو هومره مهمه ده.

دوهمه جمله موضوع له «مؤثرې رابطې» څخه چې ډېره کُلي ده، د رابطې يوې مشخصې وسيلې «اشاري ژبې» ته رالنډه کړې ده.

۳. انسان په خپله څېره، د بدن په حرکتونو او فيزيکي تماس سره هم مخاطب ته داسې غښتلي پيغامونه ورکوي چې تر کلمو ورتېر دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه جمله د «اشاري ژبې» درې مشخصې بڼې «څېره، د بـدن حرکتونـه، او فیزیکـي تمـاس» یادوي او د موضوع ساحه لا پسې کموي.

۴. نو هر څوک چې په یوه بل هېواد کې ژوند، کار، یا زده‌کړه کـوي، بایـد د هماغـه هېـواد د وګړو اشاري ژبه لکه د مخ او لاس حرکتونه، د بدن حرکتونه او د فیزیکي تماس بڼه زده کړي.

وروستۍ جمله د لیکوال تیسز یا ادعا «خلک باید د بل هېواد اشاري ژبه زده کړي» بیانوي.

وینو چې په دې پراګراف کې موضوع لکه په قیف کې چې اچـول شـوې وي، وار پـه وار سره له عمومي‌توب څخه د مشخص‌توب خوا ته ځي.

**لـومړۍ فعالیـت:** د لـومړۍ مقـالې مقدمـه یـا موضـوعي پراګـراف یـو ځـل بیـا ولولـه او د اشاري ژبې د مقالې له موضوعي پراګراف سره یې پرتله کړه.

«مسلمانانو د ساینس، فلسفې او بېلابېلـو علمونـو پـه وده کـې لويـه برخـه اخيسـتې ده. که په تېرو پېړيو کې د مسلمانو پوهانو هلې ځلې نه واى، نن به دومـره ډېـر علمـي پرمختګونـه، عصري ټکنالوجي او هوساينه نه واى. د غربي پوهانو په باور، مسلمانانو زر داسـې اختراع‌ګـانې او کشفونه کړي دي چې د علم په انکشاف کې خورا مهم ګڼل کېږي.»

**پوښتنه:** دا موضوعي پراګراف هم د قیف په بڼه موضوع له کُل څخه جز ته رالنډوي؟

وړاندې مو ووېل چې موضوعي پراګرافونه څو ډولونه لري. د دې پراګراف جملو ته ځير شه.

۱. مسلمانانو د ساینس، فلسفې او بېلابېلو علمونو په وده کې لويه برخه اخيستې ده.

۲. که په تېرو پېړيـو کـې د مسـلمانو پوهـانو هلـې ځلـې نـه واى، نـن بـه دومـره ډېـر علمـي پرمختګونه، عصري ټکنالوجي او هوساينه نه واى.

۳. د غربي پوهانو په باور، مسلمانانو زر داسې اختراع‌ګانې او کشفونه کـړي دي چـې د علـم په انکشاف کې خورا مهم ګڼل کېږي.

لومړۍ جمله د ساینس، فلسفې او علمونو په وده کـې د مسـلمانانو د ونـډې خـبره کـوي. دا جمله د لوستونکو پام مقالې ته را اړوي.

دوهمه جمله د سبب/ اثر تخنیک کاروي او وايي چې په تېرو پېړيو کې د مسـلمانو پوهـانو د هلو ځلو په سبب نني علمي پرمختګونـه، ټکنـالوجي او هوسـاينه رامنځتـه شـوي دي. دا جملـه د لوستونکو تلوسه لا زياتوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروستۍ جمله وايي مسلمانانو زر داسې اختراعګانې او کشفونه کړي دي چې د غربي پوهانو په باور د علم په انکشاف کې ډېر مهم ګڼل کېږي. دا جمله هم د دوهمې جملې په شان، تلوسه لا پسې زياتوي. له بلې خوا د مقالې تيسز هم په همدې جمله کې بيان شوی دی او بل کار يې دا دی چې د مقالې په نورو پراګرافونو کې د راغليو معلوماتو په اړه لوستونکو ته يو ځرک ورکوي. لوستونکي د دې جملې په لوستلو سره پوهېږي چې په مقاله کې به د همدغو اختراعګانو او کشفونو ځينې نمونې راغلې وي.

له بلې خوا دغه پراګراف هم د قيف په بڼه عمل کوي:

«د ساينس، فلسفې او علمونو په وده کې د مسلمانانو نقش»

«نني علمي پرمختګونه، ټکنالوجي او هوساينه»

«زر علمي اختراعګانې او کشفونه»

**دوهم فعاليت:** لاندې د څو مقالو له پاره موضوعي پراګرافونه راغلي دي. د هر موضوعي پراګراف جملې داسې ترتيب کړه چې وار په وار سره عمومي موضوع لا وړوکې او لا مشخصه کړي.

لومړی پراګراف

**له هنري آثارو خوند اخيستل**

۱) د انځورګرۍ د آثارو له کتلو څخه لا زيات خوند اخيستلی شو خو که يې چل زده کړو. ۲) له هنري آثارو څخه خوند اخيستل زده کېدای شي. ۳) د هنري تابلوګانو په خوند د پوهېدا لپاره درې کارونه کولی شو: د تابلو جزئياتو ته پام کول؛ په تابلو کې د مختلفو موقعيتونو په معنا ځان پوهول؛ او د موضوع د مخينې په اړه معلومات پيدا کول. ۴) څنګه له هنري آثارو څخه خوند واخلو؟ [د ادبياتو ښار، د امريکا يونليک، محب الله زغم]

دوهم پراګراف

**د اخلاقو فلسفه**

۱) په هره ساحه کې فلسفه بنيادي سوال طرحه کوي. ۲) همدارنګه د خير او شر په مسأله کې همدا بنيادي سوال منځ ته راځي او همدا د اخلاقو د فلسفې موضوع ده. ۳) د انسان حکمونه او قضاوتونه درې معياره لري: (ا) يا ښکلا او بدشکلي ده چې د جمال فلسفه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرې خبرې کوي. یا (II) د حقیقت او خطا ارزش دی چې د پوهې د تیوري موضوع ده. یا (III) د ښه او بد (خیر او شر) مسأله ده چې د اخلاقو فلسفه پرې تحقیق کوي. ۴) مثلاً د جمال په باره کې دا پوښتنه کېږي چې د انسان د ښکلا او بدشکلۍ حکم په څه اساس کوي؟ د پوهې په باره کې دا سوال پیدا کوي چې موږ د حقیقت او خطا تمیز څرنګه کوو؟ حقیقت څه ته وایي؟ [د جبر او اختیار دیالکتیک، پوهاند ډاکټر سید بهاالدین مجروح، کابل، ]

درېیم پراګراف

**ژبه باید جدي وګڼو**

۱. بنيآدم ډېر مفاهیم د ژبې له لارې زده کوي او د ژبې په وسیله یې نورو ته لېږدوي. خو دا د ژبې یوازینی کار نه‌دی، مشهور فیلسوف ویتګنشتاین وایي: «زما ژبه زما نړۍ ده. ګواکې موږ د ژبې په مرسته په دنیا کې ساه اخلو او له دنیا سره او په دنیا کې، د ژبې په مرسته اوسېږو.»

۲. ژبه یعنې د بنيآدم ناطقه ځواک.

۳. د ابن رشد په وینا انسان ځکه «ناطق حیوان» بلل شوی دی چې نطق د انسان د پوهېدا نښه ده.

۴. د پخوانو په نظر، څه چې انسان له حیوانه بېلوي او د بنيآدم امتیاز ګڼل کېږي، همدغه ناطقه ځواک دی.

[واللیل اذا عسعس، د استاد محمد محق لیکنه، ژباړونکی محب الله زغم]

د مقالې په مقدمه یا موضوعي پراګراف کې باید د مقالې د محتوا په اړه خبره وکړې خو ټوله محتوا به یې نه افشا کوې. که داسې وکړې، لوستونکی به داسې وګڼي چې ټوله مقاله یې لوستې ده او د مقالې نور پراګرافونه به ونه لولي. مقاله که لنډه وي، که اوږده، مقدمه یې باید لنډه وي. معمولاً درې – څلور یا پنځه جملې به بس وي. د دې له پاره چې د لوستونکي تلوسه وپاروې، کولی شې د مقالې په مقدمه کې یوه پوښتنه مطرح کړې؛ یا یو په زړه پورې واقعیت په کې بیان کړې؛ او یا یوه جالبه یا خندوونکې خبره وکړې.

**دوهم فعالیت:** لاندې د دوو مقالو موضوعي پراګرافونه راغلي دي. پراګرافونه په ځیر ولوله او دې پوښتنو ته ځواب ووایه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. کومه جمله د مقالې لوستلو ته د لوستونکو پام او لېوالتيا اړوي؟
۲. کومه جمله د مقالې تيسز يا د بحث موضوع بيانوي؟
۳. په پراګراف کې يوه عمومي موضوع مشخصې موضوع ته رالنډه شوې ده که نه؟

**دين او تاريخ**

د اسلام د تاريخ په تعبير او تفسير کې اختلاف وينو. دغه اختلاف د رسول الله مبارک له وفاته وروسته د هغه د ځای ناستي د ټاکنې له موضوع پيلېږي. تاريخ راته وايي چې ان د خلفای راشدين په زمانه کې، د څلورم خليفه په دوران کې د مسلمانانو مخالفې ډلې له يو بل سره وجنګېدلې او د خپلو ايماني وروڼو وينې يې وبهولې.

[د ډاکټر مبارک علي ليکنه، ژباړن استاد اسدالله غضنفر]

**زور او مذهب**

په سياست باندې مذهب معمولاً هغه وخت غلبه کوي چې دولت او موسسې يې کمزورې وي. کله چې حکومت د خلکو د اړتياوو په پوره کولو کې پاتې راشي او د خارجي و داخلي خطرونو په مقابل کې د خلکو د ساتلو وس ونه لري نو دغه وخت مذهبي عناصر چې له فاسد سياسي نظامه د ټولنې د ژغورلو او د عدالت د راوستلو خبره کوي، د قدرت د حصول په لور ګام اخلي. په دغسې حالت کې مذهب په سياست لاسبرى کېږي او د خپلو شعايرو د عملي کولو ذريعه ورنه جوړوي.

[د ډاکټر مبارک علي ليکنه، ژباړن استاد اسدالله غضنفر]

**درېيم فعاليت:** دلته به دوې مقالې ولولې چې مقدمه يا موضوعي پراګرافونه يې لرې شوې دي. مقالې په ځير سره ولوله او د هرې مقالې له پاره مقدمه پراګراف وليکه.

**فلسفي سوال**

.........................................................................................................
.......................................................................................................................
.....................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مبهم سوال مثال به داسې وي: جهان يعنې څه؟ انسان يعنې څه؟ دا دواړه سوالونه مبهم دي ځکه چې په هر يوه کې يو مفهوم په جلا او مجرد شکل پروت دی، بل کوم مشخص مفهوم نشته چې رابطه ورسره ټينګه کړي، ځکه: «يعنې څه» يوازې د پوښتنې علامه ده او پخپله کوم مفهوم نه دی. لومړی بايد په «يعنې څه» انتقاد وشي او پوښتنه وشي چې د «يعنې څه» څخه مراد څه دی؟

فلسفي سوال هله طرح کېږي چې په مفاهيمو کې حرکت او جنبش را پيدا شي. او که سوال غلط طرح شي، نو فکر له ځايه نه خوځېږي او د سکون په حالت کې پاتې کېږي. او يا د تخيلاتو او تصوراتو لار نيسي او فکر صحيح په کار اچول همدې ته وايي چې انسان د فکر اصلي او حقيقي حرکت او ژوند پيدا کړي. ځکه چې هر فکر ځان ته ژوند او حرکت لري او د افکارو له حرکت او تصادم څخه حقيقت راوځي.

همدارنګه که موږ ووايو: «جبر او اختيار يعنې څه؟» دا يو مبهم سوال دی او موږ مجبور يو چې په يو بل شکل يې طرح کړو او مثلاً ووايو: «انسان مجبور دی که مختار؟» دلته موږ يو نوی مفهوم يعنې «انسان» په مسأله کې داخل کړ او سوال لږ څه له ابهام څخه راووت او د «انسان» او «جبر»، «انسان» او «اختيار» په مفکورو کې څه رابطه او حرکت را پيدا شو. اوس که موږ د دې مفاهيمو حرکت ته په ځير وګورو، نو را معلومه به شي کوم تصادم چې د دوی په منځ کې واقع کېږي، د دې تصادم په نتيجه کې دا دواړه مفاهيم، انسان او جبر له يوې خوا، انسان او اختيار له بلې خوا يو په بل کې ننوځي او يو نوی مفهوم ترې جوړېږي په دې ډول: «مجبور انسان»، «مختار انسان» او زموږ طرح شوی سوال بيا خپل د اولني مفهوم حالت ته راګرځي، په دې شکل: «مختار انسان يعنې څه؟»، «مجبور انسان يعنې څه؟» دلته بيا موږ ته په کار دی چې د «يعنې څه» په ځای «نور څه» داخل کړو چې په افکارو کې بيا حرکت را پيدا شي او زموږ سوال معنا راپيدا کړي. نو به وايو: مجبور يا مختار انسان د څه شي په مقابل کې؟ د دې «څه شي» له سر سري تحليل څخه دا لاندې مفاهيم راوځي: مجبور يا مختار انسان د طبيعت په مقابل کې، د ماوراالطبيعت په مقابل کې، د خپل ځان په مقابل کې، د بل انسان په مقابل کې... په دې ډول د جبر او اختيار په مسأله کې جلا جلا جنبې را پيدا شوې او موږ اوس کولای شو په هرې يوې جلا جلا بحث وکړو. [د جبر او اختيار ديالکتيک، پوهاند ډاکټر سيد بهأالدين مجروح، کابل، ]

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اخلاقي ديانت، غيراخلاقي ديانت

...............................................................................................

...........................................................................................................

...........................................................................................................

..........................................................

اخلاقي ديانت هغه دی چې د اخلاقي مکارمو او فضايلو پر اساس بنا کېږي. په دې ډول ديانت کې، انسان دغه فضايل د خپلې دينداری معيار او محک ګڼي او په خپل ژوند کې د نېکو اخلاقو د پالنې همت کوي. سره له دې چې اخلاقي ارزښتونو ته پام کول، د دين د عبادي واجباتو له التزام سره په ټکر کې نه دي او ديني مناسک نه بې ارزښته کوي؛ خو په اخلاقي ديانت باورمن کسان پوهېږي چې که دغه کارونه د هغوی د اخلاقي شخصيت په وده کې مرسته و نه کړي، بې ګټې دي. دا وګړي عبادتونه داسې تمرينونه ګڼي چې له بلې دنيا سره د پيمان د تجديد په وسيله، د هغوی د اخلاقو له دوامدارې ودې او ښه کېدو سره مرسته کوي (محمد غزالي: اسلامي اخلاق، سريزه). که دوی احساس کړي چې عبادت دغه نتيجه نه ده لرلې، د خپلو عبادتونو په ګټه او اغېزې باندې شک کوي او پوهېږي چې عبادتونه يې يوازې د ديندارۍ کاذبه ننداره ده. دا خلک ديني مناسکو او تعبدي چارو ته له پابندۍ سره هم مهاله پر خپلو اخلاقي فضايلو او له رذايلو په اجتناب باندې تمرکز کوي او د همداسې ديانت له لارې اخلاقي انسان ځنې جوړېږي..

په مقابل کې يې، غير اخلاقي ديانت هغه دی چې پر ديني مناسکو او سېمبوليکو چارو تمرکز لري او همدا د دينداری معيار ګڼي. دا وګړي څومره چې زيات عبادتونه کړي، هماغومره ځانونه له نېکو اخلاقو بې نيازه ګڼي (فقهي ديانت). د دې ديانت پالونکي د فضايلو او رذايلو ترمنځ پوله چندانې نه پېژني او حتی فضايل يوازې د يو څو سېمبوليکو مذهبي عملونو د ترسره کولو سطحې ته راټيټوي. د دې ډلې کسان خپلې اخلاقي نيمګړتياوې په عبادت جبيره کوي او ان د يو څو تعبدي عملونو په ترسره کولو چې د دوی د ديانت اصلي معيارونه دي، خاص غرور پيدا کوي او بې له دې چې خپلو اخلاقي نيمګړتياوو ته يې پام وي، نورو ته په سپکه سترګه ګوري او ځان ته په درنه (ابن الجوزي: تلبيس ابليس)

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدمرغي هله یو په دوه کېږي چې غیراخلاقي دیانت له سیاست سره او واک ته د رسېدو له هڅو سره غوټه شي. دلیل یې ښکاره دی: سیاست په سختۍ سره له اخلاقي فضایلو سره جوړېږي. غیراخلاقي دیانت له سیاست سره چې له اخلاقو تښتي، په یوه ډول سره همرنګي لري. (سیاست مو دیانت دی او دیانت مو سیاست!!)

په دې دیانت کې د جمعې لمونځ، اعتکاف، د روژې پروګرامونه، حج، ډله‌ییز نفلونه، د قران او حدیث درسونه، او دې ته ورته نورې چارې د سیاسي هدفونو لپاره په وسایلو بدلېږي. سیاسي هدفونه یې د خلکو د اعتماد جلبول او په ټولنه کې ځای موندل دي چې د هغوی خورا زیاتې مرستې راجلب کاندي او په خپلو مدرسو، مرکزونو، او بنسټونو یې ولګوي او دا هغه ځایونه دي چې د دوی د قدرت مرکز ګڼل کېږي. دوی له همدې ځایونو څخه د خپلو رقیبانو او حریفانو پر ضد کار اخلي او حاکمان او مخالف ګوندونه وربانديې ډاروي او په غیر مستقیم ډول هغه کسان ګواښوي چې نور فکرونه لري.

[سترګې به پرانیزو، لیکوال محمد محق، ژباړن محب الله زغم]

**د مقالې مقدمه یا موضوعي پراګراف د مقالې په مختلفو ډولونو کې څه نا څه توپیر لري. دلته به د مقالې د مختلفو ډولونو مقدمې وګورې.**

**۱. د استدلالي/ Argumentative مقالې مقدمه:** د دې ډول مقالې په مقدمه کې خپل نظر او لیدلوری بیانوې؛ لکه:

### لیکوالي فطري ده که کسبي؟

د لیکوالۍ په اړه دوه نظرونه شته. ځینې وایي چې لیکوالي هنر دی او د نورو هنرونو په شان طبیعي استعداد غواړي. ځینې په دې باور دي چې لیکوالي په تمرین او ریاضت زده کېدای شي. زما په نظر د لیکوالۍ له پاره دوه شیان په کار دي: تخیل او د لیکلو مهارت. تخیل هر روغ بني‌آدم لري او د لیکلو مهارت هم په تمرین سره زده کېږي نو هر څوک لیکوالي کولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲. د ترغیبي/ Persuasive مقالې مقدمه:** د ترغیبي مقالې په مقدمه کې هم مهمه ده چې د موضوع په اړه خپل شخصي نظر وړاندې کړې؛ د دې بېلګې غوندې:

**د مطالعې لپاره د کتابونو انتخاب**

دا مشهوره مقوله ده چې وايي هر کتاب په یو ځل لوستلو ارزي. خو ځینې کتابونه دي چې تعصب خپروي او د خلکو په زړونه کې کرکه او بدبیني زیاتوي؛ ځینې نور یې ناسم معلومات وړاندې کوي؛ او ځینې کتابونه یوازې د یوې خاصې ایډیالوژۍ تبلیغ کوي. نو د داسې کتابونو لوستل د زهر غوندې اثر کوي؛ په تېره بیا که لوستونکی د نوې ځوانۍ په عمر کې وي چې لا یې د تعقل او تفکر ځواکونو پوره وده نه وي کړې. نو زه وایم چې ځینې کتابونه هېڅ په لوستلو نه ارزي.

**۳. د مقایسې/ Comparison and Contrast مقالې مقدمه:** د دې ډول مقالې په مقدمه کې د دوو موضوعاتو یا مفاهیمو یا لیدلوریو تر منځ مشابهتونو او توپیرونو ته اشاره کېږي. په سر کې به مسئله په لنډه توګه تشریح کېږي او بیا به یې دواړه اړخونه بیانېږي؛ لکه:

**استدلالي او ترغیبي مقالې**

استدلالي او ترغیبي مقالې ځینې شباهتونه لري. په دواړو مقالو کې لیکوال هڅه کوي چې لوستونکی د خپل نظر او لیدلوري منلو ته وهڅوي. په دواړو مقالو کې لیکوال باید منطقي دلیلونه او شواهد وړاندې کړي. خو ځینې توپیرونه هم لري. په دې مقاله کې به دغه توپیرونه او مشابهتونه وڅېړو.

**لومړی فعالیت:** په پورتنیو دریو مقدمو کې:

۱. هغه جملې په نښه کړه چې د مخاطب د پام راخپلولو لپاره لیکل شوې دي.

۲. د لیکوال تیسز یا اصلي موضوع په نښه کړه.

۳. د درې واړو پراګرافونو توپیرونه پیدا کړه.

**دوهم فعالیت:** د مقالې د هر ډول لپاره له لاندې موضوعاتو څخه یوه انتخاب کړه او مقدمه پراګراف ورته ولیکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



استدلالي مقاله

* اخلاق څه دی؟
* سوله په کومه بیه؟
* څه ډول مطالعه؟
* څومره دیني زده کړې؟

ترغیبي مقاله

- د ورزش اهمیت
- د شوق پالل
- پر ځان باور
- هڅه او هاند

د مقایسې مقاله

- لنډه کیسه او ناول
- خصوصي او دولتي مکتبونه
- ښار او کلی
- د چاپي او الکترونیکي کتابونو مطالعه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ب. ملاتړي پراګرافونه**

ملاتړي پراګرافونه لکه د پراګراف ملاتړې جملې د مقالې د ادعا د اثبات له پاره شواهد، دليلونه، قولونه، شمېرې او ثبوتونه وړاندې کوي. هر ملاتړی پراګراف بايد يو اساسي ټکی راونغاړي معنا دا چې د پراګرافونو وېش د اساسي ټکو له مخې کېږي. په دې پراګرافونو کې دليلونه بايد منطقي وي؛ شواهد واقعي او ثبوتونه معتبر وي. که د موضوع په اړه د چا خبره رانقلوو، دوه لارې په مخ کې لرو: که يې خبرې هو بهو را اخلو، د غبرګو وړو لينديو «» په منځ کې به يې ليکو او که د خبرو مفهوم يې په نويو ټکو کې بيانوو، بيا لينديو ته حاجت نشته. هر ملاتړی پراګراف موضوعي جمله لري چې ورپسې ملاتړې جملې راځي خو رانغاړونکې يا د نتيجې جمله کېدای شي ونه لري؛ په تېره بيا کله چې دغه پراګرافونه سره تړلې موضوعات بيانوي نو بيا حتمي نه وي چې رانغاړونکې جمله دې ولري.

**بېلګه**

**د تخيل اهميت**

.............................................................................................

.............................................................................................

اينشتين وايي: «تخيل تر پوهې لا زيات مهم دی.» پوهه د معلومو شيانو په باره کې معلومات دي چې انسان يې بايد زده کړي؛ مثلاً: پوهه راته وايي چې ځمکه جاذبه لري او هر شی د ځان خوا ته راکاږي. خو تخيل د هغه څه خبره کوي چې لا ممکن نه دي. انسان څو پېړۍ مخکې تر دې چې الوتکې او فضايي بېړۍ جوړې کړي، د تخيل په مرسته الوځي، د ځمکې له جاذبې څخه تښتي او د ځمکې له مداره وځي. په نکلونو او افسانو کې اتل پر جاينماز دوه رکعته نفل کوي او جاينماز الوځي. ابن سينا تقريباً زر کاله پخوا د «سلامان او ابسال» کيسه وليکله چې د کيسې اتل سپوږمۍ او ستورو ته سفر کوي او هلته له فضايي موجوداتو او پردي تمدن سره مخامخ کېږي. دغه تخيل انسان فکر کولو ته اړ باسي چې څنګه کېدای شي په واقعيت کې هم داسې وسايل جوړ کړي چې دی په هوا کړي. هره اختراع او هر کشف د تخيل له برکته کېږي. نو همدا وجه ده چې اينشتين وايي چې تخيل تر پوهې زيات اهميت لري.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعالیت:** پورتنی ملاتړی پراګراف بیا ولوله او:

۱. اساسي ټکی یې په نښه کړه.

۲. نقل قولونه په کې پیدا کړه او معلومه کړه چې کوم قول هو بهو را اخیستل شوی او کوم یې د ویناوال د خبرو مفهوم ویلی دی.

۳. لیکوال د تخیل د اهمیت له پاره کوم دلیل راوړی دی؟

اوس به د مقالې د یو څو ډولونو له پاره د ملاتړي پراګرافونو نمونې وګورو.

### ۱. د استدلالي مقالې ملاتړی پراګراف

### لیکوالي فطري ده که کسبي؟

مقدمه

د لیکوالۍ په اړه دوه نظرونه شته. ځینې وايي چې لیکوالي هنر دی او د نورو هنرونو په شان طبیعي استعداد غواړي. ځینې په دې باور دي چې لیکوالي په تمرین او ریاضت زده کېدای شي. زما په نظر د لیکوالۍ له پاره دوه شیان په کار دي: تخیل او د لیکلو مهارت. تخیل هر روغ بنيآدم لري او د لیکلو مهارت هم په تمرین سره زده کېږي. نو هر څوک لیکوالي کولی شي خو په دې شرط چې تمرین وکړي.

ملاتړی پراګراف

د لیکوالۍ له پاره یو ضروري عنصر تخیل دی. تخیل هغه ځواک دی چې یوازې انسان یې لري او د الن لیسلي په باور د انسان او حیوان توپیر په همدې کې دی چې حیوان تخیل نه لري. د تخیل په وسیله انسان د بل پر ځای فکر کولی شي؛ د بل درد درک کولی شي؛ د بل پر احساساتو او عواطفو پوهېدی شي. په لیکوالۍ کې لیکوال باید د خپل داستان د مختلفو کرکټرونو حال بیان کړي؛ د هغوی په خوله خبرې وکړي؛ او د پېښنو په مقابل کې د هغوی غبرګونونه وښيي. دا کار هله کېدی شي چې لیکوال ځان د داستان د کرکټرونو پر ځای وګڼي؛ د هغوی غوندې فکر وکړي؛ او د هغوی غوندې احساس ولري. څرنګه چې یو ممثل په تمرین سره تکړه کېږي؛ لیکوال هم د تخیل په تمرین کولو سره دا هنر زده کولی شي.

**لومړی فعالیت:** پورتنی ملاتړی پراګراف یو ځل بیا ولوله او دغو پوښتنو ته ځواب ووایه.

۱. د پراګراف اساسي ټکی څه دی؟

۲. دغه پراګراف د لیکوال د تیسز له کومې برخې سره مرسته کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳. د لیکوال استدلال منطقي برېښي؟
۴. په پراګراف کې راغلی نقل قول څه ډول دی؟

**دوهم فعالیت:** د دې مقالې لپاره یو بل ملاتړی پراګراف ولیکه چې عمده مفکوره یا اساسي ټکی یې «د لیکلو مهارت» وي.

## ۲. د ترغیبي مقالې ملاتړی پراګراف

### د مطالعې لپاره د کتابونو انتخاب

مقدمه

دا مشهوره مقوله ده چې وایي هر کتاب په یو ځل لوستلو ارزي. خو ځینې کتابونه دي چې تعصب خپروي او د خلکو په زړونه کې کرکه او بدبیني زیاتوي؛ ځینې نور یې ناسم معلومات وړاندې کوي؛ او ځینې کتابونه یوازې د یوې خاصې ایډیالوژۍ تبلیغ کوي. نو د داسې کتابونو لوستل د زهر غوندې اثر کوي؛ په تېره بیا که لوستونکی د نوې ځوانۍ په عمر کې وي چې لا یې د تعقل او تفکر ځواکونو وده نه وې کړې. نو زه وایم چې ځینې کتابونه هېڅ په لوستلو نه ارزي.

ملاتړې پراګراف

د پاکستاني لیکوال نسیم حجازي ناولونو زموږ د ډېرو ځوانانو ژوند اخیستی دی. پاکستان یو ناڅاپه ظاهراً د دین په نوم رامنځته شو او د یوه هېواد په حیث یې تاریخ او مخینه نه درلوده او له بلې خوا په پاکستان کې مختلف قومونه له مختلفو ژبو او فرهنګونو سره اوسېدل نو پاکستاني لیکوالو باید داسې څه تولید کړي وای چې دغه ټول قومونه متحد کړي. همدا و چې د اسلامي فتوحاتو تاریخي ناولونه یې ولیکل چې په پاکستانیانو کې دیني جذبه راوپاروي او په زړونو کې یې د نورو دینونو او فرهنګونو له خلکو سره دښمني او له هغوی څخه کرکه پیدا کړي؛ البته د دوی اصلي موخه هندوان او هندي کلتور و. خو د جهاد په کلونو کې دغه ناولونه پښتو ته راوژباړل شول او تر ننه پورې هم زموږ د کلیوالو سیمو ځوانان د همدې کتابونو په لوستلو سره ټوپک را اخلي او د جګړې ډګر ته وردانګي او سرونه بایلي.

**لومړی فعالیت:** د مقالې ملاتړی پراګراف بیا ولوله او:

۱. عمده ټکی په کې پیدا کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲. په پراګراف کې لیکوال د خپلې ادعا د اثبات له پاره څه راوړي دي: نقل قول، دلیل، مثال، یا احصائیه؟

۳. پراګراف د مقالې له تیسز سره څه رابطه لري؟

**دوهم فعالیت:** د همدې مقالې لپاره یو بل ملاتړی پراګراف د هغو کتابونو په اړه ولیکه چې ناسم معلومات خپروي.

### ۳. د مقایسې مقالې ملاتړی پراګراف

## استدلالي او ترغیبي مقالې

| |
|---|
| مقدمه |

استدلالي او ترغیبي مقالې ځینې شباهتونه او ځینې توپیرونه لري. په دواړو مقالو کې لیکوال هڅه کوي چې لوستونکی د خپل نظر او لیدلوري منلو ته وهڅوي. په دواړو مقالو کې لیکوال باید منطقي دلیلونه او شواهد وړاندې کړي. خو ځینې توپیرونه هم لري. په دې مقاله کې به دغه توپیرونه او مشابهتونه وڅېړو.

| |
|---|
| ملاتړی پراګراف |

استدلالي او ترغیبي مقالې د موضوع په لحاظ سره توپیر لري. په استدلالي مقاله کې معمولاً داسې موضوع را اخیستل کېږي چې په اړه یې دوه یا څو مختلف او متضاد نظرونه وي او لیکوال د یوه نظر په پلوي دلیلونه راوړي؛ مثلاً د نجونو او هلکانو د ګډ تعلیم په اړه دوه متضاد نظرونه دي. ځینې خلک وایي چې نجونې او هلکان باید په ګډو مکتبونو کې تعلیم وکړي خو ځینې وایي نه، باید د هلکانو مکتب بېل وي او د نجونو بېل. نو لیکوال که هره خوا نیسي د مخالف لوري نظرونو ته په پام سره داسې استدلال کوي چې د هغوی نظر غلط وښیي. خو په ترغیبي مقاله کې لیکوال یوه کار یا مفکورې ته د مخاطب د هڅولو هڅه کوي؛ بې له دې چې مخالف نظرونه په پام کې ونیسي؛ مثلاً د مطالعې د اهمیت په اړه دلیلونه، شواهد او مثالونه راوړي چې لوستونکي مطالعې ته وهڅوي.

**لومړی فعالیت:** د مقالې ملاتړی پراګراف بیا ولوله او دې پوښتنو ته ځواب ووایه:

۱. د پراګراف عمده ټکی څه شی دی؟

۲. په پراګراف کې د استدلالي او ترغیبي مقالو کوم توپیر بیان شوی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳. د ليکوال دليل څومره منطقي دی؟

**دوهم فعاليت:** د استدلالي او ترغيبي مقالو يو شباهت په بل ملاتړي پراګراف کې وليکه.

## ج. رانغاړونکی يا د نتيجې پراګراف

د مقالې وروستی پراګراف د نتيجې پراګراف دی. رانغاړونکی پراګراف درې کارونه کوي:

۱. د مقالې پای راښيي.

۲. لوستونکو ته د ليکوال خبرې بيا ور په زړه کوي.

۳. مخاطب ته د ليکوال وروستۍ خبره کوي.

د رانغاړونکي پراګراف په لومړۍ برخه کې ليکوال د خپل تيسز خبره په نورو ټکو کې تکراروي او/ يا د مقالې د عمده ټکو خلاصه بيانوي. په دوهمه برخه کې يې ليکوال خپله وروستۍ خبره کوي چې دا کېدای شي د هغه نظر، وړانديز، قضاوت او پرېکړه يا د موضوع په اړه وړاندوينه وي. د رانغاړونکي پراګراف وروستۍ خبره بايد له هغې موضوع سره پوره تړاو ولري چې په ټوله مقاله کې بيان شوې ده؛ نه دا چې بله نوې موضوع ياده کړي.

لاندې د اشاري – بدني ژبې د مقالې وروستی پراګراف يو ځل بيا ولوله.

«لنډه دا چې اشاري – بدني ژبه د رابطې يوه مهمه بڼه ده چې په هر ځای کې يو شان نه وي. کله چې څوک بل ځای ته سفر کوي، بايد داسې ونه ګڼي چې د دوی د خپل فرهنګ اشاري – بدني ژبه به په هر ځای کې وچلېږي. په حقيقت کې، څنګه چې خلک د يوې ژبې د ګرامر او لغاتو په زده کولو کې هڅه کوي، هماغسې بايد خپل وخت او انرژي د هماغه ژبې، هېواد او فرهنګ د اشاري – بدني ژبې په زده کولو کې هم ولګوي.»

وګوره چې دلته ليکوال د رانغاړونکي پراګراف درې موخې څنګه رانغاړلې دي.

۱. په لومړۍ جمله کې وايي «لنډه دا چې ...» دغه عبارت راته وايي چې مقاله پای ته ورسېده.

۲. بيا د تيسز موضوع په نورو ټکو بيانوي: «کله چې څوک بل ځای ته سفر کوي، بايد داسې ونه ګڼي چې د دوی د خپل فرهنګ اشاري – بدني ژبه به په هر ځای کې وچلېږي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳. لیکوال خپله وروستۍ خبره داسې کوي: «څنګه چې خلک د یوې ژبې د ګرامر او لغاتو په زده کولو کې هڅه کوي، هماغسې باید خپل وخت او انرژي د هماغه ژبې، هېواد او فرهنګ د اشاري – بدني ژبې په زده کولو کې هم ولګوي.»

**لومړی فعالیت:** دلته د یوې مقالې مقدمه لولې. وروسته د مقالې د ملاتړي پراګراف له پاره څلور جملې درکړل شوې دي. وګوره چې د موضوعي جملې لپاره کومه جمله تر ټولو زیاته مناسبه ده او کړۍ ترې تاوه کړه. بیا دوه رانغاړونکي پراګرافونه درکړل شوي دي. مناسب هغه یې په نښه کړه.

**تجارتي اعلانونه**

د ځمکې پر مخ له لرې پراته ټاپو نه به غیر چې په هر ځای کې واوسې، له تجارتي اعلانونو نه دې خلاصی نشته. په اوسنۍ موډرنه نړۍ کې هر انسان مدام له تجارتي اعلانونو سره مخ کېږي. راډیو، ټلویزیون، بل بورډونه، انټرنټ او ټولنیزې شبکې له اعلانونو ډک دي. خو تجارتي اعلانونه نوې پدیده نه ده. د اعلانونو تاریخ یې راښیي چې له ډېر پخوا وخت راهیسې دا شی و.

**د ملاتړي پراګراف لپاره جملې**

**الف.** له میلاد څخه ۳۰۰۰ کاله مخکې به سوداګرو پر خپلو دوکانونو له لرګیو، خټې او ډبرې څخه جوړې شوې لوحې لګولې.

**ب.** په لرغوني مصر کې به سوداګرو جارچیان ګومارل چې په واټونو کې وګرځي او د دوی د مالونو او بېړیو د رارسېدو خبر خپور کړي.

**ج.** د منځنیو پېړیو په اروپا کې به دوکاندارانو جارچیان ګومارل چې مشتریان د دوی د دوکانونو خوا ته وروبولي.

**د.** په پنځلسمه پېړۍ کې د مطبعې اختراع د هغو تجارتي اعلانونو پیل ګڼل کېږي چې نن ورسره آشنا یو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رانغاړونکي پراګرافونه**

۱. نتیجه دا چې اعلانونه لږ تر لږه د ۵۰۰۰ کلونو له پاره د کاروبار او تجارت یوه برخه پاتې شوې ده. اعلانونه د لرغوني بابل د دوکانونو له لوحو رانیولې تر هغو پیغامونو پورې چې نن سبا زموږ د کمپیوټر پر ښیښې راڅرګندېږي، د ورځنۍ ژوند یوه برخه وه او ده. کېدای شي د تجارتي اعلانونو بڼه بدله شي خو بې له شکه چې په ډېرو نورو راتلونکو وختونو کې به هم پاتې وي.

۲. نتیجه دا چې تجارتي اعلانونه هم د پلورنکي او هم د پېرېدونکي له پاره ګټور دي. پلورونکو ته یې ګټه دا ده چې خلک د دوی له مالونو او خدمتونو خبروي. پېرېدونکو ته دا ګټه کوي چې کولی شي د اخیستلو له پاره مناسب دوکان انتخاب کړي. کېدای شي د تجارتي اعلانونو بڼه بدله شي خو بې له شکه چې په ډېرو نورو راتلونکو وختونو کې به هم پاتې وي.

[Longman Academic Writing Series, fourth edition, Alice Oshima, Ann Hogue and Jane Curtis, Pearson Education, 2014]

**دوهم فعالیت:** پورته دې د استدلالي، ترغیبي، او پرتلنې د مقالو مقدمې او ملاتړي پراګرافونه ولوستل. اوس یې بیا ولوله او د هرې مقالې له پاره د لاندې رانغاړونکو پراګرافونو له منځه، مناسب هغه یې په نښه کړه.

**لیکوالي فطري ده که کسبي؟**

۱. لنډه دا چې لیکوالي کسبي هنر دی. د لیکوالۍ دواړه ضروري عنصرونه یعنې تخیل او تفکر او د لیکلو مهارت زده کېدای شي. څوک چې غواړي ښه لیکوالي وکړي؛ باید مطالعه، تمرین او ریاضت وکړي چې فکر یې پوخ، تخیل یې پیاوړی او د لیکوالۍ مهارت یې زیات شي.

۲. وروستۍ خبره دا چې ښه لیکوال باید د ټولنې خیر او نېکمرغي په پام کې ونیسي. ښه لیکوال باید داسې څه ونه لیکي چې د لوستونکي په زړه کې د کرکې او دښمنۍ زړي وکري. لیکوالي سپېڅلی هنر دی او باید سپېڅلی پاتې شي.

**د مطالعې لپاره د کتابونو انتخاب**

۱. نتیجه دا چې د کتابونو مطالعه ډېرې ګټې لري. څوک چې ډېره مطالعه کوي، معلومات یې ډېرېږي او ذهن یې پراخېږي. مطالعه که د چاپي کتابونو وي که د الکترونیکي؛ ضروري ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که غواړئ چې په ټولنه کې مو قدر زیات وي او د ژوند لارې چارې زده کړئ نو هره ورځ مطالعه وکړئ.

۲. نو د هر کتاب مطالعه ګټوره نه ده. د کتابونو په انتخاب کې باید دقت وکړو. مخکې له دې چې د مطالعې له پاره یو کتاب غوره کوو، باید د لیکوال په اړه یې تحقیق وکړو چې هغه څه رنګه انسان دی؛ په کومې ایډیالوژۍ باورمن دی؛ خیرمن دی که شرپسنده. په تېره بیا خپلو ماشومانو او ځوانانو ته باید داسې کتابونه واخلو چې ګټور معلومات، سوله‌ییز ژوند، او له خلکو سره مینه او خواخوږي وروښیي.

## استدلالي او ترغیبي مقالې

۱. د پای خبره دا چې استدلالي او ترغیبي مقالې د دې له پاره لیکل کېږي چې د مخاطب فکر بدل کړي. د مخاطب د فکر د بدلولو لپاره باید کافي شواهد او دلیلونه وړاندې شي. که داسې ونه شي، د لیکوال خبرې به پر لوستونکو اغېز ونه کړي.

۲. لنډه دا چې استدلالي او ترغیبي مقالې سره له دې چې د موضوع او د لیدلوریو په لحاظ سره توپیر لري خو د لیکلو تخنیکونه یې سره ورته دي. د مقالې په دې دواړو ډولونو کې لیکوال باید قوي منطق او فصیحه ژبه وکاروي چې پر مخاطب خپل نظر په آسانۍ سره ومنلی شي. په استدلالي او ترغیبي مقالو کې تر احساساتي خبرو، علمي او منطقي خبرې اغېزناکې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲. ۲. ۳. د مقاله ليکنې پړاوونه

د پراګراف ليکلو پړاوونه مو مخکې تشريح کړل. د مقالې د ليکلو لپاره هم هماغه پړاوونه په مخ کې لرو. لومړی معلومات راټولوو، بيا راټول شوي معلومات ترتيبوو، وروسته د مقالې خاکه ليکو، بيا د مقالې خاکه ايډيټ کوو، په پای کې مقاله له سره ليکو.

### ۱. تر ليکلو مخکې پړاو

په دې پړاو کې د مقالې لپاره موضوع انتخابېږي او بيا د موضوع په اړه معلومات راټولېږي. د معلوماتو او مفکورو د راټولولو له پاره مختلفې لارې شته. ځينې تکړه ليکوال چې د موضوع په اړه کافي معلومات او خبرې لري، بې له دې چې معلومات راټول، ترتيب او په پراګرافونو ووېشي-؛ نېغ په نېغه د مقالې په ليکلو شروع کوي او ذهني بهير يې دومره منظم او چټک وي چې مقاله په اسانۍ سره ليکلی شي. خو مبتدي او تازه کاره ليکوال کولی شي چې د موضوع په اړه څه چې په ذهن کې يې ګرځي، نوټ کړي؛ موضوع په نورو وړو موضوعاتو ووېشي- او د هرې فرعي موضوع لپاره يې مفکورې يا معلومات وليکي؛ د ملګرو او دوستانو نظرونه او مفکورې وپوښتي؛ يا د موضوع په اړه تحقيق او مطالعه وکړي.

په دې لاندې بېلګه کې ليکوال غواړي د دروغو د ډولونو په باره کې مقاله وليکي نو په لومړي پړاو کې هر هغه څه چې د دروغ ويلو په اړه يې په ذهن کې تېرېږي؛ په يوه لست کې داسې ليکي.

**د دروغو ډولونه**

- د يو چا تحفه دې خوښه نه ده خو وايې چې خوښه مې شوه.
- صنف ته ناوخته راغلی يې خو معلم ته دروغ وايې.
- ټرافيک دې موټر د زيات سرعت په وجه دروي او ته دروغ وايې چې عاجل مريض لرم.
- نقل کوې.
- ملګري دې خپل ويښتان خراب جوړ کړي دي خو ته وايې چې ښه ښکارېږي.
- داسې ژمنه کوې چې پوره کولی يې نه شې.
- يو کار کولی شې خو وايې چې نه يې شم کولی.
- د کار په غوښتنليک کې دې د ځان په اړه داسې څه وليکې چې هغسې نه يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- معلم ته وايې چې کورنۍ دنده مې په کور کې هېره ده؛ حال دا چې ترسره کړې دې نه ده.
- یوه محفل ته د ورتلو ژمنه کوې؛ په داسې حال کې چې ډېر بوخت یې او ورتلی نه شې.

**۲. د معلوماتو ترتیبول**

- په دې پړاو کې راټول کړي معلومات او مفکورې په منطقـي لحـاظ ترتیبـوې او پـه ډلو کې یې وېشې. په هره ډله کې به یوه اسـاسي مفکـوره یـا عمـده ټکـی تعیینېـږي. پـه دې وخت کې کولی شي چې ځینې معلومات کم یا زیات کړې.
- بیا د مقالې طرحه جوړوې چې کومه مفکوره په کوم پراگراف کې باید راشي.
- د خپلې طرحې له مخې د مقالې لیکل پیلوې.

د دروغ ویلو د ډولونو په اړه دې لومړی پړاو وکوت. په دوهم پړاو کـې لیکـوال هغـه څـه چـې لست کړي یې وو، په کټگوریو وېشي. دې ته ځیر شه چې په دوهم پړاو کـې لیکـوال پـه دې لسـت کې څه زیات کړي دي او څه یې ورنه کم کړي دي.

| • د نورو د نه خپه کولو په خاطر دروغ ویل | • له مجازاتو څخه د ځان د خلاصولو لپاره دروغونه | • هغه دروغونه چې نورو ته زیان اړوي |
|---|---|---|
| د چا تحفه دې خوښه نه ده خو وايې چې خوښه مې ده. | صنف ته د ناوخته ورتلو په خاطر د دروغو پلمه جوړوې. | نقل کول. |
| ملگرې دې خپل ویښتان خراب جوړ کړي دي خو ته وايې چې ښه ښکارېږي. | معلم ته وايې چې کورنۍ دنده دې په کور کې پاتې ده؛ حال دا چې ترسره کړې دې نه ده. | داسې دروغ چې د بل شهرت او اعتبار خرابوي. |
| داسې ژمنه کوې چې پوره کولی یې نه شې. | د ډېر سرعت په خاطر ټرافیک ته د دروغو پلمه کوې. | ادبي غلا (د چا د لیکنې، هنر یا مفکورې غلا کول) |

وینې چې لیکوال د دروغو ډولونـه پـه دریـو کټگـورې ووېشـل. اوس هـره کټگـوري پـه یـوه ملاتـړي پراگراف کې بیانوي نو درې ملاتړي پراگرافونه به ولیکي. دی د پراگرافونو ترتیب داسې جوړوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د دروغو ډولونه**

۱. مقدمه: خلک د ډېرو عمده دلیلونو په خاطر دورغ وايي. کېدای شي د دې لپاره چې څوک خپه نه شي، د زړه خبره پټه کړي؛ یا له مجازاتو څخه د ځان د خلاصولو لپاره رښتیا ونه وايي او یا قصداً دروغ ووايي چې چا ته زیان واړوي.

۲. ملاتړي پراګرافونه

الف. لومړی دا چې خلک د دې لپاره چې د چا احساس زخمي نه کړي، دروغ وايي.

۱. د چا د تحفې په اخیستلو سره

- وايي تحفه مې خوښه شوه خو خوښه يې نه وي.
- تحفه یوازې هغه مهال کاروي چې د تحفې ورکوونکی ورسره وي.

۲. د یوه ملګري د څېرې او ظاهر په اړه

- ویښتان يې خراب جوړ کړي دي خو ورته وايې چې ښه درسره ښکاري.
- په نویو جامو کې ښه نه ښکاري خو ته يې ستايې چې زړه يې خپه نه شي.

۳. داسې ژمنه کوې چې پوره کولی يې نه شې

- زه به درته ټیلفون وکړم.
- محفل ته به مو درشم.

ب. د دروغ ویلو دوهم ډول لا جدي وي ځکه چې د خپل مسوولیت له منلو د ډډه کولو لپاره ویل کېږي.

۱. په مکتب کې پلمې

- وايې چې کورنۍ دنده دې په کور کې پاتې ده؛ حال دا چې ترسره کړې دې نه ده.
- وايې کورنۍ دنده مې ځکه پاتې شوه چې انټرنټ مو کار نه کاوه؛ حال دا چې خبره داسې نه ده.

۲. ټرافیک ته پلمې کول

- وايې چې پام مې نه و چې سرعت مې زیات دی.
- وايې خبر نه وم چې د برېک اشاره مې کار نه کوي؛ حال دا چې خبر وې.

ج. د دروغ ویلو درېیم ډول ډېر بد دی ځکه چې خورا بدې نتیجې به ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. داسې دروغ چې نورو ته زیان اړوي.

- د یو چا د اعتبار او شهرت د خرابولو لپاره له ځانه کیسې او خبرې جوړول.
- په یو چا پسې دروغ وایې چې لانجه ورته جوړه شي.

۲. نقل او ادبي غلا

- په امتحان کې د اصولو او قواعدو نه مراعاتول.
- د بل چا لیکنه په خپل نوم تېرول؛ ادبي غلا

۳. نتیجه

ښکاره ده چې خلک په مختلفو دلیلونو دروغ وایي. خو څه چې څرګنده نه ده، دا ده چې کوم ډول دروغ د منلو دی او کوم ډول یې نه دی. د چا د نه خپه کولو په خاطر دروغ په ښه نیت ویل کېږي او د دروغو د نورو ډولونو په پرتله یې منفي نتیجې کمې دي خو بیا هم دروغ دی. ښه به دا وي چې موږ ټول له ځان سره فکر وکړو چې څنګه له دروغ ویلو ډډه وکړو.

**نوټ:** پورتنۍ بېلګه له دې کتاب څخه راخیستل شوې ده: {Longman Academic Writing Series, fourth edition, Alice Oshima, Ann Hogue and Jane Curtis, Pearson Education, 2014}

**لومړی فعالیت:** لاندې د بې‌ادبیو د ډولونو لست درکړل شوی دی. لست په ځیر ولوله او د بې‌ادبیو ډولونه په کټګوریو ووېشه.

پر چا ملنډې وهل

سپکې خبرې کول

په بنده فضا کې سګرټ څکول

د خبرو په وخت مخاطب ته خوله ورنژدې کول

د وره له ټکولو پرته، د چا دفتر ته ننوتل

د ملګري په رسمي دفتر کې بنډار کول

په صنف کې مزاحمت کول

نوبت نه مراعاتول

په رسمي ځایونو کې په لوړ غږ خبرې کول

د چا په خبرو کې ورلوېدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټوخېدو په وخت کې مخ نه اړول
داسې پرنجېدل چې د پوزې اوبه مو پر چا ولوېږي
په عامه ځایونو کې سپکې ټوکې کول
مېرمنو ته بیا بیا کتل
په لارو کوڅو کې د نجونو څورول
په رسمي غونډو کې خپل منځي خبرې
په رسمي غونډو کې د ټیلفون نه غلی کول
په مجلس کې په خپل موبایل کې بوخت کېدل
د غم په مراسمو کې خندل
بې له اجازې د چا شخصي وسایل اخیستل
بې له اجازې د چا له موبایل نه زنګ وهل
د بل چا د ټیلفون ځوابول
د بل چا فیسبوک یا اي مېل ته ورننوتل
د چا د شخصي لیکونو او یادښتونو لوستل
بې له اجازې چا ته ویډیوکال کول
بې له اجازې د چا د ټیلفون نمبر یا نور شخصي معلومات نورو ته ورکول

**دوهم فعالیت:** د بې‌ادبیو د ډولونو هره کټګوري د یوه پراګراف په قالب کې ترتیب کړه. بیا لکه پورتنۍ بېلګې ورته مقدمه او نتیجه هم ولیکه.

**درېیم فعالیت:** په لاندې موضوعاتو کې یوه خوښه کړه. د موضوع په اړه هر څه چې ذهن ته درځي، ویې لیکه. بیا یې په کټګوریو ووېشه، د هرې کټګورۍ لپاره یو پراګراف ولیکه او مقاله ترې جوړه کړه.

⇐ د افغانستان د جګړې عاملونه
⇐ بد اخلاقي څه ده؟
⇐ د افغان مېرمنو ستونزې
⇐ د مکتب په کتابونو کې تېروتنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



⇐ د لوبو ګټې

**۳. د مقالې د لومړۍ خاکې ليکل**

په دې پړاو کې وروسته له هغې چې د موضوع په اړه معلومات دې راټول، لست، ډلبنـدي او پر پراګرافونو ووېشل، د مقالې لومړۍ خاکه ليکې.

**۴. د لومړۍ خاکې اېډېټ او بياکتنه**

کله چې د مقالې لومړۍ خاکه بشپړه شوه، يوه ملګري يا ټولګيـوال تـه يـې ورکـړه چـې ويـې لولي او خپل نظر درسره شريک کړي. د هغه نظر وګوره چې د مقالې په ښـه کولـو کـې څـه مرسـته درسره کوي او منطقي وړانديزونه يې پـه مقالـه کـې عمـلي کـړه. وروسـته سـمه شـوې مقالـه دې د ګرامر، ليکنښو او د جملو د جوړښت په لحاظ اېډېټ کړه.

**۵. د مقالې وروستۍ بڼه**

تر اېډېټ او بيا کتنې وروسته، مقالـه دې لـه سره وليکـه. بيـا مقالـه پـه لـوړ غـږ ولولـه. کـه د مقالې په کوم ځای کې دې ژبه ونښته، يا کومه جمله روانه او آهنګينه نه وه، اصلاح يې کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲. ۲. ۴. د مقالې ډولونه

مقالې هم د پراګراف غوندې درې عمده کټګورۍ لري: معلوماتي، روايتي او اقناعي. معلوماتي مقاله د یوه شي په اړه واقعيتونه او فکټونه بیانوي او هدف يې د معلوماتو وړاندې کول وي. دا معلومات کېدای شي د دوو شيانو یا پدیدو مقایسه وي (د مقایسې مقاله)؛ یا د یوې پروسې پړاوونه راته تشریح کړي (د بهیر/ لړۍ مقاله)؛ یا یوه موضوع شرح او توضیح کړي (توضیحي/ تشریحي مقاله)؛ یا هم د یوه مهارت د کسبولو پړاوونه یا د یوې وسیلې د کارولو طریقه راوښيي (لارښودیزه مقاله). روايتي مقالې تېرې پېښې راته بیانوي لکه خاطره، ګزارش، د تاریخي پېښې بیان او داسې نور. اقناعي مقالې چې ترغیبي، د نظريې مقاله او استدلالي مقاله يې ډولونه دي، خپلې مفکورې ته د لوستونکو د راماتولو لپاره لیکل کېږي او لیکوال داسې دلیلونه او شواهد وړاندې کوي چې مخاطب قانع کړي. د پراګراف لیکنې په برخه کې مو د پراګراف د ځینو ډولونو لیکل تمرین کړل، دلته به د مقالې لاندې ډولونه وګورو:

۱. اقناعي مقالې

*د نظريې مقاله

*ترغیبي مقاله

*استدلالي مقاله

۲. روايتي مقالې

*روايتي مقاله (خاطره)

۳. معلوماتي مقالې

*د مقایسې مقاله

*توضیحي/ تشریحي مقاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱. د نظريې مقاله**

په دې مقاله کې ليکوال د يوې موضوع په اړه خپله نظريه بيانوي. ليکوال غواړي مخاطب د ځان هم نظره کړي نو د خپلې نظريې د سموالي په اړه دليلونه او شواهد وړاندې کوي. په لاندې مقاله کې وګوره چې ډاکټر احسان الله درمل د خپلې نظريې له پاره څه ډول استدلال کوي.

**ليکوالي او مسووليت**

د ليکوالۍ ذاتي تخنيکونه کسبي دي او که يو کس ځيرک وي، د لويو ليکوالو له ليکنو يې هم زده کولای شي. املأ، ليکنښې، د جملو اوډون او سمه ژبه ليکل به زده شي خو تر ټولو لوی مسووليت تر دې وروسته پيلېږي. اوس به وايې څه؟

له ليکواله د خلکو تمه دا وي چې نوې خبره ورته وکړي. هغه خبره چې د جومات په پيتاوي، د زړو ښځمنو په بنډار او د ښاري ټيکسيو له مسافرو يې نشو اورېدلای. دقيق ليکوال هغه دی چې د ليکلو تر موضوعاتو د نه ليکلو موضوعات ښه وپېژني. دا خبره کوم انګرېز ليکوال کړې چې: "د ليکلو تر هنر د نه ليکلو هغه ډېر مهم دی."

د ليکوال فکر و منطق د ټولنې تر عادي وګړو لوړ او ظريف وي. دی په بدرنګيو کې حسن پيدا کولای شي او د حسن له بدرنګيو نقابونه ښويوي. لوی ليکوال عموماً معتدل فکر لري او لکه خامه ميوه په خپل ښاخ پورې کلک نه نښلي. ليکوال د ساينسي- لابراتوار غوندې د پديدو له حقيقت سره کار لري او د خپل عقدو، عقايدو او افکارو پر بنسټ د پديدو هويتونه په لوی لاس نه مسخه کوي. دی له ليکوالۍ د لوښي استفاده کوي او په دې ښايسته لوښي کې خلکو ته زهر نه، بلکې د ژوند اوبه ورکوي.

ليکوال په بيه او معاش د قلم عفت نه پلوري. دی په يو څو پيسو خپلو روغو سترګو ته د بل چا رنګينې عينکې نه اچوي او حقايق يوازې هغسې تعبيروي چې دي.

ليکوال د څلورلاري کاريګر نه دی چې کولنګ او بېلچه پر مټ له هر چا سره روان شي. کاريګر خپل ګولنګ او بېلچه د ټاکلي مزد په بدل کې پلوري. که بادار وويل چې بام وران کړه؛ دی يې اخېړولای نشي او که يې وويل چې دېوال جوړ کړه؛ دی يې ورانولای نشي. د کاريګر د کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوښي کرايه کېدای شي خو قلم د کرايې ګولنګ نـه دی چـې کـه چا درتـه وويـل چـې د پـلاني د شخصيت مانۍ په ونړوه، ته سمدستي لاس ورته په ناړو کړې.

لیکوالي د ارزښتونو د ساتلو کلا ده؛ د وطن او خلکو د علیا ګټو د ځلولو او ساتلو هـنر دی او بالاخره خپلو نسلونو ته د سمې او منځنۍ لارې په ګوته کول دي.

ښايي د لیکوال يوه نیمه خبره د ټولنې د مزاج مخالفه وي؛ ښايي ليکـوال پـه ځينـو خـبرو د ستايلو پر ځای ورټل شي خو دی بيا هم هغه خبره کوي چې سمه وي او د خلکو پکې خير وي.

ليکوال دوکاندار نه دی چې بايد پر دوکان يې ګڼه ګوڼه وي. دوکانداران د ګټـې لپـاره هغـه شيان هم پلوري چې ممکن د روغتيا لپاره مضر وي؛ خو ليکوال يوازې هغـه اجنـاس وړانـدې کـوي چې د لوستونکيو ذوقي او فکري وده ورسره تړلې وي.

ليکوالي صرف سترګې پټول او خوله خلاصول نه دي؛ بلکې د خپلې هرې کليمې مسووليت اخيستل دي. هغه ليکوال چې د ليکلو او د کليماتو د دقيق استعمال له مسووليته خـبر وي؛ د زړه وينې يې خوراک وي. داسې ليکوال د يوې مهمې موضوع او حتی يـوې دقيقـې کليمـې د مونـدلو لپاره شپه ورځ پر ځان يوه کوي خو په عادي موضوع او نامناسبه کليمه قناعت نه کوي.

د ښې ليکوالۍ لپاره ليکوال ښې ذهني تغذيې ته اړتيـا لـري. ذهنـي تغذيـه د لويـو ليکوالـو شهکارونه او د لويو مفکرينو اثار دي چې اول ډول اثار ليکوال ته د څنګه ويلـو او دوهـم ډول يـې د څه ويلو تخنيکونه ور زده کوي.

افغانستان ته چې سوشيل ميډيا راغله، ګڼو لوسـتو او نالوسـتو د ليکـوالۍ عـادي تخنيکونـه زده کړل خو د ليکوالۍ ډېره مهمه برخه چې فلسفي تفکر او تعمق دي، هېر شول. زلمکيو ليکوالـو د يو څو عقده‌يي او تش مغزو ښـکنځلمارو لاره ونيـوه او پـه دې توګـه ليکـل زيـات شـول خـو د کـار خبرې بيخي د مرغۍ پۍ شوې. بله لويه غميزه دا چـې ليکـوالي د نـوي فکـر او خـبرې پـر ځـای د خپلو سياسي او ټولنيزو ګروپونو او عقدو د ازادېدو وسېله شوه. فلهذا، د دليل او منطق ځای پوچـو ښکنځلو او چټياتو ونيو. اوس چې څوک نوی کس زموږ سوشيل ميډيا ته راشي نو د سـپکو سـپورو، بې منطقيو، خرافاتو، تورونو، پيغورونو او ښکنځلو شور دومـره لـوړ وي چـې د کـار خـبره دې کـه تـر

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوړه شوه، بختور به يې. لوستونکی نه پوهېږي چې دی د لیکوالو نظریات لولي که د جومات په پیتاوي، د ښځمنو په جنګ او یا د ټیکسي په منځ کې ناست دی.

لوی لیکوال د لوستونکیو له سترګو د جهل، عقدو او خرافاتو پردې لرې کوي خو زموږ لیکوال روغو سترګو ته خاورې شېندي. د لیکوال کار د خلکو سترګور کول دي خو موږ خلک ړندوو. هره پدیده چې د خپل فطرت مخالف کار وکړي، پاراډوکس رامنځته کېږي. زموږ لیکوالي د پاراډوکس تر ټولو جالبه بېلګه ده. د غالب خبره ده چې:

غلطیهای مضامین مت پوچھ !

لوگ نالے کو رسا باندھتے ہیں

**لومړی فعالیت:** قلم او کاغذ راواخله. لاندې چوکاټ کاپي کړه او بیا د دې پوښتنو ځوابونه ولیکه:

| د لیکوال نظر/ ادعا | د لیکوال دلیلونه | زما نظر |
|---|---|---|
| ۱. لیکوال دوکاندار نه دی | دوکاندار مضر شیان هم خرڅوي خو لیکوال یوازې د لوستونکو فکري او ذوقي ودې لپاره لیکل کوي. | دا دلیل منطقي دی. لیکوال باید د ټولنې خیر وغواړي. موږ وینو چې ځینې لیکوال داسې کتابونه خپروي چې لوستونکو ته غلطه لاره ښیي. |
| ۲. | | |
| ۳. | | |

پوښتنې:

۱. په دې مقاله کې لیکوال د لیکوالۍ په باب کوم نظر وړاندې کوي؟

۲. د خپل نظر د توجیه لپاره کوم دلیلونه وایي؟

۳. د لیکوال دلیلونه منطقي او ربښتیاني دي؟

۴. لیکوال په دې بریالی شو چې تا له ځان سره همفکره کړي؟

**دوهم فعالیت:** پورته مقاله له سره ولوله او عمده ټکي يې نوټ کړه.

**دریم فعالیت:** د مقالې خلاصه داسې ولیکه چې یوازې عمده ټکي یې په کې راشي، نه تفصیل او جزیات یې؛ د لیکوال جملې به نه کاپي کوې؛ بلکې د هغه د خبرو مفهوم په خپلو کلمو بیانوې؛ او خپل نظر به په کې نه لیکې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲. ترغیبي مقاله

د ترغیبي مقالې لیکوال غواړي چې مخاطب یوه کار یا د یوې نظریې منلو ته وهڅوي. د دې کار له پاره باید د خپل تیسز لپاره کافي دلیلونه، شواهد او مثالونه راوړي. لکه څنګه چې د ښاغلي ډاکټر احسان الله درمل په مقاله کې مو ولوستل؛ ښه لیکوال خپلو لوستونکو ته د خیر ښېګڼې خبرې کوي او هغوی داسې کارونو او فکرونو ته هڅوي چې د انسان او ټولنې په ګټه وي خو ځینې شر پسنده لیکوال هم شته چې د لیکوالۍ له مهارتونو په استفادې سره د مخاطبانو، په تېره بیا د ځوانانو، له احساساتو ناوړه ګټه اخلي او هغوی ورانکاریو ته هڅوي. نو ترغیبي مقالې کېدای شي لوستونکو ته مثبت پیغام ورکړي او کېدای شي منفي فکر ورته ورکړي. لاندې د ترغیبي مقالې بېلګه لوستلی شې.

### هغه څه چې په وېشلو نه کمېږي

علم، فن او هنر په وېشلو او له نورو سره په شریکولو نه کمېږي. دا لکه د کوهي اوبه دي چې که ویې نه باسې، خوسا به شي خو که یې وباسې تازه او رڼې به پاتې شي. پخوا خلک په دې باور نه وو. پخوا به عالمان او هنرمندان غوښتل چې پر خپل علم او هنر انحصار ولري او ډېر کم کسان د دوی غوندې تکړه وي؛ ګنې د دوی قدر به کم شي.

د لرغوني یونان مشهور طبیب هایپوکرات یوه لوړه جوړه کړې وه چې تر ننه پورې هم د طب محصلان د همدې لوړې نوې ښه د فراغت په ورځ په لوړ آواز لولي او قسم کوي. د دې لوړې په اصلي نسخه کې راغلي دي: «زه به د خپل استاد کورنۍ خپل وروڼه وګڼم او که وغواړي چې دا هنر زده کړي، زه به یې بې له فیس یا قرارداده ورزده کړم. زه به د طب ټول درسونه یوازې خپلو زامنو او د خپل استاد زامنو او یوازې هغو متعهدو شاګردانو ته ورزده کړم چې د طبیبانو لوړه ادا کوي خو بل چا ته به یې نه ورزده کوم.»

زموږ په هېواد کې به پخوا اکثرو جراحانو خپله پوهه او هنر په آسانۍ سره چا ته نه ورزده کول. که به چا غوښتل چې جراحي زده کړي؛ نو مجبور به و چې د استاد راز راز نخرې او نازونه پر ځان ومني، منونکی پاتې شي او ان استاد ته چاپلوسي وکړي.

د پهلوانانو په اړه ویل کېږي چې پهلوان هر څه خپل شاګرد ته ښیي خو وروستی چل ځان ته ساتي. هر پهلوان داسې یو چل لري چې هېچا ته یې نه ورزده کوي. دا د دې لپاره چې که

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاګرد يې د دوی په وينا نا اهله وخېژي او د خپل استاد مخې ته ودرېږي نو استاد به يې په هماغه چل مات کړي.

پخوا به که چا د خياط، نجار يا د کوم بل کسبګر شاګردي کوله؛ نو کلونه به يې په وړو او بې ارزښته کارونو تېرول. استاد نه غوښتل چې خپل کمال په آسانۍ سره چا ته ورزده کړي. دليل به يې دا و چې که کسبګر زيات شي، د دوی پيدا به کمه شي. دغه کار د ټولنې د وروسته پاتې کېدو سبب ګرځېده. له بلې خوا به کسبګرو خپل شاګردان د بګۍ د آس په شان رزول چې يوازې خپله مخه ليدای شي او اړخونو ته نه شي کتلی.دوی به يوازې هغه څه کول چې له استاده به يې زده کړي وو. په همدې وجه به پخوا په ټولو کسبونو کې نوښت خورا لږ و. تر هغې پورې چې زموږ خلك پاکستان ته نه وو مهاجر شوي، نژدې دوه لسيزې د خت پرتوګ هماغه يو ډول ګنډل دود وو؛ خو مهاجرت خياطانو ته نوي موډونه او نوي ډولونه ورزده کړل. زموږ نجاري، معماري او نور کسبونه هم همداسې وو.

وايي چې د يوه سپين ږيري متقاعد ډاکټر زوی موټر وواهه. کله چې دی روغتون ته ورسېد، خبر شو چې دوه شاګردان يې د ده د زوی عمليات کوي. ده اجازه واخيسته او پخپله هم عملياتخانې ته ورغی. عمليات ډېر وخت ونيو. ده وليدل چې ډاکټران هڅه کوي د ده د زوی يو عصبي رګ وګنډي خو دا کار يې نه شو کولی. بوډا ډاکټر ته ورپه زړه شو چې ده دغه چل له خپلو شاګردانو پټ ساتلی و. ده بل چا ته دا کار نه و ورزده کړی او اوس يې پخپله هم نه شو کولی.

خو ټول داسې نه دي. په طب کې زموږ د دورې اول نمره همايون سعيدي و. همايون ته خدای له زيات استعداد سره خورا ښه اخلاق هم ورکړي دي. لا د طب په درېيم صنف کې وو چې ده د طبي انګليسي کورس راته شروع کړ. موږ شل پينځه ويشت ټولګيوال به هر سهار وختې دغه کورس ته ورتلو. همايون په شپږو مياشتو کې داسې مطلوبه انګليسي- رازده کړه چې موږ له هر ډول انګليسي طبي کتابه استفاده کولی شوه. په ستاژ دوره کې يې د زړه د ګراف کورس راته جوړ کړ. په تېرو لسو کلونو کې يې هر کال د ګراف د کورسونو دوه درې دورې فارغې کړي، چې په هره دوره کې يې شل دېرش تنه محصلان او ډاکتران ګډون کړی دی. البته ډاکترانو ته ضروري ده چې د زړه په ګراف وپوهېږي خصوصاً هغو ته چې په داخله څانګه کې کار کوي. د ده به چې هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه زده وو، نورو ته به يې هم ورزده کول. ده په دې کار باندې هېڅ شی له لاسه نه دی ورکړی، بلکې د نورو احترام او مينه يې هم خپله کړې ده.

د نيکولي په نامه يوه ښځه يو انټرنټي سايټ لري چې بې بي سليپ سايټ ( Baby sleep site) يا د ماشوم د خوب سايټ نومېږي. دا نه ډاکتره ده، نه نرسه، نه د ماشوم متخصصه؛ دا يوازې د يوې مور په توګه خپلې تجربې له نورو سره شريکوي. د دې اولادونه به په سختۍ سره ويده کېدل. نو د ماشوم د ويدولو په اړه يې پوښتنې ګروپېرنې او پلټنې وکړې؛ کتابونه يې ولوستل او تجربې يې وکړې؛ بالاخره يې داسې لارې چارې وموندلې چې ماشوم په آسانۍ سره ويده کړي. اوس د دې لپاره چې نورې ميندې هم د دې په شان دومره ډېرې ستونزې ونه ګالي، خپله تياره تجربه يې د نورو مخې ته ايښې ده. ممکن د غربي ملکونو د پرمختګ يو اساسي او مهم راز همدا وي چې دوی خپل معلومات او خپلې تجربې له نورو نه پټوي.

هغه کسان چې نورو ته خپل کمال له دې وېرې نه ښيي چې کسبګر به زيات شي او د دوی کمال به کم ارزښته شي، تېروتنه کوي. که سړی واقعاً هنرمن او باکماله وي، هغه به ورځ تر بلې مخ ته ځي او نوي شيان به خلقوي. هر انسان د تخليق استعداد لري. که شاګرد تر استاد مخته هم شي او نوي شيان خلق کړي؛ نو ګټه به يې استاد ته هم ورسېږي ځکه چې د دوی په کسب او هنر کې به رنګارنګي او تنوع پيدا شي او استادان به هم نوي شيان زده کړي. په نتيجه کې به يې په ټولنه کې معلومات، پوهه، هنر او کمال زيات شي.

نو د پوهې او هنر په وېشلو او خپرولو کې بخيلي نه ده په کار. څوک چې خپله پوهه، تجربه او هنر له نورو سره شريکوي، تاوان نه کوي بلکې ګټه کوي. پوهه او هنر لکه مينه ده؛ څومره چې نورو ته مينه ورکوې، بېرته هماغومره مينه ترلاسه کوې.

**لومړی فعاليت:** مقاله يو ځل بيا ولوله او دغه پوښتنې ځواب کړه.

۱. په دې مقاله کې لوستونکي څه شي ته هڅول کېږي؟

۲. د ليکوال نيت د خير دی که د شر؟

۳. راغلي دليلونه د مخاطب د قانع کولو له پاره کافي دي؟

۴. د مقالې د لا اغېزناکه کېدو لپاره نور کوم ټکي بايد په کې راشي؟

**دوهم فعاليت:** که د مقالې له تيسز سره موافق يې، نو د تأييد لپاره يې درې نور ملاتړي پراګرافونه وليکه. په هر پراګراف کې به جلا دليل، شواهد، يا احصائيوي معلومات ليکې. که

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر کوې چې د مقالې خبره سمه نه ده او ته یې مخالف یې نو په مخالفت کې یې یوه بله مقاله ولیکه او خپل دلیلونه، شواهد او معلومات په جلا جلا پراګرافونو کې ترتیب کړه.

**دریم فعالیت:** په لاندې ادعاګانو کې یوه خوښه کړه او د اثبات لپاره یې دلیلونه، شواهد، او نقل قولونه پیدا کړه. بیا د هر دلیل او نقل قول لپاره یو پراګراف ولیکه. وروسته د مقدمې یا موضوعي پراګراف او همدارنګه د پای یا رانغاړونکی پراګراف هم ورته ولیکه.

- له بېوزلو سره مرسته، له ځان سره مرسته ده.
- نارینه د کور په کارونو کې باید مرسته وکړي.
- له مېرمنو سره خشونت غیر اسلامي او غیر اخلاقي چاره ده.
- هره خبره د کولو نه وي.
- ښه ملګری د ملګري ښه غواړي.

### ۳. استدلالي مقاله

په استدلالي مقاله کې داسې موضوع څېړل کېږي چې په اړه یې مختلف او متضاد نظرونه وي. لیکوال موافق او مخالف نظرونه دواړه راسپړي، توضیح کوي یې او هغه خوا چې د ده په نظر سمه ده، د استدلال او شواهدو په وړاندې کولو سره تأییدوي. لیکوال باید منطقي دلیلونه او عیني او مستند شواهد وړاندې کړي چې لوستونکي قانع کاندي. د دې کار لپاره لیکوال باید کافي مطالعه او څېړنه وکړي؛ همدارنګه د موضوع له مسلکي او متخصصو کسانو سره مرکې وکړي؛ شواهد، احصایې او نورې څېړنې راټول کړي چې د استدلال لپاره استفاده ځنې وکړي. په دې مقاله کې لیکوال باید د مخالف نظر قوي ټکي یو په یو یاد کړي او وروسته یې د ردولو لپاره خپل دلیلونه، شواهد او موندنې بیان کړي او مخاطب ته ثابته کړي چې هغه نظر سم دی. په لاندې بېلګه کې ډاکټر مبارک علي د زرین وختونو نظریه څېړلې ده او خپل نظر یې وړاندې کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زرين وختونه

تصور کېږي چې بشر په خپل تېر ژوند کې د داسې امپراطوريو طلايـي دورې هـم لرلـې دي چې ظلم، تبعيض او استثمار پکې نه وو. له افسانو سره سم، د دغو زرينو وختونو پـه زړه غوښـتونکو شېبو کې نه د خلکو په منځ کې جگړې وې، نـه کشمکشـونه. ټـول پـه سـوله او پـه اتفـاق کـې سره اوسېدل. خواړه پريمانه وو، لوږه نه وه، بېوزلي چا نه پېژندله. نه شخصي جايدادونه وو، نه حـرص او نه په کمزوريو باندې د حکومت کولو شوق. طبيعت په انسان باندې مهربان و، انسان يې په سـخې غېږه کې اسوده ژوند کاوه. طبيعت او انسان د يو بل مله وو.

خو، شواهد دغه افسانې او تصورات نه تاييـدوي. تـاريخ راتـه وايـي چـې بشر له پيلـه لا پـه اختلافونو او ميرخيو کې ايسار و او زورورو يـې د کمزوريـو زبېښـلو تـه متـې رانغښـتې وې. لـوږه وه، کاختې وې او جگړې وې. خلکو د نس د مړولو لپاره حيوانات ښکارول، مېوې يې خـوړې او نباتـات يې ټولول. د سولې په وخت کې به زورورو په اکثرو امکاناتو خېټه اچـولې وه او کمـزوري بـه مجبـور وو چې هغه ورپاتې لږ څه په خپلو کې سره ووېشي. د نامتو مفکـر هـابس پـه قـول، ژونـد خـورا بـې خونده او وحشي و.

د زرينو زمانو اسطورې شايد د دې لپاره جوړې شوې وي چې له اوسنو مشکلاتو د خلاصـون او د هاغه زرين دوران د احيا لپاره په خلکو کې سېکه او جذبه پيدا کړي.

د زرين زمان د شتون مفکورې مورخانو ته دومره خوند ورکړی دی چـې پـه تـاريخ کـې يـې د هغې د ځايولو کوښښونه کړي دي. مـثلاً د مسـلمانانو تـاريخ د عبـاسي خلافـت د اوج زمـانې تـه د زرين دوران په سترگه گوري او فخر ورباندې کوي. په دې دوران کې عربو لور په لور فتحـې وکـړې، ډېرې سيمې يې ونيولې او د مغلوبو ملتونو د امکاناتو په مټ يې داسې امپراطوري جـوړه کـړه چـې د هغه وخت تر بلې هرې واکمنې پياوړې او شانداره وه. نوی پايتخت، بغداد، د تجـارت او کلچـر پـه مرکز بدل شو؛ يوناني حکمت په عربي ترجمه شـو او د يـو زر او يـو شـپې شـهکار وپنځېـده. د دغـه زرين دوران داسې په زړه وړونکی انځور جوړ شو چې را وروسته نسلونو د عربو د وياړ د زمـانې د بيـا راتلو ارزوگانې وکړې او تر ننه پورې د يو اعلی مثال او د افتخار د وخت په سترگه ورته کتل کېږي.

په اندلس يا اوسنۍ اسپانيا بانـدې د مسـلمانانو حکومـت هـم زريـن دوران بلـل شـوی دی. ځکه په دې دوران کې له مسـلمانانو، عيسـويانو او يهـودو جـوړه شـو کلتـوري ټولنـه پـه سـوله کـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسېده او د مختلفو عقیدو کسانو د یو بل د زغملو چل زده کړی و. دوی یـو داسـې فرهنـګ ایجـاد کړ چې اروپایانو ورباندې هغه د چا خبره زړه بایلود او په اندلس کـې د لویـو پوهـانو پـه قلـم لیکـل شوي کتابونه یې په خپلو پوهنتونونو کې د لوستلو او زده کولو لپاره غوره کړل.

نورو ملتونو هم د خپلو وطنونو په تاریخ کې زرینــې زمـانې پـه نخښـه کـړې او ځـلولې دي. د هندوانو په عقیده د راما [هندو بګوان او افسانوي پاچـا، ژبـاړن] زمانـه زرینـه وه، حـال دا چـې نـور باوري دي چې د ګوپتا د واکمنۍ په دوران کې د هندوایزم قوانین بشپړ شول او دغه دین وغوړېـد. په هند کې د آشوکا امپراطورۍ ته هم د مثالي دوران په سترګه کتل کېـږي، ځکـه آشـوکا قـدرت او عظمـت تـه د رسـېدو لپـاره جګـړه نامناسـبه وسـیله وبللـه، جنـګ یـې وغانـده او د تشـدد نـه کولـو ایدیولوژي یې غوره کړه. د هند د مغولو په دوران کې د اکبر زمانه طلایي برخه معرفي شوې ده. پـه دې وخت کې د مغولو قدرت پوره ټینګ او سلطنت خورا شتمن شو. مـونږ د اکـبر د دوران د قـدرت او ثروت انعکاس د هغه د دربار په شان و شوکت او عظمت کې وینو.

دا دستور دی چې مخ په زوال ټولنه به په ماضي کې پناه اخـلي او پـه تېـر ویـاړ بـه ځـان تـه تسل ورکوي. سیاستوال د زرین دوران تصورات د ځان په ګټه اسـتعمالوي او خلکـو تـه وایـي چـې که یې دی قدرت ته ورساوه نو د سولې او عدالت هاغه له ګوتو وتلـی دوران بـه بیـا راژونـدی کـړي. دغسې سیاستوال په وروسته پاتې ټولنو کې ښه چلېږي.

پرمختللې ټولنه هېڅ وخت په ماضي پورې زړه نه تړي او په تېر زرین دوران پسې نه ګرځـي. دوی په نن کې اوسي، د نن د بهترۍ هڅـه کـوي او د لا روښـانه او نېکمرغـې سـبا فکـر ورسره وي. رادیکال مفکران او انقلابیان هم د زرینې زمانې نظریه نه مني. دوی ماضي ته د ترقـي پـه لاره کـې د خنډ په سترګه ګوري او په دې عقیده دي چې د لا روښانې سبا لپاره پکـار ده چـې نـه یـوازې پـه پرون چلیپا راوباسو بلکې د نن ارزښتونه او دودونه هم بدل کـړو. د دوی پـه نظـر طلایـي دوران پـه پرون کې نه، په سـبا کـې پـټ دی او د رسـېدا لاره یـې دا ده چـې لـه ظلـم او اسـتثمار سره مبـارزه وشي. د مارکسیستو په اند، طلایي دوران ته هغه وخت رسـېدای شـو چـې پـه ټولنـه کـې مسـاوات قایم شي. دینداره خلک په دې دنیا کې د زرینې زمانې تمه نه لري. د دوی په نظـر، زریـن وختونـه د هغې دنیا دي او هلته به ښې شپېې د ګناهګارو نه بلکې د متقیانو په نصیب وي.

[د تاریخ سبقونه، ډاکټر مبارک علي، ژباړن اسدالله غضنفر، مازیګر کتاب پلورنځی، ۱۳۹۲]

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړی فعالیت:** د زرین وختونو مقاله بیا ولوله او د دغو پوښتنو ځوابونه ولیکه.

۱. لیکوال د ادعا شویو زرینو وختونو کومې نمونې یادې کړې دي؟

۲. د لیکوال په باور د زرینو وختونو د موجودیت تصور ولې پیدا شوی دی؟

۳. د لیکوال په فکر، د زرین وختونو د شتون په اړه د خلکو له باور څخه څوک ګټه اخلي؟

۴. لیکوال د زرینو وختونو نظریه په کوم دلیل رد کړې ده؟

۵. د لیکوال استدلال به مخاطب قانع کړي؟

٦. د مقالې لیکوال به دا مقاله په کوم نیت لیکلې وي؟

۷. ستا په نظر، د زرینو وختونو پر موجودیت باور ټولنې ته ګټه لري که زیان؟ خپل دلیلونه ولیکه.

**دوهم فعالیت:** په دریو پراګرافونو کې د مقالې خلاصه ولیکه. البته د لیکوال جملې به نه نقلوې، بلکې د وینا مفهوم به یې له خپل ذهنه او په خپل طرز لیکې.

**دریيم فعالیت:** ستا په نظر، په تاریخ کې زرین وختونه وو که نه وو؟ د خپل نظر د اثبات لپاره شواهد او دلیلونه راټول کړه او په یوه مقاله کې یې ولیکه. شواهد دې باید مستند او دقیق او دلیلونه دې منطقي وي. دا مهمه ده چې شواهد دې له معتبرو سرچینو څخه راواخلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۴. روايتي مقاله

د روايتـي پراگـراف غونـدې پـه دې مقالـه کـې هـم ليکـوال خپلـه کيسـه بيـانوي. د کيسـې موضوع بايد په زړه پورې وي او مخاطب ته يو نوی فکر ورکړي يا دا چې د ژوند يوه تجربـه وروښـيي او بصيرت يې زيات کړي. داسې هم کېدای شي چې ليکوال يـوه ډېـره عـاطفي موضـوع د روايتـي مقالې لپاره انتخاب کړي او وغواړي چې د لوستونکو عواطف وپاروي. د نورو مقالو په شان، روايتـي مقاله هم درې برخې لري. په مقدمه کې به يې د لوستونکي د جذبولو لپـاره يـوه خـبره کېـږي او د مقالې عمومي موضوع په کې بيانېږي. ملاتړي پراگرافونه يې معمـولاً لـه درېـو تـر پنځـو پراگرافونـو پورې وي چې هر يو يې د عمومي موضوع په گټه يوه خبره کوي. رانغاړونکی پراگراف يـې د مقـالې عمده ټکي خلاصه کوي او د ليکوال وروستۍ خبره رانغاړي. دلته به يې بېلگه وگورې.

### پښتونولي

کله کله د ناهيلۍ په اوج کې داسې څه راپېښ شي چې بېرته مو هيلې راتـازه کـړي. لـه مـا سره همداسې وشول. په هغو کلونو کې چې جگړو د انسـانانو اخـلاق او ټـول ارزښـتونه پـر بـل مـخ اړولي وو، ما د پښتونولۍ ځرکونه وليدل.

د تنظيمي جگړو اوږدې ورځې وې. خوسـت تـه روان وو. جنگـي ډلـو د کابـل - خوسـت لاره بنده کړې وه. موږ مجبور وو چې د پېښور په لاره مېرانشاه ته او له هغه ځايه خوست ته ولاړ شـو. تـر تورخمه پورې په هر ځای کې پاټکونه وو. ټوپکوالو بـه د ډرېورانـو او سـپرليو پيسـې لـوټلې. هماغـه مجاهدانو چې د خدای او قرآن په پار يې جهاد کړی و، د موټروانانو «د خدای په پـار» نـارې يـې نـه اورېدلې. دوی يوازې پيسې پېژندلې؛ نور هر څه ځنې هېر وو .

مازديگر مهال پېښور ته ورسېدو. شپه مو په بورډ کـې د تـرور کـره تېـره کـړه. سـهار وختـي د مېرانشاه اډې خوا ته په ټېکسي کې روان شو. له مـا سره مـې مـور، خـورکۍ او دوه ورونـه راسره وو. گورا قبرستان ته چې ورسېدو، دوو پوليسانو موټر ودراوه. يو يې دنگ ډنگـر، بـل يـې لنـډی خېټـور. لنډي پوليس پوښتنه وکړه: چېرته ځئ؟

ومې ويل: مېرانشاه ته.

- مهاجر يې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هو.
- شناختي پاس لرې؟
- نه.

په ښي لاس کې نيولې ډنډه يې ورو ورو د چپ لاس پر ورغوي ووهله. ويې ويل: ښه نو چې مهاجر هم يې او شناختي پاس هم نه لرې اوس ته ووايه چې څه درسره وکم.

ما ورته وويل: وينې چې زنانه راسره دي. که پښتون يې نو پښتونولي راسره وکه.

پوليس ډرېور ته وويل: ځه مړه! پښتونولي چې رانه غواړي نو شابه ورځه.

ما چې د پاکستاني پوليسو د شوکو کيسې اورېدلې وې، گومان مې نه کاوه چې د پښتونولۍ پروا دې ولري. همدغه پوليس به ډېر افغانان شوکولي وي؛ له ډېرو به يې پيسې اخيستې وي؛ خو زما په دې خوښ شو چې يوازې د پښتونولۍ په پار يې خوشې کړم.

د مېرانشاه په فلاينگ کوچ موټر کې سپاره شوو. په هر سيټ کې به څلور کسان کېناستل. ما هم يو سيټ ونيو. موږ پينځه کسان وو. کلينر رټ شو چې د پينځو کسانو کرايه به پرې کوئ. په اډه کې سپرلۍ کمې وې نو کلينر غوښتل چې په دې ډول کرايه پوره کړي. موږ سره هماغومره پيسې وې چې د څلورو کرايه ورکړو. هسې هم وړکی ورور مې د اوو اتو کالو و. کلينر ته مې وويل چې هغه به په غېږ کې کېنوم؛ خو هغه همدا يوه خبره ټينگه کړې وه چې نه کېږي. له شرمه مې دا هم ورته نه شو ويلی چې نورې پيسې راسره نشته. لانجه مو سره اوږده شوه. تر گرېوانه يې ونيوم. اخر چې پوه شوم چې کلينر له پيسو نه تېرېږي نو ورته مې وويل: سمه ده پيسې به درکړم خو په مېرانشاه کې به دته خپلو ته راسره ځې. پيسې به هلته درکړم.

کلينر وويل: ولې هلته؟

ما ورته وويل چې پيسې راسره نشته. هلته مې د تره کور دی. له هغه به يې واخلم.

د کلينر د تندي گونځې ړنگې شوې. ويې ويل: مړه! خو داسې ووايه چې پيسې نه لرم. بې غمه کېنئ نورې پيسې نه درنه غواړم.

نو پښتونولي کومه لويه توره نه غواړي. په ډېرو آسانو کارونو هم خپله پښتونولي ښيیلې شو. زه هم د کلينر او هم د هغه پوليس احسان او پښتونولي منم. پښتونولي کله کله د ناهيلۍ په توره

(c) ketabton.com: The Digital Library



تروږمۍ کې د هیلې ډېوه بلوي او کله هم د وحشت په وچه صحرا کې د عواطفو د خوږو اوبو چینه خوټوي.

**لومړی فعالیت:** مقاله یو ځل بیا ولوله او دې پوښتنو ته ځواب ورکړه.

۱. د مقالې تیسز څه دی؟

۲. د تیسز په ګټه کوم عمده ټکي راغلي دي؟

۳. پراګرافونه په کوم اساس ترتیب شوي دي؟

**دوهم فعالیت:** د مقالې خلاصه په یو پراګراف کې داسې ولیکه چې د لیکوال جملې په کې رانه شي او یوازې د مقالې مفهوم په نویو ټکو کې بیان شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۵. د مقايسې مقاله

په دې ډول مقاله کې دوې پديدې سره پرتله او مشابهتونه او توپيرونه يې ښودل کېږي. هغه شيان چې د مقايسې لپاره غوره کېږي چې ورباندې مقاله وليکل شي؛ بايد په اصل کې سره يو وي او ځينې اساسي شباهتونه ولري؛ نه دا چې يو مخ متفاوت شيان وي؛ مثلاً: که څوک وغواړي کاغذ او ډبره سره پرتله کړي نو د دې دوو شيانو تر منځ مشترک څه دي؟ دوه براعظمونه، دوه هېوادونه، دوه سيندونه، سيند او سمندر، غر او غونډۍ، دوه يا څو اقليمونه، دوه تيٖ‌واله ژوي، دوه هندسي شکلونه ... د مقايسه کولو لپاره مناسب دي. دلته به د افغان او غربي ليکوالو د لنډو کيسو مقايسه ولولې.

### زموږ او د نورو لنډې کيسې

سره له دې چې لنډې کيسې د جوړښت او تخنيک په لحاظ سره ورته دي خو زموږ د ليکوالو او د نورو ملکونو، د لنډو کيسو تر منځ ځينې توپيرونه شته. دغه توپيرونه د ليکوال په مقصد، سبک، تخيل، او همدرانگه په لوستونکو پورې اړه لري. په دې مقاله کې به دا توپيرونه وڅېړو.

زموږ او د غربي ليکوالو د لنډو کيسو يو لوی توپير دا دی چې د دوی کيسې ډېرې اوږدې دي او معمولاً د کتاب لس – پنځه‌لس او لا زيات مخونه نيسي خو زموږ اکثره لنډې کيسې تر ځلورو يا پنځو مخونو نه اوړي. زموږ په کيسو کې پېښې لکه غشي نېغ د موخې (د کيسې پای) خوا ته په منډه وي؛ خو د دوی په کيسو کې تخيل لکه مست وحشي مارغه الوځي. روان د خپل منزل خوا ته وي؛ خو په لاره کې هرې خوا ته سر ورښکاره کوي؛ په هر څه باندې ټيټېږي او د هرې منظرې له ليدلو خوند اخلي. زموږ کيسې لکه هغه مسافر دي چې غواړي تر ماښام د مخه خپل منزل ته ورسېږي؛ خو د دوی لکه هغه ډله چې په مېلې وتلې وي او د ژر رسېدلو غم ورسره نه وي.

زموږ اکثره ليکوال د کيسې پيغام ته زيات اهميت ورکوي. کله چې غواړي چا ته خاصه خبره يا نصيحت وکړي، معمولاً ژر اصل مطلب ته راځي او حاشيه روي نه کوي؛ خو که خواله ورسره وکړي نو ممکن ډېرې غيرضروري خبرې هم وکړي. د نورو ملکونو کيسې تر ډېره بريده د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواله کولو رنګ لري. د دوی په کیسو کې ډېرې داسې پېښې او خبرې لولې چې کېدای شي اضافي درته واېسېږي.

بله مسأله د سبک ده. غربیان تشریحي سبک خوښوي. دوی غواړي په کیسه کې ډېرې منظرې په تفصیل سره بیان کړي. لکه زموږ استاد سعدالدین شپون او نصیر احمد احمدي چې د پېښو تفصیلي او تصویري بیان ته تمایل لري. خو زموږ ډېر لیکوال د منظرو او پېښو د جزئیاتو بیان ته چندانې زړه نه ښه کوي. ښایي وجه یې نه دقت وي. د جزئیاتو موندل او بیانول دقت غواړي.

موږ چې په محفلونو او غونډو کې خپله کیسه لولو، موخه مو دا وي چې اورېدونکي زموږ ټوله کیسه واوري او پوه شي چې د کیسې په پای کې څه پېښ شول؛ خو غربي لیکوال بیا یوازې د کیسې یوه برخه لولي او داسې ښکاري چې دوی غواړي د خپل نثر او تخیل کمال وښیي، نه د کیسې پای او پیغام. له دې ښکاري چې موږ تر اوسه پورې هم «څه ویلو» ته ډېر اهمیت ورکوو او دوی «څنګه ویلو» ته.

د کیسو د لنډوالي او اوږدوالي په موضوع کې کېدای شي د تخیل قوت هم برخه ولري. د تخیل غځول او د اوږدو کیسو لیکل، مهارت غواړي. هندي سریالونه له غربي هغو سره پرتله کړئ. په ټولو هندي سریالونو کې مې یوازې یو سریال «کورنی تجارت» خوښ شوی دی. نور هندي سریالونه چې څومره غځېږي، هماغومره له منطقه لرې کېږي. که د فلم او داستان د پېښو لپاره منطقي زمینه برابره نه کړې، د لیدونکي او لوستونکي په زړه کې تېرېږي چې ته ورباندې ملنډې وهې، تا د لېوني یا د احمق ګومان وربانديې کړی دی. دغه د «کورني تجارت» سریال د ټولو هندي سریالونو بر خلاف پر منطق برابر و او ممکن وجه به یې دا وه چې قسطونه یې ډېر کم وو. البته که د تخیل غځول او پېښو ته منطق برابرول کمال دی؛ په عین حال کې په لنډ وخت کې خپل مطلب بیانول هم هنر غواړي. دغه مسأله مې د امریکا د یوې خورا لویې لیکوالې چې د لنډو کیسو کتابونو یې جایزې ګټلې دي او ایزنبرګ نومېږي، مطرح کړه. هغې وویل: «کاشکې زه خورا لنډې کیسې ولیکلای شم.»

په دې مسأله کې لوستونکي هم رول لري. موږ ډوډۍ د نس د ډکولو لپاره خورو او معمولاً ژر ژر ګوله تېروو چې ځان موړ کړو؛ خو غربیان ډوډۍ په کراره خوري او د هرې ګولې له ژوولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوند اخلي. د غرب لوستونکي هم غواړي چې د کیسې له هرې جملې خوند واخلي؛ نو دې ته یې ببېړه نه وي چې ژر د کیسې پای ته ورسېږي. زموږ اکثره لوستونکي اول د کیسې مخونه ګوري چې ډېر دي که لږ ځکه چې د اوږدو متنونو د لوستلو حوصله نه لري.

البته په امریکا کې د لنډو کیسو خورا لنډې بڼې هم شته چې فلش فکشن (flash fiction) یې بولي او په دې وروستیو کې رواج شوې دي. دا ډول کیسې باید د کتاب په دوو مخونو کې ځای شي یعنې له ٦٥٠ تر ٩٠٠ کلمې باید ولري. ناشران وایي دا کیسې په دې ښې دي چې لوستونکی مجبور نه وي چې د یوې کیسې د لوستلو لپاره د کتاب پاڼه واړوي. کیسه د کتاب په دوو مخامخ صفحو کې چاپېږي او د ډیزاین په لحاظ ښکلې برېښي.


د پښتنو او د نورو ملکونو د لیکوالو په کیسو کې بل توپیر دا دی چې زموږ اکثره کیسې په پای کې لوستونکی یوې نتیجې ته رسوي؛ خو د نورو کیسې د پای په لحاظ نور ډولونه هم لري. طالب الرفاعي کویتي لیکوال دی. دی وایي: «زما اکثره کیسې په داسې ځای کې ختمېږي چې لوستونکي رانه پوښتنه کوي چې نور به څه پېښېږي؟ او زما ځواب دا وي چې نور یې ته په خپل ذهن کې جوړوه.» د ده په یوه کیسه کې سړی مین دی خو لیلا یې پرې خبره نه ده. دی له ځان سره په لانجه کې وي چې باید هغې ته حال ووایي. هره ورځ یې ذهن په همدې خبرو بوخت وي. آخر یو مازدیګر ورروانېږي. نجلۍ د سمندر په غاړه کې ناسته ده، زلفې یې د سمندر شمال ته ناڅي او پخپله په شګو کې رسمونه باسي. سړی یې خوا ته ورشي. او کیسه همدلته ختمه شي. طالب الرفاعي وایي: «زه ځکه داسې کیسې لیکم چې د انسان د ژوند کیسې نیمګړې دي؛ انسان خپلو ارزوګانو ته نه شي رسېدلی؛ ژوند په خپله نیمګړی دی او بله دا چې ژوند ختمېږي نه. موږ که ومرو له ځانه خامخا داسې یو څه پرېږدو چې زموږ د بقا تداوم ګڼل کېږي: اولادونه، جایداد، لیکنې، خاطرې ...»

نو زموږ او د نورو لنډې کیسې له ډېرو مشابهتونو سره سره، ځینې توپیرونه هم لري. دا توپیرونه د کیسو په اوږدوالي، سبک، پای، هدف او مخاطبانو کې دي چې لیکوال او لوستونکي دواړه په کې نقش لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړی فعالیت:** مقاله بیا ولوله او د لاندې چارټ په کارولو سره د افغان او غربي لیکوالو د لنډو کیسو ورته‌والي او توپیرونه ولیکه.




**دوهم فعالیت:** د لاندې موضوعګانو له منځه یوه خوښه کړه. بیا د پورته چارټ غوندې شکلونه رسم او د دواړو موضوعاتو ورته‌والي او توپیرونه جلا جلا ولیکه. وروسته د مقایسې مقاله ورته ولیکه.

- د کلي او ښار اخترونه
- رسمي او شخصي جامې
- بایسیکل او موټرسیکل
- شیریخ او آیسکریم
- باران او ږلۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**٦. معلوماتي توضيحي/ Expository مقاله**

معلوماتي مقاله د یوه شي یا پدیدې په اړه معلومات وړاندې کوي. دا معلومات باید واقعـي او دقیق وي. د معلوماتي مقالې د لیکلو لپاره څېړنــې او مطـالعې تـه اړتیـا وي ځکـه چـې دا تخلیقـي لیکنه نه ده چې لیکوال دې د خپل زړه او ذهن خـبرې پـه کـې وکـړي؛ بلکـې هـره خـبره يـې بايـد مستنده وي. د علمي ژورنالونو مقالې، څېړنې، مونوګرافونـه، تیسـزونه، د درسي کتـابونو متنونـه ... ټول د معلوماتي مقالې ډولونه دي.

**د هورمونونو د ناوړه استعمال زیانونه**

د 2015 په مۍ میاشت کې دوه داسې ناروغان زمـوږ روغتـون تـه راغلـل چـې عمرونـه يـې تـر دېرشو کم وو خو د زړه حمله ورباندې راغلې وه. د دې ځوانانو په کورنیو کې چا د زړه حملـه نـه وه تېره کړې معنا دا چې فامیلي تاریخچه یې منفي وه؛ سګرېټ یې نه څکول؛ د لوړ فشـار سـابقه يـې نه درلوده؛ د شکرې ناروغي او د زړه د ناروغیو لپاره نور مساعدوونکي عوامل (ریسک فکټورونه) يـې نه درلودل. دواړه ورزشکاران (باډي بېلډران) وو. څـه چـې د دوی زړونـه يـې پـه دې ځوانـه ځـوانۍ کې خراب کړي وو، د انابولیک سټیرویيدونو ناوړه استعمال و.

انابولیـک سـټیرویيدونه هغـه هورمونونـه دي چـې د ټیسټسـټیرون پـه شـان عمـل کـوي. ټسټسټیرون هغه هورمون دی چې پـه نارمـل ډول پـه خوټـو کـې جـوړېږي او پـه سـړي کـې نارینـه خواص لکه پر مخ، تخرګونو او تناسلي ناحیه کې د ویښـتانو شـنه کېـدل، د غـږ ډډ کېـدل او نـورې ځانګړنې پیدا کوي. ځینې ورزشکاران دا هورمونونه ځکه استعمالوي چـې بـدني ځـواک يـې ورسره زیـاتېږي؛ د عضـلاتو وده يـې چټکېـږي او پـه کـم وخـت کـې يـې خپلـو ارمـانونو تـه رسـولی شي. ورزشکاران معمولاً دغه هورمونونه د پیچکارۍ په وسیله اخلي خو ځینـې يـې ګـولۍ خـوري یـا يـې جېل او کریم استعمالوي.

په ټوله نړۍ کې د دې هورمونونو دا ډول استعمال ناقانونه دی او که په ورزشي سـیالیو کـې د ډوپنګ ټسټ په وسیله څرګنده شي چې چا هورمون اخیستی دی، جریمـه او لـه مسـابقې شـړل کېږي. خو ځینې کمپنۍ په ناقانونه توګه داسې هورمونونه تولیدوي چې دغه ټسټ يـې پـه آسـانۍ سره نه شي پیدا کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سټيروييدي هورمونونه که د ورزشکار عضلات ژر غټوي او بدني ځواک يې زياتوي نو ورسره ګڼ زيانونه هم لري چې ځينې يې د دوی ژوند لـه خطـر سره مـخ کـوي. يـو عمـده زيـان يـې د زړه حمله ده. دغه هورمونونه هماغسې چې د بدن نور عضلات غټوي، د زړه عضلات هم غټـوي. څـومره چې د زړه عضلات غټېږي، هماغومره ډېرې وينې ته اړتيا پيدا کوي خو د زړه رګونه دا وينـه نـه شي رسولی. له بلې خوا پـه نـابېره توګـه د زړه د عضـلاتو غټېـدل د دې سـبب کېـږي چـې د زړه پـر وړو رګونو فشار راوړي او د وينې بهير تـه يـې خنـډ جـوړ کـړي نـو همـدا وي چـې پـر دوی د زړه حملـه راځي. دغه حمله که ډېره سخته وي، انسان وژني او که په اوله حملـه کـې ژونـدی هـم پـاتې شي، زړه يې له ښې ووځي او عمري ستونزې به ورته پيدا کړي.

سټيروييدي هورمونونه د وينې پـر غـوړو بـد اثـر لـري، بـد کولسـټرول (LDL) زيـاتوي او ښـه کولسټرول (HDL) کموي. بد کولسټرول د وينې د رګونو د تنګېدو سبب کېږي او رګونه چې تنـګ شي، کېدای شي پر ناروغ د زړه حمله يا دماغي سکته راشي.

بل زيان يې دا دی چې پر ينې (ځيګر) منفي تاثير کوي او ان د ځيګر د عدم کفـايې سـبب کېدای شي. له دې درملو سره د ځيګر د سرطان د پيدا کېدو چانس زياتېږي.

دغه هورمونونه د وينې د کلکېدو (لخته کېدو) سبب کېږي. وينـه کـه پـه هـر رګ کـې کلکـه شي، هماغه رګ بندوي. که يو رګ پوره بند شي، وينـه ځنـې نـه شي تېرېـدای او د بـدن هـر ځـای چې دغه رګ ورته وينه ورکوله، له مرګ سره مخ کېږي.

د سټيروييدي هورمونونو په وجه، عضلات بې درکه غټېږي او پر پلو (وتر يا د عضـلې پـه آخـر سر کې هغه کلک پړي چې عضلات له هډوکو سره نښلوي) فشـار راوړي، دغـه فشـار پلـې شـکولی شي.

د دې هورمونونو زيات استعمال نرانو ته نور تاوانونه هم لري. خـوټې (خصـيې) يـې کـوچنۍ کوي څکه چې د ټسټسټيرون نارمل توليد ورسره کمېږي؛ د سپرم (نرينه هګـۍ) شـمېر يـې کمـوي او ممکن له اولاده پاتې شي؛ د سر ويښته يې تويوي؛ تيونه يې غټوي؛ پر بدن يې دانـې (ځـوانکۍ) راخېژوي.

که ښځې سټيرو‌ييدي هورمونونه وکاروي پر نورو زيانونو سربېره، نرينـه خـواص پـه کـې پيـدا کېږي؛ تيونه يې وړوکي کېږي؛ غږ يې ډډ کېږي؛ کليټوريس (د تناسلي الې د پاسنۍ برخـې زخـه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې غځېږي چې دا بيا عمري همداسې پاتې کېږي؛ همدرانګه د بدن وازده يې وېلې کېږي او پر بدن يې ويښتان راشنه کېږي.

د دې هورمونونو بل زيان دا دی چې د هډوکو وده زياتوي، خصوصاً د کوپړۍ هډوکي غځېږي؛ تندی مخې خوا ته راووځي؛ او غاښونه سره لرې کېږي څکه چې د ژامې هډوکي غځېږي. که کم عمره ځوانان يا ماشومان چې لا يې طبيعي وده نه وي بشپړه شوې، دا هورمون واخلي، د هډوکو وده يې ختمېږي او په ونه ټيټ پاتې کېږي.

دا چې اکثره وګړي دا هورمون د پيچکارۍ په وسيله اخلي نو کېدای شي په هيپاتيت (تور زېړی)، ايډز او نورو ناروغيو اخته شي. همدرانګه د پيچکارۍ د لګولو ځای کېدای شي ميکروبي شي او ګزک وکړي.

سټېرويېدي هورمونونه انسان ته رواني ناروغۍ هم پيدا کوي؛ مزاج يې خرابوي؛ ځيږ او خشن چلند په کې پيدا کوي؛ او په هذيان او برسام يې اخته کوي. هذيان يعنې اپلتې ويل او برسام د داسې شيانو ادراک چې هېڅ نشته. مثلاً ناروغ ماران ويني، مختلف غږونه اوري خو په واقعيت کې هېڅ شی هم نه وي.

هغه کسان چې سټېرويېدي هورمونونه په دوامداره توګه اخلي، کېدای شي ورسره روږدي شي او که دا درمل ورباندې ودرېږي، ممکن ځينې ستونزې ورته پيدا شي. مثلاً د ناکارۍ او بې وسۍ احساس، ستوماني، بې اشتهايي، بې خوبي، خلق تنګي او ژور خپګان احساس کوي او جنسي فعاليت يې کمېږي. تر ټولو خطرناک يې ژور خپګان دی چې کله کله د ځانوژنې سبب کېږي.

نو د سټېرويېدي هورمونونو ناوړه استعمال که له يوې خوا په ورزش کې غيرقانوني دی او د ورزشکار مسلکي ژوند تباه کوي؛ له بلې خوا ګڼ بدني او اروايي تاوانونه لري؛ ان تر دې چې د مړينې سبب کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړی فعالیت:** مقاله له سره ولوله او:

- عمده ټکي يې نوټ کړه.
- مقاله په دې لحاظ وارزوه چې معلومات يې د عام لوستونکي لپاره واضح بيان کړي دي که نه.
- د لاندې چوکاټ غوندې يو جدول جوړ کړه. په عمودي ستونونو کې يې د غړو او سيستمونو نومونه او په افقي هغو کې يې پر هماغه غړو د سټيرووييدي هورمون ناوړه اغېزې وليکه.

| زړه | سکلېټي عضلات | ... | ... |
| --- | --- | --- | --- |
| - د زړه د عضلاتو غټېدل<br>- د زړه د رګونو تنګېدل<br>- د زړه حمله | | | |

**دوهم فعاليت:** هره موضوع چې ستا خوښېږي، انتخاب کړه. په اړه يې مطالعه او څېړنه وکړه. په باره کې يې دقيق معلومات پيدا کړه او يوه معلوماتي مقاله وليکه. پام دې وي چې په هر پراګراف کې به يوازې يوه موضوع څېړې.

**يادونه:** معلوماتي مقاله ډېر ډولونه لري لکه:

- **توضيح او تعريف:** په دې ډول معلوماتي مقاله کې د يوه مفهوم تعريف او تشريح راځي.

– **لړۍ او پروسه:** د يوه شي د جوړېدو، د ودې بهير، د استحصال/ استخراج پړاوونه او هر هغه معلومات چې د يوې لړۍ او پروسې په ترځ کې واقع کېږي، بيانوي. مثلاً د کاغذ د جوړېدو بهير چې «ونې پرې کېږي، پوستکی ترې لرې کېږي او بيا په ماشين ميده کېږي؛ وروسته په اوبو کې خيشته کېږي چې ښه حل شي او بيا ځينې کيميايي مواد په کې ګډېږي چې سپين شي او مقاومت يې زيات شي؛ وروسته په ماشين هوارېږي چې د ورقو بڼه خپله کړي؛ بيا وچېږي او تخته تخته پرې کېږي.» که دې بېلګې ته پام وکړې، وبه وينې چې معلومات د زماني تسلسل يا کرونولوژۍ په اساس ترتيب شوي دي؛ يعنې اول څه پېښېږي – وروسته څه کېږي – بيا ....

(c) ketabton.com: The Digital Library



– **مقایسه:** دا دول معلوماتي مقاله مخکې تشریح شوه.

– **علت او معلول:** څنګه چې د علت/ معلول په پراګراف کې بیان شوه، مقاله یې هم هماغه ځانګړنې لري.

– **تصنیف او ډلبندي:** په دې معلوماتي مقاله کې یوه پدیده ډلبندي کېږي لکه په بیالوژي کې چې ژوندي موجودات له لویه سره په حیوناتو او نباتاتو وېشي او بیا هره ډله یې په څو نورو ډلو وېشل کېږي. یا په کیمیا کې چې عناصر په فلزاتو او غیرفلزاتو وېشل کېږي یا دا چې ژانرونه په تخیلي او غیرتخیلي وېشو او بیا هره ډله یې نورې فرعي ډلې او ډولونه لري. د شیانو یا پدیدو ډلبندي د مشترکو او متفاوتو اړخونو په اساس کېږي؛ یعنې څه چې په ځینو ځانګړنو کې سره ګډ دي په یوه ډله کې راځي او څه چې په ځینو اړخونو کې له نورو متفاوت دي، په بله ډله کې راوړل کېږي. دا چې د معلوماتي مقالې نور ډولونه مخکې راغلي دي دلته به یوازې د لړۍ او پروسې او تصنیف او ډلبندۍ د مقالو لپاره فعالیت ترسره کړې.

**لومړی فعالیت:** په لاندې موضوعاتو کې یوه انتخاب کړه او پراوونه یې د زماني تسلسل پر اساس د لړۍ او پروسې په مقاله کې ولیکه.

* د تابعیت تذکره څنګه اخیستل کېږي؟
* مقاله څنګه لیکلی شو؟
* د پتنګ د ودې پړاونه
* کړایي څنګه پخېږي؟
* د کېک د پخولو طریقه
* موټر څنګه چلېږي؟

**دوهم فعالیت:** له لاندې لست څخه درې شیان انتخاب او ډلبندي کړه.

- کورونه
- شعرونه
- بشري علوم
- دودونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- خوراکي توکي
- ټلویزیوني خپرونې
- مجلې
- انسانان د اخلاقو په لحاظ
- دینونه
- کتابونه

**بله یادونه:** له روایتي او تخیلي لیکنو پرته، نور د هر ډول مقالې په لیکلو کې باید په عاطفي لحاظ خنثی نثر وکارول شي؛ معنا دا چې لیکوال باید احساساتي او عاطفي خبرې په کې ونه کړي. البته د اقناعي مقالو ځینې لیکونکي دا کار کوي، په تېره بیا هغه کسان چې ادعا یې کاذبه وي او په واقعي او منطقي دلیلونه خپله ادعا ثابتولی نه شي. دوی معمولاً داسې احساساتي خبرې کوي چې د مخاطب عواطف راپاروي او ځینې مخاطبان د دوی خبرې بې له تحقیقه مني.

**لومړی فعالیت:** دغه دوه پرګرافونه ولوله او هغه کلمې چې احساسات او عواطف څرګندوي، په نښه کړه.

۱. د 2015 په مې میاشت کې دوه داسې ناروغان زموږ روغتون ته راغلل چې عمرونه یې تر دېرشو کم وو خو د زړه حمله ورباندې راغلې وه. د دې ځوانانو په کورنیو کې چا د زړه حمله نه وه تېره کړې معنا دا چې فامیلي تاریخچه یې منفي وه؛ سګرېټ یې نه څکول؛ د لوړ فشار سابقه یې نه درلوده؛ د شکرې ناروغي او د زړه د ناروغیو لپاره نور ریسک فکټورونه یې نه درلودل. دواړه ورزشکاران (باډي بېلډران) وو. د زړه حمله ځکه ورباندې راغلې وه چې سټیروییدي هورمونونه یې کارولي وو.

۲. د 2015 په مې میاشت کې دوه داسې ناروغان زموږ روغتون ته راغلل چې عمرونه یې تر دېرشو کم وو خو په خواشینۍ سره باید ووایم چې د زړه حمله ورباندې راغلې وه. د دې ګلالیو ځوانانو په کورنیو کې چا د زړه حمله نه وه تېره کړې معنا دا چې فامیلي تاریخچه یې منفي وه؛ له ښه مرغه سګرېټ یې نه څکول؛ د لوړ فشار سابقه یې نه درلوده؛ شکر د شکرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناروغي او د زړه د ناروغيو لپاره نور ريسک فکټورونه يې نه درلودل. د حيرانۍ خبره دا وه چې دواړه ورزشکاران (باډي بيلډران) وو. خو له بده مرغه د زړه حمله ځکه ورباندې راغلې وه چې دوی بې پروايي کړې وه او سټيرويډي هورمونونه يې کارولي وو.

**دوهم فعاليت:** دغه پراګراف ولوله او بيا يې له سره داسې وليکه چې احساساتي خبرې په کې نه وي.

په افغانستان کې تر ټولو زياتې وحشي ترهګرې ډلې فعاليت کوي. دغه بې رحمه ډلې په هر ځای کې د بې ګناه خلکو وينې تويوي. دوی په خورا بې رحمۍ سره په ښارونو، بازارونو، ورزشي ميدانونو، د جنازې په مراسمو او په لارو او سړکونو کې بمونه ښخوي او ځانمرګي بريدونه کوي. له بده مرغه دوی دغه وحشيانه عملونه په دين توجيه کوي. دوی د قرآن کريم مبارک آيتونه او د حضرت محمد (ص) حديثونه په خپله خوښه تعبيروي او خپلو جنايتونو ته تش په نامه ديني دليلونه راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دريمه برخه

# ۳. ادبي ژانرونه

ادبي ژانرونه له لويه سره په دوه ډوله دي: تخيلي او غيرتخيلي. تخيلي ژانرونه واقعـي پېښـې نه بيانوي، بلکې ليکوال يې پـه تخيـل کـې پنځـوي، لکـه: شـعر، لنـډه کيسـه، ادبي ټوټـه، ډرامـه، سناريو، او ناول. که واقعي پېښې هم راواخلي د ليکوال/ شاعر تخيل بـه خامخـا پـه کـې ګـډ وي او نړه واقعيت هېڅکله تخيلي ژانر نه ګڼل کېږي. غيرتخيلي ژانرونه بيا د هغو پېښـو خـبره کـوي چـې په واقعيت کې کټ مټ هماغسې پېښې شوې دي. د هرې واقعي پېښې بيانول صـداقت غـواړي او ليکوال بايد له ځانه په کې څه کم يا زيات نه کړي؛ البته ليکوال کولی شي هغـه څـه تـرې وبـاسي چې د چا ژوند يا شخصيت ته تاوان رسوي. پـه غيـرتخيلي ژانرونـو کـې خـاطره، يونليـک، خاکـه يـا طرحه، ژوندليک او خپل ژوندليک لرو.

## ۳. ۱. غير تخيلي ادبي ژانرونه

### ۳. ۱. ۱. خاطره Memoir

خاطره د ژوند هغه مهمه، جالبه او په زړه پورې پېښه ده چې انسان غـواړي لـه نـورو سره يـې شريکه کړي. د هر انسان ژوند يوه بېله دنيا ده. هر څوک په ژوند کې سړې تودې وينـې؛ خـوږې او ترخې تجربې کوي؛ له نورو انسانانو او له طبيعت سره تعامل کوي او په دې منځ کې ځينې داسـې پېښې ورپېښېږي چې پر عواطفو يـې ژوره اغېـزه کـوي او همـدا د خـاطرو مـواد برابـروي. انسـان د کنجکاوۍ حس لري او غواړي چې د هر چا د ژوند په کيسې خبر شي نو همدا وجـه ده چـې د هـر چا خاطرې ارزښتمنې دي. ځينې سياستوال، فلمي ستوري، هنرمندان، ليکوال، او پوهـان خپلـې خاطرې ليکي. خلک د دوی خاطرې د دوی د شهرت په خاطر لـولي. د چـارواکو او سياسـتوالو پـه خاطرو کې ځينې داسې خبرې وي چې د ملت او وطـن د تـاريخ لـوری يـې بـدل کـړی وي خـو پـه رسمي اسنادو کې نه وي خپـرې شـوې نـو دا ډول خـاطرې تـاريخ ليکونکـو تـه خـام مـواد پـه لاس ورکوي. البته طبيعي ده چې اکثره سياستوال او چارواکي واقعيتونه نه، بلکـې د واقعيتونـو تحريـف

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې بڼه په خپلو خاطرو کې ليکي. دوی د خپلو غريزي غوښتنو له مخې په واقعيتونو کې انتخاب او تحريف کوي. مثلاً که د جنرال نبي عظيمي کتاب «اردو او سياست» ولولې نو گورې چې ببرک کارمل يو ډېر مدبر، پوه، تکړه او بې عيبه سياستوال دی خو ډاکټر نجيب او نور ټول مشران سل عيبونه لري؛ همدارنگه په دې کتاب کې پخپله نبي عظيمي د يوه عالي شخصيت او وطنپاله جنرال په توگه ښکاري خو د دوی په اړه د نورو کتابونه بيا داسې نه وايي؛ مثلاً د روسي جنرال گروموف په کتاب کې کارمل يو دايم الخمره، کمزوری او ناپوه هېوادمشر راپېژندل کېږي. څېرک مؤرخ پوهېږي چې څنگه د دغو متناقضو او متفاوتو خبرو له منځه نسبي حقيقت کشف کړي او عام لوستونکی هم بايد خاطرې او بل هر اثر په انتقادي نظر ولولي او هره خبره يې په پټو سترگو ونه مني. د ښاغلي باز محمد عابد يوه خاطره به ولولو. د لوستلو په وخت کې هغو کلمو او جملو ته ځير شئ چې تر لاندې يې کرښې ايستل شوې دي.

## له هر چا سره پنج، خو له ما سره نه پنج

د ۱۹۸۷ م کال خبره ده. تازه په تازه پېښور ته کډوال شوی وم. يو څه اندازه پيسې چې مې له کوره وړې وې، هغه رانه په څو ورځو کې د پښتو فيلمونو په ليدو مصرف شوې او مياشت مې لا پوره شوې نه وه چې بې خرڅه شوم. کورنۍ مې په وطن کې وه. له ماما سره په کور کې اوسېدم. بل هېڅ کار مې نه و. يوازې د کور سود سودا به مې له بازاره راوړله او نور به شپه ورځ په حجره کې پروت وم. غټ تور او سپين ټلويزيون راته لگېدلی و. هاغه وخت پاکستان کې يوازې يو چينل و چې پي ټي وي يې ورته ويلو. ډېر وخت به په کې د عمران خان د کرکټ سريز مېچونه لگېدلي وو. بې روزگارۍ تنگ کړم. په صدر شفيع مارکېټ کې زموږ کليوالو يو نيم مارکېټ کې د رختونو دوکانونه نيولي ول. د يوه کليوال په هڅو د يوه مارکېټ چې تر شلو دوکانونو پورې په کې وو، د دوکاندارانو د اوبو د ترماسونو د ډکولو او چای والو ته د چای، کاوې د فرمايش ورکولو، نوکري راته پيدا شوه. د مياشتې زر روپۍ يې راته ټاکلې وې. په کوم مارکېټ کې چې زه نوکر وم، د يوې مخې به په کې ښځينه رختونه خرڅېدل. هسې خو زه د ټول مارکېټ نوکر وم خو ډېر کار به رانه هغه کليوال اخيسته چې ما ته يې نوکري ليدلې وه. د دې کليوال د چای او اوبو د خدمت نه علاوه، د رختونو د گزولو او خريدار سره تر موټر پورې رسولو ذمه واري هم زما په غاړه وه. دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار ته به زه ډېر خوشحاله کېدم ځکه چې د پېښور مالداره ښځې ډېرې زړه سواندې وې او چې چا سره به مې هم د رختونو غوټه تر موټره رسوله، شل دېرش روپۍ به یې راته په گوتو کې کېښودلې. د ورځې به مې تر سل دوه سوه پورې له دغه مهربانۍ له امله هم لاسته راتلې. خو دا پیسې به راسره زما کلیوال دوکاندار نیمایي کولې او دلیل دا و چې زه یې د هغه له برکته گټم. یوه ورځ یوه مالداره ښځه په دوکان کې په کرسۍ ناسته وه. ښې ډېرې ټوټې یې اخیستې وې. د صدر په دې گڼ بازار کې به هره ورځ ماسپښین درې تنه ړانده چې لاسونه به یې سره کړي کړي ول، تېرېدل او په گډه ترنم سره به یې ویل چې:

دروميي حنظله، پاتې کېږي نه، غزا کوي
څومره بختور دی، ټول عالم یې تماشا کوي
دروميي حنظله

زما د کلیوال په دوکان کې یوه مالداره ښځه په څوکۍ ناسته وه او ښې ډېرې ټوټې یې اخیستې وې. د مالدارۍ مېرمن پام یې ورواړاوه، خوا یې پرې بده شوه. د سلو لوټ یې راوایسته او ما ته کړه: بچیه! دا لوټ خو دې ړندو ته ورکړه.

په دې وخت کې خدای خبر ولې ما خپل کلیوال دوکاندار ته وروکتل او هغه راته له مخې سره په سترگو کې وویل چې ورځه خو پیسې ترېنه جېب ته کړه. سر مې د افسوس په ډول وښوراه. د ړندو په لور روان شوم او په سر کې چې کوم روان و، هغه ته مې په گوتو کې لوټ کېښودو او ورته مې وویل چې دا یوې ایماندارې بي بي راکړو، دوعا ورته کوئ.

ړندو یارانو ترنم پرېښودو او یو بل ته یې د سلو لوټ د لاس ته راوړلو مخابره په ټوخي کې وکړه. ماښام چې راځخه زما د جوالیتوب په پیسو کې زما کلیوال دوکاندار برخه غوښته نو اویا او که اتیا روپۍ مې ورته ونیولې. هغه یې راځخه واخیستې او راته غبرگه کړه چې پچاس روپۍ ورسره کړه.

ما وې: د څه شي؟

ویل یې: ولې، د ړندو هغه حق به ځان له هضموې؟ سوال نه پیدا کېږي، شابه پچاسې راوباسه که نه سبا ته مارکېټ ته بل څوکیدار راولم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ما له مجبورۍ ورځې مې له خپله جېبه پنځوس روپۍ چې نن يې ځای پنځه سوه روپو نيولی، د کليوال په ګوتو کې کېښودې.

او ورسره سم يې راته کړه: دلته چې کار کوې نو ما سره به په ايمانداری چلېږې که نه خير دې نشته. هر څا سره پنج، پنج خو ما سره نه پنج. څه پوه شوې؟

[د باز خاطرې، باز محمد عابد، ۱۳۹۲، خپرندوی پخپله ليکوال]

**لومړی فعاليت:** د متن هغه ځايونه چې په نښه شوي دي، يو ځل بيا په ځير ولوله او د دې پوښتنو ځوابونه وليکه:

۱. دا جمله چې د خاطرې ليکوال وايي: «يو څه اندازه پيسې چې مې له کوره وړې وې، هغه رانه په څو ورځو کې د پښتو فيلمونو په ليدو مصرف شوې.» د ليکوال په اړه څه تصور درکوي؟

۲. ولې ليکوال د خپل «کليوال دوکاندار» نوم نه دی ياد کړی؟

۳. د «ايمانداري بي بي» عبارت ولې په نښه شوی دی؟

۴. «دلته چې کار کوې نو ما سره به په ايمانداری چلېږې که نه خير دې نشته. هر چا سره پنج، پنج خو ما سره نه پنج. څه پوه شوې؟» د دې جملې تر ظاهري معنا ورهاخوا، څه معنا اخلې؟

## د خاطره ليکلو اصول

- خاطرې بايد په زړه پورې وي.
- نثر يې روان، واضح او ښايسته وي.
- په خاطره کې بايد ډېرې اضافي خبرې نه وي او يوازې هغه څه بايد بيان شي چې له موضوع سره نېغه اړيکه لري او يا د کرکټرونو يا پېښې په مجسم کولو کې مرسته کوي.
- د خاطرو تر منځ انتخاب مهم دی. هغه خاطرې چې ممکن د چا شخصيت يا ژوند ته خطر پېښ کړي، د ليکلو نه دي. د ښاغلي باز محمد عابد په خاطره کې وينئ چې د هغه «کليوال دوکاندار» سم غل دی. هغه د ليکوال د بخششي پيسو نيمايي ځان ته اخلي او ان د هغې پيسې غلا کوي چې يوې مېرمنې ړندو دروېزګرو ته ورکړې وې. خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



عابد صاحب د هغه نوم نه اخلي او «کليوال» يې بولي. دا د خاطره ليکونکي اخلاقي دريځ راښيي چې نه غواړي هغه رسوا کاندي.

● خاطره بايد صادقانه وليکو، لکه عابد صاحب چې وايي: «يو څه اندازه پيسې چې مې له کوره وړې وې، هغه رانه په څو ورځو کې د پښتو فيلمونو په ليدو مصرف شوې.» دی له ځانه کوم بزرگ او ولي نه جوړوي، بلکې رښتيا خبره کوي چې پيسې مې په سينماګانو کې لاړې. که څوک په خپلو خاطرو کې لکه جنرال نبي عظيمي ځان يو مخ ښه، پوره او تکړه معرفي کړي، پر لوستونکو ښه نه لګېږي. واقعيت دا دی چې هېڅوک هم پوره نه دي. هر څوک ځينې خامۍ او نيمګړتياوې لري، نو بايد ځان هماغسې وښيي چې دی. البته هر څوک ځينې داسې رازونه لري چې نه غواړي هېڅوک پرې خبر شي. لوستونکي له چا څخه دا تمه نه لري چې هره خبره دې ورته وکړي، خو دا تمه ورنه کوي چې که کومه خبره ورته کوي، صادقانه دې يې وکړي.

● که په خاطره کې مو داسې څه وي چې فکر کوئ په خاطره کې ياد شوی کس خپه کوي، له خپرولو مخکې يې ورسره شريکه کړئ او اجازه يې واخلئ. البته که د هېواد او ملت د برخليک خبره وي، که مو څوک په خيانت ليدلي وي، هغه بيا اجازه نه غواړي ځکه که اجازه هم وغواړئ، نه يې درکوي. خو ليکوال بايد اخلاقي وي او په هېچا پسې دروغ او بهتان ونه وايي.

● ظريفې ټوکې او هنرمندانه طنزونه د خاطرې خوند زياتوي. د ښاغلي عابد په خاطره کې د هغه د کليوال دوکاندار خبره او عمل په خپلو کې ټکر لري او دغه ټکر طنز جوړوي. «دلته چې کار کوې نو ما سره به په ايمانداري چلېږې که نه خير دې نشته. هر چا سره پنج، پنج خو ما سره نه پنج. څه پوه شوې؟» هغه د ايماندارۍ خبره کوي خو پخپله بې‌ايماني کوي. هغه چې پخپله له هر چا سره دوکه کوي، فکر کوي چې نور به هم د ده غوندې وي. دغه تناقض ظريف طنز پيدا کوي.

● په خاطره کې مو بې‌ځايه تبصره او قضاوت مه کوئ. عابد صاحب په دې خاطره کې خپل کليوال نه غل بولي، نه بې‌ايمانه؛ هغه دا صفتونه د دوکاندار په اعمالو کې راښيي (که دې په ياد وي د کتاب په لومړۍ برخه کې دې د دې تخنيک تمرين کړی و).

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکوال د خاطرې په پای کې هم کومه تبصره نه ده کړې او تبصره یې لوستونکو ته پرې اېښې ده. باز محمد عابد چې تکړه کیسه لیکوال دی، پوهېږي چې لوستونکو ته باید د فکر کولو، قضاوت او تبصرې چانس ورکړي. په دې توګه لوستونکي د کیسې یا خاطرې په بشپړولو کې ځان شریک احساسوي او لا زیات خوند ترې اخلي.

**دوهم فعالیت:** خپله یوه جالبه خاطره ولیکه. په خاطره کې دې د اشخاصو له پاره صفتونه لکه تکړه، سخي، کنجوس، خیرمن، غل ... مه کاروه، بلکې د هر چا صفت د هغه په اعمالو کې وښیه.

### ۳. ۱. ۲. یونلیک/ سفرنامه Travelogue

یونلیک د سفر خاطرې، ګزارش او معلومات دي. سفر که لنډ وي که اوږد، لرې وي که نږدې په دې ارزي چې یونلیک ورباندې ولیکل شي. ځینو لیکوالو ان له یوه ولایت څخه بل ولایت ته د سفر یونلیکونه هم لیکلي دي. مهمه دا ده چې خلکو، ښېښو، ځایونو، او دودونو ته په غور سره وګورو. سترګور مسافر په یوه ځای کې هغه څه ویني چې عام او ځایي خلک یې نه ویني. دی په عادي شیانو کې جذابیت پیدا کوي. څه مو چې د خاطرې د اصولو په برخه کې وویل، د یونلیک لیکلو لپاره هم هماغه خبرې دي خو پر هغو سربېره، په یونلیک کې دغه موردونه هم مهم دي:

⇐ لیکوال د سیمو، ودانیو، خلکو او نورو پدیدو په باره کې معلومات هم خپروي چې دغه معلومات باید دقیق او معتبر وي.

⇐ له یونلیکونو څخه کله کله د تاریخي منبع په توګه کار اخیستل کېدای شي. نن سبا زموږ د وطن د پخواني تاریخ او جغرافیا په اړه د معلوماتو ډېره برخه د هغو چینایي زایرانو له یونلیکونو اخیستل کېږي چې زر - یونیم زر کاله مخکې دې وطن ته راغلي وو. که هغوی یونلیکونه نه وای لیکلی، نن به مو د خپل وطن په اړه معلومات لا ډېر کم وو. نو په دې لحاظ هم د معلوماتو او مشاهدو دقیق بیان لازمي دی.

⇐ لیکوال معمولاً هغه شیان په یونلیک کې لیکي چې د ده له سیمې، خلکو، دودونو او فرهنګ سره متفاوت وي؛ یا دا چې نوي او یا عجیب او په زړه پورې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



⇐ ښه او بد په مختلفو فرهنگونو کې متفاوت وي نو ځوک چې یونلیک لیکي، باید د کامرې غونډې عکسونه او فلمونه واخلي او لوستونکو ته یې وړاندې کړي خو قضاوت هغوی ته پرېږدي، نه دا چې پخپله د قضاوت تله په لاس کې واخلي.

⇐ وايي چې مهذب هغه څوک دی چې په هېڅ ځای کې ځان پردی نه احساسوي. یعنې مهذب انسان دومره پراخ لید لري چې که د بل په کلتور کې هر څومره عجیب شی هم ووینې، بد رد ورپسې ونه وايي. د یونلیک لیکوال باید مهذب وي او د هېچا فرهنګ، دین، مذهب، رنګ او بڼې ته په سپکه سترګه ونه ګوري.

⇐ که په سفر کې بل ملګری هم درسره وي، نو د هغه رازونه به نه افشا کوې. که په یونلیک کې د هغه په اړه داسې څه لیکې چې فکر کوې، هغه به خپه کړي نو لیکنه دې ورته وښیه او که یې خوښه وه، بیا یې خپره کړه.

⇐ د یونلیک د لیکلو لپاره د توصیف، صحنې، مکالمې، مقایسې او توضیح تخنیکونه په کاریږي.

ارواښاد صدیق الله رښتین چې په ۱۳۲۹ کې د پښتون جرګې په بلنه د ایران په لاره هندوستان ته تللی و، «د هند سفر» په نوم یونلیک یې لیکلی و. دلته به یې یوه برخه ولولو او بیا به یې وارزوو.

**بصره**

دا هغه ځای دی چې یو وخت د اسلامي تهذیب او مدنیت لوی مرکز و مګر بې له نامه نور څه نه دي ورپاتې. مونږ په بصره کې «فندق الاعیان» نومي هوټل کې دوه شپې تېرې کړې او لږ ډېر مو د بصرې وضعیت او حالت له نظره تېر کړ. په بصره کې نوی او زوړ تهذیب ګډوډ لیدل کېږي. عربي او اروپايي لباس دواړه په کې شته، دلته هم د ایران غونډې ټکسي موټرونه ډېر دي. په بصره کې ځای په ځای ځینې ښه ښه عمارتونه لیدل کېده مګر د دننه ښار وضعیت یې بې خونده او په تېره د پاکۍ نظافت په لحاظ ډېر وروسته و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بصرې په دننه بازار کې د عربو ښځې سابه او نور شيان خرڅوي او په ډېر بد حالت ليدل کېږي. سوالګر هم ډېر دي. ټکسي والا خو بيخي شوکې ته ناست دي چې يو نابلد سړی پرې پېښ شي نو پوټکی ترې وکاږي.

په بصره کې مازديګر مهال د شط العرب د غاړې ننداره د ليدو ده. مازديګر شط العرب غاړې ته راووتو. د ونو په منځ کې يو څو بېړۍ ولاړې وې. زمونږ د پاره له دې نه بل لوی سيل نه و ځکه چې دغسې يو عجيب شی مو کله نه و ليدلی. سترګو خو په ظاهر کې سيل او تماشه کوله مګر د زړه او دماغ په مخ کې خپګان او تأثر پر دې اوړېدې را اوړېدې ځکه د شط العرب د چپو په مد و جزر کې د اسلام د مد و جزر افسانې لوستل کېدې او داسې برېښېده چې د عربو پخوانی مدنيت او تهذيب نن د اوبو په مخ د کرښې مثال لري.

په بصره کې سينماګانې او تياترونه هم شته. سينماګانو ته ښځې او نر يو ځای درومي. عجيبه لا دا ده چې ښځې مخ پټې هم ورځي. په دغو ورځو کې په بصره او ټول عراق کې د عراق د ملکې يعنې د موجوده دوهم امير فيصل د مور د مړينې په وجه لوی ماتم و نو ځکه تياترونه بند وو.

مونږ په بصره کې د سعودي عربستان قونسلخانې ته د ويزې اخيستلو لپاره هم لاړو ځکه چې د «ټي ډبليو اي» امريکايي شرکت الوتکې له بصرې نه د ظهران په لار بمبۍ ته ځي او ظهران د سعودي عربستان په خاوره کې د الوتکو ميدان دی نو په دې وجه د دغه مملکت د ويزې اخيستل هم ضروري وو.

قونسل ښه اخلاقي سړی و او زمونږ سره يې درنه وضع وکړه. د ده په ځای کې د يوه مسلم ليګي سره په بحث واوښتو. ده پاکستان يو لوی اسلامي مرکز باله او د اتحاد اسلام سندرې يې ويلې. مونږ ورته وويل چې د اسلام د اتحاد مرکز جزيرة العرب او مکه معظمه کېدای شي، نه پاکستان. په پاکستان کې د اسلامي مرکزيت صفتونه نشته نو ځکه هغه د مرکز کېدو حق نه لري. په پاکستان کې د پښتنو مسلمانانو سره ډېر ظلمونه کېږي او د دوی جايز حق نه ورکول کېږي. وخت لږ و. مونږ راپاڅېدو او دی نور غلی شو.

[د هند سفر، صديق الله رښتين، دوهم چاپ، مومند خپرندويه ټولنه، ۱۳۹۴]

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړی فعالیت:** د اروابناد رښتین د یونلیک راخیستل شوې برخه یو ځل بیا ولوله او د دې پوښتنو ځوابونه ولیکه.

۱. د بصرۍ په اړه کوم عمده ټکي بیان شوي دي؟

۲. د توصیفي بیان تخنیک ته په کتو سره، لیکوال د ځایونو په ښه بیانولو کې څومره بریالی دی؟

۳. د بصرې په اړه د لیکوال له خبرو څه معنا اخلې چې کابل او د هېواد نور ښارونه به هغه مهال په کوم وضعیت کې وو؟

۴. د دې متن تر ټولو ښکلې جمله کومه ده؟

**دوهم فعالیت:** که دې سفر کړی وي، د خپل سفر خاطرې دریادې کړه او فکر وکړه چې څه شی په کې متفاوت، عجیب، نوی یا په زړه پورې و. بیا یې په یوه مقاله کې بیان کړه. د توصیف، مکالمې او صحنې هغه تخنیکونه په کې وکاروه چې د کتاب په لومړۍ برخه کې دې زده کړي دي. همدارنګه د مقایسې او توضیحي پراګراف لیکلو چلونو نه هم کار واخله.

**درېیم فعالیت:** خپل لیکلی متن ولوله او دغو پوښتنو ته ځواب ووایه.

۱. هغه ځایونه چې ستا په متن کې معرفي شوي دي؛ د لوستونکو سترګو ته درېږي؟ د ځایونو توصیف د مخاطب مختلفو حواسو (لیدلو، اورېدلو، بویولو، څکلو، لمس کولو) ته خطاب کوي؟

۲. د اشخاصو شخیصتونه د هغوی په اعمالو کې ښودل شوي دي که په صفتونو (مېړنی، مېلمه پال، کنجوس، غوسه ناک ...) کې؟

۳. په متن کې مبهم صفتونه او ګونګ قیدونه راغلي دي؟

۴. په لیکنه کې دې د چا سپکاوی شوی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۳. ۱. ۳. خاکه یا طرحه/ Literary Sketch

خاکه د یو کس هنري معرفي ده چې له بایوګرافي څخه متفاوته ده. په ژوندلیک یا بایوګرافي کې د یو چا له زیږېدو څخه تر دې مهاله یا د هغه تر مرګه پورې عمده ژوند پېښې، کارونه، زده کړې، کار و بار او شخصیتي ځانګړنې سپړل کېږي خو په خاکه کې د هغه د کړو وړو او شخصیت یو کُلي تصویر وړاندې کېږي چې په دې کې د لیکوال برداشت او قضاوت هم شامل وي. یعنې د خاکې لیکوال یو څوک له خپل لیدلوري راپېژني. په دې لحاظ خاکه یوازې د هغو کسانو په اړه لیکلی شو چې کافي وخت مو ورسره تېر کړی وي او د هغوی خوی بوی رامعلوم شوی وي. د خاکي د لیکلو پر مهال هم هماغه اخلاقي ټکي چې د خاطرې او یونلیک په برخه کې یاد شول، باید په پام کې ونیول شي. د توصیف، مکالمې او کرکټر کښنې تخنیکونه د خاکې د لیکلو لپاره په کارېږي. په پښتو کې تر هر چا زیاتې خاکې استاد اجمل ښکلي لیکلې دي. دلته به د هغه د خاکو له کتاب «اوبه خلک» څخه یوه خاکه رانقل کړو.

**چې څومره پاس دی، دومره لاندې دی**

هئ، چې ناکردې یې یادوم، ژړا راځینه. په ونه لنډ پنډ لکه د کیکر بوټی. سترګې دومره شنې چې د سړي ترې وېره وشي خو چې درمعلوم شو، زړه به دې پرې خوږ شي.

ړیره یې دومره سوچه چې په کال کې اوبه نه ورښیي چې هسې نه سوچتوب ته یې نقصان ورسېږي. په پوکي یې ساتي. یو ځل ترې کوم ماشوم یو تار ایستی و، تر اوسه یې په زړه نېغ ولاړ دی. زه خو وایم چې که د طلباوو برادرانو حکومت راغی، ده ته به په دې ړیره تقدیرنامه ورکړي چې دا دومره دیموکراسۍ لاړې راغلې خو دا لکه ونه مستقیم په خپل مقام ده.

د ثواب له نیته خو به یې خدای خبر وي خو چې ما اورېدلي سوچه ړیره یې په دې خوښه ده چې تر آخره نه سپینېږي او اننګي دې لکه د زلمي هلک همغسې ښویه وي.

ړیره خو یې څه کوي، په فکر یې هم دې ظالمې دیموکراسۍ کرښه نه ده راښکلې. همغسې وچ زیړ ملا، اوس هم سپوږمۍ ته د انسان تګ نه مني. څرنګه چې دی غنمرنګ دی او سپینې جامې اغوندي، دغسې ورته دنیا هم بلېک اینډ وایټ ښکاري. دومره وچ کلک ذهنیت لکه د الجبر کتاب. د ۲+۲ ځواب یې په کتاب کې هرو مرو ۴ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مذهبي نظر يې دومره نېشدار دی چې پر موږ غونډې پاکو سپېڅلو مسلمانانو هم شک کوي. تر لس کلنو دموکراتيکو تجربو؟! وروسته هم همغسې کټر تبليغي دی. ويس قرني او عبدالقادر جېلاني له عبدالوهاب او طارق جميل صاحب سره نه برابروي.

مسلک خو يې هسې زراعت دی خو ملاييت ورته خوند ورکوي. په زراعت کې دومره وارد دی چې په خربړو کې هم ورته نر او ښځه معلوم دي. څو کتابه يې په دې اړه په پښتو کې په پارسي ليکلي دي. ما ته يې يو ځل د ابډېټ لپاره يو کتاب رالېږلی هم و. خو زما وس پرې بر نه شو او کتاب همغسې شير و شکر پاتې شو.

يو ځل يې نيمه شپه په خوست کې يو پښتانه ډاکټر ته ټيلفون وکړ چې «ډاکټر صاحب امی سوزن (ده ويل چې گنې په دري کې به هم پيچکارۍ ته سوزن وايي) ديکلوپينيک د رگ زده ميشه يا د گوش؟»

چې په ټوکو کې دې چو کړي، داسې لکۍ واله خنداره درپسې وکړي چې له زړه دې بوټه ووځي خو چې درته چو شو، بيا يې نو ډزوه.

د سخاوت خوی يې جنډې ولاړې دي. چې موټر کې کرايه هم ورکوي، استخاره ورته کوي.

خو دوه کماله يې ټولو منلي. يو يې په علميت کې خبره نه کېږي او بل په تقوا کې. دومره عالم دی چې زه وايم که د کرنې وزير شي، ملک به گل گلزار کړي او دومره تقوادار دی چې د امريکا (يو اس ايډ) په پيسو کې هم خيانت نه کوي.

استاد ستار خليل چې هر چېرته وي، زموږ يار دی. خدای دې يې راته ژوندی گرځندی لري.

**لومړی فعاليت:** پورتنی متن يو ځل بيا ولوله او دغو پوښتنو ته ځوابونه وليکه.

۱. په خاکه کې د معرفي شوي کرکټر درې عمده ځانگړنې څه دي؟

۲. د ليکوال کومه خبره جدي ده او کومه ټوکه؟

۳. د کرکټر په ځانگړنو کې کوم شيان سره په ټکر کې دي؟

۴. د متن په کومو جملو کې د طنز مالگه وينې؟

**دوهم فعاليت:** داسې يو څوک درياد کړه چې وخت دې ورسره تېر کړی وي او کړه وړه يې درته عجيب، جالب، يا خوندور ښکاره شوي وي. د کرکټرکښنې، توصيف، مکالمې، صحنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تخنيکونو ته په پام سره هغه معرفي کړه. (کـه دې دا تخنيکونـه هېر وي، يـو ځـل بيـا د کتـاب لومړۍ برخه ولوله)

**درېيم فعاليت:** اوس خپله خاکه ولوله او دې پوښتنو ته ځواب ووايه.

۱ . کرکټر دې د لوستونکو سترګو ته درېږي؟ د هغه ظاهري بڼه دې ښه انځور کړې ده؟

۲ . د کرکټر په اړه دې هر څه سم او ريښتيا ويلي دي که خبره دې کمه زياته کړې ده؟

۳ . د کرکټر خبرې دې کټ مټ راخيستې دي که ادلون بدلون دې په کې راوستی؟

۴ . خاکه به دې لوستونکو ته په زړه پورې وي؟ يـوه نيمـه ټوکـه ټکالـه پـه کـې شـته کـه ټولـه وچې خبرې دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۳. ۱. ۴. ژوندلیک Biography

په ژوندلیک کې د یو چا د ژوند کیسه کېږي خو د خاکې برخلاف، د لیکوال قضاوت او نظر په کې شامل نه وي. د ځینو کسانو ژوندلیک د هغوی په ژوند کې لیکل کېږي او دا معمولاً د وخت مشهورې څېرې لکه فلمي ستوري، سندرغاړي، سیاستوال، د ورزش اتلان او نور وي. لیکوال د داسې کسانو ژوندلیک په دې لیکي چې خلک یې خوښوي خو دا چې هغوی پخپله د لیکوالۍ تجربه او مهارت نه لري نو په یوه تکړه لیکوال دا کار کوي. په هغو ملکونو کې چې کتابونه ښه خرڅېږي لیکوال د داسې کتابونو په خرڅولو سره ښې پیسې ترلاسه کوي او ورسره یې شهرت هم زیاتېږي. د ژوندیو کسانو د ژوندلیک لیکل نسبتاً آسانه په دې دي چې لیکوال ته مواد او معلومات په آسانۍ سره پیدا کېږي او که هره پوښتنه ورته پیدا شي، له هغه کس څخه یې پوښتلی شي چې دی یې ژوندلیک لیکي. د ځینو مهمو پخوانیو خلکو ژوندلیکونه بیا کلونه او ان پېړۍ وروسته لیکل کېږي. دا کار ستونزمن دی ځکه چې لیکوال مجبور وي ډېر کتابونه مطالعه کړي؛ د هاغه زمانې چې دا کس په کې اوسېده، سم تصور په ذهن کې جوړ کړي او باید ډېرې پلټنې وکړي چې د هغه کس په اړه معلومات پیدا کړي. له ډېرې هڅې سره سره، بیا هم ممکن د هغه کس د ژوند ځینې ګوټونه تیاره پاتې شي. ژوندلیکونه کېدای شي لنډ او یوازې یو څو مخه وي او کېدای شي د ناول په اندازه اوږد وي. زموږ اکثره لیکوال چې د چا ژوندلیک لیکي، معلومات په کې یوستوي لیکي. پلانکی په دې نېټه په دې ځای کې وزېږېد، له دې مکتب څخه فارغ شو، دغه دغه دندې یې ترسره کړې او دغه آثار یې ولیکل او په دې کال کې مړ شو. د ژوندلیک دا بڼه لوستونکي ستړي کوي. تکړه لیکوال بیا د چا ژوندلیک له یوې جالبې پېښې یا د هغه کس په اړه له یوه په زړه پورې معلوماتو څخه پیلوي. دلته به د «نامتو مفکران، لیکوال او شاعران» له کتاب څخه چې کرستینه سولخ – رایس لیکلی او آغلې اناهیتا روهي ژباړلی دی، یوه نمونه راواخلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ايمانويل کانټ (Immanuel Kant)

## هڅه وکړه چې په خپله فکر وکړې

زېږېدنه : ۲۲ـ ۴ـ ۱۷۲۴ کونيگسبېرگ ( اوسنی کالينگراد)

مړينه : ۱۲ـ ۲ـ ۱۸۰۴ کونيگسبېرگ

لکه څنگه يې چې ورځنۍ گرځېدا منظمه وه، همداسې يې د ژوند هر کار منظم او د ساعت له ثانيې او دقيقې سره برابر و. هر سهار به پوره پينځلس کم پينځه بجې (مارتين لمپه) د ده کوټې ته راننوت او دی به يې له خوبه راويښ کړ. مارتين د ايمانويل يوازينی خادم و. ده به دوې پيالې چای او يو سيگار د درس په خونه کې، ايمانويل او د ده يوه زده کوونکي ته تيار کړي وو. د دوی درس به پوره دوه ساعته دوام کاوه.

په اووه بجو به پوره سل تنه زده کوونکي د ايمانويل د کور په لاندني سالون کې راټولېدل. ده به دوه ساعته دوی ته په بېلابېلو موضوعاتو لکچر ورکاوه. په نهه بجو به د فکر کولو لپاره د کار کوټې ته ننوت. د دې کوټې پر ديوالونو يوازې د ژان ژاک روسو يو انځور راځوړند و چې د ده يو دوست ورته ډالۍ کړی و.

پوره پينځلس کم يوه بجه به ايمانويل، آشپزې ته ورغږ کړ چې وخت درې پاوه اوښتی دی. د ده له غږ سره سم به د مېز پر سر ډوډۍ تياره وه. د غرمې له ډوډۍ وروسته به ايمانويل تر ځلورو بجو پورې مطالعه کوله. د مازيگر له څلور بجو څخه تر اووه بجو پورې به په خپله کوڅه کې کښته او پورته روان و. تر اووه بجو وروسته به يې د مهال وېش په ليدو يا له دوستانو سره کتل او يا به يې هم ځينو زده کوونکو ته درس ورکاوه. لس بجې به نوموړی پروفيسر په بستره کې پروت و.

ايمانويل کانت د خوب د کوټې اورسۍ د ورځې له خوا هم نه خلاصولې. يو وخت يې د تازه هوا لپاره کړکۍ خلاصه کړې وه. د شپې له خوا چې څملاست، ټول بالښت يې د ونو له وړو حشراتو ډک و. ده هماغه ځل مارتين ته ويلي وو چې دا ستا گناه ده ځکه چې نظافت سم نه ساتې. مارتين څلويښت کاله د ايمانويل خدمت وکړ. که هر څومره ده ايمانويل ونازوه، خو دی څنگه چې وچ کلک ډنگر و، هماغسې پاتې و. دی نه چاغ شو او نه غټ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایمانویل په یوه غریبه کورنۍ کې زېږېدلی و. مور او پلار یې یوولس اولادونه درلودل چې شپږ یې په هماغه وړکتوب کې مړه شوي وو. ایمانویل په یوولسو خویندو وروڼو کې څلورم ماشوم و چې د ۱۷۲۴ کال د اپریل په دوه ویشتمه په کونیگسبېرگ * کې وزېږېد. د ایمانویل مور (انا ریگینا) او پلار یې (گیورگ کانت) نومېده. ده له ځرمنو څخه تسمې جوړولې او د خرڅلاو له پیسو یې د خپلې کورنۍ خرڅ پوره کاوه.

ایمانویل په ۱۷۳۲ کال کې د مور، پلار او د دوی یو کشیش ملگري په ټینگار د فریدریش مذهبي جمنازیوم ته شامل شو. دا ښوونځی خورا سخت او درسونه یې ډېر وچ وو. هر سهار به درس په مذهبي مراسمو پیل کېده. د هر درسي ساعت یوه برخه به په دعاگانو تېرېده. ایمانویل د زړه په زور په دې ښوونځي کې ناست و. ده د هغه وخت خاطرې زړه بوږنوونکې بللې دي. ده د اته کلن ماشوم لپاره دومره قیودات د «ماشوم غلامي» گڼله. خو له همدې غلامۍ سره سره یې د لاتین ژبه او د بېلابېلو لیکوالو لیکنې او لکچرونه خوښېدل. په ۱۷۴۰ کال کې چې ایمانویل شپاړلس کلن و، د فلسفې، ریاضي او ساینس په برخه کې یې زده کړو ته مخه کړه. د ایمانویل مور دا هڅه کوله چې زوی یې کشیش شي. خو تر دې د مخه چې ایمانویل د خپلو زده کړو لار بدله کړي، مور یې مړه شوه.

ایمانویل د خپلو لوړو زده کړو د مصارفو د پوره کولو لپاره، نورو خلکو ته درس ورکاوه. ده د بېلیارد لوبه هم کوله. دی په بېلیارد کې دومره تکړه و چې څوک په آسانۍ دې ته نه حاضرېدل چې له ده سره لوبه وکړي. د ایمانویل یو بد عادت دا و چې ډېر الکهول یې څښل. ځینې وخت به داسې حالت ته ورسېد چې خپل کور به یې په ستونزو پیدا کاوه.

ایمانویل په ۱۷۴۶ کال کې لوړې زده کړې پای ته ورسولې او په همدې وخت کې یې پلار هم مړ شو. د ده هیله دا وه چې په کونیگسبېرگ کې پروفیسر شي. ده د راتلونکو نهه کلونو په اوږدو کې د کونیگسبېرگ په شتمنو کورنیو کې زده کوونکو ته درس ورکړ او له دې طریقه یې خپله ډوډۍ پیدا کوله. دا چې د ده ناسته او ولاړه له شتمنو او رسېدلیو کورنیو سره وه، دی هم د دوی له برکته خورا د لوړ کرکټر او عالي معاشرت خاوند شو.

ایمانویل له ونې ټیټ او له وجوده وچ و. خو د ده نیلي سترگو، منظمو جامو او عالي سلیقې د ده جذابیت ډېر کړی و. دی په خپلو خبرو ډېر حاکم و. نو ځکه یې د شتمنو کورنیو په منځ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګړی ځای درلود. که څه هم ایمانویل کانت له ښځو سره د خبرو په ظرافت او نزاکت ښه پوهېده، خو په خپله یې هېڅکله واده ونه کړ. ده په خپل ژوند کې یوازې یوې ښځې ته ځانګړی ځای ورکړی و چې هغه کارولینا (Carolina Charlotte Amalie Keyserling) نومېده. کارولینا د شاهي اکاډمۍ یوه فعاله غړې وه. دې په کونیګسبېرګ کې یو ډېر ښکلی کور درلود. په دې کور کې یې یتیمان او بې سرپرسته ماشومان ساتل. ایمانویل کانت دې ماشومانو ته درس ورکاوه. کله به چې کارولینا، ایمانویل ډوډۍ ته وروغوښت، نو دی به یې خپل ښۍ خوا ته کېناوه.

کانت په یودېرش کلنۍ کې په کورونو کې درس ورکول پرېښودل. ده د دوکتورا لپاره د میتافزیک د بنسټي پرنسیبونو په هکله او ورپسې یې په لاتین ژبه لیکنې وکړې. ده د همدې لیکنو په مرسته په یوه شخصي پوهنتون کې د استادۍ دنده ونیوه. ده ویل په ماشومتوب کې به مور راسره تر نیمو شپو ناسته وه. دې به د ستورو او آسمان په اړه خبرې راسره کولې. له هماغه وخته مې له آسمان سره مینه وه او د دوی د جوړښت په اړه به مې هر وخت فکر کاوه.

محصلینو د کانت له درسونو او لکچرونو سره مینه درلوده. دوی به په خورا لېوالتیا ورته ناست وو. کانت په هره برخه کې معلومات درلودل. ده د ریاضي، ساینس، جغرافیه، الهیات، پیداګوژي او فلسفې په برخه کې تدریس کاوه. ده به محصلین فکر کولو ته هڅول. دا خبره د ده شعار ګرځېدلې وه چې ویل به یې: «په خپله فکر وکړه!» د همدې جملې پر بنسټ یې خپل تر ټولو مشهور فلسفي اثر وکېښ. کومې پیسې چې کانت له محصلینو اخیستې، د ده د خرڅ او خوراک لپاره نه بس کېدې. بالاخره په ۱۷۶۵ کال کې چې دی یو څلوېښت کلن و، د لومړي ځل لپاره یوه رسمي دنده په کتابتون کې پیدا کړه.

که څه هم دا پیسې ډېرې لږې وې، خو د دایمي کار په توګه دی ورته خوشحاله و. کانت هېڅکله خپلې هیلې له لاسه ورنه کړې. ده تل غوښتل چې په پوهنتون کې د استاد په توګه درس ورکړي. تر پېنځلس کاله انتظار وروسته کانت په دې بریالی شو چې د منطق او میتافزیک په برخه کې د کونیګسبېرګ په پوهنتون کې پروفیسور شي.

په ۱۷۸۰ کال کې کانت د اکاډمۍ غړی شو او شپږ کاله وروسته د پوهنتون د ریاست مقام ته ورسېد. په ۱۷۸۸ کال کې د دوهم ځل لپاره د ریاست مقام ته ونومول شو. دا نو هغه مهال و چې دی د شهرت پولو ته رسېدلی و. ده ځان ته کور واخیست. د ده کور ته نږدې په همدې سیمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې یوه بندیخانه وه. ماښام به د بندیانو د مذهبي سندرو آوازونه رالوړ شول. کانت به شکایت کاوه چې دوی مې آرامي خرابوي.

د کانت شهرت د کونیگسبېرگ له بریدونو اوښتی و. ده په ۱۷۸۱ کال کې د «نږه منطق نقد» (په الماني Kritik der reinen Vernunft) او ورپسې د میتافزیک مورال (طریقه) ولیکل. ورپسې یې د «عملي منطق نقد» او په ۱۷۹۰کال کې «د قضا د قوې نقد» ولیکه او له سره یې د انسان د شتون، پوهې او احساس په اړه فکر کولو ته لار هواره کړه.

کانت په خپلو څېړنو کې دا په ډاگه کړه چې داسې شیان شته چې انسان یې په اړه فکر نه شی کولای. لېکن دا په دې معنا نه ده چې هغه باید رد شي او یا پکې شک وشي. نړۍ هماغه نړۍ ده خو هر انسان ورته له بېلې زاویې گوري. هر انسان باید خپل حس تجربه او په خپل فکر او منطق سره یې تحلیل او تجزیه کړي. له دې تحلیل وروسته انسان په دې قادرېږي چې پوه شي چې زه څوک یم  او څه کوم.

کانت څلور پوښتنې مطرح کړې وې، لومړۍ پوښتنه یې د میتافریک د برخې وه چې: «زه باید په څه شي پوه شم؟»؛ د اخلاقیاتو د برخې پوښتنه یې دا وه چې: «زه څه باید وکړم؟»؛ «د کومو شیانو اجازه لرم؟» دا یې د دین په برخه کې ځای کړې وه او وروستۍ پوښتنه یې چې ټولې پوښتنې په هغې پورې تړلې دي، دا وه چې «انسان څه شی دی؟» او دا یې د فلسفې برخې ته بېله کړې وه. ده ویل کله چې مو د دې پوښتنو ځوابونه پیدا کړل، پوهېږئ چې طبیعت انسان ته کوم رول ورکوي او انسان له هغه نه څنگه گټه اخلي او له ځانه څه جوړوي.

د کانت پوښتنې د مطلق امر په شان منل شوې وې. ده د همدې پوښتنو له امله د یوه ښه ښوونکي په نوم شهرت موندلی و. ده به ویل هغه څه چې ته یې نه غواړې چې څوک یې په تا ترسره کړي، ته یې هم د کړلو لپاره بل څوک مه مجبوره وه. که څه هم کانت د شهرت وزر موندلي وو، خو ده بیا هم چېرې پرواز ونه کړ. د هماغه ځمکې پر مخ یې خپلې پښې ټینگې کړې وې. کوم وخت به چې وزگاره و، هغه وخت به یې له عامو خلکو سره په بحث تېراوه.

انگرېز جوزیف گرین د کانت ډېر نږدې ملگری و. ده د نږه منطق نقد، تر چاپ د مخه ده ته د لوستلو لپاره ورکړی و. کانت به ځینې وخت خپل ملگري دوډۍ ته رابلل. د ده ملگري هم د ده د نظم په شان وو. هېڅکله یې له نهه نفرو څخه خپل مېلمانه نه ډېرول. له ملگرو مېلمنو سره یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



درې شیان په نظر کې نیول. لومړی: خبرې اترې؛ دوهم د یوې موضوع په اړه شکایت؛ او درېیم یې ټوکې! په دې درې واړو کې د هرڅه ویلو اجازه وه. یوازې په فلسفه یې بندیز لګولی و. د کانت د ډوډۍ پر وخت ټوکې خوښېدې. ده به ویل خندا نه یوازې د انسان په روح بلکې په معده او هضمي سیستم هم ډېره مثبته اغېزه لري. کانت ښه او صحي ډوډۍ خوښوله. د کونیګسبېرګ ښاروال چې د ده ملګری و، په ټوکو به یې پوښتل: «په ښه آشپزۍ د نقد کتاب دې څه وخت له چاپه راوځي؟»

کانت د آشپزۍ د نقد پر ځای په اویا کلنۍ کې «د دین او منطق تر منځ بریدونه» اثر باندې کار کاوه. درې کاله وروسته کانت له دندې ځان ګوښه کړ او په کور کې کېناست. دا د دې لپاره نه چې ده تقاعد ته ځان برابر کړی و. دا د دې لپاره چې ده خپل قوت او د حافظې تېزوالی له لاسه ورکړي وو. د کانت ځینې زده کوونکي به د ده لیدو ته کور ته ورغلل، خو بېرته به په ژړا له کوره راووتل. کانت تر دې حده خپله حافظه له لاسه ورکړې وه چې ډېر نږدې کسان یې هم نه پېژندل.

د کانت د وجود غړي یو پر بل پسې له کاره لوېدل. لومړی یې سترګې ړندې شوې. بیا یې د ذایقې حس له منځه لاړ. وروسته له خوراکه ولوېد او د ۱۸۰۴ کال د فبروري په دوولسمه د سهار په یوولس بجو یې خپل پور ادا کړ. په کونیګسبېرګ کې لا هم د ژمي سړه هوا حاکمه وه. ټوله ځمکه یخ وهلې وه. د قبر لپاره د ځمکې کیندل ناشوني وو. له همدې امله د فبروري تر آخره پورې د ده مړی وساتل شو. د میاشتې په آخر کې د کانت جسد د مومیایي په شان وچ شوی و. د ده د جنازې په مراسمو کې ډېرو خلکو ګډون کړی و چې له یوه نوموتي استاد څخه خدای پاماني واخلي.

*د ختیځې پروسیا (پخوانی المان) مرکز و. په دوهمه نړیواله جګړه کې تقریباً ټول له منځه لاړ. دا یو بندري ښار دی چې د بالتیک د جزیرې، پولنډ او د لیتوانیا تر منځ پروت دی. که څه هم دا ښار د روسیې له خاورې لرې پروت دی خو اوس په روسیې پورې حسابېږي. اوسنی نوم یې کالینینګراد دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړۍ فعالیت:** د ایمانویل کانت ژوندلیک بیا ولوله او دغه فعالیتونه ترسره کړه:

۱. د کانت په اړه ویل شوي عمده ټکي لست کړه.

۲. هغه جملې پیدا کړه چې د طنز او ټوکې مالګه لري.

۳. د کتابچې صفحه په دوو برخو ووېشه؛ په یوه برخه کې یې د کانت په اړه لیکل شوې مثبتې خبرې او په بله برخه کې یې منفي خبرې ولیکه.

۴. که ته وغواړې د کانت ژوندلیک ولیکې، له کومه ځایه به یې پیلوې؟

**دوهم فعالیت:** لاندې د ابو ریحان البیروني د ژوند او علمي کارونو په اړه معلومات په څو پراګرافونو کې راغلي دي. له دې معلوماتو څخه په استفادې سره د هغه یو په زړه پورې ژوندلیک ولیکه.

- ابو ریحان محمد بیروني په ۳۶۲ قمري کال د خوارزم په «بیرون» کې زېږېدلی دی. دی چې ماشوم و، د تالندې او برېښنا په وخت کې چې نور ماشومان به کورونو ته تښتېدل، ده به ورته کتل او پوښتنه به یې کوله چې دا ولې؟ د هغه ذهن له پوښتنو ډک و. زلمکی و چې د ابو نصر منصور شاګرد شو. د هغه په مرسته یې د دربار کتابتون ته لار موندله او ډېر وخت به یې په مطالعې تېراوه. په یوولس کلنۍ کې یې د ځمکې د نصف النهار د موندلو لپاره یوه آله جوړه کړه او په دوه ویشت کلنۍ کې یې د «نقشه کشۍ» په نوم کتاب ولیکه.

- البیروني به ویل چې علم له تجربې پرته علم نه دی. یوه ورځ د شیخ عبدالرحمن په نوم یوه عالم غزنوي پادشاه ته وویل چې که انسان یا حیوان د الماس یوه وړه ټوټه هم تېره کړي، ځای پر ځای به مړ شي او د زمردو رنګ د مار سترګې ړندوي خو ابو ریحان دا خبره نه مني. پادشاه البیروني ته مخ واړاوه چې څنګه چل دی؟ بیروني وویل: خبره آسانه ده. تجربه به یې کړو. یو سپی او یو مار راولئ. ده د الماس یوه ټوټه په غوښه کې ونغښته او په سپي یې وخوړه او د پادشاه د زمردو ګوته یې د مار مخې ته ونیو. پوره انتظار یې ورته وکړ خو نه سپی مړ شو او نه مار ړوند شو. پادشاه شیخ عبدالرحمن ته غوسه شو خو هغه عذر وکړ او ویې ویل چې ما دا خبره په پخوانو کتابونو کې لوستې وه.

- په ۱۰۱۷ میلادي کال چې سلطان محمود غزنوي خوارزم ونیو، ابو ریحان یې هم له ځانه سره غزني ته بوت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په ۴۴۰ قمري کال کې بيروني د ۷۷ کلونو په عمر په غزني کې وفات او هماغلته ښخ شو.

- البيروني په غزني کې په خپل لابراتوار کې د مخصوص کثافت مفهوم رامنځته کړ. هغه داسې ماشين جوړ کړ چې مخصوص کثافت يې د اعشاريې تر دريمې خانې پورې اندازه کولی شو. دغه اندازې دومره دقيقې وې چې له اوسنيو اندازو سره خورا کم توپير لري.

- البيروني د هند په اړه په خپل زبردست کتاب الهند کې د فرهنگي بشرپوهنې (Cultural Anthropology) بنسټ کېښود. يقيناً چې تر البيروني مخکې هم د ټولنې ځيرک شاگردان شته وو. مثلاً د هيرودوت تاريخونه يا د پيلوپونيسوس د جگړې په بهير کې د يوناني ټولنې د تکامل په اړه د توسيديدس حيرانوونکی تحقيق. خو د هندي کلچر هغه مفصله شننه چې البيروني کړې ده، يو مخ نوی شی و. په دې اثر کې د هنديانو برم او پرتم د هغوی په ساينس، رياضي او پخپله د دوی په کلچر کې لټول شوی دی، په تېره بيا په هندويزم کې. دا په دوو دليلونو يو سخت چلېنج و. لومړی، دا کار د دې لرغوني، پېچلي او بدړای فرهنگ او دين په اړه ژوره پوهه غوښتله. په دې اړه هېڅ کتاب نه و چې بيروني يې ولولي نو ده سانسکريت ژبه زده کړه چې د هند لرغوني اصلي کتابونه ولوستلی شي. دوهم، البيروني د هند مطالعه هاغه مهال پيل کړه چې د ده ولي نعمت، سلطان محمود غزنوي، په سومنات او نورو ځايونو کې د هندوانو معبدونه لوټل او لسگونه زره هندوان يې وژل او دا هر څه يې د اسلام په نوم کول. دا تصور سخت دی چې يو مسلمان عالم دې په دې ناوړه شرايطو کې هندي کلچر په بې طرفۍ وڅېړي او ځان سم پرې پوه کړي خو البيروني دا کار وکړ. هغه به ويل چې د بل فرهنگ د مطالعې لپاره بايد خپل ټول تعصبونه يوې خوا ته پرېږدې.

- البيروني تر مدرنې زمانې پخوا، د رياضي او منطق په يوه حيرانوونکي الوت کې، د شمالي او جنوبي امريکا د موجوديت فرضيه وړاندې کړه او ويې ويل چې دا به د هستوگنې وړ ځايونه وي. ده دغه حيرانوونکی شهکار په شاوخوا ۱۰۳۷ ميلادي کال کې ترسره کړ. دغه نابغه چې تر کريستوف کولمب نيمه زريزه وړاندې يې امريکا «کشف» کړه، سمندر يې بيخي ليدلی نه و. البيروني امريکا څنگه کشف کړه؟ د هغه ميتود څلور پړاوونه لرل. لومړی، کله چې هغه اسلام آباد ته نژدې په نانداڼه کلا او وروسته په غزني

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې کار کاوه، د ځمکې د محیط د اندازه کولو یو میتود یې اختراع کړ چې د اوولسمې پېړۍ نه مخکې تر ټولو اخیستل شویو اندازو دقیقه اندازه وه. هغه د نصف النهار یوه درجه اندازه کړه چې یوازې 620 متره یا نیم فیصده تېروتنه په کې وه. دوهم، هغه په غزني کې د ځمکې یوه کُره جوړه کړه چې د هستوګنې د سلګونو ځایونو طول البلد او عرض البلدونه یې پرې ښودلي وو. ده دغه معلومات له هغو دقیقو اندازو څخه راټول کړي وو چې ده پخپله یا هغو کسانو چې ده ګومارلي وو، راخیستې وې. درېیم، د البیروني ورپام شو چې د افریقا له غربي څنډې څخه د آسیا تر شرقي څنډې پورې واټن د ځمکې د محیط له پنځو برخو یوازې دوه برخې رانغاړي. له دې سره ورته پوښتنه پیدا شوه چې ښه نو د ځمکې په دې درېو نورو برخو کې به څه وي. البیروني پوهېده چې ارسطو دعوا کوله چې پاتې ځمکه یوازې یو «سمندر» دی. خو طبیعت به ولې د هستوګنې وړ براعظمونه یوازې د ځمکې په دوو برخو کې جوړ کړي وي او د ځمکې پاتې درې برخې دې تشې وي؟ ده ولیدل چې هېڅ داسې فرضیه نشته چې د ځمکې په درېو نورو برخو کې د طبیعي قوانینو تعلیق تشریح کړای شي. دا هغه خبره وه چې ارسطو کړې وه. البیروني استدلال وکړ چې یوازینۍ منطقي نتیجه دا ده چې د ځمکې په هغه «بله» خوا کې هم باید د هستوګنې وړ یو یا څو براعظمونه وي. ده ان د دې لویې وچې موقعیت هم ښودلی و او اوس چې له آسیا څخه د امریکا واټن اندازه کېږي، معلومېږي چې بیروني یوازې ۱۱۷ مایله غلط شوی و.

- کله چې د محمود غزنوي پر ځای د هغه زوی مسعود پاچا شو، البیروني ته یې د اوښ یو بار طلا وړاندې کړه. یو اوښ کولی شي له 175 څخه تر 270 کیلو سره زر هر چېرته ولېږدوي. د 2018 په سپټمبر کې یوه کیلو سره زر 39121 ډالره بیه درلوده. دا په دې معنا چې سلطان مسعود البیروني ته شاوخوا 6.8 تر 10.5 میلیون ډالر ورکړي وو. خو البیروني سره زر بېرته وروسپارل او د هغه پر ځای یې له پاچا څخه وغوښتل چې دی خپل تحقیق ته پرېږدي او د ده د څېړنې په چارو کې دې مداخله نه کوي.
- له البیروني څخه ۱۱۳ علمي آثار راپاتې دي چې د ستورپوهنې، جغرافیې، تاریخ، حساب، کیمیا او نورو مسایلو په اړه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- البیروني د ځمکې شعاع او محیط اندازه کړل. ده وویل چې د ځمکې محیط ۲۴۹۰۲ مایله دی چې دا د ځمکې د محیط له واقعي اندازې څخه یوازې ۲۰۰ مایله توپیر لري.

**درېیم فعالیت:** د کورنۍ له یوه مشر/ مشرې سره کېنه. ویې غږوه او له ماشومتوبه تر دې دمه کیسې یې واوره. یادښتونه ولیکه او بیا یې ژوندلیک برابر کړه. د ژوندلیک پیل به یې له یوې مهمې، په زړه پورې او نادرې پېښې کوې. تر څو چې دې دغه کار نه وي کړی، وړاندې مه ځه او د کتاب پاتې برخه مه لوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۳. ۱. ۵. خپل ژوندلیک Autobiography

ځینې لیکوال خپل ژوندلیکونه لیکي. تکړه لیکوال خپل ژوندلیک لکه داستان خوندور او په زړه پورې لیکي. د ارواښاد استاد سعدالدین شپون خپل ژوندلیک «و نه و یو شپون و» د هغه د ناولونو هومره په زړه پورې دی. نن سبا مونږ د تېرو مهمو او مشهورو کسانو د ژوند په اړه کافي معلومات نه لرو او ارمان کوو چې کاش دا معلومات مو لرلای. نو که څوک خپل ژوندلیک لیکي، د راتلونکو نسلونو ارمان پوره کوي. هماغسې چې د خاطرې په برخه کې مو وویل، د هر چا ژوند یو داستان دی او داسې په زړه پورې ټکي په کې شته چې په لوستلو ارزي، خو مهمه دا ده چې ښه ولیکل شي. کوم ټکي چې د خاطرې، یونلیک، او ژوندلیک په اړه وویل شول، د خپل ژوندلیک لپاره هم په کارېږي. دلته به د استاد شپون د خپل ژوندلیک څو برخې ولولې. په نښه شویو ځایونو ته یې تم شه او فکر وکړه.

- که ما دا نه انگېرلی چې په دې یادښتونو کې د لوستونکو د پاره یو څه شته، هر گوره به مې ځان نه پرې ستړی کاوه، د هغې په ځای به مې یوه خوږه کیسه ورته جوړه کړې وای. ... د لیکوال د پاره د خپل ژوند د پېښو لیکل داسې یو عجیبه چېلنج دی چې په عمر کې یو ځلې ورسره مخامخ کېږي. **لافې ووهي که حقیقت تېر کړي**؟ که حقیقت تېروي، نو بیا کوم د ټولنې له عینکو مهم او د لوستلو وړ دی او کوم یو نه دی؟ **څوک کتاب په لیکوال باندې د زړه سوي د پاره نه لولي، بلکې د دې د پاره یې لولي چې کومه مهمه یا په زړه پورې تجربه یا سترگو لیدلی حال په کې بیان شوی که نه**. د قضاوت معیار، په اصل کې د هغو تجربو او پېښو اهمیت او په زړه پورې والی دی چې لیکوال بیان کړې دي. یو **بل چلېنج د پاڼکو وېش دی**. د ژوند اوږده لیار فصل او باب نه لري، همداسې د خدای په حکم غزېدلې ده. د لاروي د پاره د دمې او سیالې پړاوونه نه دي په نښه شوي. نو د «خپل ژوند لیک» مؤلف د کتاب فصلونه څرنگ سره بېل کړي؟
- ما د خان آباد په لومړني ښوونځي کې سبق وایه. درسونه غونډ په پارسي وو خو ښوونکي او شاگردان په سلو کې نوي پښتانه. **اوس مې هم د هغې مقالې یوه فقره، چې په مانا یې سم نه پوهېدم، په یاد پاتې ده** چې د اعلیحضرت د راتگ په درشل کې یوه ښوونکي لیکلې وه او ما باید د یاده د باچا په حضور کې په شد و مد ویلې وای. لوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماسپښین، ټول شاګردان د سړک دواړو غاړو ته څه ناست، څه ولاړ وو، چې د باچا په راتګ سره د سپورټ د ښوونکي په شپیلکي، چې موږ ورته ویسل ویل، په «تیار سئ» او «سلام کئ» نبغ ودرېږو. بې درکه یخني وه او مور پلار نه وو خبر چې بچیان یې چېرته دي، ولې کاله ته نه دي رسېدلي. څو څو ځلې ګونګوسې شو او موږ تیارسې شوو، د ترانې د ټیم مشر- پاړسي ترانه شروع کړه، چې یوه برخه مې یاده ده، «ګریان و زاري میکنیم، ما کودکان بېګناه، نزد خدا از حب شاه» خو بیا به مو کتل چې هسې یوه لارۍ ده چې د مالګې پسې د کندوز نه خان آباد ته راځي، هرې خوا ته یې په موږ او ښوونکو د لارې ختې چیکړې شندلې. مازیګر مهال واوره په ورېدو شوه، خو دې ته خوشاله وو چې د هوا زهر مات شوي او دومره ساړه نه دي. تیاره په خورېدو وه چې د سپورټ د معلم شپېلکي بیا تیارسئ کړو او د ترانې ټیم «از حب شاه» پیل کړه. د شاهي موټرو لړۍ شروع شوه. ما ته ویل شوي وو چې درېیم تور موټر د باچا دی، وبه درېږي. ښی لاس به په سلام اوچتوې او مقاله به د یاده لولې. چې درېیم موټر رانژدې شو، نو معلم د صف نه وړاندې ټېل وهلم. ما هم په لوړ غږ او د لاس په اشارو چې معلم راښودلي وو، شروع کړه: «... هیچ وقت از شکر این نعمت که شاه جوانبخت ما بر رعایا ارزانی فرموده بدر شده نمی توانیم ...» ما ویل اوس به موټر ودرېږي او د خدای سیوری به راکوز شي، ما به په غېږ کې ونیسي او بخشش به راکړي، خو موټر ختې چیکړې راباندې باد کړې او ګړندی رانه تېر شو. ما، **لکه سپی چې د نابلده سړي پسې تر هغې غاپي چې د کلي د ټک نه یې نه وي اړولی**، همداسې خپله مقاله باچا ته ویله او لاسونه مې په ډراماټیک دول ارتول. ایله معلم ودرولم. ترغونی ماښام، **لکه ماتې خوړلی پوځ**، معلمان مخکې، موږ ورپسې، د اومه سړک د پاسه چې په همدې سهار یې د باچا د راتګ د هرکلي د پاره هوار کړی و، په نیم زنګانه ختو کې دوه میله لرې، د بازار چوک ته روان شوو او له هغه ځایه ټول د سپیو او پیریانو ډار په زړونو کې، خیشته، د یخ وهلو پښو او لاسونو سره، کلو ته روان شوو.

- نو یوه ورځ مور رانه وغوښتل چې خپل مشر ورور منهاج الدین ته چې په کابل کې په دارالمعلمینو کې شاګرد و، خط ولیکم. **ما لوستل کولی شو خو د ځانه مې تر اوسه څه شی نه و لیکلی، نو په هماغه اول مخ، بلکې په اوله کرښه کې بند شوم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



له مور نه مې پوښتنه وکړه چې «ارجمندم منهاج الدین جان ولیکم که منهاج الدین خان» د هغې خوړه خندا مې تر اوسه یاده ده چې «څوک ګرم نه دي چې تا ته ساده جان وایي. مشر ورور ته څوک ارجمند نه وایي او نه یې نوم لیکي. ولیکه چې برادر بزرګوار، جناب معظم ګل لالا.»

● د ابا په نزد د مکتب مضامین علوم نه بلکې فنون وو، علم یوازې دیني زده کړه وه. په تېره په جغرافیې باندې خو د کفر فتوا وه. تر دې حده چې پخپله د جغرافیې استاد به ویل، **په امتحان کې به لیکئ چې مځکه غونډارې یا کروي ده، خو عقیده به نه پر کوئ**.

● لالا په کابل کې زموږ د یوه معتبر خپلوان په کور کې خوندي کړم. د فېروزې په رنګ یوه جوړه شوې درېشي یې راته په درزي وګنډله. د حبیبیې لیسې د داخلې آزموینه یې راباندې تېره کړه. شل روپۍ یې په جېب کې راته کېښودې، په ستنه خان آباد ته روان شو. په کابل کې بس عاصي پاتې شو او دوزخ. پښتو توری ورته غواړم خو اوس حاضر مې یو انګریزي ټکی سترګو ته لر بر کېږي چې زما د هغه وخت د حال ترجمان کېدای شي. دا ټکی Handicap نیمګړتیا، معیوبي او کم سیالی نه جوړ شوی ترکیب دی. زما هینډې کېپ یو نه، بلکې په لسهاو و. اول رنګ او کړه وړه: لمر سېزلی مخ، اوږده غاړه چې چنغړک په کې له ورایه ښکارېده چې د خبرو سره جګ و ټیټ الوځي. وڅ، نري کنګکي لاسونه چې د کالونو دوړې او خیرې یې په چاودونو کې کنګل شوې وې. د پښتنو متل راپورې ښه لګېده چې چاودې چاودې پښې، یو من خاورې په کې. زما کوربه زی (د کوربه زوی) هره جمعه حمام ته تلو. **کوربنه چې زموږ خپله وه، په ما شرمېده او لکه چې خاوند یې هم پیغور ورکړی و چې دا څه ځناور دې کور ته راته راوستی چې په حجره کې مې د مېلمنو په مخکې شرموې.** هغې خوارکۍ یو ځلې د خپل زوی سره حمام ته چې دا هم ما ته نوی و، واستولم. هلته مې په کیسې او سپنځړي (سنګ پای) د خدای وسې پرې وکړې، په شوکارې کولو مې وجود سور ککړ کړ خو خیرې ویلې نه شوې. نوکان شنه، کنډوکپر، تر لاندې د لیسزو خیرې، خو زه د ځانه ناخبره وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- کلیوالو هر ښاري ته په ټیټ نظر کتل. **پس شا به یې صابون کوني بلل**. ویل به یې چې په صابون یې چې سغې ښویه کړې وي، د هغه به پښتو څه وي، غیرت به یې څه وي. د کلي ملا خو صابون منع کړی و. ویل یې چې د استنجا یو شرط دا دی چې تر هغې به یې منې چې زیږوالی په کې پیدا شي نو چې څوک د سغې پرېولل په صابون کوي نو هغه ښویه شي، بیا د استنجا شرط نه پوره کېږي.
- په دې اوله رخصتۍ زه بې حده خوشحال وم چې د کابل د ګندګۍ نه خلاص شوی وم، خو دوې هفتې پس چې ډاګې د کوربه زوی خط راکړ، **د ریاضي په مضمون کې د ناکامۍ زېری په کې و**. ببرته یې ځیګرخون راواچاوه. ورسره دا وېره هم راسره وه چې تر اوسه خو مې بانه کوله چې د امتحان نتیجه نه وه راختلې، اوس به کورنۍ، په تېره ګل لالا ته څه وایم؟ بده لا دا چې کتابونه او د معلم د لکچرونو نوټونه مې هم نه وو راوړي چې پټ یې ولولم. رخصتي د سترګو په رپ کې تېره شوه. د حوت تر پنځلسمې د مخه مې د یوې بوجۍ وریژو او یوې نوې بسترې سره ځان کابل ته ورساوه. څو ورځې پس چې د بیا امتحان د پاره لېسې ته لاړم، زما په شان ډېر مشروطان د ادارې نه بهر لیکه ولاړ و. غرمه مهال مدیر راووت او **عجیبه زېری یې راکړ**. ویې ویل چې ستاسو د ریاضي استاد په حق رسېدلی نو د هغه په احترام ادارې د معلمانو په مشوره فیصله کړې چې د ریاضي د ټولو صنفونو مشروطان دې کامیاب وګڼل شي. د خوشالۍ هلالا ګډه شوه او یوه شاګرد خو له مینځه غږ کړ چې خدای دې د معلم صیب مرګ قبول کړي.

**فعالیت:** د استاد شپون د خپل ژوندلیک په راخیستل شویو برخو کې په نښه شوي ځایونه یو ځل بیا ولوله او فکر وکړه چې دا ځایونه ولې مهم دي. خپل دلیلونه په کتابچه کې ولیکه او بیا یې یوه ملګري ته ولوله او د هغه نظر وغواړه چې هغه هم ستا غوندې فکر کوي که بل نظر لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یادونه:** خلک گومان کوي چې لوی، مشهور او بریالي کسان بـه فـوق العـاده اسـتعدادونه، خوی خواص او ځانگړنې ولري؛ حال دا چې داسې نه ده. حتـی نابغـه‌گان هـم زمـوږ او ستاسـو پـه شان عادي خلک دي، خو ممکن په ژور فکر کولو یا ازمویلو او تجربې کولو کـې یـې تـر نـورو خلکـو ډېر تمرکز کړی وي. نو هر څوک که بریاوې لري، خامۍ او نیمگړتیـاوې هـم لـري. کلـه چـې خپـل ژوندلیک لیکو، باید واقعیتونه ووایو. د خپلو ناکامیو او منفـي خویونـو د پټولـو هڅـه بایـد ونـه کـړو. البته داسې کسان به بیخي کم وي چې د مهاتما گاندي غوندې پر خپلو گناهونو اعتراف وکـړي او په خپل ژوندلیک کې دا هم ولیکي چې دوه وارې د جنسي- انحـراف خـوا تـه ولاړم خـو خـدای بـچ کړم. دومره زیات رښتیا ویل ډېر لـوی زړه غـواړه او هـر څـوک یـې کـولی نـه شي، خـو لوسـتونکی/ لوستونکې هـم دا تمـه درنـه نـه لـري چـې هـره خـبره وکـړې. مهمـه دا ده چـې ځـان یـو مـخ پـاک سپېڅلی، ډېر لایقه، ډېـر پـاک نفسـه، او ډېـر اخلاقـي انسـان ونـه ښـیې. کـه دا کـار و هـم کـړې، لوستونکی/ لوستونکې دربانديې باور نه کوي. کله چې خپل ژونـدلیک لیکـې، داسـې وګڼـه چـې د بل چا د ژوند کیسه لیکې او مثبت او منفي دواړه اړخونه یې بیـانوې. پـه بلـه وینـا، خپـل ژونـدلیک داسې ولیکه لکه له یوه ډېر نژدې ملگري سره چې خواله کوې.

**فعالیت:** په کتابچه کې د خپل ژوند په اړه چې هر څه دریادېږي، ویې لیکه: مهمې پېښـې، په زړه پورې تجربې، بریاوې، ماتې، ناکامۍ، تېروتنـې، ښـه او بـد کارونـه او خنـدوونکې خـاطرې. بیا یې د خپل ژوندلیک لپاره ترتیب کړه چې کومه خبره بایـد پـه سر کـې راشي، کومـه ورپسـې او همداسې تر پایه او وروسته خپل ژوندلیک ولیکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳. ۲. تخیلي ادبي ژانرونه

### ۳. ۲. ۱. ادبي ټوټه

ځينې په دې باور دي چې ادبي ټوټه مستقل ژانر نه دی بلکې په نثر د غربي شعرونو د ژباړې پيداوار دی. خو دا چې زموږ ليکوالو او شاعرانو ليکلي دي او ليکي يې او د نثر دغه ډول له نورو ژانرونو متفاوت دی نو مستقل ژانر يې بللی شو. ادبي ټوټه تخيلي ژانر دی، يعنې محتوا يې د ليکوال په خيال کې پنځول کېږي. توپير يې له لنډې کيسې هم په نثر کې دی او هم په جوړښت کې. د لنډې کيسې نثر بايد ساده او د خواله کولو نثر وي خو ادبي ټوټه په هنري نثر ليکل کېږي يعنې تشبيه، تشبيهي ترکيبونه، استعارې او سېمبولونه، تشخيص (personification) په کې زيات وي [تشخيص يا شخصيت ورکول هغه چاره ده چې ونو بوټو او غير ژوندي موجوداتو ته انساني ځانګړنې ورکول کېږي؛ مثلاً خبرې کوي، احساس لري، عاطفه لري، مينه کوي ...]. د جوړښت په لحاظ، لنډه کيسه ټکر، غوټه، اوج، او پای لري خو په ادبي ټوټه کې د دغو عنصرونو موجوديت حتمي نه وي. ځينې خلک ادبي ټوټې ته منثور شعر هم وايي ځکه چې د تخيل او هنري ژبې په لحاظ شعر ته ورته ده خو په نثر کې ليکل کېږي. د ادبي ټوټې موضوع معمولاً مينه او عاطفي پېښې دي خو کله کله ټولنيز او سياسي مسايل هم په کې بيانېږي. دلته به د ښاغلي محمد انور وفا سمندر او آغلې اناهيتا روهي ادبي ټوټې ولولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شرم او گناه

پلار د شرم پوستکی غاړې ته راواچاوه،

پلار چې ملا او معلم ته کښېنولم، نور هم وتړل شوم،

تن او سر او زړه او آواز تړلي او ذهن ته تړلي تړلي فکرونه راباد شول، راباد شول ...

بله ورځ مې همزولو ماشومو نجونو ته په شرم شرم ورکتل.

نجونو ته به مې چې ورکتل، يو لوی قهر به لاس په ماشه راته ولاړ و.

او دا مې هره ورځ زده کول، چې دا قهر دومره تريخ، دومره تند، دومره اورلن، دومره جبار دی، چې زه حتی هغه پېژندلی نه شم؛ نو ما هم نه ورکتل.

بله ورځ پلار په پگړۍ وتړلم، بله ورځ يې له خپلو خويندو، ميندو، سياسرو، او تړولو ښځو کلک راوتړلم.

اوس نو ذهن ويل او ما يې کاڼي کاڼي خبرې د زړه پر سر تېرولې.

آسونه کال کې يو ځل نعل کېدل او زه شېبه شېبه په زړه او ذهن نعل کېدم.

بله ورځ مې کتل چې نر غوايي، نر آس، نر خر، په هېڅ نه شرمېږي او ما تر ځان کشر-ماشومان وشړل، چې څه بد شی يې زده نه شي!

د ذهن له اورگاډي يو غږ پورته و، «شرررر...رم»، «گناااااااه»

د ذهن حرکت به د شرم غږ کاوه او ودرېدل به يې د گناه په دوزخي تمځای کې و.

[د مينې کولو جنت، محمد انور وفا سمندر، ۱۳۹۴]

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تیږه او باران

له ازله دې غوښتونکې وم. خو تا نه درخپله کړم او نه هم له ځانه لرې. ډېر ځله په حق وې. خو دا ځل نه. دا وار ته خطا شوې. زه غلې وم خو ګیله‌منه نه. ما ستا د خپلولو لپاره خاموشي زده کوله. ها د غونډۍ په لمن کې پرته پلنه تیږه وینې؟ هغه په باران مېینه ده. ورته پام شوی دې دی، کله چې باران سندرې وايي، دا څنګه ښکاري؟

تېر ځل یې زه خپلې خاموشۍ ته وربللې وم. د خلقت دې ننداري ته حیرانه وم. ما پخوا د خاموشۍ دومره ښکلا لېدلې نه وه. هسې خو زما د کوټې مخامخ دېوال هم ویل چې زما سکوت خوښ دی.

آه! د تیږې په رګونو کې خاموشي بل ډول وه. ساه مې هلته د آرامۍ پناه غوښتله. خو ناڅاپه باران راغی؛ سندرې یې پیل کړې. له سندرو یې د تیږې پر زړه پاسته پاسته څاڅکي راوورېدل. زما د وجود هره حجره یې په خپل غېږ کې لاهو کړه.

هماغه شېبه په هماغه سندریزه چوپیتا کې ته راياد شوې. زړه مې د بې وزره مرغۍ په شان د الوتلو هڅه کوله. د تیږې رګونه مې د وجود له قفسه راتاوېدل. غوښتل مې چې په همدې وربښمینو رګونو کې وغځېږم. بیا مې پام شو چې زه به د خاموشۍ هنر زده کړم. د اور لمبو ته به ستا د سیتار په سندرو پام وکړم. د لوګي له ترخه عطره به یې وساتم. ګوندې د باران په شان یوه ورځ راباندې ببرته راوورېږې. بیا به د هماغه تیږې په زړه کې له باران سره سندرې غبرګې کړو.

د باران او تیږې مینه، زما او ستا غبرګې سندرې.

[رژېدلې سندرې، د ادبي ټوټو ناچاپه ټولګه، اناهیتا روهي]

**لومړی فعالیت:** «تیږه او باران» بیا ولوله او هغه ځایونه یې په نښه کړه چې له عادي نثره متفاوته دي. همدارنګه تشبیه‌ګانې او تشخیص په کې پیدا کړه.

**دوهم فعالیت:** تصور وکړه چې ته او معشوقه/ معشوق دې په یوه ځنګله/ د سیند یا سمندر غاړه/ ښکلي باغ/ یا هر ځای چې ستاسو خوښېږي، یئ. سترګې پټې کړه او د هغه ځای محیط، هوا، او طبیعت حس کړه. څه وینې، څه اورې، څه بویوې، څه لمس کوې، څه سره وایئ، د څه شي په اړه فکر کوئ ... دا ټول په ذهن کې مجسم کړه. بیا همدغه خبرې په یوه لنډه ادبي ټوټه کې ولیکه. نوې تشبیه‌ګانې به نه هېروې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۳. ۲. ۲. طنز Satire/ Irony

طنز یو انتقادي ژانر دی چې د ټوکې غوندې لوستونکي خندوي خو په عین وخت کې د ټولنې یوې مهمې ستونزې ته د لوستونکو پام ور اړوي. د طنز په اړه هم دا نظر شته چې مستقل ژانر نه دی ځکه چې طنز د لنډې کیسې په چوکاټ کې هم لیکل کېږي او په شعر/ نظم کې هم. خو زموږ په ادبیاتو کې ځکه د ژانر په سترګه ورته کتل کېږي چې که په نثر کې ولیکل شي، له لنډې کیسې ځینې توپیرونه لري او که د شعر په قالب کې هم ولیکل شي، له متعارفو شعرونو متفاوت وي. عمده توپیر یې دا دی چې طنز د کیسې او شعر په پرتله د جوړښتونو او عنصرونو پروا چنداني نه کوي. یعنې په طنز کې ټکر، غوټه، اوج، پیل او پای زیات جدي نه ګڼل کېږي. زما یو طنز به ولولو.

**مینه په ټیلفون کې**

یاره دا سیم کارتونه خو هماغسې قیمته ښه وو. اوس چې وګورې د هر چا په جېب کې درې- څلور سیم کارتونه پراته دي. یوه ورځ په دوکان کې ناست وم چې له نابلدې نمرې راته زنګ راغی. پلار مې په دوکان کې ناست و. هغه له مشتریانو سره لګیا و. زه کرار له دوکانه ووتم. څومره ښکلی نری غږ یې و:

_ سلام.

_ سلام، څنګه یې؟

_ ګرانه ته څنګه یې؟

_ زه ښه یم. وبخښئ تاسې مې ونه پېژندئ.

_ زه هماغه یم چې تېره هفته مې د ساري دامن جوړه درنه واخیسته. په هغه ورځ مې مور راسره وه؛ نو ما درسره خبرې نه شوې کولی.

زما دوکان ته په ورځ کې شپېته اویا ښځې او نجونې راځي؛ نو دا یوه مې والله که په یاد وه؛ خو ما وې هسې به یې خوشاله کړم ومې ویل: ډېر ښه. امر وکئ.

_ هسې ما وې پوښتنه دې وکم چې څنګه یې؟

_ ډېره مننه. رښتیا زما د ټېلفون نمره دې له کومه کړه؟

_ ولې، تا خپل کارت نه و راکړی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ هو، رښتیا هېر مې و.

ـ ښه ګرانه! اوس د خدای په امان.

ما چې هر څه په خپل ذهن باندې فشار راوړ، د هغې څېره مې رایاده نه شوه. تر مازدیګره مې څو وارې ورته زنګ وواهه خو ټېلفون یې بند و. سبا او بله ورځ هم همداسې تېرې شوې. نه پوهېدم چې ولې ټېلفون نه پورته کوي؛ خو شپږم حس مې راته ویل چې هغه به بیا زنګ ووهي.

درېمه ورځ ماښام یې بیا زنګ وواهه.

- سلام حمید جانه، څنګه یې؟

ـ نو ته ووایه څنګه به یم. دا درې ورځې چېرته وې؟

په ژړغوني غږ یې وویل: ته زما له حاله څه خبر یې؟ زړه مې درپسې چوي. دا درې ورځې راباندې کال تېر شو.

د هغې خبرې ډېر خوند راکړ. زړه کې مې ویل چې دا دی والله زه هم یو څوک یم چې د نجلۍ زړه راپسې چوي. دلاسا مې کړه: ولې، ګرانې څه خبره ده؟

ـ دا درې ورځې په کور کې وم. د مور له لاسه د باندې نه شومه وتلې.

ـ ما خو درته ډېر زنګونه وهل. تا ولې ځواب نه راکاوه؟

ـ ټېلفون مې بند کړی و. ما ته چې زنګ راشي، بیا ټول رانه پوښتنه کوي چې څوک و؟ څه یې ویل؟

بیا یې ټېلفون یوه هفته بند و. ما په خیال کې د هغې تصویرونه جوړول چې داسې به وي، هسې به وي. د فلمونو هره نجلۍ مې یو یو وار په ذهن کې ګرځېده. دوکان ته چې به نجونې راتلې، د هرې ښکلې په څېره کې هغه راته ښکارېده. بله هفته چې یې ټېلفون راغی، ویې ویل چې په موبایل کې یې کریډټ نه و ځکه یې راته زنګ نه و وهلی. عاجل مې د پنځو سوو افغانیو کارت واخیست او په اس ام اس کې مې ورواستاوه. ورته مې وویل چې ته فقط مس کال راکوه، زه به درته زنګ ووهم.

ژوند راته معنا پیدا کړه. د احمد ظاهر سندرې راباندې ګرانې شوې. د زړو هندي فلمونو د سندرو په خوند پوه شوم. ټوله دنیا مې د هغې له یوې خندا او یوې خبرې سره نه برابروله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هفته کې مې د موبایل یو دوه کارتونه خامخا وراستول. یوه ورځ یې راتـه وویـل: «تـا سره ګلابي رنګ ډېر ښه ښکاري.»

زه لاړم له بوټانو رانیولې تر خولۍ پورې هر څه مې په ګلابي رنګ کـې پیـدا کـړل او وامـې خیستل. یو وار مې له ځانه سره وویل چې خلک به راپورې وخاندي خو بیا مې وویل چې هغـه غـټ چارواکی چې همداسې رنګونه اغوندې، چا ورپورې خندلي دي.

نور نو یوازې د هغې خبرې زما د درد چاره نه کوله. ورته مې وویـل چـې خامخـا بایـد لـه مـا سره وګوري. هغه به پلمې کولې چې پلار یې نه پرېږدي چې یوازې له کوره وځي. آخر ما ورته وویـل چې که رانه شي؛ نو زه خپه کېږم.

آخر هغه ورځ هم راورسېده چې درې میاشتې ورته په تمه وم. د ښـاروالۍ څنـګ تـه پیـاده رو کې یې راسره وعده وه. د کرزي تر عکس لاندې. وعده مو لس بجې وه؛ خـو زه لـه نـه نیمـو ورتـه ولاړ وم. زما قسمت وګوره چې بـاران اوري. پـه زړه کـې وایـم کـه د بـاران لـه ډاره رانـه شي نـو بیـا؟ آسمان ته په غوسه وم چې همدا د باران وخت و؟ له سره تر پښـو پـورې لونـد خیشـت وم. د ګـلابي دریشۍ اوتو مې خرابه شوه. پر سړک باندې د نورو ورځو برېوبار نه وو. دا نو زما پـه ګټـه وه چـې بـې غمه له هغې سره چکر ووهم. لس بجې شوې خو د هغې درك نه شو معلوم. زنـګ مـې ورتـه وواهـه. ویې ویل چې د اطلاعات او فرهنګ د وزارت له مخې تېره شوې او د زېرزمینۍ خوا تـه روانـه ده. مـا پوښتنه وکړه چې څنګه دې وپېژنم؟

ویې ویل: ګلابي رنګه ګلداره چترۍ مې په سر ده. کاوبای پتلـون او کـورتۍ مـې اغوسـتې دي.

ما لاره څارله چې دا د زیرزمینۍ له زینو راپورته شوه. تاسې نو نه پوهېږئ چې ما څه حـال درلود. زړه مې ټوپونه وهل. په لاس او پښو کې مې متره نه وه پاتې. څومره چې هغه رانژدې کېـده، هماغومره مې د زړه ټکان زیاتېده. هغه راته راورسېده؛ خو همداسې ښویه له څنګه مـې تېـره شـوه. هك پك شوم چې دا څه چل وشو. ښایي پېژندلې یې نه وم. ورپسې روان شوم. غږ مې وکـړ: ګـوره! زه دلته یم.

هغې راته حیران حیران وکتل. ویې ویل: څه دې ویل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



غبرګ یې لږ بل شان و. ما وې په ټېلفون کې خو هسې هم د سړي غږ بـل رقـم راځـي. وګـوره ګلابي چترۍ، کاوبای دریشي، ټولې نښې سمې دي.

ومې ویل: هو، ما وې باران لوند کړی یم، په همدې خاطر دې ونه پېژندم.

ـ ته څوك یې؟ زه خو دې نه پېژنم.

ـ ګوره ګرانې! نور مې مه ځوروه.

ـ څه شی؟ لېونی خو به نه یې؟

ـ ستا مینې په رښتیا لېونی کړی یم.

هغه یوه کلکه څپېړه راکړه. د ښـاروالۍ لـه خـوا دوه پولیسـان راروان وو. نجلـۍ وویـل: تـه ودرېږه چې پولیس راشي...

منډه مې کړه. زېرزمینۍ ته ورکوز شوم. اوس حیران یم چې پـر کومـه خـوا وتښـتم. یـو دم مې رایاد شو چې د پارك هوټل څنګ ته د فرید دوکان دی. شا ته مې نه کتل. پـه یـوه منـډه دویـم چټ ته وختم. ځان مې د هغه دوکان ته ورساوه. په دوکان کې زموږ څلور پنځه تنه نـور ملګـري هـم ولاړ وو. ټولو خندل. ما وې لکه چې زه یې لیدلی یم که څنګه. زما په ورتګ چـوپ شـول. ژر ژر مـې له ټولو سره سترې مشي وکړه او پـه دې پلمـه چـې ډېـر لونـد شـوی یـم، ځـان تـه جاکـټ لټـوم پـه کوټبندونو کې د ځوړندو کالیو منځ ته ننوتم. ما وې که پولیس راپسـې دوکـان تـه راشي چـې پیـدا مې نه کړي. شېبه وروسته د نجلۍ غږ مې واورېد: دلته دی. همدې دوکان ته ننوت.

دا وار یې غږ هماغسې و چې په ټېلفون کې یـې راسره خـبرې کـولې. وه خدایـه دا نـو څـه بیابې ده؟ لکه چې ملګرو ته مې په یوه روپۍ شوم. ساه مې پـه سـتوني کـې بنـده وه. لـه ډاره مـې ساه نه شوه ایستلی.

فرید وویل: خیریت خو به وي. څوک لټوئ؟

نجلۍ وویل: راویې باسه. هغه لوچک ملګری دې چېرته پټ کړی؟ مـا پخپلـو سـترګو ولیـد چې ستا دوکان ته ننوت.

په زړه کې مې خدای او پیران وننګول چې له دې لانجې مې خـلاص کـړي. یـو وار زمـا لـه شاوخوا د کالیو کوټبندونه پورې وهل شـول. ټـول ملګـري مـې رانـه چـاپېر شـول. فریـد د هماغـې نجلۍ په غږ وویل: ویې نیسئ! همدا دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړی فعالیت:** دې پوښتنو ته ځواب ووایه:

۱. د طنز کومو جملو وخندولې؟

۲. کله چې دې طنز لوسته، څه فکر دې کاوه چې پای به څنګه وي؟

۳. که همدا طنز تا لیکلی وای، څه به دې په کې کم یا زیات کړي وای؟

**دوهم فعالیت:** یوه خندوونکې خاطره دریاده کړه. د پېښې ځای، کرکټرونه او جزئیات یې بدل کړه او په خیال کې یې نوي کړه. په خیال کې نورې پېښې، مکالمې او صحنې ورزیاتې کړه. بیا ورنه یو طنز جوړ کړه خو داسې چې اصلي خبره یې پای ته وساتې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳. ۲. ۳. لنډه کیسه Short Story

تخیلي ادبي روایتي ژانر دی. کیسه د لیکوال په ذهن کې جوړېږي او د یوه راوي له خولې بیانېږي. لنډه کیسه باید لنډه وي؛ په کیسه‌ییز نثر لیکل شوې وي؛ ښه کرکټرایزېشن، ښه توصیف، مناسبې مکالمې، مناسب او راښکونکی پیل، تلوسه، ټکر، غوټه، اوج، او خوندور پای ولري. بله موضوع چې په داستاني ادبیاتو کې مهمه ده، لیدلوری دی.

لنډه کیسه د اوږدوالي په لحاظ له څو جملو رانیولې تر زرګونو کلمو پورې وي. کیسه‌ګۍ معمولاً په دوو – پنځو جملو کې بیانېږي. لنډکۍ کیسه (Flash Fiction) معمولاً اته – نه سوه کلمې وي چې د کتاب په دوو مخونو کې ځایېږي. لنډه کیسه بیا له زرو څخه تر زرګونو کلمو پورې وي. زموږ لنډې کیسې معمولاً یونیم – دوه زره کلمې وي خو د اوسنیو غربي لیکوالو لنډې کیسې غالباً تر دوه نیم زرو زیاتې کلمې لري. د لنډو کیسو نسبتاً اوږدې بڼې هم شته چې ممکن تر لس زره کلمو پورې ورسېږي.

د کتاب په لومړۍ برخه کې مو د راوي په هکله بحث وکړ چې راویان درې ډوله دي: اول ګړی، دوهم ګړی، او درېیم ګړی. په اول ګړي روایت کې راوي د کیسې یو کرکټر او اکثراً مرکزي کرکټر وي او هر څه چې وینې، اوري، احساسوي او فکر کوي، راته وایي. د دې راوي په جملو کې د اول شخص یا متکلم خبرې اورو؛ لکه: «کور ته لاړم. جامې مې بدلې کړې. ستړې وم. سترګې مې درنې شوې. همداسې په ناسته کې خوب یووړم.» دوهم ګړی راوي د مخاطب په خوله خبرې کوي او لوستونکي ته خطاب کوي؛ لکه: «کور ته ولاړې. جامې دې بدلې کړې. ستړې وې. سترګې دې درنې شوې. همداسې په ناسته کې خوب یووړې.» د راویت دا بڼه ډېره کمه کارول کېږي. درېیم ګړی راوي بیا د نورو کیسه کوي او پخپله په پېښنو کې ګډ نه وي؛ لکه: «کور ته ولاړه. جامې یې بدلې کړې. ستړې وه. سترګې یې درنې شوې. همداسې په ناسته کې خوب یووړه.»

د لنډې کیسې نثر د خلکو د خبرو غوندې وي، نه د علمي کتابونو یا د خبریالونو ژبه. راوي د یوه صمیمي ملګري غوندې خواله کوي، نه دا چې په اصطلاح «لُغت پراني» وکړي. سره له دې چې د کیسې نثر د عامو خلکو د خبرو غوندې وي خو باید په ګرامري لحاظ سم، روان او فصیح وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لنډې کیسې کرکټرونه باید ښه انځور شوي وي. څرنگه چې د کتاب په لومړۍ برخه کې مو ولوستل، د کرکټر ظاهري او باطني ځانگړنې باید وښودل شي چې د لوستونکو سترگو ته ودرېږي.

د ځایونو او منظرو توصیف هم باید دقیق وي او د مخاطب مختلفو حواسو ته خطاب وکړي. همدارنگه پېښې باید په جزئیاتو سره بیان شي.

په لنډه کیسه کې د ښې مکالمې لیکل آسانه نه دي ځکه چې د هر کرکټر خبرې باید د هغه/ هغې د پوهې، معلوماتو، تعلیمي کچې، اجتماعي موقف، او اروایي حالت سره مناسبې ولیکل شي. زموږ په ډېرو داستانونو کې د ټولو کرکټرونو خبرې یو شان وي او دا په حقیقت کې د لیکوال خبرې وي، نه د کرکټرونو.

د لنډې کیسې پیل باید داسې وي چې لوستونکي ته په زړه پورې وي او هغه د کیسې لوستلو ته وهڅوي. د شلمې پېړۍ د لومړیو لسیزو په لنډو کیسو کې به لیکوالو نسبتاً اوږده مقدمه د طبیعت یا چاپېریال په توصیف لیکله چې دغه یوستوي معلومات به د لوستونکو زړه تنگاوه. اوس لیکوال خپله کیسه له یوې جالبې خبرې، پېښې، یا مکالمې پیلوي.

په لنډه کیسه کې د ټکر موجودیت مهم دی. ټکر کېدای شي د انسان او طبیعت تر منځ وي لکه دا چې یو کس د شمالي قطب په کنگلو کې بند دی؛ بېړۍ یې خرابه ده؛ د ځان د تودولو لپاره څه نه لري او د هوا درجه هم منفي څلوېښت درجې ده. یا به ټکر د انسان او انسان تر منځ وي؛ مثلاً په یو چا باندې د غلا تور لگېدلی دی خو هغه غل نه دی. کله کله انسان له ځان سره، له خپلو فکرونو سره په ټکر کې وي؛ مثلاً نفس یې یوې گناه ته لمسوي خو وجدان یې مخه نیسي. د ټکر په سبب غوټه پیدا کېږي. غوټه هغه اساسي ستونزه ده چې کرکټر ورسره مخ دی او باید یې چاره وکړي. لکه هغه چې په شمالي قطب کې بند پاتې دی او له طبیعت سره په ټکر کې دی. دلته غوټه د مرگ خطر دی او کرکټر باید د خلاصون لاره پیدا کړي. د همدې کشمکش په لړ کې کیسه داسې ځای ته رسېږي چې اوج یا څوکه بلل کېږي. دا د غوټې یا ستونزې انتها ده. مثلاً په قطب کې بند سړی د ځان د تودولو لپاره یو څو اخبار او کتابونه سوځوي خو دا اور هم ژر ختمېږي او نور څه نشته چې اور پرې بل کړي. له بلې خوا یې په مخابره کې بټرۍ له کاره لوېږي. ماښام رارسېږي او د قطبي یږ آواز اوري. دلته ده چې ستونزه اعظمي حد ته رسېږي. تر دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته کیسه د پای خوا ته درومي او ورو ورو غوټه پرانیستل کېږي او د کیسې په پای کې ختمېږي. د کیسې پای باید له یوې خوا نابېره وي. داسې چې لوستونکي یې اټکل نه وي کړی چې همداسې به کېږي خو له بلې خوا باید منطقي وي او کله چې لوستونکی تېرې پېښې رایادوي، قانع کېږي چې هو، باید چې همداسې شوی وای. البته د کیسې پای په تصادف باید ونه شي؛ لکه په هندي فلمونو او سریالونو کې چې کرکټر له هرې خوا په تنګسه کې وي خو ناڅاپه یې یو ملګری یا پولیس یا بل څوک راورسېږي او دی وژغوري.

لیدلوری په دې معنا چې پېښو ته د چا له سترګو ګورې او د چا فکر او خیال لوستلی شي. په اول ګړي روایت کې معمولاً هر څه د راوي له لیدلوري بیانېږي یعنې څه چې راوي وینې، اوري، فکر کوي او احساسوي هماغسې بیانېږي او هغه څه چې د ده له سترګو یا د معلوماتو له دایرې بهر دي، پرېښودل کېږي. په دې ډول لیدلوري کې هر څه چې د راوي په ذهن کې تېرېږي، هم بیانېږي. په درېیم ګړي روایت کې څو ډوله لیدلوري کارول کېدای شي؛ مثلاً کېدای شي یو مرکزي کرکټر انتخاب شي او ټولو پېښو ته د هغه له ذهن او سترګو وکتل شي؛ یا دا چې عیني لیدلوری غوره شي او لیکوال پېښې داسې بیان کړي لکه کامره چې یې په لاس کې وي او له کرکټرونو سره یو ځای وګرځي او د پېښو فلمونه واخلي؛ یا هم د داستان بېلې برخې له متفاوتو لیدلوریو بیانېږي؛ او بالاخره د ټولو کرکټرونو له لیدلوري پېښو ته کتل کېږي چې دا تخنیک اوس چنداني نه استعمالېږي خو په پخوانو داستانونو کې نسبتاً زیات لیدل کېږي.

دلته به یوه لنډه کیسه ولولو او بیا به یې تحلیل کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ډاکټر شوام

بې مطلبه نیکي مې نه منله. دا مې خپله تجربه وه، پـه کوچنیـوالي لا پـه دې پوهېـدم چـې مور مې هله نازوي چې د دې د خوښې کارونه وکړم او خبرې یې ومنم. ما که ښه کول، د دې لپـاره وو چې مور راباندې لاس تېر کړي. وروسته ملا صاحب رازده کړل چې: «صالحه اعـمال د دې لپـاره دي چې بنده د الله رضا خپله کړي او جنت وګټي». دا مـې بـاور و چـې هـر دلـبر تـر خپـل مطلبـه دلبري کا. خو د ډاکټر شوام مطلب څه و؟

ډېره موده وروسته مې اي مېل خلاص کـړ. د فـېس بـوک لـه خـوا مسـیج راغلـی و: «پـه دې اونۍ کې دې د دغو ملګرو کالیزه ده.» د اکټوبر په اتمه نېټه د ډاکټر شوام اتـه دېرشـمه کـالیزه وه. ځان ته زهیر شوم. څو میاشتې کېدې چې نه مې ورته اي مېل لېږلی، نه مې ټېلیفون ورته کـړی و. ژر مې د مبارکۍ اي مېل ورته ولیکه. په نیم ساعت کې مې د یو څو نورو اي مېلونو ځوابونه ولېـږل. اي مېل مې بند کړ؛ بېرته مې خلاص کړ؛ د شوام ځواب نه و راغلـی. ځـان سره مـې وویـل مصروف به وي. سبا به مې اي مېل بیا وګورم.

له انټر نټ کلپه راووتم. د نادرېې لیسې له څنګه تېرېدم چې درې تنـه سـیکهان مـې مخـې ته راغلل. ماشومتوب مې رایاد شو. په زاړه ښار کې مې د پلار دوکان و. د علي رضـا خـان د کـوڅې په خوله کې یې بقالي وه. زه له پلار سره په دوکـان کـې کېناسـتم. د عاشـقان و عارفـان مکتـب تـه تلم. په صنف کې راسره یو څو تنه هندوان او سیکهان هم وو. دوی به د قران کریم پـه سـاعت کـې له صنفه وتل. کله کلـه بـه مـوږ ځـورول. سیکهـ ماشـومان د سر ویښـته د سر پـه څېـړۍ کـې لکـه غونډاره تړي. نه پوهېږم چا دا خبره کړې وه چې دوی په لونګۍ کې کچـالو پټـوي. زمـا زړه تـه هـم لوېدلې وه چې رښتیا به وي. د دوی لونګۍ ته به مې لاس اچاوه چې راوباسـه کچـالو دې. دوی بـه رانه تښتېدل. یوه ورځ یې سر معلم ته شکایت وکـړ. سر معلـم پـه چپـړاسي بانـدې قـف پـایي کـړم. داسې یې ووهلم چې بیا نه پوهېدم پر ځمکه روان یم که پـر سـکروټو. ان بوټونـه مـې پـه پښـو کـې تنګ شوي وو. خو سبا بیا هغه زه وم، هغه د سردار زامن.

❋ ❋ ❋

اول ځل چې هند ته تلم نو په ټوله لاره کې مې همدغه کیسې یادېدلې. اندېښنې اخیسـتی وم چې اوس به هندوان او سیکهان راسره څه رنګه چلند کوي. لکه څوک چې له چـا سره بـد کـړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي او اوس يې مخې ته ورځي. په ډيلي کې مې ډاکټر جاويد ملګری و. هغه يو کال د مخه تللی و. په سکارټېس روغتون کې يې کار کاوه. هغه د روغتون له مشرانو سره خبرې کړې وې او ما ته يې هم د زده کړې کار سم کړی و.

زه د زړه څانګې ته ورغلم. هلته پروګرام راته جوړ شو چې اوله مياشت به په «ايکو» برخه کې کار کوم؛ بيا به کتنځي ته ځم؛ بيا عاجل اتاق ته او همداسې نورو برخو ته. دا نو اول ځل و چې د ايکو ماشين مې وليد. زموږ خلک يې د زړه ټلويزيوني معاينه بولي. ډاکټر ورته ناست و، ناروغ يې کوت. زه يې څنګ ته ورغلم د چپې اوږې شا ته يې غلی ودرېدم. ډاکټر په تريو تندي راوکتل. ويې ويل: «لرې ودرېږه!»

په دويمه ورځ لا ډاکټر نه و راغلی چې د ايکو اتاق ته ورننوتم. چپنه مې واغوسته. د ماشين سويچونو ته مې کتل چې نومونه يې زده کړم. د کوټې ور نيم کښې و. نرسه په دهلېزه کې تېرېدله. زه يې وليدم. راغله. ويې ويل: دلته څه کوې؟

زما ځواب ته معطله نه شوه. ويې ويل: ژر کوه، چپنه دې وباسه او له کوټې ووځه.

همداسې مې وکړل. په زړه کې مې راتېر شول چې تاريخ به انتقام اخلي. تا په کوچنيوالي کې هندوان او سيکهان ځورولي دي او اوس د دوی وار دی چې تا تحقير کړي. دا مې باور و چې خدای د بدو سزا هم په دې دنيا کې ورکوي، هم په بله دنيا کې.

له ډاکټر نه به مې چې يوه نيمه پوښتنه کوله، ويل به يې: «کتاب وګوره.»

هر شپه به تر دوولسو بجو پورې د روغتون په کتابتون کې وم خو زما لپاره هر څه نوي وو او په لږ وخت کې د دومره ډېرو شيانو زده کول ګران. ځينې شيان بيا په کتابونو کې هم نه پيدا کېدل. د ډاکټر چلند دومره زهير کړی وم چې په دويمه هفته مې غوښتل هر څه پرېږدم، بېرته کابل ته راشم. خو ملګري مې پرې نه ښودم. ويل يې چې کرار کرار به بلد شم. په هماغه ورځ هغه له ډاکټر شوام سره معرفي کړم. شوام مشر ډاکټر و. راته ويې ويل: که څه مشکل دې و، ما ته راځه.

سبا د ډوډۍ په وخت کې سره مخامخ شو. د ايکو په يوه درس مې هېڅ سر نه خلاصېده. ډاکټر شوام ته مې وويل. هغه موضوع راته دومره آسانه تشريح کړه چې هماغه ګړۍ مې زده شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده رانه يو څو پوښتنې وکړې. ځوابونه مې سم وو. د ډاکټر شوام خوښ شوم. ويې ويل: بېګاه زما مېلمانه يئ.

زه او ډاکټر جاوېد ورسره رستورا ن ته لاړو. په ډيلي کې داسې رسټورانونه لږ دي چې غوښه پخوي. ډاکټر شوام همداسې رسټوران ته بوتلو. ده هم له موږ سره د چرګ او د غوايي غوښه وخوړه. ډوډۍ مو چې خلاصه کړه، په خپل موټر کې يې سينما ته يوړو. عجبه سينما وه. چوکۍ نرمې، مخې ته يې کشوه، تکيه يې قاتوه په کې اوږد غځېږه، د جوارو د پولۍ ډکه کاغذي کڅوړه دې په لاس کې، موټۍ ډکوه او خولې ته يې اچوه.

کرار کرار مو له شوام سره انډيوالي جوړه شوه. هره يکشنبه ماښام به په خپل سوزوکي موټر کې په موږ پسې زموږ کوټې ته راته او چکر ته به يې بيولو. په هر ځای کې به ده پيسې پرې کولې. موږ يې مصرف ته نه پرې ښودلو. ويل يې چې تاسې مسافر يئ.

د ايکو ډاکټر چې زموږ په ملګرتيا خبر شو، هغه هم راسره نرم شو. يو کال مې هلته تېر کړ. د ډاکټر شوام په برکت مې دومره څه زده کړل چې نورو ته يې څوک په دربو کلونو کې هم نه ورښيي.

د هندوستان د خلکو يو شی مې خوښ شو. هلته څوک په چا کار نه لري. مسلمان خپل مسجد ته ځي، هندو خپل مندر ته. په هندوانو کې هم زر رنګه طايفې دي خو هغه د چا خبره «عيسی به دين خود، موسی به دين خود». د يوه بګوان کاليزه وه. د روغتون نور ډاکټران يې لمانځلو ته لاړل خو شوام له موږ سره پاتې شو. هغه په هېڅ شي عقيده نه درلوده. موږ ته يې ويل: «بې عقيدې سړی په دې ښه دی چې هېڅ څوک يې بد نه ايسېږي، له هندو سره هم يار وي او له مسلم سره هم. خو دومره ده چې عقيدې والا خلک مطمين وي، ډاډه وي. خو زه داسې نه يم. که په تاسو باندې هره ټکه ولوېږي نو زغملی يې شئ، وايئ به چې د خدای له خوا همدا مقرر وو، خو زما له پاره ګرانه ده. که تاسې مړه کېږئ نو د ځنکدن په وخت به هم ډاډه ياست چې يو چېرې به ځئ؛ بېرته به ژوندي کېږئ؛ جنت به وي دوزخ به وي؛ حساب کتاب به وي؛ خو زما لپاره ډېره سخته ده. زما مرګ واقعي مرګ دی، ابدي مرګ.»

✵✵✵

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا بیا انټرنټ کلب ته ولاړم. د شوام څواب نه و راغلی. ټېلیفون مې راواخیست. زنګ مې ورته وواهه. ټېلیفون یې بند و. ما ویل له ناروغانو سره به مصروف وي. نیم ساعت وروسته مې بیا زنګ وواهه. خبره هماغه وه. سبا او بل سبا مې څو څو ځله ټېلیفون ورته وکړ خو رخ نه شو. ما ویل ممکن بهر ته تللی وي.

بله اونۍ یې بیا ټېلیفون کار نه کاوه. ډاکټر جاوېد ته مې زنګ وواهه. هغه وویل: «ته نه یې خبر؟ ډاکټر شوام غریب خو موټر وواهه، ځای په ځای مړ شو.»

ډاکټر شوام له ما سره ډېر ښه کړي وو، بې بدله ښه. ده رانه د هېڅ شي تمه نه لرله. په جنت او په دوزخ یې هم عقیده نه وه چې د خپلو ښو اجر به په بله دنیا کې ووینې. زه لا تر اوسه حیران یم چې هغه ولې راسره ښه کول؟

## د کیسې تحلیل

- **راوي او لیدلوری:** د کیسې راوي اول ګړی او د کیسې مرکزي کرکټر دی او لیدلوری هم د ده دی. یعنې په کیسه کې څه چې راوي لیدلي، اورېدلي، حس کړي، او څه چې د ده په ذهن کې تېر شوي دي، لولو.
- **ژبه:** د کیسې ژبه روانه، صمیمي او د خلکو ژبه ده خو ګرامري اصول هم په کې مراعات شوي دي. نادر لغتونه، اوږدې او پېچلې جملې نه لري.
- **کرکټرکښنه:** اصلي کرکټرونه دوه دي. یو ډاکټر شوام او بل پخپله راوي چې هغه هم ډاکټر دی. د کرکټرونو ظاهري بڼه نه ده معرفي شوې. لوستونکی هېڅ نه پوهېږي چې مثلاً ډاکټر شوام په ونه دنګ و که ټیټ؛ په رنګ سپین و که غنمرنګی؛ چاغ و که ډنګر؛ ښایسته و که بدرنګی؟ همدرانګه د راوي رنګ او بڼه نه دي ښودل شوي. د کرکټرونو باطني پېژندنه د هغوی د کړو وړو او خبرو څخه معلومېږي. راوي مؤمن او معتقد انسان دی او په دې باور دی چې که څوک له چا سره ښه کوي نو یا په همدې دنیا یا په بله دنیا کې یې بدله غواړي. هغه ته خدای داسې ذات ښکاري چې د بدو سزا په دواړو جهانونو کې ورکوي او کله چې په هند کې د یوه ډاکټر او نرسې له سپک چلند سره مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي، فکر کوي دا يې د هغو بدو سزا ده چې ده په کوچنيوالي کې لـه سيکهـ ماشـومانو سره کړي دي. د ده له کړنو دا هم رامعلومېږي چـې د ملګرتيـا او د ښـو خلکـو قـدر کـوي. ډاکټر شوام بيا په هېڅ دين باور نه لري. مېلمه‌پال او سخي دی. خيرمن انسان دی او بـې مطلبه ښه کوي. هغه د عقيدې په اړه فلسفي نظر لري.

- **توصيف:** په کيسه کې د کابل د نادريې ليسې سيمه، د علي رضا خان کوڅـه، د عاشقان او عارفان ليسه، او د ډيلي سکارټس روغتون، رسـټوران، او سـينما يـاد شـوي دي. خو په دې ټولو ځايونو کې يوازې د سينما توصيف هغه هم په لنډو ټکـو کـې شـوی دی او د نورو ځايونو توصيف هېڅ نشته.

- **مکالمې:** په کيسه کې مکـالمې کمـې دي. د ايکـو د ډاکټـر يـوازې دوې خـبرې «لرې ودرېږه!» او «کتاب وګوره.»؛ د نرسې دوې جملې «دلته څه کـوې؟ ژر کـوه چټـه دې وباسه او لـه کـوټې ووځـه.» لولـو. د ډاکټـر خـبرې د هغـه لـه موقـف سره مناسـبې دي. دا خبرې هغه يو مغرور او ځيږ انسان راپېژني. د نرسې خـبرې بـه هغـه مهـال نامناسـبې وای چې دا پېښه د راوي په خپل وطن کې شـوې وای ځکـه چـې نرسـه د موقـف پـه لحـاظ تـر ډاکټر ټيټه ده او داسې څه ورته نه شي ويلی. خو هغه راوي ته داسې تونـدې خـبرې ځکـه کوي چې رواي سره له دې چې ډاکټر دی خـو د يـوه غريـب ملـک ډاکټـر او هلتـه نـابللې مېلمه غوندې دی او له بلې خوا نرسه د ايکو د ماشـين د ښـه سـاتلو دنـده لـري. د ډاکټـر شوام خبرې هـم د هغـه د پـوهې لـه کچـې او شخصـيت سره اړخ لګـوي نـو د دې کيسـې مکالمې مناسبې ښکاري.

- **پيل:** کيسه په دې جمله پيلېږي چې «بې مطلبه نيکي مې نه منلـه.» بيـا راوي د نېکۍ په اړه خپل باور په څو جملو کې بيانوي او لـومړی پراګـراف پـه دې جملـه ختمـوي چې «خو د ډاکټر شوام مطلب څه و؟» دغه پيل لوستونکو ته تلوسه پيـدا کـوي چـې د دې پوښتنې ځواب ولولي.

- **ټکر:** په کيسه کې راوي له خپلو فکرونو سره په ټکر کې دی. دی بـاور لـري چـې هېڅوک بې مدعا او بې مطلبه ښه نه کوي خو ويني چې ډاکټر شـوام لـه ده سره ډېـر ښـه کوي خو هېڅ تمه او مطلب هم نه لري. نه يوازې له ده څخه د خپلـو ښـو د بـدلې تمـه نـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري بلکې له خدایه هم دا بدله نه غواړي ځکه چې هغه پر خدای او بله دنیا عقیده نه لري. د همدې ټکر په وجه غوټه پیدا کېږي. غوټه دا ده چې «ډاکټر شوام نو ولې دومره ښه کول؟» د کیسې اوج هغه ځای دی چې راوي د ډاکټر شوام د مرگ خبر اوري.

- **پای:** د لنډو کیسو په پای کې غوټه پرانیستل کېږي خو په دې کیسه کې غوټه هماغسې غوټه پاتې شوې ده. غوټه دا وه چې ډاکټر شوام ولې بې مطلبه ښه کول او راوي د کیسې په پای کې وايي چې «زه لا تر اوسه حیران یم چې هغه ولې راسره ښه کول؟» او ځواب یې لوستونکو ته پرېږدي چې پخپله ورباندې فکر وکړي. د کیسې دا ډول پای مخاطب فکر کولو ته هڅوي. ممکن هر لوستونکی بېل ځواب ورته ولري خو دا چې د پوښتنې ځواب پخپله په خپل ذهن کې جوړوي نو د کیسې اثر به تر ډېره وخته پورې د هغه په فکر کې پاتې شي او هر کله چې ښه کوي یا ښه ورسره کېږي، دا پوښتنه به وریادېږي.

### ۳. ۲. ۳. ۱. د اوږدوالي په لحاظ د لنډو کیسو ډولونه

لنډې کیسې د اوږدوالي په لحاظ په درېو ډولونو وېشلی شو: کیسه‌گۍ، لنډکۍ کیسې، او لنډې کیسې.

**الف: کیسه‌گۍ:** کیسه‌گۍ معمولاً یو څو محدودې جملې وي چې له دوو څخه تر پنځو یا چې ډېرې شي تر لسو جملې لري. دا د مینیمالیزم د سبک محصول دی او نن سبا چې خلک لنډې لیکنې خوښوي، ډېر مینه‌وال لري. د کیسه‌گۍ او هر بل مینیمال اثر کمال دا وي چې لوی مفهومونه او ډېرې خبرې په کمو کلمو کې کوي. په بله وینا، تر ویلو نا ویلې په کې زیاتې وي خو لوستونکی هغه ډېرې ناویلې د لږ ویلو په مرسته په خپل ذهن کې مجسم کولی شي. دا چې په دې ډول لیکنو کې لوستونکی د فکر کولو او تخیل موقع ترلاسه کوي او د کیسې ناویلې برخې په خپل ذهن کې جوړوي، نو داسې احساس کوي چې د اثر په تخلیق کې هغه هم برخه اخیستې ده او د خلاقیت تنده یې ماتېږي. د ښاغلي فضل الحق تپاند یوه کیسه‌گۍ به ولولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تعليم

په ښار کې د ښځينه ډاکټرې نشتون ناهيلي کړل. مېرمن او خاوند سترې د کور په طرف روان شول. د کور دروازه يې خلاصه کړه.

خاوند: دا لا څنګه ښار دی چې يوه ښځينه ډاکټره نه لري.

د لور سترګې يې په پلار ولګېدې. ژر يې زوړ کتاب او شلېدلې کتابچه تر پلاستيکي فرش لاندې کړل.

**فعاليت:** دغه کيسه‌ګۍ چې لولې، نورې کومې خبرې ذهن ته درځي. تر دې کيسې مخکې به څه شوي وي؟ کومې ناويلې د دې کيسه‌ګۍ په ويلو خبرو کې نغښتې دي؟ نجلۍ به ولې کتاب او کتابچه تر پلاستيکي فرش لاندې پټ کړي وي؟ د همدغو ناويلو خبرو په مټ د دې کيسه‌ګۍ په سر او منځ کې څه ورزيات کړه او لږ يې وغځوه.

**ب. لنډکۍ کيسه:** لنډکۍ کيسه معمولاً يو څو سوه کلمې وي. هغه بڼه يې چې فلش فيکشن بلل کېږي، بايد همدومره کلمې ولري چې د کتاب په دوو مخامخ صفحو کې ځای شي، يعنې اته – نه سوه کلمې. خو تر اتو سوو کلمو کمې هم وي. په پښتو کې د ښاغلي اجمل پسرلي کيسې د لنډکيو کيسو ښې بېلګې دي چې دلته به يې يوه نمونه ولولو.

## وېښته

سر يې ژر ژر خوځاوه. د نويو لنډو کړيو ويښتو څوکې يې له سره کړيو بارخوګانو سره لګېدې رالګېدې. غړی يې هندارې ته ورنژدې کړه. د يوې سترګې شا يې ورنګوله، د بلې يوې يې هم شنه کړه.

پر وېړو شونډو يې سور رنګ تېر بېر کړ. ورو يې يوه شونډه پر بلې لمده کړه. هندارې ته موسکۍ شوه. تک سپين غاښونه يې سره شوي وو. کاغذي دسمال يې پرې تېر کړ. د کور د بهر ور يې په ځان پسې کلک کړ. تر نورو ورځو نن د دفتر سهارنۍ غونډې ته وخته ورسېده. د غونډې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر مهال یې یوه یوه ته وکتل. تر غونډې وروسته له یوه سره ودرېده، بیا له بل او بلې سره خو خبرې د دفتري کار وې.

مازدیګر چې کور ته ستنه شوه، وار له واره هنداري ته تم شوه.

د بارخوګانو رنګ تللی و. سرې شونډې یې سپېرې شوې وې. د سترګو د شا رنګ هم پیکه ښکارېده. خو په ریمل کې یې لا سترګې غټې ایسېدې.

د ماسخوتن تر ډوډۍ وروسته یې ویښته په موټ کې ونیول:

«کاشکې مې نه وای کم کړي.»

د خوب کوټې ته ولاړه. سر یې پر بالښت کېښود. بالښت یې پر سر کېښود:

«ولې یوه همکار هم د ویښتو صفت ونه کړ؟!»

پښې یې له کمپلې وایستې. کمپله یې ایسته کړه. بېرته یې ځان پټ کړ:

«خپله ګناه دې ده. باید پوښتنه دې کړې وای چې ویښته مې څرنګه ښکاري.»

په اړخ واوښته، په بل اړخ شوه. د لنډو ویښتو څوکې یې ونازولې. خوب یې تښتېدلی و. پوست بالښت یې په سوک وواهه:

«ولې به مې پوښتنه کوله. دوی سترګې نه لري؟»

پښو یې سوی وکړ. یو پر بلې یې وسولوې:

«حتماً ښه نه ښکاري چې یو هم څه ونه ویل.»

ویښته یې په دواړو لاسونو جر پر کړل:

«همکاران بدنیته دي.»

«بخیلي یې کېږي، ځکه یې مبارکي نه راکوله.»

پښې یې ټولې کړې. بېرته یې ورو وغځولې. بڼو ړې سترګې یې سره ولاړې. لاس یې له ویښتو وښویېده. خوب یووړه.

**فعالیت:** دا لنډکۍ کیسه له سره ولوله او د دې پوښتنو ځواب پیدا کړه.

۱. په کیسه کې ټکر کوم ډول دی (د انسان او طبیعت ترمنځ، د انسان او بل انسان ترمنځ، د انسان او خپل ځان ترمنځ)؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲. د کیسې غوټه څه ده؟
۳. د کیسې راوي او لیدلوری کوم دي؟
۴. د کیسې کرکټره کومې ځانګړنې او څه ډول شخصیت لري؟

**ج. لنډه کیسه:** لنډه کیسه له زر یو نیم زر کلمو رانیولې تر لس زرو یا لا زیاتو کلمو پورې وي. دا په دې پورې اړه لري چې موضوع څومره ده او په څومره کلمو کې یې بیانولی شو. دلته به د ښاغلي نصیر احمد احمدي یوه لنډه کیسه او د ښاغلي واحد رفیعي د یوې لنډې کیسې ژباړه ولولو.

## زما د وطن جګړه

لیکوال: نصیر احمد احمدي

په خاورو کې ناستې تور سترګې ماشومې له قبره راوتلې مېږی چختاړې کړ. یو سیوری ورباندې راغی:

_ ودرې! پېریان به درسره ګوري.

ماشومې ور وکتل. د دې په عمر وړه نجلۍ ولاړه وه. شنې سترګې یې درلودې. څپولې ژېړ وېښته یې نېغ ولاړ ول.

په خاورو کې ناستې ماشومې بېرته قبر ته وکتل. پر یوه مېږي یې خپله بټه ګوته کېښوده. د قبر مړه خاوره را ورغړېده. ماشومې غبرګ لاسونه ورته ونېول. خاوره یې بېرته ټوله کړه.

شنې سترګې نجلۍ وویل: ملا صېب ویل چې ژېړ مېږتانه پېریان دي.

په خاورو کې ناستې نجلۍ خپل کېنې، لوڅ، چاودې چاودې مړوند ته څپېړه ورکړه. ژېړ مېږی لاندې ولوېد. په غوسه یې وویل: بد مې ایسي! زما د ابا غوښې خوري.

شنې سترګې نجلۍ ګامونه واخیستل. یوه بل قبر ته ودرېده.

ناستې ماشومې ور غږ کړل: ابا دې دی؟

_ نه! شیرین اغا!

_ تره؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



_ نه! پلار!

د ناستې ماشومې وړې سترګې سره تنګې شوې. په کټ کټ يې وخندل: پلار ته خو ابا وايي.

شنې سترګې نجلۍ وويل: نه! شېرين اغا وايي.

ناستې نجلۍ خپله لمنه خلاصه کړه. څو ماتې رنګارنګ شيشې يې پر قبر واچولې. ولاړې نجلۍ ته يې وکتل. شونډې يې خوځېدلې.

ناستې نجلۍ ورغږ کړل: څه وايې؟

_ دوعا کوم. خدايه ما وبخښې. زما مور و پلار وبخښې . ټول بوسولمانان وبخښې.

راغله. د ناستې نجلې تر څنګ ودرېده. ويېويل: دا دعا مې شيرين اغا را زده کړې وه.

ناستې نجلۍ د ولاړې نجلۍ شکېدلو پلاستيکي څپلکو ته وکتل. ويېويل: څپلکې دې ډېرې ارته (ازادي) نه دي؟

شنې سترګې نجلۍ وويل: دا مې د ادې څپلکې دي. ويل يې سې نن د باندې نه وځم. ناجوړه يم. ته يې په پښو که.

ناستې نجلۍ خپلو لوڅو چاودو پښو ته وکتل.

_ ما ام ډېرې ښکلې څپلکې درلودې. مازې يوه پينه يې لرله. اوبو يووړې.

نرۍ بوړبوکۍ راغله. ناستې نجلۍ منډه واخيسته. په دوړو کې ورکه شوه. بېرته راغله. په لاس کې نېولی زري کاغذ يې شنې سترګې نجلۍ ته ونيو. په خوند يې وويل: دا دې خوړلې دي؟

شنې سترګې نجلۍ وويل: پاپړ نو چيشی دي. شېرين اغا به مې هر وخت د شنه پاکټ ژاولې راته راوړلې.

ناستې نجلۍ کاغذ پر چپه خوا واړاوه. ژبه يې ورته راوايسته. لاړې يې تو کړې: ايق! خاورې دي.

غلې شوه. بيا يې وويل: ابا به مې نو پاپړ راته راوړل! رنګارنګ پاپړ.

يو دم يې وخندل: اخ! تر ټولو يې اغه ترخه پاپړ ښه ول. اجب خوند يې درلود.

بېرته د قبر تر څنګ کېناسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شنې سترګې نجلۍ وويل: دې ما شيرين اغا دې نو نه و ليدلی. څو وارې يې په خپل موټر کې ښار ته ورسره بوتلم. ايسکريم به يې راته اخيستل.

يو دم يې خپله لمن تر پيڅکې ونيوله: ها! دې ته وګوره! د رنګو کميس يې ام راته اخيستی و.

د زاړه، شکېدلي کميس لمنه يې خولې ته ور نږدې کړه. لاړې يې پرې تو کړې. پر رنګ تلليو رنګو يې رغوی تېر کړ. تندی يې تريو شو. ويې‌ويل: اوس يې رنګکي زاړه شوي دي. که دې اول ليدلي وای، لمر پکې ښکارېده.

ناستې نجلۍ وويل: بل کميس ام لرې؟

- نه! پيسې نشته. مور مې راته ويل چې يو څه وخت صبر وکه! د چرګې چوچوڼي به غټ شي. دوه به خرڅ کم. د رنګو کميس به درته واخلم.

ناستې نجلۍ په خوند وويل: شکر! زه خو د رنګو يو نوی کميس لرم.

شنې سترګې نجلۍ وويل: مور دې درته واخيست؟

ـ نه! د همسايه ښځې مې مور ته خپل کميس ورکو. ويل يې چې ډېر يې نه دی اغوستی. کوچنيانو ته کالي ترې وګنډه.

غلې شوه. د پاپړو زري کاغذ يې ټوټې ټوټې کړ. پر قبر يې وشينده.

شنې سترګې نجلۍ وويل: ابا دې ولې مړ شو؟

ناستې نجلۍ سوړ اسويلی وايست: ابا مې د ملک اکا دهقاني کوله! يو سهار يې په پټي کې جووې جوړولې. ټکا شوه. په منډه کور ته راغی. څو بې‌ړېرې کسان تر دېوال را واوښتل. ابا يې وډباوه. ويل يې چې دا اوږده ږېره او تور پټکی دې بې څه نه دي. ډز! زما تر مخ يې وويشت.

غلې شوه. شنې سترګې نجلۍ ته يې وکتل. ويې‌ويل: او ستا شيرين اغا؟

ـ زما شيرين اغا بيا ټکسي چلوله. يوه ورځ يې زه او مور ښار ته ورسره بوتلو. په زيارتونو يې وګرځولو! ماښام بېرته کور ته را تلو چې څو ږيرورو کسانو موټر ودراوه. شيرين اغا يې وډباوه. ويل يې چې دا سور، خرېيلی مخ او لوڅ سر دې بې څه نه دي. ډز! زما تر مخ يې وويشت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعالیت:** دې پوښتنو ته ځواب ووایه.

۱. د کیسې راوي څوک دی؟

۲. په کیسه کې تلوسه له کومه ځایه څخه پیل شوې ده؟

۳. د کیسې مکالمې څنګه دي؟ دغه خبرې اترې د ورو، غریبو، یتیمو نجونو له حال سره مناسبې دي؟

۴. د کیسې کرکټرونه څنګه انځور شوي دي؟ ظاهري او باطني ځانګړنې یې څومره معرفي شوي دي؟

۵. د کیسې ژبه درته څنګه ښکاري؟

**واورین باد**

لیکوال: عبدالواحد رفیعي

ژباړه: نصیر احمد احمدي

د ژمي سړه شپه نیمايي ته نږدې وه. اسمان وریځ و. نرم باد لوخې ونې خوځولې. په کوټه کې د څراغ کمزورې ژېړه رڼا ښکارېدله. زړه ښځه کوټې ته ورننوته. یخني لړزوله. ویې‌ویل: د لېوه انګولا راځي. نږدې دی. لکه د کلا تر شا چې ولاړ وي.

یوه ځوان سړي چې له یوې ورې نجلۍ سره یې خبرې کولې، وویل: بېچاره به وږی وی. غلی شو، بیا یې وویل: په دې ورځو کې له سپیو هم سبکه ختلې وي.

زړې ښځې وویل: له کومې ورځې چې ټک و ټوک کم شوی، لېوان هم زړور شوي دي. مخکې تر دې خلکو ټوپکې درلودې. لېوان وېرېدل. ابادیو ته نه شوای را کښته کېدای.

اسمان وریځ و. د باد چونګا راتله. کوچینۍ نجلۍ د کتاب پاڼه واړوله. پلار ته یې وکتل، ویې‌ویل: ته چې هلته وې، څه دې کول؟

پلار وخندل: لورې، مکتب ته تلم.

نجلۍ له خندا شنه شوه. په ناباوري یې وویل: نو په دومره لوینې کې مکتب ته تلې؟

پلار وویل: هو لورې. په همدې لویوالي کې مکتب ته تلم.

نجلۍ په خوند وپوښتل: قران شریف دې هم وایه؟

پلار موسک شو: هو لورې، قران شریف مې هم وایه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجلۍ هماغسې په خوند وویل: تاسو ته یې د دین اصول هم درښودل؟

پلار وخندل: هو لورې، د دین اصول یې هم را ښودل.

نجلۍ په خندا وویل: ښه نو، راته وو‌ایه چې د دین اصول څو دي؟

پلار موسک شو: پنځه.

نجلۍ په خوشالۍ چکچکې کړې. په خوند یې وویل: اخ، جان! پلار مې د دین اصول نه‌پېژني.

پلار وخندل. پوښتنه یې وکړه: ته راته ووایه، څو دي؟

نجلۍ په شوق وویل: درې دي. توحید، نبوت، معاد.

پلار په زوره وخندل: سمه ده لورې. سمه ده. د دین اصول درې دي.

یوه ځوانه ښځه له دهلېزه کوټې ته راغله. سترې ښکارېده. تکو سرو لاسونو یې دا ښودله چې همدا اوس یې بېګاني لوښي پرې‌مېنځلي دي. ځوانه ښځه څراغ ته نږدې کېناسته. پرته له دې چې چا ته وګوري، ویې‌ویل: نن شپه شاید واوره ووري. د باندې د قبر غوندې تیاره ده.

نجلۍ په بیړه خپلې مور ته وکتل. ښځې وویل: نه پوهېږم. لېوه دي که شغال؟ خو انګولا یې نږدې ده. خدای دې وکړي چې څوک په دښته کې نه وي پاتې.

نجلۍ خپل پلار ته وکتل. په وارخطایي یې وپوښتل: ابا! لېوان ډېر بد دي؟

پلار د نجلۍ پر وېښتو لاس تېر کړ، ویې‌ویل: نه ګرانې، خو کله کله له ویرې په یو چا حمله کوي. هو، که وږي وي، بد دي.

- زموږ په کتابونو کې د ګیدړې عکسونه شته. ګیدړه زوروره ده که لېوه؟

ـ لېوه زورور دی، خو ګیدړه په اسانۍ نه شي خوړلای.

نجلۍ وویل: ولې؟

پلار وخندل: ګیدړه په خپله لکۍ لېوه دوکه کوي، له لېوه لاره غلطوي.

ـ نو بني‌آدم هم لاره ترې غلطولی شي؟

ـ نه ګرانې! بني‌آدم نه شي کولای چې لاره ترې غلطه کړي. بني‌آدم د ګیدړې غوندې تیز نه دی.

د څراغ رڼا ورو ورو کمزورې کېدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړې ښځې سړه ساه وایسته، ویې‌ویل: څراغ تېل نه لـري. بایـد ماښـام لا لـه تېلـو ډک شـوی وای.

ځوانې ښځې په خندا وویل: اوس نو ناوخته ده. باید ویده شو. سبا به یې له تېلو ډک کم.

بوډۍ څو ځله د څراغ پلیته پورته کړه، خو د څراغ زور ختلـی و. پـه کمـزورې رڼـا کـې یـې د کوټې دېوالونه سره بخونه ښکارېدل.

چوپه چوپتیا وه. کله کله به د باد نرۍ غږ راغی. دا وخـت د انگـړ دروازه وټکېـده. بـوډۍ ورو وویل: خدایه خیر! په دې شپه کې به څوک وي؟

خپل زوی ته یې وکتل. یو ځل بیـا یـې د څـراغ پلیتـه پورتـه کـړه. پـه زحمـت ولاړه شـوه. لـه دهلیزه ووته. په لوړ غږ یې وویل: څوک یې؟

د دروازې له شا یو نارینه غږ راغی: گل‌احمد په کور کې دی؟

- هو. څه یې کوې؟ ته څوک یې؟

سړي وویل: له لوی کلي راغلم. مرکه ده. حاجی شهیر صېب یې غواړي.

بوډۍ خوله خبرو ته جوړوله چې گل‌احمد راغـی. دروازه یـې خلاصـه کـړه. دوه کسـان وو. د یخني له لاسه یې پزې پټې کړې وې. یوه گل‌احمد ته لاس ورکړ، ویې‌ویل: ورور جانه سلام. حـاجي صېب شهیر را ولېږلو. که زحمت نه وي یو ځل د لوی کلي جومات تـه راشـه. حـاجی شـهیر خـو بـه پېژنې؟

گل‌احمد وویل: هو، پېژنم یې.

وروسته یې دواړو کسانو ته په ځیر ځیر وکتل، ویې‌ویل: خو په دې شپه کـې مـې څـه کـوي؟ سبا به درشم.

سړي چې په خپل پټو یې خوله او پزه پیچلې وو او په سختي یې غږ اورېدل کېده، پـه خنـدا یې وویل: تر لوی کلي دومره لاره نـه ده. همـدا اوس مجلـس لـري. لـه نـورو ځـایونو هـم کلیـوال او سپین ږیري را ټول شوي دي.

گل‌احمد په حیراني وویل: مرکه د څه په خاطره ده؟

دوهم کس چې تر دې دمه غلی و، په بیړه یې وویل: د مکتب په باره کې خبري کـوي. نـوی کال له یوې موسسې نوی مکتب غواړي. د ولسوالي نماینده‌گان هم راغلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړي سړي وويل: حاجي صيب ويل چې که ته هم يې، ښه ده.

وړه نجلۍ د بوډۍ تر څنگ ودرېده. بـوډۍ د هغـې پـر سر لاس کېښـود، ويې‌ويـل: دا شـپه گوره. خو سبا ته به يې خبرې کړې وي.

گل‌احمد زړه نازړه وويل: ښه، يوه دقيقه ماتله شئ.

گل‌احمد کوټې ته ننوت. ځوانه ښځه ولاړه وه. ويې ويل: څه وايي؟

ـ وايي چې په لوی کلي کې مرکه ده، ته يې هم غوښتی يې.

ـ نو اوس ځې؟ ناوخته نه ده؟

گل‌احمد وويل: وربه شم، وبه گورم چې څه خبره ده. سبا کومه گيله ونه‌کړي.

د ښځې له لاسه يې کوټ ور واخيست. ښځه يې له مړژواندې څراغ سره يواځې پرېښوده.

گل‌احمد تر خولې او پزې د غاړې دسمال تاو کړ، پـه دوو کسـانو پسـې روان شـو. د مـور غـږ يې واورېد: ودرې زويه، تياره ده. څراغ به درته را واخلم.

په دوو کسانو کې يوه ور غږ کړل: ادې، اندېښنه مه کوه، موږ يې خپله ببرته درته راولو.

گل‌احمد کوټې ته وکتل، له درېڅې د څراغ وروستۍ کمزورې رڼا ښکارېدله.

دوی گړندی روان ول. کلا ته نږدې لـه گټـو ونـو دوه نـور کسـان راووتـل. وسـلې ور سره وې. گل‌احمد په حيرانۍ وويل: له ولسوالۍ مرکې ته راغلي ياست؟ يوه ځواب ورکـړ: هـو، د قومانـدانۍ نفر يو.

ټـول غـلي روان شـول. د کـارېز پـر سر دوه لارې تـه ورسـېدل. څلـورو کسـانو لاره کـږه کـړه. گل‌احمد ودرېد، په حيرانۍ يې وويل: لويې کلا ته خو دا لاره نه ده ده تللې.

باد تېز شو. کله کله به د گل‌احمد پر ټنډه د واورې ساړه بڅري ولگېـدل. يـوه کـس چـې تـر دې دمه غلی و، له جېبه لاسي څراغ را وايست. لـومړي يـې د گل‌احمـد مخ تـه ور واچـاوه، بيـا يـې خپل مخ ته د څراغ رڼا سيخه کړه. ورو يې وويل: زه دې وپېژندلم؟

گل‌احمد په ځير ورته کتل، يو دم يې وخندل: هو، فکر کوم چې سيف الله يې. کنه؟

سيف الله په زوره وخندل، لاسي بتۍ يې مړه کړه، ويې‌ويل: هغه وختونه دې په ياد دي چـې يو ځای به مکتب ته تلو؟

گل‌احمد په ډاډه زړه وويل: هو، کله مې هېرېږي. دواړه په يوه صنف کې وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیف‌الله وویل: ښه نو، ګامونه ګړندي که چې ناوخته نه شي.

غلی شو، مخ یې بېرته په پټو کې پټ کړ.

ګل‌احمد وویل: ښه، اوس چېرته روان یو؟

سیف الله چې ګل‌احمد ته نږدې روان وو، ویې‌ویل: دومره بې طاقتي مه کوه. یو بل کس هم باید ووینې. هله نو ژر ژر ځه.

باد تېزې کوله. پر ځمکه د واورې سپین ململ پروت و. کله کله به له لیرې د یوه سپي غپا راغله. سیف الله د مازار د غونډۍ خوا ته لاره چپه کړه.

ګل‌احمد ودرېد، په وراخطایی یې وویل: د مازار د غونډۍ خوا ته خو کومه ابادي نه شته، ما چېرته بیایې؟

سیف الله دوه ګامه شا ته ور وګرځېد. ګل‌احمد ته مخامخ ودرېد، ویې ویل: راځه. په خپله به پوه شې چې خبره څه ده. مه وېرېږه، که نه نو په زور دې بیایو.

یو دم یې ګل‌احمد د غاړې له دسماله ونیو. په شدت یې د ځان خوا ته ور کش کړ. ګل‌احمد څو ګامه بې‌اختیاره مخکې لاړ. ځان یې کابو کړ، ونه لوېد. نورو دریو کسانو ته یې وکتل، د ټولو سرونه ځړېدلي ول. هېڅ یې هم نه ویل.

ګل‌احمد په وېره وویل: سیفو خانه، څه خبره ده؟ زه مو چېرته را وستم؟ تاسو خو ویل...

پر ککرۍ یې یو څه ولګېدل. خبره یې پرې شوه. سر یې وګرځېد. کېناست. دوو کسانو تر مټو ونیو. په زوره یې ودراوه. بل پر ملا لغته ورکړه. ټیله یې کړ.

ګل‌احمد څو ګامونه واخیستل. ودرېد. زوروره ناره یې تر خولې را ووته. وروسته یې ژبون ووهل شو. لړزې واخیست. لاسونو ته یې ټکان ورکړ. غوښتل یې چې څه ووایي، خو له خولې یې غږ نه را ووت.

سیف الله لاس ور وغځاوه، د غاړې له دسماله یې ونیو او لکه پسه څو ګامه یې په ځان پسې کش کړ.

باد تېز و. لوخې ونې پر یو بل لګېدې. وچه ټکا یې خته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګل‌احمد د مجبوري له مخې په دوی پسې روان شو. نه پوهېده چې چېرته او ولې روان دی. وېرې نیولی و. په ذهن کې یې رنګارنګ خبرې ور ګرځېدې: «نه نه، سیف الله خو شناخته سړی دی، همشین دی...»

د مکتب وختونه ور په زړه شول: «د سیف‌الله بوخراغ ډېر خوښېدل، ما ته تنوري کلچو خوند راکاوه، تل به مو د یو بل بکسونه تلاشي کول».

واوره تېزه شوه. سړې دانې یې پر مخ ښې نه لګېدې. په نوور پسې روان و. یو دم یې وړه لورکۍ ور په زړه شوه. «ها ها ها، د پلار مې د دین اصول نه دي زده، د پلار مې د دین اصول نه دي زده، د پلار مې ...» ټول بدن یې پړک اخیستی و. مور یې په ذهن کې ور وګرځېده: «له کومې ورځې چې دا ټک و ټوک کم شوی دی، لېوان زړور شوي دي...»

د مازار غونډۍ په لمنه کې درې نور کسان ولاړ ول، لکه کمین نیولي لېوان غلي ښکارېدل. یوه یې وویل: راغلئ.

سیف‌الله له ځوابه پرته له هغو سره یو ځای شو. له یوه سره وپسنېد. روان شول. کله چې غونډۍ ته ورسېدل، سیف الله ګل‌احمد ته وویل: په یاد دې دي، څو کاله مخکې په وچه جلګه کې یو مړی موندل شو؟

ګل‌احمد په حیرانۍ وویل: هو، خو په ما یې څه؟

د سیف‌الله تڼده تروه شوه: په تا یې څه؟

ګل‌احمد په وېره وویل: جنازه په وچه جلګه کې موندل شوې وه، تاوان یې له ما غواړې؟ زه یې څه کوم؟

سیف‌الله د ګل‌احمد له د غاړې دسمال خلاص کړ، ساړه باد د ګل‌احمد ټټر ته ور ننوت. داسې احساس ورته پیدا شو لکه په ژوندوني چې یو ستکی ترې باسي، لړزې واخیست، غابښونه یې وکړپېدل، خو په دې حال کې یې پر تندي مړې خولې راماتې وې.

سیف‌الله د غاړې دسمال ته ور لوېدلې غوټه خلاصه کړه، ویې ویل: اوس دې نو غوږونه خلاص شول. ویې خندل، په ملنډو یې وویل: پوهېږې چې هغه جنازه د چا وه؟ هغه وخت ته دلته وې، مشر ورور دې هم همدلته و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګل‌احمد په حیرانۍ سړی ته کتل، یودم یې په وارخطایی وپوښتل: ته فکر کوې چې خدای مه کړه خیرالله مور...

سیف الله په خبره کې ور ولوېد: یا تا، یا کوم بل چا! پر مور یې فرق نشته، خو سړی ستاسو په سیمه کې وژل شوی و.

ګل‌احمد وویل: نو که داسې وي، زمور کسان هم په نورو سیمو کې مړه پیدا شوي دي. د شیر زوی په شګلنه دښته کې پیدا شو، د سلیم زوی د زاړه کلي په خرابه کې مړ پروت و، د ...

سیف‌الله چیغه کړه: تاسو بې‌غیرته یاست، خو ورشئ، خپل غچ ترې واخلئ.

دا یې وویل او د ګل‌احمد خولۍ یې د هغه له سره لیرې وغورځوله. سړی یې تر وېښتو ونیو، په ځان پسې یې نږدې شیلې ته ور کش کړ. ګل‌احمد په وارخطایی د سیف‌الله دواړه لاسونه له بندونو نیولي وو، هماغسې پسې ښښېده. وروسته یې یو دم چیغه کړه: سیفو، څه کوې؟ وژنې مې؟

پر سر یې کلکه ضربه ولګېده، پړمخې پرېووت.

اوه کسه پرې راټول شول. د لغتو وار نه کېده. بیا یې د ټوپکو کنداغونه ورته سیخ کړل. د ګل‌احمد له تندي سرې وینې را روانې وې...

ګل‌احمد د خواست په ژبه وویل: زه نوی راغلی یم. ما څه کړي دي؟ د خدای له پاره ګناه مې څه ده؟

یوه سړي چیغه کړه: ستا ګناه دا ده چې تر اوسه لا ژوندی یې. ستاسو ګېډې چې ډکې شي، بیا د خدای بنده‌ګي نه منئ.

ګل‌احمد په سختۍ ودرېد. له هر یوه یې زړه‌سوی غوښت. زارۍ یې کولې. خو هر یوه د څپېړې یا د ټوپک د کنداغ وار پرې کاوه. دی نا امېده شو. زنګنونه یې پر ځمکه ولګېدل. د مور خبره یې په ذهن کې ورتېره شوه: «له کومې ورځې چې ټک و ټوک کم شوی، لېوان زړور شوي دي...»

سیف‌الله یو ګام مخکې راغی. ګل‌احمد یې د ټوپک پر کنداغ وواهه. د سړي له تنډې وینو داره وکړه. ولوېد. سپینه واوره سره شوه. بېرته په زحمت کېناست. ټول قوت یې پښو ته ور ټول کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



منډه يې واخيسته، خو ولوېد. اوه کسيزه حلقه پرې راټوله شوه. هر يوه به د لېوانو غوندې جلا جلا خوله وراچوله... سړی بېرته پړ مخې پرېووت.

سيف‌الله تر وېښتو ونيو، ويې‌ويل: که ځان در بانـدې گـران وي او پـه خپلـو اولادونـو دې زړه خوږېږي، نو د خيرالله قاتل راوښيه. ووايه، ورور مې چا وواژه؟

غلی شو. د گل‌احمد تشي ته يې لغته ورکړه. له خولې يې لاړې باد شوې: ووايه! يـو خـو دې ورور و، بل څوک و؟

گل‌احمد وټوخل. سرې لاړې يې تو کړې. ورو يې وويل: د خدای له پاره! نه پوهېږم. خو مـوږ نه وو. رحم وکړئ، اخ، لورکۍ مې...

پر سر يې ضربه ولگېده. پر ځمکه هوار پرېووت. بېرته پورته شو. پر ښۍ سـترگه يـې وينــې را ماتې شوې... هر يوه ته به يې زارۍ کولې. پښو ته په ور ولوېد، خو گټه يـې نـه کولـه. پـه سـوک يـا لغته به وهل کېده. گل‌احمد چيغې وهلې: د خدای روی منئ! ما مه وژنئ!

سيف‌الله په ملنډو وويل: که دې پرېږدو، نو په دې واوره کې د کور لاره پيدا کولای شې؟

گل‌احمد په نااوري وروکتل. باور يې نه راته. پـه هـيڅ شي يـې بـاور نـه راتـه. زړه تـه يـې نـه لوېده چې د خيرالله ورور، سيف‌الله دې يې همداسې خوشې کړي. ده په راوتلو رډو سـترگو سـيفو ته کتل. په زړه کې ور تېره شوه: نه، دا زما همصنفی سـيف‌الله نـه دی. سـيفو بـه مـا څنگـه وژني؟ باور مې نه راځي. نه، دا زما ...

سيفو د ټوپک نلۍ د گل‌احمد تر زنې لاندې کړه، ورو يې وويل: خپله لاره پيـدا کـولای شـې که موږ دې تر کوره ورسوو؟

يو دم يې په زوره وخندل: وبخښه! زحمت مو درکړ. اوس نو ورځه. بوډۍ مور به دې درپسـې زړه ترقه شي.

گل‌احمد په راوتلو سترگو سيفو ته وکتل. په زحمت ولاړ شو. پر ښۍ سترگه يې لسـتوڼی تېـر کړ. ويې‌ويل: موږ دواړه همصنفيان وو. داسې نه ده، موږ دواړه...

سيف‌الله په خبره کې ورولوېد: څه چې در باندې ناوخته کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګل‌احمد زانګي وانګي روان شو. په زړه کې يې مرګ ورګرځېده. لينګې يې لړزېدل. ګامونه يې له اختياره وتلي ول. يو ځای ودرېد. د سيف‌الله ناره ورپسې راغله: ورځه نو، موږ پر تا کار نه لرو.

ګل‌احمد د خپل ټول وجود قوت خپلو پښو ته راووست. د ونو خوا ته يې منډه کړه. ټک شو، ولوېد.

اوه کسان ورغلل. سيف‌الله يې پر ټټر ور کېناست. د ګل‌احمد له تشي وينو دارې وهلې.

د ګل‌احمد له بدنه سېکه ختلې وه. د ښځې خبره يې په ذهن کې ور تېره شوه: «خدای مه کړه، که څوک په دښته کې پاتې وي...»

سيف‌الله له جېبه لوی چاقو را وايست. د ګل‌احمد سترګې رډې راختلې وې. سيف‌الله د سړي پر ستوني سوړ چاقو کېښود. د ګل‌احمد سترګو ته د هغه لور ودرېده: «پلار مې د دين اصول نه پېژني، ها ها ها...پلار مې...»

باد تيز و. ونې يو پر بل لګېدلې. چونګا يې خته...

د ګل‌احمد شونډې وخوځېدې: لا اله...

د تورو جامو سړيو د دوی چارچاپېره کړۍ جوړه کړه او په اتڼ ګډ شول.

سيف‌الله په ترنم وويل: الله اکبر الله ...

چهارشنبه وه، واوره اورېده. خو د باد زور ختلی و. پر ګل‌احمد يوه لوېشت پرته واوروه يو ځای تکه سره ښکارېدله.

**لومړی فعاليت:** کيسه يو ځل بيا په ځير ولوله او د «ډاکټر شوام» د کيسې د تحليل په شان؛ د دې کيسې هر عنصر تحليل کړه.

**دوهم فعاليت:** فکر وکړه چې د «واورين باد» په کيسه کې د کرکټرونو نومونه، عددونه، او ورځې به هسې تصادفي انتخاب شوي وي که بله معنا هم لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يادونه:** په تخيلي ادبي ژانرونو کې ډرامه، سناريو، او ناول هم شامل دي خو دا چې دا ژانرونه اوږده او ډېر تخصصي دي، دلته يې نه راسپړو. همدارنګه د لنډې کيسې په اړه نورې تخنيکي خبرې هم شته چې ما نه دي راخيستې او که څوک غواړي چې د دې او نورو ادبي ژانرونو په اړه مفصل معلومات پيدا کړي، دغه کتابونه دې ولولي:


۱. د نثر ليکلو هنر؛ اسدالله غضنفر؛ مومند خپرندويه ټولنه؛ ۱۳۹۱
۲. راځئ کيسه وليکو؛ نصير احمد احمدي؛ مومند خپرندويه ټولنه؛ ۱۳۹۱
۳. ماشومانو ته د کيسو ليکلو چل؛ اجمل پسرلی؛ مصور بنسټ؛ ۱۳۹۰
۴. ناول به څنګه ليکو؛ سيد نظيم سيدي؛ مومند خپرندويه ټولنه؛ ۱۳۸۹
۵. پښتو لنډه کيسه او ادبي ټوټه؛ سيد نظيم سيدي؛ صميم ادبي ټولنه؛ ۱۳۸۶
٦. په ډرامه کې کرکټر کښنه، محب الرحمن محب؛ اسد دانش مطبعه؛ ۱۳۹۳
۷. نجيب محفوظ څرنګه کيسې ليکي، اجمل پسرلی، سالنګ خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۸
۸. د کيسو کيسې، اېمل پسرلی، سروش خپرندويه ټولنه، کابل، ۱۳۸۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورمه برخه

# ۴. نقد او تحليل

د دې لپاره چې د يوه متن په اړه سم قضاوت وکړو، بايد يې د تحليل او نقد چلونه زده کړو. د متن د تحليل لپاره لومړی انتقادي مطالعه په کار ده. په دې برخه کې به د انتقادي مطالعې، تحليل او نقد تخنيکونه تمرين کړې.

## ۴. ۱. انتقادي مطالعه Critical Reading

زه غوره گڼم چې د «انتقادي مطالعې» پر ځای د «اغېزناکې مطالعې» اصطلاح وکاروم. اغېزناکه مطالعه په دې معنا ده چې کله يو متن لولئ، پوه شئ چې «څه وايي؟»، «ولې يې وايي؟» او «څنگه يې وايي؟» اغېزناکه مطالعه په څو پړاوونه کې ترسره کېږي.

**لومړی پړاو (متن څه وايي؟):** د اغېزناکې مطالعې لومړی گام پر متن پوهېدل دي. د دې لپاره چې سم پوه شو، متن بايد بيا بيا ولولو. پر متن د پوهېدلو لپاره دغه کارونه کوو:

۱. پنسل را اخلو. متن يو وار لولو او هغه کلمې او اصطلاحات چې نه ورباندې پوهېږو، په نښه کوو يې. بيا يې معنا او مفهوم له قاموسونو يا انټرنټ څخه پيدا کوو.

۲. متن بيا لولو او اساسي ټکي يې په نښه کوو. معمولاً په هر پراگراف کې يو اساسي ټکی وي چې د اثبات لپاره يې څو دليلونه، شواهد او مثالونه وړاندې شوي وي.

۳. متن په درېيم ځل لولو او بيا يې خلاصه په خپل ذهن کې جوړوو.

۴. د متن خلاصه له خپل ذهنه ليکو. البته د ليکوال جملې او عبارتونه به کټ مټ هماغسې نه ليکو.

دلته به د ارواښاد پوهاند دکتور سيد بهأ الدين مجروح «د جبر او اختيار دیالکتيک» له کتاب څخه يو متن راواخلو او لومړی پړاو به په کې عملي کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جبريان او قدريان

معتزله د واصل بن عطا پيروان وو. واصل په خپله د حسن بصري شاګرد و او د هجري له ۸۰ تر ۱۸۰ پورې ژوندی و. اشاعره د مشهور متکلم ابو الحسن علي ابن اسمعيل الاشعري پيروان وو چې په ۲٦۰ هجري کې زېږېدلی او ۳۲۴ هجري کې وفات شوی دی.

د دې دوو فرقو منځ کې د اختلاف ټکي ډېر دي. معتزله زيات د عقلي مکتب پيروان وو او اشعريانو زيات په حديث او خبر اتکاء کوله. د جبر او اختيار په مسأله کې د دوی دواړو موقفونه داسې وو:

معتزله وايي چې: د خلقت له شروع څخه خدای انسان په خپلو کړو وړو کې مختار پيدا کړی دی او د بني‌آدمانو په کار کې هره لحظه او دايمي مداخله نه کوي، ځکه که فرض کړو چې د انسان ټول کړه وړه د خدای په اراده پورې تړلي وي او د انسان اراده په کې هېڅ تاثير ونه لري، نو په دې صورت کې به د خلکو د هدايت له پاره د پيغمبرانو رالېږل، د آسماني کتابونو نازلول، خير او شر او ثواب او ګناه، مکافات او مجازات هېڅ معنا او مفهوم ونه لري.

اشاعره استدلال کوي چې: که انسان په اعمالو کې مختار وبولو، نو د خدای مشيت، قضا او قدر، لوح محفوظ، د خدای مطلق علم او مطلق قدرت مهمل او باطل کېږي. نو ځکه انسان مختار فاعل نه دی، بلکې موجب فاعل دی. د انسان رابطه له خپلو اعمالو سره داسې ده، لکه د رنګونو رابطه له رنګينو شيانو سره. څرنګه چې رنګ په شي ولاړ دی، خو د اعمالو او د انسان دواړو خالق خدای دی، د دې مسألې د حل له پاره د «کسب» نظريې څخه استفاده کوي. په دې شان چې د اشعريانو په نظر د بندګانو کړه وړه د خدای په قدرت کې دي او د بنده قدرت په کې کوم تاثير نه لري، خدای په بنده کې قدرت ايجادوي او له دې ايجاد سره سم او «مقارن» يو فعل پيدا کوي، په دې شان هر فعل خدای ابداع او خلق کوي او بنده يې «کسبوي» او له دې کسب څخه مقصد د کړو وړو «مقارنت» دی د انسان له قدرت او ارادې سره. او بنده د فعل په ايجاد کې تاثير نه لري. لهذا انسان په خپلو اعمالو کې مجبور دی او خدای په بندګانو کې اعمال خلقوي، لکه په نورو اشياوو کې. لکه چې وايو: اوبه جاري شوې؛ لمر را وخوت؛ آسمان شين شو او نور. ..

(c) ketabton.com: The Digital Library



## امربین الامرین:

د دې دوو پورتنیو لارو په منځ کې یوې بلې فرقې منځنۍ لار نیولې ده، یعنې «امر بین الامرین» یې غوره کړې او وایي: «لاجبر ولاتفویض ولکن امر بین الامرین». غزالي د دې جملې اشخاصو څخه دی چې د اوسط لار یې غوره کړې ده. د ده په عقیده جبریان د بنده له قوت څخه انکار کوي او په دې شان د یو فزیکي حرکت او یو ارادي حرکت په منځ کې تمیز نه کوي او له دې انکار سره د بنده ټول شرعي تکلیفونه باطلوي. د اختیار طرفداران د خدای له قدرت څخه انکار کوي او ټول افعال د بندګانو مخلوق ګڼي او په اختراع او خلقت کې بندګان له خدای سره شریکوي. وسطه لاره به دا وي چې قدرت د خدای او بنده له دواړو څخه وګڼو. د دې منځنۍ لارې بل مشهور مثال صدرالدین شیرازي دی. دی خپله د «جبر و تفویض» رساله داسې شروع کوي: «سبحان من تنزه عن الفحشأ ولا تجری من ملکه الامایشأ» په دې عبارت کې «امر بین الامرین» ته اشاره ده او وایي چې خدای د هر ډول فساد نه پاک دی او په عالم کې هر څه د ده په اراده جاري دي. د جملې لومړۍ برخه اختیار ته اشاره کوي او دویمه برخه یې په جبر دلالت کوي. په همدې رساله کې دی وایي چې د امر بین الامرین نه مراد دا نه دی چې د بنده فعل د جبر او اختیار کوم ترکیب دی. نه دا چې فعل له دواړو څخه خالي دی، یا ناقض جبر یا ناقض اختیار دی، بلکې څرنګه چې په خپله وایي «المرادانه مختار من حیث هو مجبور و اد مجبور من حیث هو مختار بمعنی آن اختیار بعینه اضطراره!» مراد دا دی چې بنده مختار دی، له دې جهته چې مجبور دی او مجبور دی، له دې جهته چې مختار دی، یعنې د هغه اختیار عیناً اضطرار دی. د ملا صدرا دا خبره ډېره نوې او تازه بڼه لري او اوسني دیالکتیکي فکر ته ډېره ورته ده.

**فعالیت:** ۱) د مقالې هغه اصطلاحات او کلمې چې نه وربادنې پوهېږې، په نښه کړه. ۲) د دې کلمو او اصطلاحاتو معنا او تعریفونه پیدا کړه. ۳) مقاله له سره ولوله او عمده ټکي (main ideas) یې پیدا کړه. ۴) هر عمده ټکی په یوه جمله کې بیان کړه. ۵) دغه جملې سره یو ځای کړه او د مقالې خلاصه له خپل ذهنه ولیکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوهم پړاو (څنګه یې وایي؟):** په دې پړاو کې متن د ژبې، ګرامر، سلاست او بلاغت، او سبک له نظره ارزوو. یعنې ګورو چې متن په آسانه ژبه لیکل شوی دی، که په سخته او پېچلې ژبه؛ جملې یې په ګرامري لحاظ سمې دي که نه؛ متن روان لوستل کېږي که لوستونکی په کې ټکنی کېږي؛ لیکوال خپل مطلب واضح بیان کړی دی که خبرې یې ګونګې او مبهمې دي؛ او بالاخره د لیکوال سبک کومې ځانګړنې لري.

اوس به پورتنۍ مقاله په همدې ملحوظاتو ارزوو:

**۱. ژبه او ګرامر:** د مقالې ژبه ساده او آسانه ده خو دا چې موضوع یې خپله نسبتاً سخته او انتزاعي ده نو په آسانۍ وربانديې نه شو پوهېدای. د متن ځینې جملې لنډې او ځینې اوږدې دي. د ساده جملو تر څنګ مرکبې جملې هم لري او دغه مرکبې جملې د موضوع تقاضا ده، نه دا چې لیکوال دې په لوی لاس لیکلې وي. په مقاله کې د اصطلاحاتو د پښتو کولو هڅه نه ده شوې، بلکې فارسي، عربي او انګلیسي اصطلاحات هماغسې په خپل شکل راغلي دي. جملې یې په ګرامري لحاظ سمې دي، یعنې مبتدا، خبر، فاعل، مفعول، فعل، صفت او موصوف په خپلو ځایونو کې راغلي دي خو یو نیم ځای کې د پښتو پر ځای عربي/ فارسي ترکیبونه غوره شوي دي لکه «ناقض جبر» چې په پښتو کې «د جبر ناقض» کېږي. ځینې جملې یې د فارسي جملو جوړښت لري لکه: « د امر بین الامرین نه مراد دا نه دی چې ...» په فارسي کې دا جمله داسې ده: «مراد از امر بین الامرین این است که ...» حال دا چې په پښتو کې ویل کېږي: «د امر بین الامرین مراد دا دی چې ...» یعنې دلته «د ... نه مراد» د فارسي ژبې جوړښت دی. همدارنګه په دې بله جمله کې «بنده مختار دی، له دې جهته چې مجبور دی او مجبور دی، له دې جهته چې مختار دی، یعنې د هغه اختیار عیناً اضطرار دی.» د فارسي ژبې «از این جهت» په «له دې جهته» ژباړل شوی دی خو په پښتو کې ویلی شو: «ځکه چې/ په دې چې»، یعنې داسې یې لیکلی شو: «بنده مختار په دې دی چې مجبور دی او مجبور ځکه دی چې مختار دی.» په ځینو جمله کې سربلونه غورځېدلي دي لکه دا «د دې دوو فرقو منځ کې د اختلاف ټکي ډېر دي.» چې د «په منځ کې» پر ځای یوازې «منځ کې» راغلی دی. همدارنګه په ځینو ځایونو کې د «له» پر ځای «د» لیکل شوی دی لکه « خدای د هر ډول فساد نه پاک دی.» او په غیر مستقیم نقل قول کې د شارحې «:»

(c) ketabton.com: The Digital Library



علامه راغلې ده لکه «معتزله وايي چې: د خلقت له شروع څخه خدای انسان په خپلو کړو وړو کې مختار پیدا کړی دی.»؛ حال دا چې دغه علامه په مستقیم نقل قول کې کارول کېږي.

**۲. سلاست او بلاغت:** د مقالې ژبه روانه ده او ان هغې ډېرې اوږدې جملې یې هم بې تکلیفه لوستل کېږي. د بلاغت په لحاظ هم لیکوال بریالی دی او خبرې یې واضحې دي. د هرې جملې مفهوم د پوهېدو دی او مبهمه خبره په کې نشته.

**۳. سبک:** د لیکوال په سبک کې ځینې ځانګړنې په نښه کولی شو.

الف. د فعلونو تنوع: لیکوال هڅه کړې ده چې د متن د خوږلت په خاطر د یوه مفهوم لپاره مختلف فعلونه وکاروي. لکه «واصل له ۸۰ تر ۱۸۰ پورې ژوندی و.» او «ابو الحسن علي ... په ۲۶۰ هجري کې زېږېدلی او ۳۲۴ هجري کې وفات شوی دی.» یا «معتزله زیات د عقلي مکتب پیروان وو او اشعریانو زیات په حدیث او خبر اتکاء کوله.» دا کار د متن خوند زیاتوي څو د فعلونو تکرار بې خوندي جوړوي.

ب. د ژبې سوچه توب ته نه تمایل: لیکوال په متن کې عربي او فارسي اصطلاحات پښتو ته نه دي ژباړلي. که یې دا کار کړی وای، په دومره آسانۍ به پرې نه پوهېدو. له دې ښکاري چې ښاغلی مجروح د یوه استاد په حیث غوښتل چې فلسفي خبرې شاګردانو ته آسانه کړي، نه سختې.

ج: د عربي کلمو جمع: لیکوال په ځینو ځایونو کې د عربي کلمو جمع د عربي ژبې مطابق راوړي دي لکه «اعمال، اشاعره، اشیاوو» او په ځینو ځایونو کې یې د پښتو ژبې له مخې جمع کړي دي لکه «اشعریان، فرقې، تکلیفونه».

**درېیم پړاو (ولې یې وايي؟):** د دې پوښتنې د ځوابولو لپاره باید د متن لیکوال وپېژنو چې څوک و؛ مسلک یې څه او تعلیم یې څومره و؛ ایډیالوژیک تمایل یې درلود که نه؛ نړۍ ته یې په کومه سترګه کتل، نیت یې څه دی او .... دا خبرې مهمې ځکه دي چې هر لیکوال حقیقت ته له یوې خاصې زاویې ګوري او د هر څه په لیکنه کې د هغه فکري او ایډیالوژیک تمایلات څرګندېږي. هر لیکوال غواړي خپل مخاطب د خپل نړۍلید او فکري نظام خوا ته ورمات کړي نو کېدای شي د حقیقت ځینې اړخونه پټ یا تت کړي او ځینې نور اړخونه یې وځلوي. د لیکوال د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخصیت، تعلیمي سویې، او نړۍ لید په اړه معلومات راسره مرسته کوي چې پوه شو د هغه خبرې څومره باوري دي او کومه خبره یې ومنو، په کومه خبره یې شک وکړو او کوم نظر یې مونږ غلطې لارې ته برابرولی شي. که یو څوک فرضاً د طب متخصص نه وي خو پر یوې طبي موضوع لیکنه کوي، په خبرو یې ډېر باور نه دی په کار. همدارنګه که یو ایډیالوژیک انسان د یوې پېښې یا موضوع په اړه لیکنه کوي، هر څه ته به له خپلو ایډیالوژیکو عینکو ګوري او د واقعیت ځینې اړخونه به تحریفوي یا به یې پټوي.

راځئ وګورو چې د جبریان او قدریان لیکوال څوک و. دا لیکنه د پوهاند ډاکټر سید بهأ الدین مجروح «د جبر او اختیار دلیکتیک» له کتاب څخه راخیستل شوې ده. هغه د فلسفې، اروا‌پوهنې او بشري علومو تعلیم په فرانسه او جرمني کې کړی و، پي ایچ ډي یې درلوده او د کابل پوهنتون استاد و. مجروح د ثور تر کودتا وروسته پېښور ته مهاجر شو او هلته یې د خلک دیموکراتیک ګوند د حکومت پر خلاف مبارزه پیل کړه. دا چې هغه غوښتل چې خلک هر څه تحلیل کړي او هېڅ شی په پټو سترګو ونه مني. همدارنګه یې هڅه کوله چې په افغانو کډوالو کې د وطنپالنې او ملي روحیه غښتلې کړي او خپل خلک د ایډیالوژیو له لومو وژغوري نو د جهادي تنظیمونو او د پاکستان د حکومت نه و خوښ او هماغه و چې دی په ۱۹۸۸ کې په مرموز ډول وویشتل شو او شهید کړای شو. پوهاند مجروح «د جبر او اختیار دیالکتیک» کتاب د فلسفې محصلانو ته لیکلی و او دا چې ده په همدې برخه کې لوړې زده کړې او کافي مطالعه یې درلوده، خبرې یې باید باوري او معلومات یې باید دقیق وي نو باور وربانديې کولی شو. ده په دې کتاب کې له یوې خوا د فلسفې یوه مهمه موضوع «جبر او اختیار» خپلو شاګردانو ته سپړلې ده او له بلې خوا یې هڅه کړې ده چې د هغوی تحلیلي ځواک او د منطقي فکر کولو قوت ورزوي نو نیت یې د خیر و.

**لومړی فعالیت:** لاندې متن یو وار ولوله. هغه کلمې او اصطلاحات چې نه وربانديې پوهېږې، په نښه یې کړه او بیا یې په کتابچه کې ولیکه. وروسته یې معنا او تعریفونه پیدا کړه. بیا متن له سره ولوله او اساسي ټکي یې په نښه او په کتابچه کې یې ولیکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اخلاقو فلسفه

ليکوال: پوهاند ډاکټر سيد بهاوالدين مجروح

د انسان حکمونه او قضاوتونه درې معياره لري: (۱) يا ښکلا او بدشکلي ده چې د جمال فلسفه پرې خبرې کوي؛ يا (۲) د حقيقت او خطا ارزش دی چې د پوهې د تيوري موضوع ده؛ يا (۳) د ښه او بد (خير او شر) مسأله ده چې د اخلاقو فلسفه پرې تحقيق کوي. په هره ساحه کې فلسفه بنيادي سوال طرحه کوي. مثلاً د جمال په باره کې دا پوښتنه کېږي چې انسان د ښکلا او بدشکلی حکم په څه اساس کوي؟ د پوهې په باره کې دا سوال پيدا کوي چې موږ د حقيقت او خطا تميز څرنګه کوو؟ حقيقت څه ته وايي؟ همدارنګه د خير او شر په مسأله کې همدا بنيادي سوال منځ ته راځي او همدا د اخلاقو د فلسفې موضوع ده.

د اخلاقو د فلسفې لنډ او ساده تعريف به دا وي: د اخلاقو فلسفه د هغه پرنسيپونو او اساساتو تحقيق او څېړنه ده، د کومو په بناء چې انسان د يو شي په باره کې د ښو او بدو حکم کوي. د دې پرنسيپونو او اساساتو څېړنه يو ضروري کار دی. هر انسان چې ځان ته انسان وايي، بايد د ښو او بدو خپل معيار ځان ته معلوم کړي او په لاشعوري ډول په هر شي د ښو او بدو حکم ونه کړي.

که موږ د هغه ټولو اعمالو او کړو وړو يو لست او جدول جوړ کړو، کوم چې زموږ په نظر بد برېښي، نو له داسې يوې مطالعې څخه به موږ ته معلومه شي چې بالاخره زموږ د ښو او بدو احکامو معيار څه شی دی. مثلاً ولې يو قانون ته ښه وايو او يا بد؟ ولې يو عمل، يوه موسسه، يو کرکټر او يو عادت موږ ته ښه ښکاري يا بد؟ نو د دې پوښتنې په ځواب کې به ځينې خلک داسې ووايې چې: هر هغه عمل ښه دی چې د خدای (ج) له ارادې سره موافق وي او هغه عمل بد دی چې د خدای له ارادې سره مخالف دي. يو بل به وايي چې: بد هغه څه ته وايم چې له طبيعت سره مخالف وي، يعنې «غير طبيعي» وي. د يو بل چا په نظر به بد هغه څه وي چې له عقلي پرنسيپ سره مخالف وي او بالاخره ځينې به داسې وايي چې: بد هغه دي چې د انسانيت د سعادت او نېکمرغۍ پر ضد وي. دلته ګورو چې د اخلاقي قضاوتونو جلا او مختلف اساسات طرحه شول او د اخلاقو فلسفه هم هېڅ کوم اخلاقي تبليغ نه کوي او د کوم خاص قانون يا د کوم خاص

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي په ښو او بدو بحث نه کوي، بلکې د اخلاقو د فلسفې موضوع د پورتنیو پرنسیپونو او اساساتو څېړنه او تحلیل دی.

**دوهم فعالیت:** متن یو ځل بیا ولوله او د دغو پوښتنو ځواب په کې پیدا کړه:

۱. متن د څه شي په اړه دی؟
۲. د متن اساسي ټکي کوم دي؟

**درېیم فعالیت:** د پورتني متن خلاصه له خپل ذهنه ولیکه خو د لیکوال جملې هو بهو مه تکراروه.

**یادونه:** حقیقت ته د لا نژدې کېدو لپاره، په عین موضوع کې د څو کسانو لیکنې باید ولولو. ممکن یوه لیکوال د موضوع یو اړخ ښه بیان کړی وي او بل لیکوال یې بل اړخ ښه راسپړلی وي. همدارنګه د عین موضوع په اړه به مختلفو لیکوالو متفاوت نظرونه ورکړي وي او موږ به د همدې مختلفو نظرونو په تحلیل سره نسبي حقیقت ته رسېدلی شو.

## ۴. ۲. تحلیل Analysis

انتقادي تحلیل دا معلوموي چې یوه مقاله یا یو اثر د یوې ادعا یا نظر په وړاندې کولو کې څومره بریالی دی. دغه تحلیل معمولاً د مقالو او کتابونو په اړه ترسره کېږي خو د هنري آثارو لکه فلم، داستان، تابلو ... تحلیلونه هم کېږي. د تحلیل پر مهال به هم د لیکوال/ هنرمند بلاغت ارزول کېږي چې خپله خبره یې څنګه کړې ده او هم یې د مقالې/ اثر مؤثریت ته پام کېږي. دلته به نقد او تحلیل ګام په کام زده کړې.

**لومړی ګام (انتقادي مطالعه):** څرنګه چې پورته مو انتقادي یا اغېزناکه مطالعه تمرین کړه، لومړی به د لیکوال/ هنرمند تیسز یا فرضیه معلوموې. وګوره چې لیکوال د څه شي په ګټه یا پر ضد بحث کوي. په علمي مقالو کې د تیسز معلومول د هنري آثارو لکه نقاشي، فلم او داستان، په نسبت آسانه وي. له ځانه پوښتنه وکړه چې د بحث محتوا څه ده او لیکوال به ولې د دې بحث

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لیکلو ضرورت احساس کړی وي. که په متن کې داسې کلمې او اصطلاحات وي چې ښه وربانديې نه پوهېږې، په قاموس یا دایرة المعارف کې یې معنا ولټوه. که ټوله مقاله د یوه نوي او نا آشنا مفهوم په اړه وي نو بیا نورې داسې مقالې باید پیدا کړې او ویې لولې چې همدغه مفهوم یې لا واضح بیان کړی وي. له ځانه پوښتنه وکړه چې لیکوال د هرې ستونزې او مسئلې له پاره چې په خپل تیسز کې یې راوړې دي، حل لارې وړاندې کړې دي، که نه. که یې وړاندې کړې وي، دغه حل لارې واقع بینانه دي، که نه. بیا د اثر اساسي ټکي لست کړئ. په علمي مقالو کې معمولاً اساسي ټکي د هر پراګراف په موضوعي جملو کې وي (موضوعي جمله د پراګراف لیکنې په برخه کې تشریح شوې ده). وروسته مقاله په خپلو کلمو او عبارتونو تشریح کړه او لنډیز یې ولیکه. کله چې د متن خلاصه لیکې، یوازې یو یا دوه پراګرافه ورته بس دي. هڅه وکړه چې خلاصه په خپلو عبارتونو ولیکې، نه دا چې د لیکوال خبرې کټ مټ راواخلې.

**دوهم ګام (د لیکنې خطاب):** وګوره چې لیکنه څه شي ته خطاب کړی دی. په لیکنو کې دریو اساسي شیانو ته خطاب کېږي چې هغه عواطف، عقل، او باور دي. عواطفو ته خطاب د مخاطب احساسات او عواطف راپاروي. هغه آثار چې تفریحي او تبلیغاتي بڼه لري، معمولاً عواطفو ته خطاب کوي. مثلاً شعر، داستان، ډرامه، فلم، موسیقي او نور هنري آثار ممکن تاسو ته د خوښۍ، خپګان، خواخوږۍ، مینې، کرکې، ویاړ، شرم، ... احساس درکړي. همدارنګه ایډیالوژیکي او سیاسي شعارونه او لیکنې، او اکثره تجارتي اعلانونه عواطفو ته خطاب کوي او د مخاطب احساسات راپاروي. عقل ته خطاب په منطق او استدلال کېږي چې د لوستونکي نظر او لیدلوری بدل کړي. اقناعي مقالې (نظر، ترغیبي، استدلالي مقالې) همداسې دي. کله یې چې لولې، فکر کولو ته دې هڅوي او فکري نظام ته دې لوری ورکوي. باور ته خطاب لوستونکی هڅوي چې پر لیکوال/ لیکوالې د هغه/ هغې د شخصي-، مسلکي او علمي وړتیا په خاطر باور وکړي. البته ځینې لیکنې ممکن هم عقل او هم عواطفو ته خطاب وکړي؛ یا عقل او باور ته؛ او یا هم درې واړو ته. دلته به یې نمونې ولولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱. عواطفو ته خطاب

### تصويرونه، اوښکې او قاتلان

دوو تصويرونو ته به ډېرو ژړلي وي. لومړی تصوير د يـوې مړژوانـدې نجلـۍ دی چـې ټپـوس ورپسې دی چې کله دا مړه شي، هغه يې وخوري. دغه عکس پـه ۱۹۹۳ کـې د سـودان پـه دارفـور کې اخيستل شوی. جګړو قحطۍ راوستې، وړه ماشومه خبره شوې چـې هلتـه نـژدې چېـرې خـواړه وېشل کېږي. دا روانه ده خو په ځنښېدو. له ډېرې لوږې او خوارځـواکۍ د دربـدلو او ګرځېـدلو وس نه لري. ورپسې يو ټپوس روان دی. دا چې لږ شانتې ځنښېږي، ټپوس هـم يـو ټـوپ ورپسـې وهـي. ټپوس دې تـه ګـوري چـې نجلـۍ بـه کلـه سـاه ورکـوي چـې دا يـې وخـوري. د دې عکس عکـاس ژورناليست کيوين کارټر (Kevin Carter) ته په ۱۹۹۴ کـې د همـدې عکـس پـه خـاطر د پـوليټزر جايزه ورکړل شوه. خو هغه د جايزې تر اخيستلو څو مياشتې وروسته ځان وواژه. ده نـور د خشـونت هغه صحنې نه شوې زغملی چې په افريقا کې يې ليدلې وې. ده دغـه عکـس اخيسـتی او لـه هغـه ځايه تللی و، هماغسې چې د ژورناليزم تقاضا ده، يعنې ژورناليست بايد يوازې مشاهد پـاتې شي او پخپله په څه شي کې مداخله ونه کړي. دا چې په دې وړې نجلۍ څه بلا راغلـه، دی پـرې خبر نـه شو خو، د عکس تر چاپېدو وروسته نورو ورباندې نيوکه وکړه چې ته اول انسان يې، بيا ژورناليسـت.




ژورناليزم درته اجازه درکوي چې د دې مرګي حالې نجلۍ له څنګه تېر شـې خـو انسـانيت درباندې حکم کوي چې ويـې ژغـورې. ځينـو خو لا سختې خبرې ورتـه وکـړې: «تـه او هغـه ټپوس سره يـو شـان يـئ. ټپـوس د ماشـومې مرګ ته منتظر و چـې ويـې خـوري او تـا يـې عکــس د شـــهرت لپـــاره واخيســـت، دواړو د نجلۍ په دې وضعيت کې خپله ګټـه لټولـه.» ممکــن همــدغو خــبرو کــارټر ځــانوژنې تــه هڅولی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا یوه عراقۍ ماشومه ده چې په دارالایتام کې اوسېږي. هغې خپله مور نه ده لیدلې او د مور د لیدو ارمان په خیالونو کې پوره کوي. نجلۍ پر ځمکه د مور رسم کښلی او په غېږه کې یې ویده شوې ده. ماشومې خپل بوټونه د مور د رسم له پښو سره ایستلي دي چې د هغې کالي ککړ نه کړي.

*دوهم تصویر چې مور ورته اوښکې تویې کړې*




دا دوه تصویرونه د دوو بېلو سیمو، د بېلو خلکو، د بېلو رنګونو، بېلو قومونو او بېلو مذهبونو حال راته بیانوي خو دوه شیان په دواړو کې مشترک دي: یو؛ انساني درد، هغه درد چې ویده وجدانونه راویښوي. دوه؛ د دې ناخوالو علت. د دواړو دردونکو صحنو علت جګړه ده. زموږ په وطن کې هم داسې کیسې کمې نه دي. په دې څه باندې ځلوېښتو کلونو کې به لکونه داسې دردونکې صحنې واقع شوې وي.

نو، اې قاتله! مخکې تر دې چې پر ماشه ګوته ټینګه کړې؛ مخکې تر دې چې چېرته ماین پټ کړې؛ مخکې تر دې چې انتحاري واسکټ واغوندې؛ مخکې تر دې چې د چا پر کور بم وغورځوې؛ دغه تصویرونه درياد کړه. د هغو وګړو ماشومان درياد کړه چې ته یې وژنې. ته څه فکر کوې، د جنت د ګټلو بله هېڅ لاره نشته؟

ته مې ګمراه بوله خو زه ستا په لاره نه درځم
ما ډېرې لیدلې د جانان کلي ته لارې دي

**یادونه:** دغه لیکنه په مخاطب کې د جګړې له قربانیانو سره خواخوږي او له جګړې او جګړه مارو څخه کرکه پیدا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲. عقل ته خطاب

### ښځې ناقص العقلې دي؟

لیکوال: محمد محق

ژباړه او لنډون: محب الله زغم

دا پوښتنه د ښځو په اړه د اسلام لید بیانوي. ځینو خلکو د هغه حدیث د ظاهر پر استناد چې په دې اړه راغلی دی، ښځې له کامل عقله او له سم تفکره محرومې ګڼلې دي او د هغوی له ټولنیز مقام سره یې مخالفت کړی دی. دوی ان د ښځو نظر او رایه نه شي زغملای او خپل دا دریځ د شرعي حکم او اسلامي لیدلوري په بڼه تبلیغوي او بابوي یې.

ځینو نورو بیا په همدې وجه، اسلام نامترقي او داسې دین بللی چې په تبعیض قایل دی او نرسالاره طبیعت لري. دوی وایي چې دا احکام له علمي او عقلي موندنو سره اړخ نه لګوي او په همدې لحاظ پر دیني ارشاداتو نیوکه کوي.

په دې مقاله کې به د موضوع د روښانولو لپاره یو څو ټکي بیان کړو. البته د موضوع د حق د ادا کولو لپاره لا اوږده لیکنه په کار ده چې له یوې خوا پر دیني نصوصو تکیه وکړي او له بلې خوا نویو علمي منابعو ته مراجعه وکړي او د دواړو تر منځ تطبیقي پرتلنه وکړي.

لومړی ټکی چې په دې اړه باید یاد شي، دا دی چې په دې اړه راغلی حدیث د محدثانو په نظر معتبر حدیث دی او د حدیث په څو مشهورو کتابونو کې روایت شوی دی او ظاهراً که آحاد حدیث معتبر وګڼو، دې کې شک نشته چې دا تعبیر د پیغمبر (ص) له خوا صادر شوی دی.

پاتې شوه محتوا او اصلي مقصد یې او هغه احکام چې د نتیجې په توګه ورنه راوتلی شي.

بله مهمه خبره د هغې قاعدې ده چې معاصرو پوهانو د هرمنوتیک او د متنونو د تفسیر په مبحثونو کې مطرح کړې ده. قاعده دا ده چې د ویناوال او د یوه متن د پنځوونکي د مقصود د موندلو لپاره باید دا متن په هماغه فضا او چاپېریال کې کېښودل شي چې په کې صادر شوی دی.

که دا قاعده په پام کې ونه نیول شي، په غالب ګومان به هغه تعبیر چې نننی لوستونکی یې له متنه اخلي، د ویوونکي منظور نه وي. که قرینې راټولې شي او د هماغه وینا د مطرح کېدو زمینې مطالعه شي، د دې تعبیر بطلان به راښکاره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیخ محمد غزالي (رح) همدا ټکی په څو کتابونو کې یاد کړی او په ټینګار سره یې ویلي دي چې د جعلي حدیثونو او روایتونو زیان تر هغه زیانه کم دی چې د صحیح حدیثونو د ناسم تعبیر په وجه پیدا شوی دی.

که هغو کتابونو ته مراجعه وشي چې دا حدیث یې روایت کړی او د متن سبک او سیاق یې وڅیړل شي، دا به ښکاره شي چې د دې خبرې منظور د کوم شرعي حکم بیان نه دی او دا په هېڅ وجه د ښځو په اړه د اسلام لیدلوری نه څرګندوي. په وروستیو وختونو کې د دود شویو فرهنګي رواجونو په متابعت، دا ناسم تعبیر هم د ښځو په اړه د لیدلوري اساس ګرځېدلی، لکه نورو غلطو مشهورونو چې یو ځل عام شي بیا څوک دا زحمت نه ګالي چې ورباندې بیاکتنه وکړي.

د دې ادعا لپاره لومړی دلیل دا دی چې دا خبره د نبوي رسالت په ټولو ۲۳ کلونو کې یوازې یو ځل د حضرت رسول (ص) له خولې اورېدل شوې ده. خو که دا شرعي حکم وای، د شریعت د نورو احکامو غوندې چې د نبي کریم له خوا په کراتو مطرح کېدل، باید بیا په یو بل مناسبت کې هم مطرح شوی وای. که د دې حدیث راخیستونکو کتابونو صحیح بخاري، مسلم، ترمذي، ابوداوود، ابن ماجه، مسند احمد او سنن نسایي ته مراجعه وشي، وبه لیدل شي چې ټولو دا روایت له یوه مورده او له یوې پېښې راخیستی دی. دا هغه وخت و چې مسلمانان د مدینې له ښاره د باندې په عیدګاه کې د فطر یا د اضحی اختر (راویان په دې کې شک لري) د لمانځه لپاره راغونډ شوي وو او پیغمبر (ص) د ښځو لپاره لنډه موعظه وکړه. په موعظه کې یې وغوښتل چې ښځې دې د صدقې او خیریه اعانې په ورکولو کې برخه واخلي. د موعظې په ترڅ کې دوی دا جمله هم وفرمایله چې: «ما رأیت ناقصات عقل و دین بأذهب للب صاحب لب منکن»

داسې تعبیر له دې پېښې پرته، نه تر دې مخکې او نه وروسته د محمد (ص) له خولې اورېدل شوی دی. حال دا چې په کراتو او په مختلفو مناسبتونو د ښځو په اړه خبره یاده شوې او دوی د موضوع په اړه خپل ارشادات فرمایلي دي خو هېڅکله یې هغه خبره بیا نه ده کړې.

که دې خبرې د شرعي حکم حیثیت غوره کړی وای، د رسول اکرم لومړنیو مخاطبانو یعنې صحابه‌وو به همدې تعبیر ته رسېدلي وای او باید یې په ټولنیزو چارو کې له ښځو سره پر همدې اساس چلند کړی وای او د خپل دریځ د توجیه لپاره یې باید پر همدې حدیث تکیه کړې وای. حال دا چې د صحابه‌وو په وخت کې نه یوازې دا چې دا نظریه خپره نه شوه او ونه لیدل شوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلکې عملاً له ښځو سره مشورې کېدې او د هغوی نیوکو او وړاندیزونو تـه پـام کېـده او چېـرې چـې لازمه وه، ښځو ته اجتماعي مقامونه هم ورکړل شوي وو.

د مسلمانانو په منځ کې د فاطمه (رض) مقام، په شرعي او علمي مسايلو کې د ځینو امهـات مومنینو مرجعیت، په تېره بیا د حضرت عایشې (رض)، د راشده خلافت په ټوله دوره کې د جهـاد او ټولنیزو فعالیتونو په ډگرونو کـې د مسـلمانو ښـځو شـتون او داسـې نـور کـافي دلیلونـه دي چـې د مسلمانانو په منځ کې د ښځو په اړه هغسې لیدلوری نه و او یاد حدیث د شرعـي حکـم متضـمن نـه گڼل کېده.

[د استاد محق د خبرې تأیید په دې هم کېږي چې الشـفا بنـت عبداللـه پـه اوومـه مـیلادي پېړۍ کې د طب معلمه وه. د اسلام دوهم خلیفه حضرت عمـر بـن خطـاب ورنـه وغوښـتل چـې پـه مدینه او بصره کې دې پر روغتیایي چارو نظارت وکړي او ښایي دا به په تـاریخ کـې لـومړنۍ مېـرمن وي چې دغه مقام ورکړل شوی دی. ژباړن]

له دې ورهاخوا، د حضرت محمد (ص) عملي سنت له دې لیـدلوري سره اړخ نـه لگـوي. چـا نه دي لیدلي چې هغوی دې له ښـځو سره پـر همـدې اسـاس چلنـد کـړی وي، بلکـې عمـلاً یـې د ښځو خبرو ته ارزښت ورکاوه، غوښتنې یې جدي گڼلـې او د هغـوی مشـورې یـې عمـلي کـولې. پـه عبادتځایونو، د جهاد په میدانونو او په نورو ټولنیزو ډگرونو کې یې د ښځو حضور ته هرکلـی وایـه او د هغوی برخه اخیستل به یې هڅول.

دا بـه هـم نـه هېـروو چـې د اسـلام د پیغمـبر ټـولې وینـاوې د وینـا د مناسـبت او د کـلام د صادرولو د فضا په لحاظ سره یو شان نه دي. ځینې خبرې یې وحیـاني لارښـوونې نـه وې، بلکـې د هغوی په ټولنیز مقام پورې یې اړه درلودې. ډېرو پخوانیو او اوسنیو لویو عالمانو لکـه شـهاب الـدین قرافي، شاطبي، ابن القیم، شوکاني، شاه ولي اللـه دهلـوي، محمـود شـلتوت، محمـد رشـید رضـا، یوسف قرضاوي او ځینو نورو په دې اړه ټینگار کړی دی او په علمـي او اصولي مبحثونو یـې توضـیح کړي دي چې د رسول اکرم (ص) ټولې خبرې د شرعي احکامو د بیان جنبـه نـه درلـوده او وینـاوې یې پر څو ډلو ویشل کېږي.

محمد (ص) خوش‌طبع و او له خلکو سره یې ښه چلند کاوه نو د دوی ځینـې خـبرې – البتـه ډېرې نه دي- د صمیمیت د ښودلو او د سالمو ټوکو پـه بڼـه دي. مـثلاً معاویـه تـه د «لا اشـبع اللـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بطنه»، ابو ذر غفاري ته د «رغم انف ابی ذر»، يوه بل صحابي ته د «تربت يداک» ويل او داسې نورې بېلګې. که په دې موردونو کې د کلام د صدور فضا په پام کې ونه نيسو، فکر به وکړو چې د مخاطبانو په حق کې يې ښېرا او نفرين کړی دی. حال دا چې داسې نه ده. په همدې خاطر هېڅ مخاطب يې خپه شوی نه دی، بلکې خوشحاله شوي دي او وروسته بيا به هر يوه په فخر سره دا حکايتونه بيانول او ځانونه به يې سرلوړي ګڼل چې حضرت (ص) له دوی سره خپل محبت ثرګند کړی دی. اساساً دا پخوانی دود دی چې لويانو به کله کله خپل هغه مخاطبان چې ځان ته به يې نږدې کسان ګڼل، په همدې توګه نازول.

د «ناقصات عقل و دين» تعبير چې په دې حديث کې راغلی، دقيقاً له همدې ډول تعبيرونو څخه دی. ځکه چې د دې تعبير دوهمه برخه چې د ښځو د دين نقصان يادوي، د حديث په دوام کې توضيح شوی دی چې دا نقصان د حيض او نفاس په وخت کې د لمانځه او د روژې ترک کول دي. د ټولو عالمانو اتفاق دی چې دا نقصان هغه ډول نقصان نه دی چې د تقصير او د شريعت د احکامو د بې پروايۍ په وجه رامنځته کېږي. د دين نقصان د کلمې په حقيقي معنا هغه کمی دی چې مکلف وګړی يې عمداً ترسره کړي لکه دا چې واجب ترک کړي يا حرام کار وکړي او دا ډول نقصان د خدای او پيغمبر له خوا رټل شوی دی او خطرناک منکر ګڼل کېږي.

خو هغه نقصان چې د ښځو په اړه ويل شوی، هېڅ عيب او د رټلو نه دی ځکه چې اختياري کار نه دی. ان ځينو عالمانو ويلي دي چې د حيض او نفاس په ورځو کې د لمانځه او روژې ترک کول، يو ډول عبادت دی ځکه چې دا د شرعي احکامو متابعت دی. د عقل د نقصان خبره چې په حديث کې د دين له نقصان سره جوخته ياده شوې ده، هم همداسې قياسولی او ويلی شو چې دا به د ټوکې په بڼه ويل شوې وي، نه د شرعي حکم په بڼه.

بله خبره چې بايد واضحه شي، دا ده چې په ځينو نورو مناسبتونو کې هم له هغه حضرت (ص) څخه ځينې ټوکې نقل شوې دي چې ډېر حکمتونه او درسونه په کې نغښتي دي خو دا چې د مقالې ځولۍ تنګه ده، ورنه تېرېږو. خو دومره به ووايو چې د هغوی ټوکې هسې بې ګټې نه وې او هغه مطلب به يې چې د ټوکو لپاره غوره کاوه، داسې نه و چې يوازې دې خلک وخندوي او هېڅ ډول حقيقت دې په کې نه وي پروت. د هغوی په رانقل شويو مشهورو ټوکو کې يوه يې دا ده: بوډۍ د هغوی حضور ته مشرفه شوه او هغوی د خبرو په ترڅ کې ورته وويل چې بوډۍ جنت ته نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځي. سپین سرې خپه او غمجنه شوه. وروسته بیا رسول اکرم خپله خبره ورته توضیح کړه چې په قیامت کې به ټول انسانان د ځوانۍ عمر ته ستنېږي او بیا به جنت ته ځي. د دوی دا خبره د قرآن له دې آیته اخیستل شوې وه چې: «انا أنشأناهن انشاء فجعلناهن أبکارا عربا أترابا لأصحاب الیمین.» همدارنگه بل وار یوه ښځه ورغله چې د خپل مېړه په اړه څه ورته وایي. حضرت محمد (ص) وفرمایل: ستا مېړه هماغه دی چې په سترگو کې یې سپین شته؟ دا چې له دې خبرې د سپین سترگې مطلب اخیستل کېده، پر ښځې ښه ونه لگېده. خو وروسته پیغمبر (ص) یې سر خلاص کړ چې د هر انسان په سترگو کې سپین شته.

هر مورد چې د پیغمبر (ص) وینا د ټوکې په بڼه روایت شوې ده، که وځیرل شي، ښکاره به شي چې خبرې یې دوه اړخونه لري، یو د وینا ظاهري اړخ او بل یې د هغوی منظور. په دې هر مورد کې د هغوی منظور یو حقیقت رانغاړي خو په داسې بڼه افاده شوی چې مخاطب ته بل مفهوم ورکوي او وروسته چې مخاطب د هغوی په منظور پوه شوی، خوشحاله شوی دی.

**یادونه:** په دې مقاله کې استاد محمد محق د منطق او استدلال په کارولو سره د مخاطب عقل ته خطاب کوي او فکر کولو ته یې هڅوي.

## ۳. باور ته خطاب

دغه کتاب د فروید د ارواپوهنې خالصه تشریح او بیان دی. ما د فروید د تیوریو د ارزونې یا نقد اراده نه‌ده کړې او نه مې له نورو تیوري‌گانو سره په مقایسه کې د ده تیورۍ ازمویلې دي ځکه چې زما په فکر، دا به ډېر ارزښتمن وي چې **سړی مخکې له دې چې پر یو څه نقد کوي، باید ځان پرې پوه کړي**. د داسې نقدونو عامېدل چې نقاد په موضوع پوره نه‌وي پوه شوی، سړی ډاروي. داسې ښکاري چې فروید به زموږ د پېر د لویو متفکرانو په منځ کې تر هر چا زیات له داسې نقدونو څخه ځورېدلی وي. د هغه تیورۍ دومره زیاتې تحریف شوې او په ناسمه بڼه معرفي شوې دي چې د واقعیت او درواغو بېلول به یې د لوستونکو له پاره تقریباً ناممکنه وي.

د فرویدي اروپوهنې تشریح او تفسیر آسانه کار نه‌دی. د فروید مفکورې او نظریې د هغه په ټولو لیکنو کې چې د 1890یمو کلونو له پیله د 1930مو کلونو تر وروستیو پورې لیکل شوې دي، تیت و پرکې دي. نو سړی باید د هغه **ټولې لیکنې** ولولي چې مطمین شي چې هېڅ اساسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټکی ورنه نه‌دی پاتې شوی. پر دې سربېره، زه لـه دې سـتونزې سره مـخ وم چـې د ځينـو تيـوريکي ټکو په باره کې د فرويد د وروستي نظر په باب پرېکړه وکړم ځکه مـا نـه غوښـتل چـې دغـه کتـاب د فرويد د نظريو تاريخي تسلسل راوسـپړي. فرويـد بـه د خپلـو تيوريـو سـمول، کـره کـول او پراخـول جاري ساتل. هغه خپلې ځينې لومړنۍ نظريې پرېايښې دي او ډېرې نظريې يې تکـرار کـړې دي. د دغو پرېکړو له پاره مې هڅه کړې ده چې له ټولو شواهدو او لـه خپـل قضـاوت څخـه کـار واخلـم. بې له شکه چې په قضاوتونو کې به تېروتنې شوې وې. کېدای شي ما د فرويـد پـه ليکنـو کـې هغـه تعبير موندلی وي چې زه ورپسې گرځېدم خو د تېروتنې د مخنيوي له پاره بـه مـې دا خـبره تـل پـه خپل ذهن کې ساتله چې «ممکن تېروتلی به يم». کله چې به مې فکر کاوه چې د فرويـد لـه خـبرو څخه زما تعبير داسې څه دي چې د ده په ليکنو کې نشته، نو **بيا بـه مـې د هغـه ليکنـې لـه سره لوستلې**. هيله‌من يم چې نتيجه به يې هماغه څه وي چې فرويـد ويـلي دي، نـه هغـه څـه چـې مـا انگېرلي دي.

د دې کتاب په ليکلو کې مې يوازې لـه هغـو **لـومړي لاس منـابعو** څخـه کـار اخيسـتی دی چې د فرويد خپرې شوې ليکنې بلل کېږي. فکـر مـې وکـړ چـې بهـتره ده د دوهـم لاس منـابعو پـر ځای، د فرويد پر خپلو خبرو تکيه وکړم. هر لوستونکی کولی شي د هـر فصـل پـه پـای کـې راغلـي ريفرنسونه وگوري او ځينې مشابه برخې په کې ولولي او پـه دې کتـاب کـې ټـولې راغلـې خـبرې د فرويد د آثارو په مجموعه کې چې له ښه مرغـه پـه انگليسي- کـې پـه معيـاري بڼـه چـاپ شـوې ده، وگوري.

دغه کتاب د عامو لوستونکو او همدارنگه د ارواپوهنې د محصلانو له پاره ليکل شـوی دی. د دې کتاب خاکه مې خپلو شاگردانو ته ورکړې وه چې ويې‌لولي او **ما د هغوی لـه عمـلي او نظـري وړانديزونو څخه پرېمانه گټه اخيستې ده**. د دوی په مرسته مې خپلې خبرې داسې وکړې چـې عام لوستونکي، چې د ارواپوهنې په باره کې په لږ څه پوهېږي، هم پرې پـوه شي. هڅـه مـې کـړې ده چې خپلو شاگردانو ته د دې کتاب په ډالۍ کولو سره، د هغوی مننه وکړم.

کالوين اس. هال
ويسټرن ريزرف پوهنتون
د ارواپوهنې څانگه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یادونه:** دا لیکنه امریکایي ارواپوه کالوین «د فروید ارواپوهنې» د کتاب په سریزه کې کړې ده. ټوله لیکنه یې د مخاطب باور ته خطاب کوي او لوستونکی قانع کوي چې باید د ده پر خبرو باور وکړي. هغه عبارتونه او جملې چې بولډ شوي دي، د مخاطب د باور د راخپلولو اساسي ټکي دي.

**فعالیت:** لاندې د استاد محمد محق د کتاب «سترګې به پرانیزو» (چې ما ژباړلی) سریزه ولوله او بیا راغلیو پوښتنو ته ځواب ووایه.

## د پیل خبرې

ښنګه چې له دې ملک څخه د ښېرازۍ او د ترقۍ فرصت اخیستل شوی دی، هماغسې د دې لوبې په وجه زموږ د معنوي تعالي فرصت هم له منځه تللی دی. دین کولی شول چې د خپلو اخلاقي لارښوونو په برکت د انسانانو روح او باطن تزکیه کاندي؛ خو که چېرې دین یې د قدرت او ثروت په ناولتیاوو نه وای ککړ کړی. موږ له دین څخه د مینې او پخلاینې الهام اخیستی شو، نه د کرکې او خشونت.

خو زموږ د وطن واقعیتونه بل څه وایي ... ګوندې دا کرغېړنه کیسه پای نه لري چې نور د مرګونو او مصیبت، بلوا او جنایت شاهدان ونه اوسو.

درې لسیزې تېرې شوې خو لا هم د هېواد د فکر او فرهنګ په ډګر کې د بدلانه نښې نه ښکاري او لا هم د دیني بحثونو ټیکه د هغو وګړو په لاس کې ده چې ژوند ته هېڅ درناوی نه لري او آرامۍ او آبادۍ ته هېڅ اهمیت نه ورکوي.

لا هم د دین په نامه بازار لګېدلی او هغه شیان په کې خرڅېږي چې د وینو بوی ځنې لتېږي او له غوسې او خشونت پرته نور څه په کې نشته خو لنډ فکري او ساده‌ګان یې اخیستونکي دي.

په دې منځ کې نو د قلموالو رسالت څه دی؟ هغه کسان چې فکر خپروي، هغوی څه وظیفه لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایا هغه ژمنه چې خدای پاک د فکر او پوهې له خاوندانو څخه اخیستې ده، له دوی څخه دا نه غواړي چې بې له ویرې دې د جهل او جمود پردې وشلوي او د مستو زنګیانو له لاسه دې وسله واخلي چې نور د چا مرۍ پرې نه شي او د چا نس څیرې نه شي؟

د دین د داسې ښکلي تفسیر وړاندې کول چې پر عقل برابر وي او پر زړه خوږ ولګي، او د افراطي مفکورو نقد کول، یو له هغو کارونو څخه دی چې د فکر خاوندان یې کولی شي.

لیکوال دا خپله وظیفه بولي چې د قلم په زور د هغو کسانو مخې ته ورودانګي چې تیاره خپروي او کرکه او تعصب زېږوي. دا مسأله تر هغې زیاته جدي ده چې سړی دې ځان ورته غلی ونیسي او خبره په کې ونه کړي؛ ځکه چې دلته د انسانانو او د هېواد د تباهۍ او د دین د بدنامۍ مسأله مطرح ده، دلته اخلاق او معنویت تباه کېږي.

لیکوال په دې هم پوهېږي چې دغه هڅې د اوبو د یوه څاڅکي په شان دي چې په یوه وچه، سوځېدلې صحرا کې څڅېږي او دا به د ټولنې له زرګونو ستونزو څخه یوه هم حل نه کړای شي؛ خو چاره څه ده؟

هغه ربړه چې موږ ورسره مخ یو، یوازې د همدې زمانې محصول نه ده. زموږ د هېواد ځینې ستونزې په تېرو لسیزو او ان تېرو پېړیو کې ریښه لري. هر نسل یوه کارنامه درلودلې ده، یا مثبت یا منفي، یا کامیاب یا ناکامه. موږ هم په خپل وار سره یو څه مسوولیت لرو. کېدای شي زموږ نننۍ تتې هڅې د راتلونکو نسلونو لپاره ګټورې تمامې شي، د هغو نسلونو لپاره چې پر ځان به ویاړي او د دې ټولنې د بېړۍ ماڼوګان به وي.

لیکوال په همدې باور قلم راخیستی او هڅه یې کړې ده چې له خپلې وسې سره سم، ځینې مسایل مطرح کاندي. ګوندې دا بحثونه ځینې پوښتنې راولاړې کړي او زموږ په ټولنه کې د کتاب د ځینو لوستونکو په فکر کې خوځښت راولي.

د دې کتاب مقالې او بحثونه د تېر کال په بهیر کې له هغو ترخو او غمجنو پېښو سره هم مهاله لیکل شوي دي چې زموږ په خاوره کې پېښې شوې. نو د لیکوال ذهن تر ډېره بریده هغو اندېښنو په سر اخیستی و چې د محیط له واقعیتونو سره یې اړخ لګاوه او نیت یې انتزاعي-تحقیقي اکاډیمیکه لیکنه نه وه؛ خو د اکاډیمیکو هڅو د ارزښت د راکمولو نیت یې هم نه دی لرلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې کتاب ځینو مقالو د قلموالو پام ځان ته اړولی او سربېره پر دې چې ځینو خپل شخصي نظر راته څرګند کړی، ځو تنو ځوانو قلموالو نقدونه او تعلیقونه یې هم وربانديې کښلي او له دې کار سره یې د انتقادي بحثونو سپرغۍ بله کړې ده او دا هغه څه دي چې زموږ د فرهنګي حوزې له اساسي اړتیاوو څخه دي. دا چې زه له دې تعلیقاتو او ملاحظاتو سره موافق یم که نه، بېله خبره ده؛ خو د دې حسنه سنت قدر کوم او د لیکوالو د مبارکو هڅو په درناوي، د هغوی مقالې مې د کتاب په پای کې راوستې دي.

د دې اثر تر خپرولو وروسته به هم لیکوال له دې باوره لرې نه شي چې د هغه لیکنې د انساني هڅې په توګه له خطا او سمو او ناسمو به خالي نه وي، په همدې وجه دی هر نقد ته په ورین تندي هرکلی وايي او هیله من دی چې په همدې پلمه دې د هېواد د قلموالو ترمنځ جدي او لا ژور بحثونه راپیدا شي او هغه فکري رکود چې پر دې وطن حاکم دی، مات شي. په دې تمه چې جدي او اغېزناک بحثونه پیل شي او دعوې دې د جګړې او خشونت له ډګره د قلم او لیکلو میدان ته انتقال شي. که داسې وشي په دې ملک کې به لوی بدلون پیل شي او ټولو ته به د ښه راتلونکې زیری ورکړي.

**پوښتنې:**

۱. د متن کومه ټکي ستا عقل ته خطاب کوي؟

۲. په دې متن کې داسې څه شته چې د مخاطب باور ته یې خطاب کړی وي؟

۳. کومې جملې ستا عواطفو ته خطاب کوي؟ د لیکنې د کومې جملې په لوستلو سره خوښ، خپه، یا غوسه شوې؟

**دوهم فعالیت:** د «ښځې ناقص العقلې دي؟» مقاله بیا ولوله او دې پوښتنو ته ځواب ووایه:

۱. مقالې ستا مفکوره بدله کړه؟

۲. ستا په نظر د لیکوال دلیلونه کافي او قانع کوونکي وو؟

۳. د لیکوال خبرې واضحې، دقیقې او سره تړلې وې؟

۴. د لیکوال خبرې باوري دي؟ د هغه پر نیت او خبرو څومره باور کولی شې او ولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴. ۳. نقد Critique/ Review

د نقد د لیکلو دوه لومړني پړاوونه یعنې انتقادي/ اغېزناکه مطالعه او تحلیل دې پورته تمرین کړل. اوس سره پوهېدلي یو چې د یوه متن د نقدولو لپاره باید لومړی ځان ورباندې پوه کړو او بیا یې تحلیل کړو. تر دې ځایه پورې کار د متن او د لیکوال د مهارتونو ارزونه ده خو په درېیم پړاو کې یو بل شی هم په کې ورزیاتېږي او هغه د موضوع په اړه ستا نظر دی. نقد یوازې د یوه اثر د کمزوریو یادول نه دي، بلکې په نقد کې باید د اثر مثبت او منفي ټکي دواړه یاد شي او تر منځ یې انډول هم وساتل شي. د نقد د لیکلو لپاره دغه کارونه باید وکړو:

**لومړی. تر لیکلو مخکې پړاو**

**۱.** د دغو پوښتنو ځواب پیدا کوو: (۱) د لیکوال تیسز او عمده ټکي څه دي؟؛ (۲) په لیکنه کې د مخاطب عقل، عواطفو، که باور ته خطاب کوي او لیکوال په دې خطاب کې څومره بریالی دی؟؛ (۳) متن څومره منسجم او سره تړلی دی؟؛ او (۴) د معلوماتو ترتیب او تنظیم یې څنګه دی؟

**۲.** د اثر ښېګڼې او بد ګڼې جلا جلا لیکو او هڅه کوو چې دواړه په برابره اندازه راواخلو. که فرضاً مثبت ټکي مو ډېر راخیستي وي او منفي یې کم، نو د لیکنې په وخت کې به یې لومړی منفي ټکي یادوو. همدارنګه که منفي ټکي مو ډېر په کې موندلي وي، نو اول به یې مثبته خوا بیانوو.

**۳.** که لیکوال کومه لانجمنه موضوع، چې په اړه یې متضاد نظرونه وي، بیان کړې وي نو ګورو چې د مقابل لوري نظرونه یې هم راخیستي دي که نه. په داسې حالت کې باید د لیکوال د نظر مخالف نظرونه هم مطالعه کړو او د نقد په لیکلو کې ورنه کار واخلو.

**۴.** ګورو چې متن د لوستونکو په درد لګېږي که نه. دا لیکنه به په اوس وخت کې د لوستونکو کومه ستونزه حل کړي که نه. مطلب دا چې ولې دا لیکنه په لوستلو ارزي یا ولې نه ارزي.

**۵.** د نقد له پاره د لیکنې خلاصه برابروو. په دې خلاصه کې د لیکنې مهم عمده تکي باید شامل وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړی فعالیت:** لاندې «د تاریخ سبقونه» د کتاب یوه مقاله مې بیا راخیستې ده. مقاله ولوله او ورپسې د راغلیو پوښتنو ځوابونه ولیکه.

## زرین وختونه

تصور کېږي چې بشر په خپل تېر ژوند کې د داسې امپراطوریو طلایي دورې هم لرلې دي چې ظلم، تبعیض او استثمار په کې نه وو. له افسانو سره سم، د دغو زرینو وختونو په زړه غوښتونکو شېبو کې نه د خلکو په منځ کې جګړې وې، نه کشمکشونه. ټول په سوله او په اتفاق کې سره اوسېدل. خواړه پریمانه وو، لوږه نه وه، بېوزلي چا نه پېژندله. نه شخصي جایدادونه وو، نه حرص او نه په کمزورو باندې د حکومت کولو شوق. طبیعت په انسان باندې مهربان و، انسان یې په سخې غېږه کې اسوده ژوند کاوه. طبیعت او انسان د یو بل مله وو.

خو، شواهد دغه افسانې او تصورات نه تاییدوي. تاریخ راته وایي چې بشر له پیله لا په اختلافونو او میرځیو کې ایسار و او زورورو یې د کمزورو زبېښلو ته متې رانغښتې وې. لوږه وه، کاختۍ وې او جګړې وې. خلکو د نس د مړولو لپاره حیوانات ښکارول، مېوې یې خوړې او نباتات یې ټولول. د سولې په وخت کې به زورورو په اکثرو امکاناتو خېټه اچولې وه او کمزوري به مجبور وو چې هغه ورپاتې لږ څه په خپلو کې سره ووېشي. د نامتو مفکر هابس په قول، ژوند خورا بې خونده او وحشي و.

د زرینو زمانو اسطورې شاید د دې لپاره جوړې شوې وي چې له اوسنیو مشکلاتو د خلاصون او د هاغه زرین دوران د احیا لپاره په خلکو کې سېکه او جذبه پیدا کړي. د زرین زمان د شتون مفکورې مورخانو ته دومره خوند ورکړی دی چې په تاریخ کې یې د هغې د ځایولو کوښښونه کړي دي. مثلا د مسلمانانو تاریخ د عباسي خلافت د اوج زمانې ته د زرین دوران په سترګه ګوري او فخر ورباندې کوي. په دې دوران کې عربو لور په لور فتحې وکړې، ډېرې سیمې یې ونیولې او د مغلوبو ملتونو د امکاناتو په مټ یې داسې امپراطوري جوړه کړه چې د هغه وخت تر بلې هرې واکمنې پیاوړې او شانداره وه.

نوی پایتخت، بغداد، د تجارت او کلچر په مرکز بدل شو، یوناني حکمت په عربي ترجمه شو او د یو زر او یو شپې شهکار وپنځېده. د دغه زرین دوران به داسې زړه وړونکی انځور جوړ شو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



را وروسته نسلونو د عربو د وياړ د زمانې د بيا راتلو ارزوګانې وکړې او تر ننه پورې د يو اعلی مثال او د افتخار د وخت په سترګه ورته کتل کېږي.

په اندلس يا اوسنۍ اسپانيا باندې د مسلمانانو حکومت هم زرين دوران بلل شوی دی. ځکه په دې دوران کې له مسلمانانو، عيسويانو او يهودو جوړه شو کلتوري ټولنه په سوله کې اوسېده او د مختلفو عقيدو کسانو د يو بل د زغملو چل زده کړی و. دوی يو داسې فرهنګ ايجاد کړ چې اروپايانو ورباندې هغه د چا خبره زړه بايلود او په اندلس کې د لويو پوهانو په قلم ليکل شوي کتابونه يې په خپلو پوهنتونونو کې د لوستلو او زده کولو لپاره غوره کړل.

نورو ملتونو هم د خپلو وطنونو په تاريخ کې زرينې زمانې په نخښه کړې او ځلولې دي. د هندوانو په عقيده د راما (هندو بګوان او افسانوي پاچا، ژباړن) زمانه زرينه وه، حال دا چې نور باوري دي چې د ګوپتا د واکمنۍ په دوران کې د هندوايزم قوانين بشپړ شول او دغه دين وغوړېد. په هند کې د آشوکا امپراطوري ته هم د مثالي دوران په سترګه کتل کېږي، ځکه آشوکا قدرت او عظمت ته د رسېدو لپاره جګړه نامناسبه وسيله وبلله، جنګ يې وغانده او د تشدد نه کولو ايديولوژي يې غوره کړه. د هند د مغولو په دوران کې د اکبر زمانه طلايي برخه معرفي شوې ده. په دې وخت کې د مغولو قدرت پوره ټينګ او سلطنت خورا شتمن شو. مورږ د اکبر د دوران د قدرت او ثروت انعکاس د هغه د دربار په شان و شوکت او عظمت کې وينو.

دا دستور دی چې مخ په زوال ټولنه به په ماضي کې پناه اخلي او په تېر وياړ به ځان ته تسل ورکوي. سياستوال د زرين دوران تصورات د ځان په ګټه استعمالوي او خلکو ته وايي چې که يې دی قدرت ته ورساوه نو د سولې او عدالت هاغه له ګوتو وتلی دوران به بيا راژوندی کړي. دغسې سياستوال په وروسته پاتې ټولنو کې ښه چلېږي.

پرمختللې ټولنه هېڅ وخت په ماضي پورې زړه نه تړي او په تېر زرين دوران پسې نه ګرځي. دوی په نن کې اوسي، د نن د بهترۍ هڅه کوي او د لا روښانه او نېکمرغې سبا فکر ورسره وي. راديکال مفکران او انقلابيان هم د زرينې زمانې نظريه نه مني. دوی ماضي ته د ترقي په لاره کې د خنډ په سترګه ګوري او په دې عقيده دي چې د لا روښانې سبا لپاره پکار ده چې نه يوازې په پرون چليپا راوباسو بلکې د نن ارزښتونه او دودونه هم بدل کړو. د دوی په نظر طلايي دوران په پرون کې نه، په سبا کې پټ دی او د رسېدا لاره يې دا ده چې له ظلم او استثمار سره مبارزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وشي. د مارکسيستو په اند، طلايي دوران ته هغه وخت رسېدای شو چې په ټولنه کې مساوات قايم شي. ديندراه خلک په دې دنيا کې د زرينې زمانې تمه نه لري، د دوی په نظر، زرين وختونه د هغې دنيا دي او هلته به ښې شيبې د ګناهګارو نه، بلکې د متقيانو په نصيب وي.

**پوښتنې:**

۱. د ليکوال تيسز يا اصلي موضوع څه ده؟ ده ولې د دې مسئلې د سپړلو ضرورت احساس کړی دی؟ په مقاله کې کومې ستونزې ته اشاره شوې ده؟ دې ستونزې ته حل لاره وړاندې شوې ده؟ حل لاره يې واقع بينانه ده؟

۲. د مقالې اساسي ټکي کوم دي؟

۳. د مقالې په کومو کلمو او اصطلاحاتو سم پوه نه شوې؟

۴. د مقالې خلاصه څه ده؟ په خپل ذهن کې د مقالې خلاصه جوړه کړه.

۵. دغه مقاله د لوستونکو عواطفو ته خطاب کوي، که يې عقل يا يې باور ته؟

۶. د مقالې په لوستلو سره په تا کې کوم احساس پيدا شو؟ خوشحاله شوې، خپه شوې، که غوسه؛ د وياړ احساس درته پيدا شو که د شرم يا افسوس؟ ولې؟

۷. په مقاله کې کافي دليلونه راغلي وو چې ستا فکر بدل کړي؟

۸. د مقالې ليکوال څومره د باور وړ دی؟ ته يې پېژنې؟ د هغه د شخصيت، علمي سويې او مسلک په اړه څه معلومات لرې؟

**دوهم فعاليت:** مقاله بيا ولوله او بيا د کتابچې د پاڼې په منځ کې يوه عمودي کرښه وباسه. په ښي طرف کې يې د مقالې مثبت ټکي وليکه او په چپه خوا کې يې منفي اړخونه لست کړه. وروسته د ليکوال د نظرونو مخالفې نظريې پيدا او نوټ کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوهم. د نقد د ليکلو پړاو**

کله چې نقد ليکو، بايد لومړی د اثر او ليکوال په اړه يې خبرې وکړو. بيا خپل تيسز وړاندې کوو او وروسته د اثر لنډيز بيانوو؛ ورپسې د اثر مثبت او منفي اړخونه راسپړو او په پای کې نتيجه او خپل وروستی قضاوت وړاندې کوو.

**۱. د اثر معرفي:** د اثر عنوان، ژانر، تيسز، ليکوال، د ليکوال هدف، او د اثر اهميت بيانوو. البته دا برخه بايد لنډه وي.

**۲. د خپل تيسز بيان:** په دې برخه کې د اثر په اړه خپل کُلي نظر وايو چې په کې د اثر ښېګڼې او بد ګڼې دواړه رانغاړل کېږي.

**۳. د اثر لنډيز:** په لنډه توګه وايو چې ليکوال په دې اثر کې څه ويلي دي. دلته د اثر عمده ټکي را اخلو.

**۴**. نقد: وروسته د اثر پر مثبتو او منفي اړخونو خپل نقد او نظر ليکو. د مقالې اصلي برخه همدا ده او د اثر له خلاصې سره په ګډه د مقالې شاوخوا ۸۰ فيصده بايد وي.

**۵. نتيجه او قضاوت:** د مقالې په پای کې خپل وروستی قضاوت بيانوو او همدارنګه د اثر د لا بهترۍ لپاره خپل نظر ليکو چې که ليکوال داسې کړی وای، اثر به يې تر دې ښه شوی و.

اوس به د نقد بېلګه وګورو خو لومړی د «زرين وختونه» مقاله يو ځل بيا ولوله.

**د «زرين وختونه» نقد او تحليل**

«زرين وختونه» د ډاکټر مبارک علي مقاله ده چې د ده د مقالو په يوه ټولګه «د تاريخ سبقونه» کې راغلې ده. دا کتاب چې اسدالله غضنفر ژباړلی دی، په جلال آباد کې مازديګر کتاب پلورنځي په ۱۳۹۲ کال کې چاپ کړی دی. ډاکټر مبارک علي په ۱۹۴۱ ميلادي کې د هند په ټونک کې زېږېدلی دی او د هند تر وېشل کېدو وروسته، له کورنۍ سره پاکستان ته مهاجر شوی دی. ده په انګلستان او جرمني کې د تاريخ په څانګه کې لوړې زده کړې کړې دي او دکتورا يې په کې اخيستې ده. دی د سندهـ پوهنتون د تاريخ ديپارتمنت مشرـ و او تر ۵۰ زيات کتابونه يې کښلي دي. دی تاريخ په داسې ښه بيانوي چې د نن ورځې د ستونزو حل په کې وينو او درس

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورنه اخيستی شو. دا مقاله يې هم څکه ليکلې ده چې لوستونکي له ناسمو باورونو راوګرځوي او د ستونزو واقعي حل ته يې وهڅوي.

ډاکټر مبارک علي په دې مقاله کې دا مسئله راسپړي چې ځينې خلک هسې فکر کوي چې په پخوا زمانو کې داسې زرين وختونه تېر شوي دي چې ټوله دنيا په کې ګل و ګلزار وه او ټول انسانان په کې خوښ او سوکاله وو. دی د ځينو مسلمانانو باور يادوي چې د عباسي خلافت دوره د اسلامي نړۍ طلايي وختونه بولي، همدارنګه يې د هندوانو عام باورونه راوړي دي چې څوک د «راما»، څوک د «ګوپتا»، او ځينې د «آشوکا» زمانې زرينې ګڼي. ليکوال ادعا کوي چې تاريخي شواهد دا راښيي چې انسانان په هر وخت کې ستونزې درلودې، زورورو به هر وخت کمزروي ځپل، جنګونه به وو، کاختۍ به وې، لوږې او ناروغۍ به وې.

ډاکټر مبارک علي په دې مقاله کې پر زرينو وختونو د باور کولو علت دا ښيي چې وروسته پاتې ټولنې چې له اوسنيو ستونزو سره مبارزه نه کوي، د تېر تاريخ په وياړونو ځان ته تسلي ورکوي. همدارنګه سياستوال دې باور ته هوا ورکوي او خلکو ته وعدې ورکوي چې که واک ته ورسپېري نو بيا به هماغسې طلايي وختونه راولي. خو د ده په باور پرمخ تللې ټولنې بيا په تېرو وختونو ځان نه خوشحالوي، بلکې نن هلې ځلې کوي چې خپله سبا په طلايي زمانه بدله کړي.

ليکوال د زرينو وختونو نظريه ردوي او وايي چې تاريخي شواهد يې راښيي چې داسې وختونه هېڅ کله نه دي تېر شوي خو د خپلې ادعا د اثبات لپاره يې مثالونه او شواهد نه دي راوړي چې لوستونکي وربانديې زيات باور وکړي. ده دا خبره کړې ده چې مثلاً مسلمانان د اندولس اسلامي خلافت څکه زرين دور بولي چې هاغه مهال مسلمانان، عيسويان او يهودان په سوله کې سره ګډ اوسېدل او تر منځ يې شخړې نه وې او په دې دور کې لويو پوهانو داسې کتابونه وليکل چې تر ډېره وخته پورې د اروپا په پوهنتونونو کې تدريسېدل. خو دا يې نه دي ويلي چې په هاغه زمانه کې کومې ستونزې وې او ولې بايد هاغه دور زرين وخت و نه بولو.

په مقاله کې د راديکالو مفکرانو او انقلابيانو نظر راغلی دی چې وايي د ښې راتلونکې له پاره بايد پر پرون چليپا وباسو. حال دا چې د تاريخ له مثبتو تجربو څخه ګټه اخيستلی شو. مثلاً عباسي خلافت څکه نسبتاً ښه دور و چې هلته د فکر او نظر آزادي وه. دغه آزادي سبب شوه چې مسلمان پوهان ډېر علمي کشفونه او اختراعات وکړي. له بلې خوا د مامون رشيد په واکمنۍ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیت الحکمت جوړ شو چې سلګونه پوهان په کې د علم په تولید بوخت وو. همدارنګه په هاغه وخت کې معماري، صنعت، تجارت، او هنرونه ښه غوړېدلي وو. هاغه مهال د مخالفو نظرونو او فکرونو زغمل عام وو ځکه خو تشدد او خشونت په کې کم وو. نو که موږ غواړو چې له اوسنیو ستونزو خلاص شو، کولی شو د هاغه زمانې له تجربو څخه ګټه واخلو.

لیکوال دا ستونزه هم یاده کړې ده چې ځینې سیاستوال هسې خلک غلطوي او تشې وعدې ورکوي چې د پلانکي دور په شان به بیا د سوکالۍ او آرامۍ وختونه راولي. د دې ستونزې حل یې دا ښودلی چې د زرینو وختونو نظریه باید و نه منو. دا ستونزه داسې هم حل کېدای شي چې له سیاستوالو وغواړو چې د تشو شعارونو پر ځای دې د ښې راتلونکې له پاره خپل پلان او خپله طرحه ووایي او بیا وګورو چې طرحه یې واقع بینانه او د عملي کېدو ده، که نه.

ډاکټر مبارک علي په دې مقاله کې زموږ یوه اساسي ستونزه راسپړلې ده. پر زرینو وختونو او تېرو ویاړونو تکیه کول، انسان په لټۍ اخته کوي او له زیار او کوښښ یې یو څه راګرځوي. لیکوال د زرینو وختونو په اړه د خلکو د باورونو نمونې راوړې دي او د دې باورونو علت یې توضیح کړی دی. خو د لیکوال دلیلونه ډېر قانع کوونکي نه دي ځکه چې د زرینو وختونو د مفکورې د ردولو لپاره یې کافي شواهد نه دي وړاندې کړي. که د مقالې لیکوال د خپلې ادعا د اثبات له پاره شواهد او مثالونه راوړي وای، د مقالې اغېزه به یې لا زیاته شوې وای.

**لومړی فعالیت:** پورتنی نقد یو ځل بیا ولوله او بیا د دې پوښتنو ځوابونه ولیکه.

۱. د مقالې د لیکوال معرفي څنګه شوې ده؟

۲. د مقالې خلاصه او اساسي ټکي سم راخیستل شوي دي؟

۳. د مقالې کوم مثبت او کوم منفي ټکي یاد شوي دي؟

۴. تحلیلګر د مقالې د لا بهترۍ له پاره څه سپارښتنه کړې ده؟

۵. په دې نقد کې څه کمی وینې؟ د لا ښه کېدو له پاره یې څه وړاندیز لرې؟

**دوهم فعالیت:** اوس نو ستا وار دی چې نقد ولیکې. د استاد محمد محق له کتاب «واللیل اذا عسعس» څخه دغه راخیستل شوې مقاله ولوله او د نقد لیکلو له اصولو سره سم لیکنه پرې وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اخلاقو پیغمبر، له اخلاقو ناخبره امتیان

د اسلام د پیغمبر ص د پېژندنې لپاره بهترینه منبع قرآن مجید دی، ځکه چې د مسلمانانو لپاره دا یوازینۍ قطعي‌الثبوته منبع ده. مذهبي روایتونه، تاریخي داستانونه او عامیانه اسطورې کافي علمي اعتبار نه‌لري چې د هغوی په وسیله د حضرت محمد ص رښتینې څېره راوښيي.

قرآن د اسلام د پیغمبر په راپېژندلو کې د هغوی پر معجزو او خارق‌العاده صفتونو ټینگار نه‌کوي، او نه د هغوی بې حد و حصره پوهه یادوي، نه يې د لیکوالۍ او وینا هنر راځلوي، نه يې د ډېر ځواک او قدرت خبره راته کوي، نه يې د بریاوو او فتوحاتو او نه يې د هغو چارو کیسې کوي چې اسطوره خوښوونکي ذهنیتونه يې پالي. د پیغمبر ص د راپېژندلو لپاره، قرآن د هغوی پر اخلاقو ټینگار کوي. قرآن وايي: "و إنک لعلی خلق عظیم"... "فبما رحمة من الله لنت لهم و لو کنت فظا غلیظ القلب لانفضوا من حولک"... "و لقد جاءکم رسول من أنفسکم، عزیز علیه ما عنتم، حریص علیکم، بالمؤمنین رئوف رحیم".. "و ما أرسلناک إلا رحمة للعالمین..."

پخپله هغوی هم چې کله د خپل رسالت جوهر او د خپل بعثت وروستی هدف بیانوي نو په ډېرو څرگندو ټکو وايي: "إنما بعثت لأتمم مکارم الأخلاق..." او د عربي ژبې د قواعدو مطابق د "إنما" کلمه، د انحصار حرف دی، یعنې زما په بعثت کې بل هېڅ هدف هغومره مهم نه‌دی لکه د ښو اخلاقو کمال ته رسول. دلته اخلاق یعنې له انسانانو سره عنایت، پر ماشومانو شفقت، د بېوزلو لاسنیوی، د کونډو پوښتنه، د تبعیض له منځه وړل، په زړونو کې د مهربانۍ د زړي کرل، له بدو فکرونو څخه د زړونو پاکول، ... او سلگونه داسې نورې چارې چې د اخلاقو په فضایلو پورې تړلې دي.

تمه خو دا کېدله چې په منځنیو پېړیو کې به د اسلامي تمدن له غوړېدا سره د اخلاقو علم او د اخلاقو فلسفه هم د خورا مهم علم او لوړ فرهنگ په توگه وغوړېږي. سره له دې چې د مسلمانانو د تاریخ په ځینو دورو کې ځینې اخلاقي فضایل لکه مدارا، خیر، ترحم او ... د هاغه مهال د نورو ټولنو په نسبت ښه غوړېدلي وو خو دا هر څه د ظاهربینه فقهي معیشت تر اغېزې لاندې راغلل او هېڅکله اخلاق هغه مقام خپل نه کړ چې ظاهرپالې مناسکي دینداري او فقهې ترلاسه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دا وروستیو پېړیو کې بیا د اسلامي تمدن له راپرځېدو سره، اخلاق تر ټولو ټیټې کچې ته راولوېدل او مسلمانې ټولنې د بداخلاقۍ او رذایلو په انبار بدلې شوې. ډېرو مسلمانانو ته د اخلاقو بل تعریف غیر له جنسي مسأل‌ې او پر ښځو د محدودیتونو له لګولو، نه و معلوم او لا هم نه دی معلوم. اکثره هغه کسان چې د مسلمانانو د وضعیت د بهترۍ لپاره لاس په کار شول، له بده مرغه ویې‌نه‌شول کولی چې جامع تیوري‌ګانې رامنځته کړي. دوی د اخلاقو د اهمیت په اړه یوازې کُلي خبرې کولې او د اخلاقي فضایلو د ترویج او تبلیغ پر ځای یې د مناسکي دینداري احیا ته ملا وتړله چې دا له اخلاقو سره هېڅ رابطه نه‌لري.

نتیجه یې دا راووته چې اوس یې د سر په سترګو وینو. هغه ملت چې ځان د اخلاقو د پیغمبر امت بولي، تر هرچا زیات بداخلاقه دی. دا بداخلاقي د ژوند له معمولي چارو لکه په نوبت کې له درېدلو څخه رانېولې بیا تر لوړترین اخلاقي کاره پورې چې د بني‌آدم انساني کرامت ته ارزښت ورکول دي، لیدلی شو.

همدا وجه ده چې په اسلامي نړۍ کې د دین په نامه داسې ډلې راڅرګندېږي چې پخپله د خورا لویو بداخلاقیو مظهر وي. په دې پېړۍ کې د دین په نامه داسې حکومتونه رامنځته شول چې د غیراخلاقي چارو لویې کارنامې لري او تر نازي او ستالیني حکومتونو وروسته، همدې حکومتونو د تاریخ د بداخلاقو حکومتونو نوم ګټلی دی. پر ځای د دې چې زموږ ټولنې د تسامح، بخښنې، لویي، ورورولي، مهرباني، فداکاري او د سالمې انساني ټولنې د نورو فضایلو مظهر وي، دلته تر هر ځای زیات دروغ ویل کېږي، چلبازي، تظاهر، ریاکاري، او بې قانوني ډېر لیدل کېږي، دلته د نورو پر خصوصي حریم تېری کېږي، دلته تعصب، تبعیض، ظلم، استبداد، خرافات، بدبیني، بدګوماني، ناروا قضاوتونه، کرکه او کینه او ډېر نور رذایل پرېمانه دي.

لا بده خو یې دا ده چې ځینې بیا غواړي د دې بداخلاقیو جبران په مناسکي نمایشي دینداري سره وکړي. دوی ګومان کوي چې که دین لري نو اخلاقو ته هېڅ اړتیا نشته. دې حال ته ژړا په کار ده. هغه دین چې سره دښمن وګړي یې سره ورونه کړل، چې خشنو خلکو ته یې د مهربانۍ او عاطفې درس ورکړ، اوس نو د همدغه دین په نوم د بني‌آدمانو وینې تویول کېږي او عزتونه یې لوټل کېږي او د زرګونو بېګناه وګړو کورونه له خاورو سره خاورې کېږي. نه پوهېږم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ له دغسې وضعیت سره څرنګه په خپل پیغمبر پورې ځانونه تړلی شو؟ موږ په دې وضعیت کې یوازې د هغوی حیثیت ته لته ورکوو او د هغوی دین بربادوو او بس.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځمه برخه

## ۵. ژبه، املأ او انشأ

د ژبې، املأ او انشأ په هکله مې وخت نا وخته مقالې لیکلې وې. نیت مې دا و چې د دې کتاب په پای کې په پښتو متنونو کې عامې املایي – انشایي تېروتنې په نښه او بدیلونه یې وړاندې کړم، خو بیا مې فکر وکړ چې ځینې مسئلې یو څه تشریح او تفصیلي بیان غواړي، نو غوره مې وګڼله چې هماغه مقالې دلته راوړم. په پښتو کتابونو کې ډېرې تېروتنې په «ی» ګانو، د کلمو تر منځ په فاصلې، د کلمو په املأ، د جملو په جوړښت، ژباړه، د سربلونو او د اضافت «د» په کارولو او ځینو نورو برخو کې ترسترګو کېږي چې په دې مقالو کې په تفصیل سره راسپړل شوې دي.

### ۵. ۱. په پښتو کې د «ی» ډولونه

د تلفظ او استعمال په لحاظ په پښتو کې پنځه ډوله «ی» ګانې دي:

**۱. نرمه «ی»** (ay) د مفردو نارینه نومونو، صفتونو او د غایب لپاره د ماضي فعلونو په پای کې راځي، تر دې «ی» مخکینی توری تل په زور لوستل کېږي.

نومونه: سړی، لرګی، سپېلنی، لوګی، زمری، زلمی...

صفتونه: مېړنی، وتلی، نومیالی، توریالی، جنګیالی، پوښلی...

فعلونه: احمد کتاب راکړی دی .

**۲. څرګنده/ معروفه «ي»** (i) د جمع نارینه نومونو او صفتونو، د نارینه نومونو په مغیره حالت کې، د غایب شخص د فعلونو او ځینو مفردو ښځینه نومونو په پای کې راځي، تر دې «ی» مخکی توری په زېر (کسرې) لوستل کېږي.

جمع نارینه نومونه: سړي، لرګي، لوګي، زمري، زلمي...

د مفرد نارینه نومونو مغیره حالت: سړي ته، له لرګي څخه، د زمري، په/ پر زلمي...

صفتونه: مېړني، نومیالي، توریالي، جنګیالي، پوښلي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځينه نومونه: بیاتي،

فعلونه: دوی کار کوي. هغه ځي. اجمل خط لیکي.

**۳. اوږده/ مجهوله «ې» (e)** د جمع ښځينه نومونو، صفتونو، د مفرد ښځينه نومونو په مغيره او ندايي بڼه کې، د دويم شخص لپاره د حال زمانې په فعلونو کې، او په ځينو نورو ځايونو کې استعمالېږي، مثلاً:

جمعه ښځینه نومونه: ښځې، مېرمنې، دوړې، خاورې، ختې...

صفتونه: ولاړې، تیارې، تورې، سرې، سپینې، ویاړلې...

مغیره نومونه: ښځې وویل. نجیبې ته یې جزا ورکړه.

ندايي حالت: وه ښځې!، اې پېغلې!

فعلونه: څه کوې؟ چېرته ځې؟ ته ښه کار کوې.

همدارنګه په چې، مې، کې، یې، وېې، او ځينو نورو نا مستقلو کلمو کې.

**۴. لنډه، زورکۍ واله، همزه واله یا امریه «ئ» (əy)** د جمع مخاطب لپاره د امریه فعلونو په پای کې راځي، تر دې «ی» مخکې راغلی توری په زوره‌کي تلفظ کېږي؛ لکه:

تیارسئ، ولیکئ، مه ځئ، ودرېږئ...

**۵. لکۍ واله/ د تأنیث «ۍ»** د تلفظ په لحاظ د امریه «ئ» سره یو شان ده خو د مفرد مونث نومونو په پای کې راځي.

نجلۍ، کرکۍ، لورکۍ، خولۍ، نرۍ، بخارۍ ...

## ۵. ۲. په قتل ورسېدل، سم که نا سم؟

ډېر ځله، بلکې هره ورځ په خبرونو کې اورو او لولو چې په پلانکي ځای کې دومره کسان په قتل ورسېدل یا په شهادت ورسېدل. دا جملې د پارسي د دې جملې ژباړې دي چې وايي: «... به قتل - به شهادت - رسیدند.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«به» په پارسي کې دوې ماناوې لري: «په» او «ته». کله چې وايو «به تو چې؟» معنا يې ده «په تا يې څه؟» خو «به تو می گويم» يعنې «تا ته وايم». دلته «به» د «ته» معنا لري. همدارنګه «به کابل رسېد» يعنې «کابل ته ورسېد» نه «په کابل ورسېد».

«... به قتل رسيد» جمله که همداسې تحت اللفظي - خو سمه - وژباړو «... قتل ته ورسېد» کېږي چې منظور يې «مرگ ته رسېدل» وي. خو دغه جمله په فارسي کې هم بې جنجاله نه ده. که د منطق په تله يې وتلو، «رسېدل» د يوه ارادي عمل نتيجه ده. سړی بايد حرکت وکړي چې يو چېرته ورسېږي او حرکت ارادي عمل دی؛ خو هغه کسان چې وژل کېږي، پخپله نه غواړي چې ووژل شي. دوی په خپلو کارونو پسې روان وي چې ځانمرگی بريد وشي او ووژل شي، يا په کور کې ويده وي چې الوتکې بمونه وغورځوي او دوی قتل کړي؛ يعنې وژل شوي کسان د خپل مرگ لپاره اراده نه وي کړې. ان پوځيان هم چې د جگړې ډگر ته ځي، په دې نيت نه ورځي چې ووژل شي؛ بلکې نيت يې دا وي چې دښمن ختم کړي. په منطقي لحاظ داسې بيان يوازې د ځانمرگو لپاره مناسب ښکاري؛ ځکه هغوی پخپله په خپل مرگ پسې راوتلي وي. نو په فارسي کې هم بهتره ده «به قتل رسانده شد.» وويل شي؛ ځکه د قتل فاعل بل څوک وي او هغوی چې وژل شوي دي، په گرامري لحاظ مفعول دي.

البته په فارسي کې دا ډول «غلط معمولونه» کم نه دي او فکر کوم چې نوښت او د نويو جملو جوړولو ته تمايل دغه غلطۍ باب کړې دي. د ملي ټلويزيون په خبرونو کې د يو چا د مرگ خبر داسې راغلی و: «با تأسف اطلاع گرفتيم که ... به رحمت ايزدي پيوست.» د هغه چا په حال تأسف په کار ده چې د خدای رحمت ورباندې شوی وي؟ دا د بې ځايه نوښت نتيجه ده چې په ژورناليست باندې يې د معنا په لحاظ غلطې خبرې کړې دي.

خو اوس دغو تېروتنو د ژباړې په برکت پښتو ته هم لاره کړې ده. زموږ ژباړونکي ډېر ځله مفهوم نه ژباړي، کلمې ژباړي. دوی د بلې ژبې هرې کلمې ته کلمه لټوي او په هماغه ځای کې يې ږدي چې د مبدأ ژبې په جمله کې راغلې وي. دا به نه هېروو چې هره ژبه ځان ته د جملو جلا جوړښتونه لري. موږ همدا «به قتل رسيد» يا «به شهادت رسانده شد» صفا «ووژل شو، شهيد شو» ترجمه کولی شو او «يک شخص را به قتل - شهادت رساند.» په پښتو کې «يو کس يې وواژه – شهيد کړ» ليکلی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵. ۳. د خبریالانو ځینې ژبنۍ تېروتنې

په ژورنالیستیکه پښتو کې نن سبا ځینې نا آشنا خبرې اورو:

- د افغانستان خلک له جګړې ستړي او سوله غواړي.
- نیویارک ټایمز په خپلې پرونۍ ګڼې کې د افغانستان په اړه مقاله لیکلې ده او په یوه برخه کې یې لیکي: ...
- د درې تنه ملکي وګړو په ګډون، پنځه تنه امریکایي پوځیان ووژل شول.

لومړۍ جمله مرکبه جمله ده چې له دوو جملو څخه رغېدلې ده: «د افغانستان خلک له جګړې ستړي دي.» او «د افغانستان خلک سوله غواړي.» زموږ ژورنالیستان دا نمونه جملې سره یو ځای کوي، د لومړۍ هغې فعل غورځوي او د دوهمې جملې مبتدا لرې کوي. دوی دا کار د وینا د لنډولو لپاره او احتمالاً د فارسي او انګریزي ژبې په پېښو کوي. په فارسي کې دا جمله داسې راځي: «مردم افغانستان از جنگ خسته و خواهان صلح اند.» که سره جلا یې کړو نو داسې لیکل کېږي: «مردم افغانستان از جنگ خسته اند.» او «مردم افغانستان خواهان صلح اند.» دلته وینو چې د «اند» فعل په دواړو جملو کې مشترک دی، ځکه یې د لومړۍ جملې فعل غورځولی دی. خو په پښتو کې د دې مثال د لومړۍ جملې فعل «دي» دی او د دوهمې هغې «غواړي»، نو موږ دلته نه شو کولی یو فعل ونه لیکو او د بلې جملې فعل اولې جملې ته هم استخدام کړو. که دغه مرکبه جمله تجزیه کړو نو داسې شی ترې جوړېږي: «د افغانستان خلک له جګړې ستړي غواړي.» او «د افغانستان خلک سوله غواړي.» البته په فارسي کې هم د داسې تېروتنو مثالونه کم نه دي.

بله عامه تېروتنه د فعل زمانې ته نه پام کول دي. په دوهم مثال کې لولو: «نیویارک ټایمز په خپلې پرونۍ ګڼې کې د افغانستان په اړه مقاله لیکلې ده او په یوه برخه کې یې لیکي: ...» دلته لومړۍ جمله د تېرې زمانې خبره کوي «لیکلې ده» خو دوهمه د اوس مهال «لیکي». په داسې مواردو کې، ښه به دا وي چې په دواړو جملو کې د عین زمانې فعلونه ولیکو، مثلاً په دې مثال کې باید دوهمه جمله داسې ولیکو: «په یوه برخه کې یې لیکلې ده» ښایي ژورنالیستان د فعل د تکرار د مخنیوي په خاطر، د فعلونو زمانې بدلوي. لکه په دې مثال کې چې «لیکلې ده» ژر تکرار شوې ده. خو موږ د فعلونو تنوع په بله لاره هم پیدا کولی شو. د دوهمې «لیکلې ده» پر ځای «راوړې ده» به مناسب بدیل وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



«د درې تنه ملکي وګړو په ګډون، پنځه تنه امریکایي پوځیان ووژل شول.» دلته «په ګډون» د انګریزي ژبې د «including» ناسمه ژباړه ده چې په فارسي کې هم همداسې غلطه ترجمه کېږي. دا جمله په انګریزي کې داسې معنا ښندي چې په وژل شویو کې درې تنه ملکي وګړي او پنځه تنه امریکایي پوځیان شامل دي. خو «په ګډون» د جمع کولو او سره یو ځای کولو مفهوم لري. په دې جمله کې ملکي وګړي او پوځي امریکایان سره یو شان ګڼل شوي دي. د جملې سمه بڼه دا ده: «اته تنه وژل شوي چې درې یې ملکي وګړي او پنځه تنه یې امریکایي پوځیان دي.» او دغه بله بڼه یې هم ستونزه نه لري: «په وژل شویو کې درې تنه ملکي وګړي او پنځه تنه امریکایي پوځیان شامل دي.»

بله عامه تېروتنه د کلمو او عبارتونو کنایي او استعاري معنا ته له نه پام کولو څخه رازېږي. «پر لاره اچول» چې د فارسي ژبې د «به راه انداختن» ټکي په ټکي ژباړه ده، په فارسي کې د «پیلولو» استعاري معنا لري. ژباړن ته بویه چې د ژبو په دې باریکیو ځان وپوهوي.

«ولسمشر له جلال آباد څخه لیدنه وکړه.» د «رییس جمهور از جلال آباد دیدن کرد.» ناسمه ژباړه ده. په پښتو کې «له ... څخه» د راخیستلو، بېلولو، او جلا کولو مفهوم لري. دا جمله باید داسې ولیکو: «ولسمشر جلال آباد وکوت.» البته ډېر ځله د «لیدل» او «کتل» توپیر هم نه کوو، حال دا چې دا دوه بېل فعلونه دي او په معنا کې یې توپیر شته. «لیدل» غیر ارادي عمل دی خو «کتل» ارادي او قصدي. موږ که وغواړو یا ونه غواړو، تر هغې پورې چې مو سترګې روغې او پرانیستې دي او رڼا شته، راته مخامخ شیان وینو او «لیدل» همدې ته وایي. خو که غواړو چې پخپله اراده یو شی وګورو، دا «کتل» دي. «ډاکټر ناروغ ولید.» له «ډاکټر ناروغ وکوت.» توپیر لري. په اوله جمله کې ډاکټر ویني چې هلته یو ناروغ دی خو په دوهمه جمله کې ډاکټر ناروغ معاینه کوي.

موږ چې د نورو ژبو معلومات را اخلو او خپلې ژبې ته یې اړوو، نو باید دې ته مو پام وي چې کلمې نه، بلکې مفاهیم ترجمه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴.۵. معیاري ژبه، اړتیا که هوس؟

د ځینو لیکوالو له غبرګونه داسې بریښي چې د «معیار» کلمه د هغوی په ذهن کې له نیولوګیزم سره غوټه کېږي. دوی اکثراً د غبرګون په توګه وايي: «موږ په هغه ژبه لیکنه کوو چې خپلو میندو رازده کړې ده.» کله چې ژبپوهان سپارښتنه کوي چې لیکوال دې د لهجو تر اغېز لاندې لیکنې نه کوي، ځینې ملګري داسې انګېري چې دوی د لهجو پر لغاتو بندیز لګوي. خو لکه څنګه چې د ښاغلي پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار د کتاب له سرلیکه جوتېږي د معیاري ژبې مفهوم «یوه پښتو ـ کره پښتو» دی. دوی یوازې د واحد ګرامر، لیکلار او لیك دود د کارولو غوښتونکي دي.

نن سبا، چې پښتو چاپي رسنۍ ډېرې شوي دي او هر څوك په ټولنیزو رسنیو کې لیکنې کوي، وینو چې په دې رسنیو کې څو ډوله لیکدود او ګرامر کارول کېږي. دا کار له هغو کسانو، چې پښتو ژبه د لیك لوست له لارې زده کوي، لاره ورك کوي.

د معیاري ژبې د پلویانو او مخالفانو ترمنځ ځینې مسئلې لانجمنې دي چې په سر کې یې د «ش» پر ځای د لوېدیزې لهجې د لیکوالو له خوا د «س» کارول دي. لکه د «شي، شوم، شوې» پر ځای «سي، سوم، سوې». البته دغه د اختلاف ټکي نسبتاً لږ دي او زما په نظر لویه ستونزه نه رامنځته کوي.

خو دلته زما مطلب دا دی چې هغه ګډوډۍ را په ګوته کړم چې د اختلاف خبره په کې نشته، خو زموږ لیکوالو یې په ناخبره توګه د لهجو تر اغېزې لاندې رامنځته کړې ده.

۱. د «له» سربل پرځای «د» لیکل، لکه:

ـ زه د کابل نه راغلم.

ـ زمری د احمد سره لاړ.

ـ پټی د ګلانو نه ډك دی.

ـ د ښوونکي نه یې اجازه واخیسته.

ـ زه د تاسو نه مننه کوم.

د دغو بېلګو سمې بڼې دا دي:

ـ زه له کابله راغلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ زمری له احمد سره لاړ.

ـ پټۍ له ګلانو ډك دی.

ـ له ښوونکي یې اجازه واخیسته.

ـ زه له تاسو منته کوم.

«د» یوازې په اضافي یا مُلکي ترکیب کې او د تخصیص په برخه کې استعمالېږي، لکه «د احمد قلم»، «د کتاب پاڼې»، «د طب پوهنځی».

۲. بله مهمه مساله، چې استاد اسدالله غضنفر د «استادانه نثر» په مقاله کې یاده کړې ده، د «له» له سربل سره د «نه» اوستربل راوړل دي. د استاد په وینا دا کار د جملې مفهوم بدلوي. لکه دا جمله:

ـ زه له کابل نه ځم.

سړی له دې جملې هم مثبته مانا اخیستی شي او هم منفي (ځم، نه ځم). په ځینو مواردو کې سړي ته نه معلومېږي چې د لیکوال موخه څه ده، مثبته که منفي؟ استاد غضنفر وړاندیز کوي چې په دې مورد کې باید د «نه» له خیره تېر شو او پر ځای یې «ـه» وکاروو، یعنې «له کابله». په دې اړه پوهاند زیار صاحب هم ورته دریځ لري. د دوی په نظر پورته جمله داسې سمېږي:

ـ زه له کابله ځم. (مثبت)

ـ زه له کابله نه ځم. (منفي)

زما په ګومان که څوك غواړي چې د «له» له سربل سره خامخا یو اوستربل وکاروي؛ نو «څخه» به تر «نه» مناسبه وي:

ـ زه له کابل څخه ځم.

ما ته په «څخه» کې پر فعل او یا مفعول باندې تأکید او ټینګار هم ښکاري. لکه په دې جمله کې:

ـ زه له تا څخه خپه یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته پر «تا» باندې ټينګار محسوسېږي. که زما خبره سمه وي، نو کولی شو چې په عادي مواردو کې د استاد غضنفر وړانديز عملي کړو او کله چې غواړو پر فعل يا پر مفعول باندې تأکيد وکړو له «څخه» څخه کار واخلو.

۳. د پرتلنې يا مقايسې په برخه کې اکثراً د «تر» پر ځای «له» او يا «د» کارول کېږي. دغه بېلګې وګورئ:

ـ زه له تا نه مشر يم.

ـ کابل د مزار نه لوی دی.

ـ اېمل له اجمل نه وروسته راورسېد.

ـ الوتکه د موټر نه ګړندۍ ځي.

که چېرې دلته «تر» وليکو، هم به د معنا د التباس مخه نيول شوې وي او هم به مو ليکنه پر معيار برابره شوې وي. استاد زيار په ليکلار ښود کتاب کې همدا خبره کوي:

ـ زه تر تا مشر يم.

ـ کابل تر مزار لوی دی.

ـ اېمل تر اجمل وروسته راورسېد.

ـ الوتکه تر موټر ګړندۍ ځي.

۴. په ختيزه لهجه کې «ږ» له «ګ» او «ښ» له «خ» سره يوځېل تلفظ لري. کله کله ان زموږ لوی ليکوال هم په ليکنه کې دغه توري سره بدلوي، لکه: د «ښخ» پر ځای «خښ» او د «نږور» پر ځای«نګور/ اينګور» ليکي.

زما په ګومان که د کومې کلمې د املا په اړه شك لرو، نو بايد له ځانه سره فکر وکړو چې کندهاريان دغه کلمه څنګه ادا کوي. څنګه چې په کندهارۍ لهجه کې هر توری په خپله اصلي بڼه ادا کېږي؛ نو دغه تېروتنه د هغوی په لهجه کې نه رامنځته کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵. اوسمهال اکثر لیکوال له هغو کلمو، چې «خ» او «ښ» په کې ښکارېږي په ځنګ په غلط ډول لیکلي وي، «خ» غورځوي، لکه: «بخښنه» چې «بښنه» لیکل کېږي. فکر کوم چې دا بـه سـم کـار نـه وي؛ ځکـه چې د کندهاري لهجې ویونکي به یې (bashəna) ولولي په داسې حـال کـې چـې سـم تلفـظ یـې (bakhshəna) دی. زما په نظر سمه دا ده چې باید د لیکلو پر مهال د ټولو لهجو ویونکي په پام کې ونیسي-، نه یوازې د خپلې لهجې.

٦. پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار په «لیکلار ښود» کتاب کې د کلمو د وینـګ یـا تلفـظ پـر آسانوالي ټینګار کوي او وایي چې د کلمو تلفظ باید هم پښتنو او هم ناپښتنو ته آسانه وي؛ خو موږ وینو چې ځینې لیکوال په لوی لاس ځینو کلمو ته غبرګژبیـز تـوري ورکـوي او د اسـتاد سـعدالدین شپون خبره «ټ» او «ډ» داسې کاروي چې «د ډېر شد و مد له لاسه یې د سرې کـولمې شـلوي.» دا کار د هغو بهرنیو نومونو په برخه کېږي چې په اصلي ژبو کې یې غبرګژبیز توري هډو شـته نـه، لکـه دغه بېلګې: سوډان، د عراق ټکریټ ښار، کویټ، ولاډیمیر پـوټین. حـال دا چـې پـه عـربي او روسي کې «ټ» او «ډ» نشته.

## ۵. ۵. ۵. د لهجو کمال

ځینې کسان د ادبي غونډو په کره کتنو کې د معیاري ژبې په پلویتوب خـبرې کـوي. کـه یـو ځوك په خپل شعر یا نثر کې مثلاً د «هګۍ» پر ځای «هویه» ولیکي یا د «کمـیس» پـر ځـای «خـت» وکاروي، نو دوی ورباندې نیوکه کوي چې «هویه» او «خت» معیـاري کلمـې نـه دي. داسـې بحثونـه کله کله د یوې لهجې ویونکي خوابدي کوي او ممکـن د ځوانـو لیکوالـو، شـاعرانو د بـې‌لارې کېـدو سبب هم وګرځي، دوی به ګومان وکړي چې دا نظـر سـم دی او بیـا بـه هـېڅ کلـه د خپلـې لهجـې کلمې استعمال نه کړي.

کلمې که د هرې لهجې وي، کلمې دي، معیاري او نامعیاري ګردسره پـه کـې نشـته. د هغـو کلمو په باب چې په اصل کې یوه وي، خو په مختلفو لهجو کې یې وینګ بېل وي، بیا یې د املا پـه برخه کې د معیاري بڼې خبره کېدای شي. لکه «پښه» چې په ختیزه لهجه کې «خپه» ویـل کېـږي. دلته لازمه ده چې ټول د کلمې اصلي بڼه «پښه» ولیکو، ځکه چې له یوې خوا «خپه» بیا له «خپـه = مرور» سره التباس پیدا کوي او له بلې خوا په لیکلو کې د ګډوډۍ سبب کېږي. یـا مـثلاً د خوسـت

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځينو لهجو کې واولونه سره بدلېږي، دوی «پلار» ته «پلور» وايي او «مور» «مېر» بولي. که دوی د خپلې لهجې له تلفظ سره سم ليکل وکړي، نو لويه ګډوډي به راجوړه شي.

دغه مثالونه وګورئ: «څنډ دې وکړ» ، «تر ټولو تکړه»، «يو شخوند ډوډۍ» دا هغه جملې او عبارتونه دي چې په لوستلو يې سړی په عذابېږي. «څنډ» پخپله هم درنه کلمه ده ځکه چې په غبرګو ساکنو آوازونو (کلسټر/cluster) باندې ختمېږي، «ن» او «ډ» دواړه په کې ساکن دي او چې بيا بل ناغږن توری «د» هم ورپسې جوخت راشي، تلفظ يې لا سختېږي. «تر ټولو تکړه» کې بيا دا غم دی چې په سر کې يې «ت» ورپسې «ټ» او وروسته بيا «ت» په کې راغلي دي. د دې فقرې تلفظ خصوصاً هغو کسانو ته سخت وي چې مورنۍ ژبه يې پښتو نه ده. په «يو شخوند ډوډۍ» کې په «د» پسې «ډ» ژبه درنوي چې شخوند دې وويل، مجبور يې يوه شېبه مکث وکړې، بيا ډوډۍ ووايې. د ښه کلام يوه ځانګړنه سلاست دی، سلاست دې ته وايي چې جملې په آسانۍ سره روانې ولوستل شي او ژبه په کې بنده نه شي. پورته مثالونه که داسې وليکو نو د سلاست ستونزه به يې له منځه لاړه شي: «ډيل دې وکړ»، «تر ګردو تکړه»، «يوه ګوله ډوډۍ»، «ډيل» په کونړۍ لهجه کې د «څنډ» معنا لري، په کندهارۍ لهجه کې «ټول» ته «ګرد» وايي، او د غزني او کندهار د سيمې خلك «ګوله» د «شخوند» په معنا کاروي.

موږ په مختلفو لهجو کې د يوه شي لپاره ګڼ نومونه لرو. څومره چې په يوه ژبه کې مترادفې کلمې زياتې شي، هماغومره ژبه ورباندې ښکلې کېږي. ممکن په يوه جمله کې «ببړه» خوند وکړي، خو په بله کې بيا «تلوار» ښه ولګېږي او ښايي بلې جملې ته به «تادي» ښه موسيقي ورکړي.

د معنا د دقيقې افادې لپاره هم په نورو لهجو کې داسې کلمې او اصطلاحات مونډلی شو چې په خپله لهجه کې يې نه لرو. موږ «زړه مې بدېږي» کله د «خوا مې ګرځي» په معنا کاروو او کله د «خوا مې ورته بدېږي» په معنا؛ يعنې زړه مې پرې سوځي. «کاڼی»، «تيږه»، «ډبره»، «کمر» او «ګټه/ ګاټه» د اندازې له نظره سره يو شان نه دي. «لوی»، «غټ» او «ستر» ته د کارونې بېل بېل ځايونه ټاکلی شو. هېڅکله نه وايو «خدای غټ دی». زه فکر کوم که موږ هر يو د هرې لهجې اصطلاحات په خلاص مټ وکاروو، نو ژبه به مو طبيعي تکامل وکړي او هرې کلمې ته به خپل نقش ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې خبرې هم شته چې په يوه لهجه کې به نسبتاً ځېږه، خو په بله لهجه کې به يو څه نرمه وي. که يو چا ته ووايو «ته نه پوهېږې» ممکن رانه خپه شي، خو که همدا خبره ورته داسې وکړو چې «ستا سر پرې نه خلاصېږي» هغومره به پرې بده ونه لګېږي. دلته د جملو اروايي اثر هم اهميت لري. په اوله جمله کې مخاطب ګرموو، يعنې ګناه ستا ده، ته نه پوهېږې. خو په دويمه جمله کې ګناه د مخاطب د سر پر غاړه اچوو، «سر دې پرې نه خلاصېږي» داسې ضمني معنا هم لري چې ګناه خو ستا نه ده، ګناه دې د سر ده چې نه خلاصېږي. بني آدم تل غواړي برې الذمه وګڼل شي.

په لهجو کې ممکن د هغو شيانو لپاره هم نومونه ومومو چې فکر کوو، زموږ په ژبه کې به نه وي او د نيولوګيزم په مرسته ورته نوي نومونه جوړوو. يوه ورځ مې ښاغلي نذير احمد سهار ته وويل چې زه خو کله کله کلانکاري کوم. هغه وويل: «زموږ په لهجه کې کلانکار ته «ستر چارى» وايي.» د نيولوګيزم يوه ستونزه دا ده چې اکثره وخت داسې ترکيبي نومونو په کې جوړېږي چې تلفظ يې آسانه نه وي او/ يا په غوږو ښه نه لګي.

نو هره لهجه داسې څه لري چې معياري ژبې ته يې ورکولی شي. د مختلفو لهجو د کلمو او اصطلاحاتو کارول به مو نثر خوږ، ژبه غني، او د مطلب بيانول آسانه کړي.

## ۶.۵. په نومونو او لوحو کې د اضافت اضافي «د»

د اضافت «د» په پښتو کې ملکيت ښيي. کله چې وايو «د سليم کتاب» معنا دا چې کتاب د سليم ملکيت دی. زموږ په اکثرو لوحو او مرکبو نومونو کې د اضافت «د» بې ځايه استعمالېږي. راځئ په دغو لوحو باندې غور وکړو:

- د حبيبيې عالي ليسه
- د کابل پوهنتون
- د آريانا افغان هوايي شرکت
- د افغان ملي بانک

د اکثرو نورو ګرامري تېروتنو په شان، دا ستونزه هم د پارسي عبارتونو د ناسمې ترجمې سوغات دی. په پارسي کې د ملکيت يا نسبت علامه د اضافت «کسره» ده چې ليکل کېږي نه؛ خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تلفظ کې ويل کېږي لکه: «قلمِ محمود» يعنې «د محمود قلم» خو په پارسي کې دغه «کسره» يوازې د نسبت علامه نه ده، دا د صفت او موصوف تر منځ هم راځي مثلاً «قلمِ سياه» معنا «تور قلم» يا «انقلاب اسلامي» چې په پښتو کې «اسلامي انقلاب» کېږي. په پارسي کې صفت تر موصوف وروسته راځي نو که د دواړو تر منځ کسره نه وي تلفظ يې گرانېږي؛ خو په پښتو کې د انگريزي په شان اول صفت راځي بيا موصوف، دلته د تلفظ ستونزه نه پيدا کېږي؛ نو بل ادات يا آواز ته ضرورت نه وي. په عاميانه پارسي کې د تلفظ ستونزې ته په پام سره کله کله صفت او موصوف لکه پښتو کې چې دي، هماغسې راځي مثلاً «گل بچه»، «چپه کاکل»، «سياه موی» ...

په پارسي لوحو کې که د چا نوم راغلی وي؛ نو کسره به يې د اضافت کسره وي لکه «گلفروشي احمد» چې دلته احمد د دوکان د څښتن نوم دی او په پښتو کې هم د اضافت «د» غواړي خو که په لوحه کې راغلی نوم يوازې د مکان يا موسسې د نومولو لپاره استعمال شوی وي؛ نو بيا کسره به يې د اضافت کسره نه وي مثلاً «گلفروشي کابل» دلته کابل يوازې د دوکان نوم دی، دا نوم دغه دوکان له نورو دوکانونو بېلوي.

په يادو لوحو کې راغلي نومونه د دغو موسسو د خاوندانو نومونه نه دي؛ بلکې د موسسو د پېژندگلوي لپاره راغلي دي. «حبيبيه» د «لېسې» څښتن نه دی، «کابل» د «پوهنتون» مالک نه دی، «آريانا افغان» د چا نوم نه دی چې «هوايي شرکت» دې يې ملکيت وي او «افغان» کوم خاص سړی نه دی چې «ملي بانک» دې د هغه وي، په دې ټولو کې «د» بې ځايه راغلی دی. د دې نومونو سمه بڼه دا ده:

- حبيبيه عالي ليسه
- کابل پوهنتون
- آريانا افغان هوايي شرکت
- افغان ملي بانک

البته کله چې داسې مرکب نومونه پخپله د مالک په توگه استعمالېږي يا يو شی يا کس ورپورې ځانگړی کېږي، بيا هغه مهال به په سر کې «د» غواړي لکه «د کابل پوهنتون رييس» چې دلته «رييس» په کابل پوهنتون پورې اړه لري، يا «د آريانا افغان هوايي شرکت الوتکه» چې الوتکه د آريانا افغان هوايي شرکت ملکيت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ډېرو مواردو کې که په لوحو کې د اضافت اضافي «د» نه وي، په پارسي کې به يې اړولو ته اړتيا نه وي. «افغانستان بانک»، «آسيا مارکېټ»، «کابل ننداري»، «انصاف هوټل» په پښتو او پارسي دواړو کې عين شی راځي بلکې؛ په انگليسي کې هم همداسې ليکل کېږي.

په دې نورو نومونو کې بيا «د» اضافي نه ښکاري:

- ✓ د کورنيو چارو وزارت
- ✓ د پاسپورټ رياست
- ✓ د پولي تخنيک پوهنتون

«د کورنيو چارو وزارت» يوازې د وزارت نوم نه بلکې د هغه د کار ساحه هم معلوموي. موږ وايو «د طب ډاکتر»، «د راډيو انجينير»، «د رياضي معلم»، په دې عبارتونو کې د ډاکتر، انجينير او معلم د کار ساحې څرگندې شوې دي. «د پاسپورټ رياست» هم همداسې عبارت دی. کله چې وايو «د پولي تخنيک پوهنتون» دلته مو د دې پوهنتون د درسونو ساحه واضحه کړه او دغه پوهنتون مو له نورو پوهنتونونو بېل او خاص کړ؛ ځکه خو «د» ورسره لازمي دی.

## ۵. ۷. دقت، گردان او ښکلا

استاد اسدالله غضنفر وايي چې کلمې لکه باري حيوان دي، که پر يوې کلمې د ډېرو معناگانو بار يوسو، ملا به يې ورماته کړو. موږ په ځينو موردونو کې دا کار کوو مثلاً د «ټاکل او ټاکنې» کلمې په دې مثال کې: «ولسمشر کرزي ښاغلی فضل احمد معنوي د ټاکنو د خپلواک کميسيون د رييس په توگه وټاکه. ټاکل شوې ده چې دی به د ټاکنيزو ستونزو په ټاکلو کې جدي گامونه پورته کړي.»

دلته ټاکنې د انتخاباتو لپاره، وټاکه د مقررولو يا انتصاب لپاره، ټاکل شوې ده د «قرار است يا اټکل کېږي» پر ځای، او وروستی ټاکل د تعيينولو يا معلومولو په معنا استعمال شوي دي. په دې منځ کې دوې معناوې سره متناقضې او تر يوه بريده متضادې دي. ټاکل يو ځل د انتخابولو (to elect) او بل ځای د انتصابولو (to select) په معنا راغلی دی، حال دا چې (په دې مورد کې) انتخاب د اکثريت په رايو باندې کېږي او انتصاب د شخص او چارواکي له خوا.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په باور د «ټاکل» نسبتاً دقیقه معنا تعیینول یا مقررول دي او د انتخاباتو لپاره د دې کلمې استعمال په مشهورو غلطیو کې ګڼلی شو. موږ ته دا لانجه ځکه راپېښه ده چې غواړو خپله ژبه له عربي اصطلاحاتو پاکه کړو، که نه نو انتخابات عامه اصطلاح ده او ګومان کوم اړولو ته یې هېڅ اړتیا نه وه. ځینې لیکوال ګومان کوي چې د عربي کلماتو له شره په آسانه سره خلاصېدلی شو؛ خو دې ته فکر نه کوي چې له دې کار سره د ژبې دقت ته څومره تاوان رسوو. څومره چې په یوه ژبه کې د کلماتو شمېر زیات وي، هماغومره یې دقت زیات وي او دا چانس ورته برابر وي چې د ظاهراً مترادفو کلماتو باریکیو ته پام وکړي او تر ممکنه حده پورې هره کلمه یوازې د یوه مفهوم لپاره استعمال کړي. که دا حتمي وګڼو چې فرضاً د انتخاباتو پر ځای بله پښتو اصطلاح وضع کړو، نو فکر کوم چې «غوراوی» به یې نسبتاً ښه معادل وي؛ ځکه د معنا په لحاظ له انتخاب سره اړخ لګوي.

سربېره پر دې، عربي اصطلاحاتو زموږ ژبه نسبتاً بډایه کړې او ورسره یې د ژبې دقت رازیات کړی دی. عربي کلمې د تصریف یا ګردانولو پراخه تومنه لري خو اکثره پښتو انډولونه یې دغه کمال نه لري. که د انتخاباتو لپاره ټاکنې غوره اصطلاح وګڼو، د «منتخب» چاره به څنګه کوو؟ که موږ د «صفت» پر ځای «ستاینوم» ولیکو د «موصوف» لپاره به څه ولیکو او د «توصیف» او «متصف» انډول به له کومه کړو؟ له بلې خوا «ستایل» مثبت بار لري او هېڅکله په منفي معنا نه استعمالېږي، حال دا چې «صفت» ښه او بده دواړه معناوې لرلای شي. په ګرامر کې لولو چې صفت د نوم څرنګوالی بیانوي او په څرنګوالي کې ښېګنه او بد ګڼه دواړه راځي.

موږ په خپله ژبه کې زرګونو علمي اصطلاحاتو ته معادلې کلمې نه لرو، دې شي ته مو هله پام واوړي چې علمي لیکنې راژباړو؛ خو د دې پر ځای چې دغو علمي اصطلاحاتو ته په خپله ژبه کې مناسبې کلمې پیدا کړو، خپله انرژي د هغو عربي اصطلاحاتو په شړلو لګوو چې اوس مو راخپل کړې دي او پردي راته هډو ښکاري نه.

د نویو علمي اصطلاحاتو په برخه کې به هم دا لازمه نه وي چې هرې یوې ته یې انډول ولټوو. بیولوژي اوس زموږ په ژبه کې عامه اصطلاح ده او ضرور نه ده چې فرضاً «ژواک پوهنه» یې وبولو. ګومان کوم د هغو اصطلاحاتو لپاره باید معادل پیدا کړو چې یا خو یې تلفظ زموږ په ژبه کې سخت وي او یا مرکبې کلمې وي. مثلاً «پواینټ آف ویو point of view» داسې مرکبه کلمه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې استعمال یې زموږ د ژبې له جوړښت سره ټکر لري او ګردانول یې سخت دي؛ خو «لیدلوری» د دې اصطلاح مناسب معادل دی ځکه دقیقاً هماغه معنا ښندي، په غوږو ښه لګېږي او په آسانۍ سره ګردانېږي (لیدلوری، لیدلوري، لیدلوریو). همدارنګه «سایکوانالیسز» دشپږو څپو مرکبه اصطلاح ده چې په پښتو کې یې استعمال نامأنوسه ښکاري نو بهتره ده «ارواشننه» یې وبولو. په ځینو لیکنو کې د همدې اصطلاح لپاره «ارواڅېړنه» راغلې ده؛ خو فکر کوم اروا څېړنه به یې دقیق معادل ځکه نه وي چې موږ څېړنه د تحقیق (research) لپاره استعمالوو او شننه د تحلیل (analysis) لپاره. له بلې خوا «ارواشننه» په غوږو ښه لګېږي؛ خو «ارواڅېړنه» یو څه درنده ده. له دې مثالونو دا نتیجه اخیستلی شو چې د نورو ژبو اصطلاحاتو ته باید داسې معادل وضع کړو چې دقیقاً هماغه معنا ولري، ګردان یا تصریف یې آسانه وي او په غوږو ښه ولګي یعنې د کاروان صاحب خبره شرنګېدلي وي.

## ۵. ۸. د لیکوال سبک او د ژبې ظرفیت

د شرقي او غربي متنونو تر منځ یو عمده توپیر د ژبې په دقت کې دی. البته له شرقه منظور زموږ د سیمې هېوادونه دي، نه ټول ختیځ ځکه جاپان، چین، جنوبي کوریا او ځینې نور شرقي هېوادونه د پرمختګ په لحاظ اوس په غربي نړۍ کې حسابېږي.

ګومان کوم چې د ژبې دقت به په دوو عمده عواملو پورې اړه لري: لیکوال او د ژبې ظرفیت.

زموږ د ټولنو ځینې لیکوال معمولاً قاطع حکمونو او یو اړخیزو قضاوتونو ته تمایل لري او دغه شی د دوی پر سبک اثر کوي. دا عیب زموږ په ټولنه کې نسبتاً عام دی. موږ او تاسې روزانه په بحثونو کې اورو چې فرضاً «د افغانستان نوي فیصده دولتي چارواکي په فساد ککړ دي؛ له ښځو سره تاوتریخوالی خورا زیات شوی دی؛ د هوا د ککړتیا یوازینی علت زاړه موټرونه دي ...» زموږ کارپوهان معمولاً د خپلو دغو خبرو لپاره سند نه لري. د اداري فساد د فیصدۍ اندازه په سروې ګانو او احصاییو معلومېدلی شي؛ خو ګومان کوم داسې عمومي سروې به نه وي شوې. «خورا زیات» مبهم صفت دی او دقیق معلومات نه شي راکولی. د هوا ککړتیا ګڼ علتونه لري او زاړه موټرونه یې یوازې یو علت دی، نه یوازینی علت. د وینا همدغه طرز زموږ لیکنو ته هم لاره کړې ده؛ خو غربي لیکوال بیا معمولاً خبرې په احتیاط سره کوي او اکثراً د قاطع حکم پر ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



احتمال يادوي. مثلاً د محرقې يا لوېې تبې په اړه، ممکن زموږ ډاکتر وليکي: «په لويه تبه کې د ناروغ د بدن حرارت ۴۲ درجو ته لوړېږي»؛ خو غربي ليکوال به وايي: «په محرقه کې ممکن د ناروغ تبه ۴۲ درجو ته ورسېږي.» يا مثلاً زموږ ليکوال به ليکي: «په پښتو کلاسيکو ادبياتو کې د پاراډاکس بېلګې نشته.» خو غربي څېړونکی به همدا مطلب داسې بيان کړي: «ما په معلومو پښتو کلاسيکو ادبياتو کې د پاراډاکس بېلګې نه دي موندلې.»

استاد محمد صديق روهي چې «د ښوونې او روزنې عمده اصطلاحات» په کښلو کې د مېرمن ساهرې شريف لارښود استاد و، د کتاب په سريزه کې وايي: «محترمه ساهره د ضرورت په اندازه په انګريزي ژبه پوهېږي، له انګريزي قاموسونو او ځينو نورو منابعو څخه استفاده کولی شي، د ښوونې او روزنې په باره کې يې کافي مطالعه کړې ده او له دې امله په خپله تخصصي ـ څانګه کې پرابلم نه لري.»

په دې پراګراف کې استاد روهي د مناسبو صفتونو او قيدونو د استعمال او د غيرضروري هغو د نه استعمال په وسيله خپل بيان دقيق کړی دی. دی مبالغه نه کوي او نه وايي چې مېرمن ساهره شريف په انګريزي ډېره ښه پوهېږي؛ بلکې وايي «د ضرورت په اندازه» پوهېږي. دا ادعا هم نه کوي چې شاګرده يې له ټولو منابعو څخه پوره پوره استفاده کولی شي؛ بلکې احتياط کوي او وايي چې «له ځينو نورو منابعو» څخه استفاده کولی شي.

شخصي عواطف او احساسات بل عامل دی چې د بيان دقت ته زيان رسوي. استاد روهي د مېرمن ساهرې د پلار شاګرد و او ګومان کوم چې څه نوره خپلوي به هم سره لري. که د استاد روهي پر ځای بل څوک وای، ممکن ساهره شريف به يې ډېره ستايلې وای او مبالغې ته به يې لاره خلاصه کړې وای؛ خو ده خپلو عواطفو ته اجازه نه ده ورکړې چې ليکنې ته يې لاره وکړي.

د همدې سريزې په پای کې استاد محمد صديق روهي وايي: «محترمه ساهره کريمي [اوس ساهره شريف.] د دغې علمي تحقيقي پروژې په بشپړولو سره ثابته کړه چې په خپله ساحه کې اکاډميک کارونه پر مخ بيولی شي. زه د لارښود استاد په توګه د دې کار او زيار مثبت ارزيابي کوم او محترمه ساهره کريمي د معاون محقق رتبې ته د ترفيع مستحقه بولم.»

خو د کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې د پوهنځي استاد، پوهنوال محمد نادر شاه نيکيار، په خپل تقريظ کې داسې ليکلي دي: «... ما دغه اثر (د ښوونې او روزنې عمده اصطلاحات) په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر غور او دقت سره ولوست ... په لنډ ډول ويلی شم چې محترمې ساهرې کريمي په دې ساحه کې يو ډېر مهم او ګټور علمي او اکاډميک کار تر سره کړی ...»

د استاد حبيب الله تږي په «پښتانه» کتاب کې هم سړی له همداسې دقيق نثر سره مخ کېږي چې له مبالغې، بې ځايه ټينګار، قاطع حکمونو او نورو عيبونو پاک ښکاري.

د ژبې ظرفيت بل عامل دی چې د متن پر دقت اثر کوي. صفتونه او قيدونه د ژبې په دقت کې اساسي رول لري؛ خو شرط دا دی چې په مناسب ځای کې استعمال شي او له بې ځايه کارولو يې ډډه وشي. په پښتو کې سړی معمولاً د دې دوو توکو له کمی سره مخ کېږي. موږ د يوه شي د مقدار يا اندازې لپاره اکثراً مبهم صفتونه «هېڅ، خورا لږ، لږ، زيات، بيخي زيات» استعمالوو. دغه صفتونه د علمي او دقيق متن په درد چنداني نه لګېږي. په علمي متن کې که وايو چې په افغانستان کې د اوبو کچه ټيټه شوې ده، بايد اندازه يې د امکان تر بريده دقيقه وښيو چې فرضاً د لس کاله پخوا په نسبت اوبه نيم متر کښته شوې دي او يا دغه اندازه په فيصدي وښيو مثلاً د اوبو کچه پنځه فيصده ټيټه شوې ده.

د پېښو د تکرر يا فريکونسۍ د ښودولو لپاره په پښتو کې مناسب قيدونه په آسانه نه شو موندلی، خو په انګليسي کې ګڼ قيدونه شته چې هر يو يې د پېښو تقريباً معينه فيصدي ښيي. زه چې کله کله طبي متن ژباړم، حيرانېږم چې مناسب قيد ورته له کومه کړم، مجبورېږم د عربي «ندرتاً، بعضاً، معمولاً، غالباً، اکثراً، عموماً، عمدتاً» وکاروم؛ خو دا قيدونه هم د انګليسي د ټولو قيدونو« seldom, sometimes, mainly, often, occasionally, usually, always, generally ...» ځواب نه شي ويلی. له بلې خوا، موږ داسې اجماع نه لرو چې فرضاً «غالباً» يعنې څو فيصده؟ يا د «معمولاً» او «عموماً» ترمنځ توپير څه دی؟ يا دا چې «عمدتاً» زياته اندازه ښيي که «اکثراً»؟ نو که غواړو چې ژبه مو د علمي ليکنو د ليکولو جوګه شي، بايد چې د قيدونو په اړه غور وکړو. د قيدونو په اړه زموږ د ژبې بله ستونزه دا ده چې د حالت يا څرنګوالي قيدونه مو معمولاً يوه کلمه نه وي؛ بلکې د درېو کلمو ترکيب وي، مثلاً: په دقيق ډول، په مناسبه توګه، په بې ساري شکل، په ښکلې بڼه ، په دقت سره، په تېزۍ سره، ... که په متن کې ډېرو قيدونو ته اړتيا وي، دا ډول ترکيبي قيدونه د نثر ښکلا ته تاوان رسوي. زما په فکر بهتره ده چې په داسې موردونو کې يا خو د قيدونو عربي بڼه وليکو، مثلاً:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- «په دقيق ډول» ويلی شم چې دا کار د طالبانو دی. = دقيقاً ويلی شم چې دا کار د طالبانو دی.
- د بېلگې په توگه: صابون، شامپو، پوډر ... = مثلاً: صابون، شامپو، پوډر

يا دا چې د قيد پر ځای صفت وکاروو، مثلاً:

دانش خپرندويه ټولنه کتابونه په دقت سره، په مسلکي توگه او په ښکلې بڼه چاپوي. = دانش خپرندويه ټولنه کتابونه دقيق، مسلکي او ښکلي چاپوي.

د ښوونځيو او پوهنتونونو، په تېره بيا د ښوونځيو شاگردانو ته معلومات بايد په دقيقه ژبه وليکو، گنې له هغوی څخه به لاره ورکه شي. اکثرو شاگردانو ته هغه څه چې په مکتب يا احياناً په پوهنتون کې ورښودل کېږي، د کاڼي کرښې ښکاري، نو بايد څه چې ورته ليکل کېږي، تر وسې پورې دقيق وي. دقيقه ژبه سربېره پر دې چې شاگردانو ته سم معلومات رسوي، دوی هم له دقيق بيان سره روږدي کوي او دوی چې لويان شي، بيا به له خپلو خبرو سره احتياط کوي او زموږ د نسل د اکثرو وگړو په شان به هوايي خبرې نه کوي.

## ۵. ۹. فاصله

دغه کلمې به څنگه ولولئ: اوروم – اوپهنتيجه - اوناپايه اوبې – اوله

که دغه کلمې د جملې په منځ کې همداسې راغلې وي، ممکن تاسې يې د قرينې له مخې سمې ولولئ خو دا تمه له مبتدي لوستونکو نه شو کولی. زوی مې په پنځم ټولگي دی. ها بله ورځ يې په پښتو کتاب کې يو درس لوست، پوښتنه يې وکړه چې «اوښځې» څه معنا؟ حيران شوم چې دا نو څه بلا ده. که گورم چې د «او» او «ښځې» تر منځ فاصله نشته. په هغه متن کې چې ما اقتباس ځنې کړی دی، د پورتنيو کلمو او عبارتونو سمه بڼه داسې ده: «او روم» منظور د روم ښار دی، «او په نتيجه ...»، «او ناپايه او بې ...»، «او له ...»

يوه موده د يوې مجلې ايډېټر وم. لوی جنجال د ليکوالو په ليکنو کې د فاصلې نه مراعاتول راته جوړ و. دا ستونزه په ډېرو ليکوالو او د ښوونځيو په گڼو کتابونو کې شته. کله کله د فاصلې نه ورکول يا بې ځايه فاصله د جملې مفهوم بدلوي. مثلاً د فلسفې په اړه د يوه ليکوال په مقاله کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا جمله: «د خدای رحمت محدود وي.» حال دا چې مطلب يې دا وو چې ملايان د خدای رحمت محدودوي. ده د «محدودوي» په منځ کې له بې‌ځايې فاصلې سره هماغه کار کړی و چې ملايانو غوښتل يعنې «د خدای رحمت يې محدود کړی و». په بل ځای کې يې ليکلي وو «تا ته او روم» دلته هم د «اوروم» په منځ کې، چې يوه کلمه ده، فاصله «او» «روم» جوړ کړی دی. په دې بل مثال کې بيا د فاصلې نه ورکول، معنا بدله کړې ده: «نيکي اوبدي» يعنې يو څوک نيکي د ټوکر په شان اوبدي حال دا چې منظور يې «نيکي» او «بدي» دی.

څو ورځې د مخه مې د يوې مطبعې له ډيزاينر سره پر يوه کتاب کار کاوه. ده په ډېرو ځايونو کې د اضافت «د» له ورپسې کلمې سره نښلولی و. «دافغانستان»، «دکتاب»، «ددې» ... ما ورته وويل چې تر «د» وروسته دې فاصله ورکړي. ده ويل چې «د» خو کومه معنا نه لري چې کلمه يې وګڼو او جلا يې وليکو. دا سمه ده چې د اضافت «د» او د ربط توري مستقلې کلمې نه دي خو کله چې په جمله کې راځي، بايد جلا وليکل شي که نه نو د متن لوستل به راته سخته کړي.

اکثره ليکوال تر هغو کلمو وروسته لازمه فاصله نه ورکوي چې په «ا، د، ذ، ر، ز، ژ، ږ، و» ختمې شوې وي. دا کار به ځکه کوي چې دغه توري له خپل مابعد توري سره نه نښلي. خو په کار ده چې تر هرې کلمې وروسته فاصله ورکړو.

د فاصلو په برخه کې په پښتو کې بله لانجمنه مسئله د فعلونو او مرکبو نومونو ده. «را نه غی»، «و به نه شي» «ګل مير»، «احمد جان» ... دلته که پوره فاصله ورکوو، په اصل کې واحده کلمه په څو ټوټو وېشو او که يې نه ورکوو، ګډوډې جوړوي. دا نه معلومېږي چې د چا نوم «احمد جان» دی که نوم يې «احمد» دی او موږ له نازه «جان» ورسره ليکلی دی. پارسي ژبو د دې ستونزې لپاره نيم‌فاصله جوړه کړې ده او په عبارتي فعلونو او مرکبو نومونو کې يې کاروي خو په پښتو متنونو کې تر اوسه پورې د نيم‌فاصلې کارول عام شوي نه دي. که نيم‌فاصله ولرو، «را نه غی» داسې ليکلی شو «رانه‌غی» چې يوه کلمه راته وايسېږي او همدارنګه د «نرم والی = نرم‌والی، ليک دود = ليک‌دود، بې لاری = بې‌لاری ...» ستونزه حل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵. ۱۰. د فعلونو تکرار/ د اوبو د څاڅکو څټك

ويل کېږي چې د هتلر په زندانونو کې د شکنجې يو ډول دا و چې زنداني به يې د اوبو نل ته کېناوه. له نله څخه به په هرو څو شېبو کې يو يو څاڅکی د زنداني پر سر څڅېده. نل به د زنداني له سره پوره پورته لګېدلی و او څاڅکی به د سړي په سر لکه د څټك وار لګېده. دا خبره هم کېږي چې دا د شکنجې يو له ډېرو سختو ډولونو څخه و چې سړی به يې ان لېونی کړ. د دې شکنجې د سختوالي يوه وجه دا هم کېدای شي چې څاڅکي په کې په منظمو زماني فاصلو سره څاځي او سړی يې په هماغه شېبه کې د څڅېدو توقع لري. دغه څو شېبې چې د دوو څاڅکو د څڅېدو تر منځ تېرېږي، سړی لا ډېر ځوروي ځکه پوهېږي چې بل څاڅکې به را روان وي.

په موسيقۍ کې د طبلې او ډول درزا هم په منظمو زماني فاصلو سره اورو، خو دا غږونه زمونږ په غوږونو لکه د مور د للو للو آواز خوږه لګېږي. په شعر کې قافيه او رديف همداسې دي. که په رديف کې فعل هم واقع شي، نو سره له دې چې د هر بيت په پای کې هماغه فعل تکرارېږي، بد راباندې نه لګېږي، بلکې خوند هم راکوي. خو په نثر کې که يو فعل په څو پرله پسې جملو کې يا په يوه متن کې بيا بيا تکرار شي، سړی عذابوي، دلته فعل د شکنجې د اوبو څاڅکو ته ورته وي. دغه مثال وګورئ:

د پاراګرافونو د جملو ترتيب کله د زماني منطق «په اساس وي»، کله د مکاني منطق «په اساس وي» ، کله د علت او معلول د رابطې «په اساس وي» او په هنري، ادبي اثارو کې خو د راوي د روحي حالت «په اساس هم وي».

ما قصداً په دې پاراګراف کې د «په اساس وي» ترکيبي فعل څلور ځله تکرار کړی دی. د پاراګراف اصلي بڼه داسې ده:

«د پاراګرافونو د جملو ترتيب کله د زماني منطق په اساس وي، کله مکاني منطق ته اړتيا وي، کله د علت او معلول رابطه مهمه شي او په هنري، ادبي اثارو کې خو دا هم مهمه ده چې د راوي روحي حالت څنګه دی.»

دغه پاراګراف مې د استاد اسدالله غضنفر له يوې مقالې راخيستی دی. استاد د نورو لويو ليکوالو په څېر په خپلو ليکنو کې د فعلونو تنوع ته ډېره توجه کوي، ځکه خو يې نثر خوندور وي.

په دې بل پاراګراف کې هم وينو، چې استاد څنګه رنګ رنګ فعلونه کارولي دي: «په لوستونکي باندې حسي کلمې تر انتزاعي هغو زيات **اثر شيندي**. تر دې خبرې چې هغې ښکلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جامې اغوستې وې، دا خبره **اغېزناکه ده** چې هغې زېړې جامې اغوستې وې، ځکه د جامو ښکلا **ذهني مفهوم دی** خو زېړوالی یې **سترګو ته درېږي**.»

استاد غضنفر په بله مقاله کې د استاد قیام الدین خادم په نثر کې همدې ځانګړنې ته اشاره کوي: «استاد خادم په خپله یوه مقاله کې چې د ملګرو ملتونو د تاسیس د لسم کال په مناسبت یې کښلې، لیکلي دي: «د ملګرو ملتو ټولنې وکولی شول چې د اروپا د جنګ د پېښېدو مخه ونیسي. په کوریا کې جګړه محدوده او په متارکه یې بدله کاندي. د هند - چین جګړه بس او ترک کړي. د یونان، ایطالیا او شرقي اروپا په اورونو اوبه واچوي، د جرمني خبره د حل خوا ته نژدې کړي. د چین او فارموسا معضله کې د وساطت او صلحې لاسونه کار کوي. د کشمیر مسله غلې ده. ایران کې نن سبا ارامي ده. مصر، سوډان لږ و ډېر په ارام شول. دا خبرې د دنیا غټې واقعې وې چې د ملګرو ملتو انجمن پکې موفق دی.» دلته وینو چې استاد د متنوع فعلونو په برکت د هغه وخت د نړۍ د  بېلو بېلو ملکونو د امن و ثبات د وضعیت ترمنځ  ظریف توپیرونه را ښودلي دي.»

البته د فعلونو د تنوع لپاره لیکوال څو لارې په مخ کې لري. یوه یې دا ده چې له تعصبه دې تېر شي او هغه فعلونه هم وکاروي چې له عربي، له دري او له نورو ژبو پښتو ته راغلي او عام شوي دي. بله لار یې دا ده چې د لهجې له بنده دې ځان خلاص کړي. ممکن په نورو لهجو کې د خپلې لهجې مترادفې کلمې او مترادف فعلونه ومومو. مثلاً په کندهارۍ لهجه کې «پړ» او په خوستواله لهجه کې «ګرم» سره هم معنا دي. «ګرم» بیا دغه خوبي هم لري چې د «ګرمېدل، ګرمول» په بڼه د فعل کار ورکوي، لکه په دې جملو کې: «ګرموم دې نه.»، «مه مې ګرموه.» خو «پړ» بیا صفت دی او که فعل ورنه جوړوې، بله کلمه به ورزیاتوې: «مه مې پړ کوه» یا په کونړۍ لهجه کې «ځنډ» ته «ډیل» هم وایي «ډیل مه کوه». که موږ د مختلفو لهجو لغات سره شریك کړو نو په ژبه کې به مو رنګارنګي راشي. استاد خادم په خپله مقاله کې دا کار کړی دی: «کاندي» د «کړي» ښه مترادف دی. درېیمه لار بیا له استعاري او مجازي ژبې کار اخیستنه ده. په پورته اقتباس کې استاد خادم وایي: «د یونان، ایطالیا او شرقي اروپا په اورونو اوبه واچوي.» اوبه اچول د اور د وژلو لپاره کنایه ده او اور د جنګ له پاره استعاره ده.

کله چې د عین مطلب د بیان لپاره ګڼ فعلونه ولرو، بیا د فعلونو په انتخاب کې باید داسې دقت وکړو چې ښکلا او معنا سره غاړه غړۍ شي. د جګړو د بدو عواقبو په اړه داسې جملې لیکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو: په تېرو جګړو کې د افغانانو کورونه ړنګ شول، دېوالونه ونړېدل، ونې ووهل شوې، کروندې له منځه لاړې، ښوونځي تخریب شول، پلونه په بمونو والوتل، په ښارونو چور ګډ شو او سرونه خاورې شول.

دلته د ورانۍ د بیان لپاره بېل بېل فعلونه غوره شوي دي، «کورونه ړنګ شول» کور د کورنۍ، کهول او خپلخانې معنا هم لري او ړنګ د تباه په معنا هم کارول کېږي نو دلته د کورونو ړنګېدل یوازې د کورونو فزیکي ورانېدلو ته اشاره نه کوي. «نړېدل» هغو شیانو سره ښه لګېږي چې لك ولاړ وي، لکه دېوال، لکه څلی، لکه مینار او لکه غرونه. دغه جمله چې وایي «ښوونځي تخریب شول» له دې بلې چې وایي «ښوونځي ړنګ شول» توپیر لري. «ړنګېدل» او «نړېدل» تصادفي ورانېدلو ته هم ویل کېږي. الوتکه بمونه غورځوي، د پیلوټ موخه مخالفان وي، خو ورسره د خلکو کورونه هم ړنګېږي. تخریبول بیا عمدي کار دی. زموږ ښوونځي په لوی لاس تخریب شوي دي نو دلته د ورانوونکو اراده په کې شامله ده. همدارنګه د پلونو الوځول قصدي کار دی، که دلته ووایو چې «پلونه ونړېدل» دا کېدای شي هغو مواردو ته هم اشاره وکړي چې د سېلابونو او زلزلو په وجه پلونه ویجاړ شوي وي.

په مسجع نثر کې د جملې په پای کې هم قافیه او ترجیحاً هم وزنه کلمې راځي. د پیر روښان د مسجع نثر دغه نمونه وګورئ: «سر سایه په نور خاته واجبه ده چې وباسي ادمیان، هر څوك چې له دغه وروسته یا وړاندې وزېږي یا ومري یا شي مسلمان، سرسایه یې واجب نه شي.»

په عربي کې فعل معمولاً د جملې په سر کې واقع کېږي خو په پښتو کې د جملې په پای کې راځي. دلته وینو چې پیر روښان د پښتو ژبې قاعده پرې ایښې ده. دا کار څو وجې درلودلی شي. د عربي ژبې تقلید به یې یوه وجه وي او بل دلیل به یې د فعلونو له تکراره تېښته وي. فعلونه هسې هم لږ دي او که د سجع په خاطر سړی مجبور شي چې د هرې جملې په پای کې هم آوازه فعلونه راوړي نو له تکراره به یې چاره نه وي. اوس خو د خدای په فضل د مسجع نثر له شره خلاص یو، خو ځینې لیکوال په عادي نثر کې هم ځان ته د رنګارنګ فعلونو د موندلو زحمت نه ورکوي او د تکراري فعلونو په څټك د لوستونکي ماغزه چیتوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵. ۱۱. ليکنښې

**د ټکي (.) د کارولو ځايونه**

1. د بياني جملو په پای کې
- ژانرونه له لويه سره دوه ډوله دي: تخيلي او غير تخيلي.
2. د مخفف د توريو تر منځ
- د. ا. ا. ج. د. (د افغانستان اسلامي جمهوري دولت)
- و. ا. لينين (ولاديمير ايليچ لينين)

**د کامې د کارولو موردونه**

1. د کلمو په لست کې
- کابل، کندهار، هرات، جلال آباد، او مزار شريف د افغانستان لوی ښارونه دي.
2. د جملې په سر کې، تر «هو» او «نه» وروسته
- هو، زه ورغلی وم.
3. د زمان تر قيد يا د زماني ترتيب ښودونکو کلمو وروسته، البته کله چې دا

کلمې د جملې په سر کې او تر فاعل مخکې راغلې وي
- ماښام، ښاپېرۍ ډېوه بله کړه.
- په پای کې، عامرخان ببرته په فضايي بېړۍ کې سپربېږي.
- تر هر څه د مخه، زده‌کړه خواري غواړي.
- په نتيجه کې، ستونزه هماغسې پاتې شوه.
4. د مرکبو جملو په منځ کې

- ډېر خلک راغلي وو، خو هېڅوک پوه نه شول چې څه خبره ده.
- زه ولاړم، ځکه چې ستړی وم.
- کابل ته ډېر سيلانيان راځي، دا په دې چې کابل ښه مېله ځايونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



5. کله چې د جملې مبتدا يوه فقره يا جمله وي، تر مبتدا وروسته

- په ورين تندي روغبړ کول، د ښو اخلاقو نښه ده.
- کله مو چې کېک له داشه راوايست، پرېږدئ چې سوړ شي.
- زما په نظر، ليکوالي ډېر رياضت غواړي.
- د بېلگې په توگه، ځينې ښوونکي استنباطي پوښتنې نه کوي.
- د جنگ او نا امنۍ په وجه، ډېر خلک مهاجر شوي دي.
- له بلې خوا، هېڅوک نه پوهېږي چې هغه چېرته ولاړ او څه يې وکړل.
- لنډه به يې درته ووايم، خوښه مې نه ده.

6. د عطف له توري يا عبارتونو وروسته، کله چې د جملې په سر کې راځي

- خو بيا هم، د کتابونو خرڅلاو بد نه دی.
- نو، سړی حيران شو چې دا څه کيسه ده.

7. په جمله کې تر مثال مخکې او وروسته

- ځينې سابه، مثلاً پالک، ډېره اوسپنه لري.
- دوه ژواکي، د بېلگې په توگه چونگښه، په وچه او اوبو دواړو کې ژوند کولی شي.

8. د فقرو او جملو تر منځ کله چې پر له پسې او د لست په بڼه وي

- زه هر سهار اودس او لمونځ کوم، منډې وهم، ورزش کوم، چای څښم، او کتاب لولم.

9. کله چې عدد د جملې په سر کې راځي، تر عددونو وروسته

- لومړی، دا خبره ولسمشر نه ده کړې. دوهم، دا خبره هېڅ بدي نه لري.
- متنونه د هدف په لحاظ درې ډوله دي: يو، معلوماتي؛ دوه، تفريحي؛ درې، اقناعي.

10. د جملې په منځ کې د اضافي شرحې يا معلوماتو د بېلولو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



- مجیب الله، زما لس کلن زوی، نن یو په زړه پورې پریزنټېشن وړاندې کړ.
- نصیر احمد احمدي، چې د هېواد تکړه لیکوال دی، تر هر چا زیات ناولونه یې لیکلي دي.

11. د آدرس د برخو د بېلولو لپاره
- زما آدرس دا دی: چهلستون، ۷ ناحیه، کابل ښار، کابل، افغانستان.

12. کله چې د اوږیدونکو فاعل او مفعول ځایونه د تأکید لپاره بدل شي، تر مفعول وروسته.
- اېمل، اجمل وواهه. (دلته اېمل وهل شوی دی).

13. د مأخذ د برخو د بېلولو لپاره
- غضنفر، اسدالله، د نثر لیکلو هنر، مومند خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۵

14. په عددونو کې د هرې طبقې (درې درې رقمه) د بېلولو لپاره
- ۱،۲۰۰،۰۰۰

**د «» د کارولو موردونه**

1. د مستقیم نقل قول لپاره
- اجمل وویل: «زه د هر چا په خوله نه شم کولی.»
- د اېنشتین په باور: «تخیل تر پوهې زیات مهم دی.»

2. د کتابونو، تابلوګانو، فملونو، سندرو او نورو آثارو نومونه
- «بوډا او د لېوانو پلونه» د نصیر احمد احمدي ناول دی.
- د فرهاد دریا سندره «ژوند ښکلی دی» ښایسته پیغام لري.
- «درې احمقان» فلم باید هر ښوونکی او استاد وګوري.

3. خاص اصطلاحات، کله چې په لومړي ځل په متن کې راځي؛ هغه کلمې چې ټینګار پرې شوی وی؛ هغه عادي کلمې چې په جمله کې خاص اهمیت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اینشتین « د نسبیت تیوري» په دوو برخو کې وړاندې کړه: عمومي او خاص نسبیت.
- ستونزه دا ده چې خلک «دیني تعبیر» او «دین» سره یو شان ګڼي.
- د جملې په سر کې، تر «هو» او «نه» وروسته کامه راځي.

4. ځینې نا آشنا/ خارجي خاص نومونه کله چې په متن کې د لومړي ځل لپاره راځي او هغه خارجي نومونه چې زموږ د ژبې له کومې کلمې سره یو شان لیکل کېږي.

- «لیلي» د امریکا مشهوره لیکواله وه.
- مجیب الله «آیوا» ته تللی و.
- «آدم» په جلسه کې «سرکوزي» ته وویل ...

5. د نورو ژبو هغه نومونه، کلمې او اصطلاحات چې د پښتو خاص توري په کې وي.

- چیني زایر «هیوان څنګ» د هډې په اړه وایي ...
- «مونیښ» د جرمني مهم ښار دی.

6. د جملې په منځ کې د تورو او لیکنښو د نوم یا شکل لپاره

- په پښتو کې «و» دوه ډوله دی: معروف «واو» او مجهول «واو».
- لاندې جملې ولولئ او د هرې جملې په پای کې «.» یا «؟» کېږدئ.

**سیمي کولن** (؛)

1. د مسلسلو جملو د جلا کولو لپاره

- د ترغیبي متن د ارزولو لپاره باید: د لیکوال ادعا معلومه کړو؛ وګورو چې د خپلې ادعا د اثبات لپاره یې دلیلونه منطقي او واقعي دي که څنګه؛ دلیلونه او شواهد یې له معتبرو منابعو څخه اخیستي دي، که نه.

2. د سره تړلیو کلمو او عبارتونو د ډلو د بېلولو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ځینې صفتونه د نارینه نومونو له جمعې سره نه گردانېږي خو له ښځینه نومونو سره پوره گردانېږي، لکه: ښه هلک، ښه هلکان، ښه نجلۍ، ښې نجونې؛ سپین کتاب، سپین کتابونه، سپینه کتابچه، سپینې کتابچې؛ لوی صندوق، لوی صندوقونه، لویه کوټه، لویې کوټې.

3. په گزارش کې د ترسره شویو کارونو د بېلولو لپاره، البته کله چې د بشپړو جملو په بڼه وي او که د عبارتونو په بڼه وي، په (،) يې بېلوو.

ما په تېره اونۍ کې دغه چارې ترسره کړې:

- له همکارانو سره مې د دوهمې ابتدايي دورې پر مفرداتو بحث وکړ؛
- د لیکلو د فعالیتونو پاتې برخه مې وژباړله؛
- د لیکنښو د کارونې سند مې برابر کړ؛ او
- د راتلونکې اونۍ لپاره مې ځان ته کاري پلان جوړ کړ.

**شارحه (:)**

1. په مستقیم نقل قول کې تر ویناوال وروسته

- پولیس وویل: «مجرم باید په همدې نژدې ځایونو کې پټ شوی وی.»

2. کله چې د چا نظر نېغ په نېغه بیانوو

- د فروید په باور :«د انسان شخصیت له درېو برخو څخه رغېدلی دی: اېډ، ایگو، او سوپر ایگو.»

3. د یوې موضوع د شرحې لپاره

- د ملکي تلفاتو عاملونه دا دي: د خلکو په کورونو کې د طالبانو پټېدل، پر ښارونو او بازارونو د طالبانو حملې، او په هوايي بریدونو کې نه دقت.

4. د مثالونو د بیان لپاره

- تروشې مېوې لکه: مالټه، نارنج، لیمو، کینو، او کیوي کافي انټي اوکسیډانټ لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ندائیه** (!)

1. له احساسي او عاطفي کلمو نه وروسته
- وا وا! لوبه مو وګټله.
- اوه! نجلۍ ولاړه.
- اخ! بد رقم ولوېد.
- دریغه! چې وروستی عقل ړومبی وای.

2. د ندائي جملو/ فقرو په پای کې
- څه خوندوره هوا!
- څومره یخې اوبه!

3. له (؟) سره یو ځای د یوه شي پر ماهیت د شک کولو لپاره
- د پوهنتون یوه استاد؟! ویل چې دموکراسي کفري نظام دی.

4. د شعار په پای کې
- ژوندی دې وي افغانستان!
- علم به بریالی وي!

5. د مخاطب د پام را اړولو لپاره
- ګوره! داسې به یې نه وي ویلي.
- نسیمې! په ګلانو لاس مه وهه.
- پام! ها خوا ته به نه ځې.
- مه! مه کوه چې لاس به دې خوږ کړې.

**سوالیه** (؟)

1. د سوالي جملو په پای کې
- څوک خبرې کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ته ښه يئ؟

2. له (!) سره يو ځای د يو شي پر ماهيت د شک ښودلو لپاره

- يو ديني عالم؟! وايي چې مسلمان په کورونا مرض نه اخته کېږي.

3. په چټ کې د «پوه نه شوم» په معنا يا د يوې خبرې د وضاحت غوښتلو لپاره

- هغه بله راغلې وه.
- ؟ (يعنې څوک؟)

يا

- د استاد خبره دې په زړه ده؟
- ؟ (يعنې کومه خبره؟)

4. کله چې پر يوې خبرې مطمين نه يو.

- چې په زړه کې دې څه عيب نه وي رحمانه/ ښکلي مخ ته په کتو کې گناه نشته (رحمان بابا؟)

**سلش** (/)

1. د دوو شيانو تر منځ د انتخاب لپاره او همدارنگه د مترادفو کلمو تر منځ

- کله چې د چا ژوندليک ليکو، د هغه/ هغې د ژوند مهمې پېښې بيانوو.
- ملاتړې جملې د پراگراف د اصلي مفکورې تفصيل/ جزئيات بيانوي.

2. د «او» پر ځای

- علت/ معلول، مبتدا/ خبر،

3. د «يا» او «يعنې» پر ځای

- بهير/ لړۍ، تېر/ ماضي، گانده/ راتلونکې

4. د «او» او «يا» تر منځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



- شاګردان به د موضوع په اړه استنباطي پوښتنو ته شفاهي او/یا لیکني ځواب ووايي. (دلته کېدای شي شفاهي او لیکني دواړه وي، یا یوازې شفاهي یا لیکني).

5. کله چې د شعر یو یا څو بیتونه د متن په منځ کې لکه عادي کرښې لیکو، مسرې یې په (/) بېلوو.

- استاد پسرلی د بې ځایه تقلید په اړه وايي: نورو پسې تګ سړی خر مخی کړي/ ګرد د لارې وګوره د شپون په مخ.

**غبرګ سلشونه** (/ /)

1. د تورو آواز یا تلفظ ښيي
- د «غ» توری درې غږونه لري: /غَـ/، /غـِ/، او /غـُ/
- ښ څلور ډوله تلفظ لري: **/x/، /ç/، /š/، /ṣ/**

2. د کلمو تلفظ په کې لیکل کېږي
- مینه/mina/ ، مېنه/mena/

**هایفن** (-)

1. د کلمې د څپو (سېلابونو) د بېلولو لپاره
- افـ - ـغا – نسـ - ـتان

2. د کلمې د رېښې او تاړي د بېلولو لپاره
- خپل ـ واکي، پانګه - وال

3. د دوو ځایونو، نېټو او عددونو تر منځ د «تر» پر ځای

- د کابل – کندهار په لویه لاره کې ټرافیکي پېښې ډېرې دي.
- په مېلمستیا کې ۲۰ – ۲۵ کسان وو.
- د کار وخت: سهار ۸ – ۱۲ بجو، ماسپښین ۱ – ۴ بجو.

4. په مکالمه کې د وېناوال د نوم د نه تکرارولو په خاطر

احمد وویل: سړی دې ولیدو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجیب ځواب ورکړ: کوم سړی؟

- هماغه دله یادوم.

- ښه، د هغې پلار ښيې. نه، نه مې دی لیدلی.

5. په مکالمه کې د ترټرېتوب د ښودلو لپاره.

- نجلۍ وویل: کا – کا – کا – کابل ته تـ - تـ - تـ - تللی دی.

6. ځینې مفاهیم چې دوه بُعدونه لري او د یوه کُل په حیث یادېږي، بعدونه یې په( ـ ) سره بېلېږي.

- د خدايي خدمتګارو تحریک یو ټولنیز – فرهنګي حرکت و.
- جګړې د افغانستان پر سیاسي – اقتصادي وضعیت ناوړې اغېزې وکړې.

7. د کامې او سیمي کولن غوندې په لست کې د کلمو او عبارتونو د بېلولو لپاره

- ښه هلک، ښه هلکان، ښه نجلې، ښې نجونې - سپین کتاب، سپین کتابونه، سپینه کتابچه، سپینې کتابچې - لوی صندوق، لوی صندوقونه، لویه کوټه، لویې کوټې.
- کابل – کندهار – هرات - جلال آباد - او مزار شریف د افغانستان لوی ښارونه دي.
- د بولټ په حیث، کله چې معلومات په عمودي ډول لست کېږي، لکه:

د خوشحال خټک څو آثار دا دي:

- د شعرونو دېوان
- دستارنامه
- صوات نامه
- رباعیات
- بازنامه
- حالنامه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لیندۍ ( )**

1. د کلمې یا عبارت د معنا لپاره

- قیمتي کاڼي (قیمتي ډبرې) ناقانونه ایستل کېږي.

2. په لستونو کې تر عدد یا حرف وروسته

- تخیلي ژانرونه درې ډوله دي: ۱) داستاني، لکه: کیسه‌ګۍ، لنډه کیسه، ناول؛ ۲) ډراماټیک، لکه ډرامه، سریال، فلمنامه؛ ۳) شعر.
- ژوندي ساري په ټوله کې دوه ډوله دي: الف) حیوانات، ب) نباتات.
- ژوندي ساري په ټوله کې دوه ډوله دي: (الف) حیوانات، (ب) نباتات.

3. د جملې په منځ کې د اضافي معلوماتو یا معترضه جملې لپاره

- عصمت قانع (سره له دې چې ښه لیکوال دی) په فیسبوک کې هر وخت چټیات لیکي.

4. لیکنښې

- د (!) نښه په څلورو ځایونو کې کارول کېږي.

5. د مأخذ شمېره د پراګراف په پای کې په لیندیو کې راځي او د کتاب یا فصل په پای کې د هماغه شمېرې مخې ته د منبع پوره معلومات لیکل کېږي.

- البته دلته د نورو دیني جماعتونو په اړه چې د سیاسي اسلام تر چتر لاندې نه راځي، څه نه وایو، لکه: صوفیان، دیني روښانفکران او د نویو فکرونو خاوندان، غیرجهادي سلفیان، تبلیغیان او نور، ځکه چې دوی یا خو اساساً سیاست ته اهمیت نه ورکوي او یا دا چې سیاست د فرهنګي – اجتماعي مسایلو تابع ګڼي چې دا د دیني اصلاح او د ټولنې د معنوي تزکیې په لومړیتوبونو کې نه راځي (۱).

**لويې لیندۍ [ ]**

(c) ketabton.com: The Digital Library



1. کله چې ژباړن يا شرح ليکونکی/ حاشيه ليکونکی د بل چا د متن په منځ کې خپلې خبرې کوي، په همدې ليندیو کې يې ليکي چې د اصلي ليکوال له خبرو سره ګډې نه شي.

- تضمين په دوو معناوو استعمالېږي: لومړی، د يوه شي استعمال د بل شي په ضمن (ترڅ) کې، مثلاً: په ادبياتو کې چې يو شاعر د بل شاعر يوه مصراع يا بيت د خپل شعر په ضمن کې راوړي؛ خو دا معنا زموږ له بحث سره تړاو نه لري. [زموږ په ادبياتو کې پخوا دغه دود موجود و چې يو شاعر دې د بل شاعر پر غزل مخمس وليکي او د مخمس د هر بند په پای کې د هماغه غزل يو بيت راوړي، دې کار ته په ادبياتو کې تضمين وايي. ژباړن] دوهمه معنا، د يوه شي ضمانت کول او د هغه د ساتلو يا برابرولو ژمنه. ليکوال دا کلمه په همدې معنا استعمال کړې ده.

**ستوری** (*)

1. کله چې د يوه ټکي د توضيح لپاره په حاشيه کې اضافي معلومات ورکول کېږي، د هماغه ټکي له پاسه * ليکل کېږي.

**درې ستوري** (***)

1. کله چې په ډرامه کې صحنه بدلېږي يعنې د دوو صحنو تر منځ.
2. د لنډې کيسې او ناول د برخو د بېلولو لپاره کارېږي.
3. کله چې په يوه داستان کې راوي، ليدلوری، يا زمان - مکان بدلېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**درې ټکي (...)**

1. کله چې د یوه متن یوه برخه اقتباس کوو او د همدې موضوع پـه اړه پـه هاغـه متن کې تر را اخیستل شوې برخې وړاندې او/یا وروسته نورې خبرې هم وي، خـو مـوږ پـرې اېښې وي، کله:

پوهاند سید بهاءالدین مجروح د واضح او مبهم سوال د مطرح کولو په اړه وايي: «... د مبهم سوال مثال به داسې وي: جهان یعنې څه؟ انسان یعنې څه؟ دا دواړه سوالونه مبهم دي، ځکه چې په هر یوه کې یو مفهوم په جلا او مجرد شکل پروت دی، بل کوم مشخص مفهوم نشته چې رابطه ورسره ټینګه کړي، ځکه: «یعنې څه» یوازې د پوښتنې علامه ده او پخپله کوم مفهوم نه دی. لومړی باید په «یعنې څه» انتقاد وشي او پوښتنه وشي چې د «یعنې څه» څخه مراد څه دی؟ فلسفي سوال هله طرح کېږي چې په مفاهیمو کې حرکت او جنبش پیدا شي ...»

2. د عفت کلام د ساتلو لپاره د ځینو ستغو کلمو یا عبارتونو پر ځای، لکه:

- دا ... سړی نه خپل پېژني نه پردی.
- دومره غوسه و چې نوکر یې د سپي تر ... وایست.

3. د یو لست د دوام لپاره، لکه:

- په قرطایسه کې دغه شیان شـامل دي: قلـم، کاغـذ، کتابچـه، پنسـل، پنسـل پاک، مارکر ...

4. په مکالمه کې هله چې د کرکټر خبرې د ناڅاپي پېښې په وجه ناتمامې پاتې شوې وي

- کریم وویل: عجب وختونه ...

ګرز شو او کریم ځای پر ځای کېناست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مأخذ:

۱. د نثر ليکلو هنر، اسدالله غضنفر، مومند خپرندويه ټولنه، ۱۳۹۱

۲. ليکلارښود، پوهاند ډاکتر م. ا. زيار، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸٦

3. Longman Academic Writing Series, fourth edition, Alice Oshima, Ann Hogue and Jane Curtis, Pearson Education, 2014

4. Academic Writing A Handbook for International Students, Third edition, Stephen Baile, Routledge Publications, 270 Madison Avenue, New York, NY 1001, 2011

5. First Steps in Academic Writing, Second Edition, Ann Hogue, Pearson Education, 2008

6. https://pro-essay-writer.com/

7. https://www.wikihow.com/Write-a-Critical-Analysis

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**